
# ديوغازي داستان



ليکوال: نسيم حجازي

ژباړن: زبير شفيقي

# د غازي داستان

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

ليکوال: نسيم حجازي

ژباړن: محمد زبير شفيقي

**د کتاب مشخصات :**

د کتاب نوم : د غازی داستان

لیکوال : مرحوم نسیم حجازی

ژبارن : محمد زبیر شفیقی

د چاپ نیته : د ۱۳۷۸ لمریز کال ، تله

د چاپ شمیر : ۱۰۰۰ ټوکه

ناشر : د میوند نشراتي مرکز ، سبا کتابخانه
ډهکی نعلبندی، قصه خوانی بازار ، پیښور
تیلفون: ۲۵۶۵۵۲۰

**د چاپ حق ناشر ته محفوظ دی**

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

# اهدا

هغو تنکیو زلمیانو ته چې جذبې لري، همت لري خو د قیادت په ارمان دي، هغو غیرتي مظلومانو ته چې د «وطن» او پروطن د سرلوړي ژوندانه ارمانجن دي.

# د سریزې پر ځای د ژباړن څو یادونې

دستر پرورد ګار شکرونه کاږم چې د مرحوم نسیم حجازي
څلورم تاریخي ناول هم خپلو هیوادوالو ته په کتابي بڼه د چاپ
په ګاڼه سمبال شو ، که څه هم دغه داستان « د غازي داستان »
داروانباد لیکوال لومړني تاریخي داستان دی ، دی ددغه
داستان په سریزه کې لیکي چې « ما غوښتل د اسلام له ویاړلي
تاریخ څخه په استفادې ځوانانو ته یو داستان ولیکم خو خبرد له
لنډداستان څخه واوښته او بالاخره د (غازي د اسټان) دغه
اثر تری جوړ شو . »

کومې ځانګړتیاوې چې داروانباد « نسیم حجازي » په
تاریخي ناولونو کې شته ، په دغه شهکار کې هم شته او داسې
نه ښکاري چې دا دې د لیکوال لومړنی تجربه وي ، دغه داستان
به هم ان شاء الله هر لوستونکي بصري ته نژدې له یو د کلي
څخه ورسره پاخوي او لاس نیولې به یې دداستان له اتل
« نعیم » سره له ترکستان څخه تر هسپانیې « اندلس » پورې
په ډیرو حادثو او کیسو راوګرځوي .

دلته دغه یادونه ضروري بولم چې له نیکه مرغه د اروانباد
لیکوال « نسیم حجازي » د آثارو د پښتو ژباړې چاپ تود
هرکلی وشو ، ما ته ډیرو ادب دوستانو پیژندویو او ناپیژندویو
خواخوږیو ددې کار ددوام مشوري راکړې چې زما حوصله یې

اوچته کړد او مننه یې کوم.
په دې دوستانو کې ځینو په وار وار ماته مشوره راکړې چې پر ژباړو برسیره پخپله څه وکړم، هغوی له مانه ددې تمه لرې چې دخپل وروستي جهاد او مقاومت په باب دداستان او ناول په بڼه څه ولیکم، ددوی له دې نیک نظر څخه بیا مننه کوم چې زما په باب یې لرې خو زه بیا پردې ویاړم او دا به مې د ژوند یو لویه کارنامه وي که د ارواښاد نسیم «حجازي» ټول تاریخي داستانونه وژباړم، البته دهیواد د بل هرلیکوال، په څیر زه هم خپل یادښتونه، تجربې او له مختلفو حوادثو سره دتکر خاطرې لرم، که فرصت و او خدای «ج» توفیق راکړ دهیواد د وروستي جهاد او مقاومت په باب څه لیکل پرځان فرض او پور بولم.
په پای کې د میوند نشراتي مرکز له مسؤل ورور نصیر عبدالرحمن څخه مننه کوم او جذبه یې ستایم چې دغه اثر یې د چاپ په ګانه سنبال کړ، همدا رنګه له ورور محمد قاسم «خدري» او محمدالله جان «کمال» څخه مننه کوم چې ددغه اثر په کمپوز او تصحیح کې یې مرسته کړې ده.
نور زه خپلې خبرې رانغاړم او درانه لوستونکي له «یوه غازي» سره پرېږدم چې په غرونو او رغونو یې ورسره وګرځي او زموږ د تاریخ د عظمت څو بابونه ورته وغلوي.

درنښت

م.ز. شفیقي

د ۱۳۷۸ هجري لمریز کال د تلې لسمه

PROPERTY OF ACKU 8625

# صابره

لمر ډیر ځله له ختیځه راختلی په لویدیځ کی ډوب شوی دی، سپوږمی خپل میاشتنی سفر په زرګونو ځله سرته رسولی، ستوری په لکونو ځله د شپو په تیارو کی ځلیدلی دی او د سهار په رڼا کی ورك شویدی، د بشریت په بڼ کی پسرلی او منی خپل خپل رنګ ځلولی دی، له جنت نه د راویستل شوی انسان په نوی کلی کی یوه داسی معرکه جوړه وه چی د فطرت مختلف عناصر تل پکی یو له بله په ټکر کی وو، ډول ډول انقلابونه راغلل، د تهذیب او تمدن ډیری څپی بدلی شوی، په زرګونو اولسونه د ذلت له تیارو ګوټونونه پاڅیدل او د سیلی او توپان په څیر په ټوله دنیا خپاره شول، خو د فطرت په قانون کی د کمال او زوال اړیکی داسی مزبوتی دی چی هیڅ شی ثبات نه لری، هغه اولسونه چی د تورو په سیوری کی یی د فتحی او بری نغاری ږغولی اوچت شول، د رباب او طاوس په نغمو کی بی هوښه پریوتل او ویده شول، څوك دی له دی شنه آسمان نه وپوښتی چی په پراخه ټټر یی د تیری زمانی په زرګونو داستانونه انځور دی. د قومونو او اولسونو جوړیدل او شړیدل یی لیدلی، او د لویو لویو پاچاهانو له سره یی د تاج لری کیدل او د هغوی ګدایی لیدلی او ګدایان یی لیدلی چی تاجونه یی پر سر شوی. کیدای شی چی دغه آسمان د دغسی داستانونو له ډیر تکرارنه بی پروا شوی وی خو موږ په یقین ویلی شو چی د عربو د بیابان د اوسیدونکو د بری او ذلت داستان چی د دنیا د ټولو هستوګنو له داستان سره توپیر لری د دی شنه آسمان به تر اوسه په یاد وی، که څه هم د دی داستان یوه برخه هم بی خونده نه ده خو نن یی زموږپه مخکی هغه رنګین باب دی، چی کله د ختیځ او لویدیځ په سردرو کی غرونو او دښتو د مسلمانانو د بخت د آسونو پښی ښکلولی او د دوی تیرو توروته د ایران او روم واکمنی بی وسه شوی وی. دا هغه زمانه وه چی د ترکستان، اندلس او هندوستان په خاورو کی

مسلمانانُ د آزموینتونو څپو ته ورپریوتلی وو.

د بصری نه شل میله لری د خرما د ونو په منځ کی د یوه ساده کور په انګړ کی د پاخه عمر خاونده صابره د مازدیګر په لمانځه ولاړه وه، بل لوری ته دری ماشومان په لوبو او ساعت تیری لګیا وو، دوه هلکان او یوه نجلی، هلکانو په لاس کی دوه وړوکی د لرګی چړی نیولی وی، نجلی په څیر څیر دوی ته کتل، لوی هلك چاړه په لاس کی وځرخوله او وړوکی ته یی وکتل ویی ویل: نعیمه وګوره زما توری ته وګوره!

وړوکی خپل لرګی اوچت کړ ویی ویل: زما سره هم توره شته، راځه دواړه جګړه وکړو.

لوی ماشوم ورته وویل: ته بیا ژاړی.

وړوکی ځواب ورکړ: نه ته به وژاړی.

لوی ورته وویل: نو راځه!

معصومو ماشومانو یو پر بل ګوزارونه پیل کړل، نجلی هلته پریشانه ورته ودریده، د نجلی نوم عذرا ؤ، وړوکی هلك نعیم نومیده، او لوی ماشوم عبدالله ؤ، عبدالله له نعیم نه دری کاله مشر ؤ، د هغه په شونډو موسکا خوره وه، خو د نعیم بڼه داسی جدی وه لکه چی رښتیا د مقابلی دګر وی.

نعیم به وار کاوه او عبدالله به په سړه سینه د هغه ګوزار دفعه کاوه. ناڅاپه د نعیم لرګی د هغه په مټ ولګید، عبدالله لږ په غوسه شو او پر نعیم یی وار وکړ، د هغه مړوند خوږ شو او لرګی یی له لاسه ولوید.

عبدالله وویل:اوس به ژاړی نه!

نعیم له غوسی نه سور واوښت ویی ویل: زه نه، ته به ژاړی. له ځمکی نه یی یوه لوټه واخسته اوعبدالله یی پر تندی وویشت.

بیا یی خپل لرګی له ځمکی نه را اوچت کړ او د کور په لور یی منډه واخسته، عبدالله هم پر تندی لاس نیولی ؤ او ورپسی ور وځغلید خو په دی ځند کی نعیم د صابری غیږی ته ځان رسولی ؤ، مور ته یی وویل:

موری عبدالله می وهی.

عبدالله له غوسی نه شونډی چیچلی خو چی مور یی ولیده چوپ شو.

مور یی تری وپوښتل: عبدالله څه خبره ده؟

هغه ځواب ورکړ: مورجانی زه یی په ډېره وویشتم!

صابرې د نعیم په سر لاس راتیر کړ ویی ویل: زویه ته ولې جګړه کوی؟

نعیم: مورې په تورو جګړه کوله، هغه زما لاس مات کړ ما هم خپل بدل واخست.

صابره: د تورو جګړه! توری مو له کومه کړی؟

نعیم خپل لرګی وروښود ویی ویل: دا وګوره موری! دا د لرګی ده خو زه د اوسپنی توره غوارم، رایی کړه زه جهاد ته ځم.

صابره د کم عمره بچی له خولی نه د «جهاد» د نامه په اوریدو همغه خوښی احساسوی چی زوی په دعاګانو ویده کوی چی:

ای د کعبی ربه! زما د سترګو تور مجاهد کړه چی ستا د حبیب کښینولی نیالګی ته د خپلی ځوانی وینی ورکړی.

د نعیم له خولی نه یی چی د توری او جهاد الفاظ واوریدل د صابری تندی له خوښی نه وځلیده، په بدن کی یی د خوښی وینه وچلیده، له سروره یی سترګی پتی کړی، دی ماضی او حال هیر کړل او په تصویر کی یی خپل زامن ځوانان لیدل چی په ښکلو آسونو سپاره د جګړې په ډګر ولاړ دی.

دی لیدل چی زامنو یی د دښمن صفونه څیرل او پر مخ تلل، او د دښمن آسونه او پیلان د دوی د مقابلی نه عاجز وو پر مخ تښتیدل، د دی ځوان زامن د دښمن په تعقیب پسی په مستو سیندونو آسونه ور پونده کړی، او بالاخره د دښمن په لیکو کی راګیر شی، څو ځله راولویږی او بیا پاڅی او بیا وروستی ځل د شهادت کلمه وایی او بی حرکته ولویږی.

دی لیدل چی د جنت حوری هغوی ته «سپیڅلی شراب» راوړی او سرته یی ودریږی. صابرې اِنَّا لِلّٰہِ وَ اِنَّا اِلَیۡہِ رَاجِعُوۡن وویل او په سجده پریوته.

دعایی وکړه: ای د ځمکی او آسمان مالکه! کله چی د مجاهدینو میندی ستا په دربار کی حاضریږی ماله چانه وروسته مه کړی، زما بچیان د دی وړ کړه چی د خپلو پلرونو او نیکونو روایتونه وساتی.

له دعا وروسته صابره جګه شوه دواړه زامن یی په غیږ کی ونیول، د انسانی ژوندانه په زړګونو پیښی داسی دی چی د عقل د محدودی کوټی نه تیریږی د زړه د پاچهی بی پایه وسعتونو ته رسیږی، که مورې د نری تولی

پیښې د عقل په تله وتلو نو کله کله به ډیری عادي پیښې هم یو طلسم غونډې ښکاره شي، موږ د نورو د احساساتو او جذباتو اندازه د خپلو احساساتو نه لګوو، ځکه خو د هغوی هغه حرکات چې موږ ته نا آشنا دي موږ ته یوه معما شي او نه پری پوهیږو، د نن ورځې یوې مور ته به د لومړیو پیړیو دیوې زړه وری مور دعاګانې او آرزوګانې څومره عجیبې ښکاري، د خپل زړه د ټوټې له اور او وینو سره د لوبیدو هیله به څومره ورته عجیبه او ویروونکی ښکاري!

هغه میندې چې خپل زامن له پیشونه په ویرولو ویده کوي، دا خوب کله پیدای شي چې زامن یې دې له زمریانو سره مقابله وکړي.

زموږ د اوسنیو ځوانانو پوهه د غرونو د لوړوالی او د سمندرونو د ژوروالی نه بی پروا مجاهدینو د زړونو رازونو ته کله رسیدای شي.

د رباب نغمو ته خوځیدونکي ځوانان به د غشو او نیزو مقابلې ته ولاړو ځوانانو داستانونه څومره په حیرانی او تعجب اوری، یا د خپلې ځالې په شاو خوا راڅرخیدونکی معمولي مرغه د شاهین د الوتنې د وسعتونو اندازه کله کولی شي؟

* * * * *

(۲)

د صابرې وړوکتوب او ځواني په ډیرو هسکو تیټو لارو تیره شوی وه، د دې په رګونو کې د عربو د هغو شاه زلمیو وینه چلیده چې د اسلام او کفر په لومړنیو جګړو کې یې د خپلو تورو جوهر ښودلی ؤ، د دې نیکه دیر موك په غزا کې غازي شو او د قادسیې په غزا کې شهید شو دا له وړوکوالی نه د غازي او شهید له نومونو سره آشنا وه، بلکې داسې باید وویل شي چې د دې د ژبې د زده کړې لومړی تکی همدا ؤ او مور یې لومړنی لفظ دا ور وښود چې «غازي پلار» او څو ورځې وروسته یې بیا ور وښودل «شهید پلار».

په داسې چاپیریال کې دروزل شوی ښځې نه په ځوانی او بوډاتوب کې همداسې هیله کیدای شي چې د یوې مسلمانې فرض پیژندونکې میرمنې نه کیږي.

دي به له وروکتوبه د عربو میندو د غیرت او زړه ورتوب کیسي او افسانې اورولې، په (۲۰) کلنی یې له یوه ځوان «عبدالرحمن» سره واده وشو، ځوان میړه یې د یوه مجاهد ټول صفتونه درلودل. او دوفا داری میرمنې مینې دې د کور په څلورو دیوالونو کې د ایساریدو پر ځای تل د جهاد لپاره هڅا وه.

کله چې عبدالرحمن د وروستی ځل لپاره جهاد ته روان شو د عبدالله عمر دری کاله او د نعیم له دری میاشتو لږ ؤ، عبدالرحمن عبدالله پورته کړ او په غیږ کې یې ونیو او نعیم یې د صابرې له غیږې واخست مینه یې ورسره وکړه، په څیره یې د څه خفګان نخښې وې خو زر یې وموسکل صابرې چې د ژوند ملګرې د جګړې میدان ته رخصتاوه په زړه کې یې تر لږ ځنده یو توپان راوالوت، خو په سترګو کې یې ځلیدونکو اوښکو ته د بهیدو اجازه ورنه کړه.

عبدالرحمن وویل: صابرې! له ماسره وعده وکړه چې که زه له جګړې نه راستون نه شوم زما بچیان به زما توره زنګ وهلو ته نه پریږدې.

صابرې ځواب ورکړ: ته ډاډه اوسه، زما ګلونه به له چانه وروسته نه وي.

عبدالرحمن د خدای(ج) پامان وویل او د آس په رکاب کې یې پښه کیښوده، صابرې د هغه له رخصتیدو وروسته سر په سجده کیښود او دعایی وکړه:

ای د ځمکې او آسمانونو مالکه! ته یې پښې ټینګې کړه، کله چې میړه او ښځه د خیرې او اخلاقو په وجه یو بل ته مثالي وی نو د مینې احساسات د اوج پوړیو ته ختل طبیعي دی، بیله شکه د صابرې او عبدالرحمن اړیکې د بدن او اروا اړیکې وې او د بیلتون په وخت د نرمو جذبو غلې کول تر ډیره حده عجیب دی، خو هغه کوم ستر ارمان ؤ چې دې خلکو د ژوند ټولې هیلې او آرزوګانې ترې قربانی کړې وې؟

هغه کوم هدف ؤ چې دری سوه دیارلس تنه یې د زرو تنو مقابلې ته ودرول، هغه کومه جذبه وه چې مجاهدینو ته یې له سمندرونو او سیندونو نه پورې وتلو او له تودو بیابانونو او دنګو غرونو نه تیریدو ته تیار کړي وو.

دې پوښتنو ته یو مجاهد ځواب ویلی شي.

د عبدالرحمن د تللو اوه میاشتې تیرې شوې وې، د دې کلې څلور تنه نور هم له هغه سره تللي وو، یوه ورځ د عبدالرحمن یو بل ملګری راغی او له آس نه تر پلې کیدو وروسته د صابرې د کور په لورې ورغی، د هغه په راتګ ډیر خلك پرې ورتول شول، چا د عبدالرحمن پوښتنه وکړه، هغه څه ځواب ورنه کړ او چوپ د صابرې کورته ور ننوت.

صابرې اودس کاوه، هغه یې چې ولید جګه شوه، هغه سرې ورنږدې شو او په څو قدمې کې ورته ودرید.

صابرې د خپل زړه درزا راقابو کړه ویې پوښتل:

:هغه را نه غی؟

:هغه شهید شو.

شهید! د صبر سره د صابرې له سترګو څو څاڅکې اوښکې وبهیدې. نوی راغلی میلمه وویل: په وروستیو شیبو کې چې هغه تپې تپې ؤ په خپلو وینو ېې ماته ستاسو په نامه یو لیك ولیکه او رایې کړ.

صابرې د خپل میړه وروستې لیك پرانست ویې لوست، صابرې! زما ارمان ترسره شو، اوس چې زه د خپل ژوند وروستې ساه ګانې پوره کوم، زما په غوږونو کې یوه عجیبه نغمه کړنګیږي،زما اروا د بدن له قیده د خلاصون او د دې نغمې په څپو کې د الوتو هیله کوې، زه سره له دې چې ډیر تپې یم د یو ډول آرامې او خوښې احساس کوم.

زما اروا د یوه ابدې سرور په سمندر کې غوټې وهې، زه دا کلې پریږدم او داسې نړۍ ته ځم چې هره ذره یې د دنیا ټولې رنګینۍ لرې.

زما په مرګ مه ژاړه، زه خپل مرام ته ورسیدم، دا ګومان مه کوه چې زه له تانه لرې ځم، موږ به یوه ورځ په هغه ځای کې سره یو ځای شو چې د دایمې خوښیو مرکز دې، هغه ځای چې سهار یې ماښام او پسرلې یې خزان نه لرې، دا مقام که څه هم له لمر او ستورو نه لوړ دې خو مجاهد په یوه ګام وررسیږي، عبدالله او نعیم ته دې مقام ته د رسیدو لاره ورښودل ستا ذمه وارې ده، ما تاته ډیر څه لیکل غوښتل خو اروا مې د بدن له زندان نه وتلو ته نا کراره ده، زه د خپل محبوب صلی الله علیه وسلم پښو ښکلولو ته بې تابه یم، زه خپله توره درلیږم، هلکانو ته یې قدر او ارځښت ور وښیه،

ځکه چې ته ماته د یوې ذمه وارې میرمنې په حیث وې بچیانو ته یوه ذمه واره مور شه مورنی مینه دې خپله اراده ماته نه کړي، هغوی ته وښیه چې د مجاهد د مرګ په وړاندې د دنیا ژوند هیڅ او بې ارځښته دی.

# عـــــذرا

د عبدالرحمن له شهادت پنه دری کلونه تیر شوی وو، یوه ورځ صابره د خپل کور په انګړ کی د خرما ونی لاندی ناسته وه او عبدالله ته یی سبق وایه، نعیم له یوه لرګی نه آس جوړ کړی ؤ او په بل لرګی یی واهه او په انګړ کې یې یوه او بله خوا منډې وهلې، چا بهر دروازه وټکوله، عبدالله زر ورجګ شو دروازه یې خلاصه کړه، او ماما جانه ماما جانه یی وویل او راغلی سړی ته په غیږ کی ورپریوت.

صابری له انګړ نه غږ وکړ: څوك دی سعید!

سعید یوه وړوکی نجلۍ تر لاس نیولی انګړ ته ورننوت، صابره ورجګه شوه د خپل کشری ورور ځرکلی یی ووایه او د نجلۍ پر سر یې لاس راتیر کړ ویې پوښتل: دا خو به عذرا نه وی؟ کټ مټ یاسمین ته ورته ده.

سعید: هو خوری! دا عذرا ده، ما دا دلته ستاسو کره د پریښودلو لپاره راوستی ده، ماته فارس ته د تګ لپاره امر شوی دی هلته ځنی خلك د بغاوت هڅه کوی، زه باید زر تر زره هلته ولاړ شم.

یو ځل می فکر وکړ چی عذرا د چا په لاس راواستوم، خو بیا می دا مناسب‌وبلله چی پخپله یی راولم او ولاړ شم.

صابره: له دی ځایه څه وخت د تلو اراده لری؟

نن چی ولاړ شم نو غوره به وی، نن به زموږ پوځ په بصره کی پاتی وی، سهار ته به له هغه ځایه فارس ته روانیږو.

عبدالله له مور سره ولاړ ؤ دا خبری یی اوریدی، نعیم هم چی تر اوسه پوری په یوه لرګی د آس د سپرلی مینه ماتوله راغی او له عبدالله سره په

خوا کې ودرید، سعید نعیم اوچت کړ او په غیږ کې یې ونیو پر مخ یې ښکل کړ مینه یې ورسره وکړه او بیا یې له خور سره خبرې کولې، نعیم بیا په لوبو او ساعت تیرې لګیا شو، خو لږ څنډ وروسته یې څه په ذهن کې ور وګرځیدل عبدالله ته راغی او عذرا ته یې په ځیر ځیر وکتل، هغه څه ویل غوښتل خو له حیانه یې ونه ویل خو له لږ ځنډ وروسته یې جرئت وکړ عذرا ته یې وویل:

ته هم آس اخلې؟

عذرا وشرمیده د سعید تر شاپټه شوه،

سعید د هغې پر سر لاس راتیر کړ ورته ویې ویل ولاړه شه لور کې له ورور سره دې لوبې وکړه.

عذرا شرمیده، ورو ورو ور وړاندې شوه، د نعیم له لاسه یې لرګی واخست، دواړه د انګړ بل کونج ته ولاړل او د لرګیو په اسونو یې پښې واړولې او ورو ورو یو له بل سره بلد شول.

عبدالله د نعیم چلند ښه نه ایسیده او هغه ته یې په غوسه کتل، خو تر لږ ځنډ وروسته نعیم له خپل نوی ملګری سره دومره بلد شوی ؤ چې عبدالله به وروکتل ده به مخ بل لوری ته تری واړاوه، کله چې عبدالله هم له ده نه مخ اړول پیل کړل نو ده صبر ونه کړ مورته یې شکایت وکړ:

ګوره مورجانې عبدالله مخ رانه اړوي.

مور وویل: عبدالله پریږده چې لوبې وکړي.

او کله چې عبدالله بیرته مخ ور واړاوه، نو ده بیا مخ تری واړاوه.

*****

(۳)

د عذرا کیسی هم له صابری نه توپیر نه درلود، دوی له هغو خلکو نه وی چې کله یې ښې او چپ لاس پیژندلی وو، د پلار او مور له سیوری نه محرومې وی.

د عذرا پلار ظهیر د «فسطاط» د مخورو خلکو نه ؤ، هغه په شل کلنی د ایرانی نژادی یوی ښکلی پیغلی «یاسمین» سره واده وکړ.

«د یاسمین» د واده لومړی شپه وه، دی د خپل محبوب میړه په زړه کې

د هیلو نوی ځوکی راتوکولی، په کوټه کی څو شمعی بلی وی، د یاسیمن او ظهیر په سترګو کی خمار ؤ خو هغه خمار د خوب له خمار نه ډیر بدل ؤ.

ظهیر پوښتنه وکړه: یاسیمن رښتیا ووایه ته خوښه یی؟

ناوې د ډیري خوښی په حالت کې د څه ویلو پر ځای سترګې لږ پورته کړې او بیایې بیرته ښکته کړې.

ظهیر بیا همدغه پوښتنه وکړه، یاسمین خپل خاوند ته وکتل د حیا او خوښی په تل کې ډوبه یوه موسکایی په شونډو تیره شوه او بیایی خپل لاس په خوله کیښود، دا ساده ځواب څومره له معنی ډک ؤ، هغه وخت چی پرښتو د خوښی سندری ویلی او د یاسمین د زړه درزا د ظهیر درزیدونکی زړه ته ځواب ورکاوه، الفاظ ډیر بی مفهومه ښکاریدل، ظهیر یو ځل بیا خپله پوښتنه تکرار کړه.

یاسمین ځواب ورکړ: له خپل زړه نه دې وپوښته.

ظهیر ورته وویل: زما په زړه کې خو نن د خوښیو توپان را الوتی، ماته خو داسې ښکاري چې نن د کایناتو هر شی د خوښۍ او سرور په نغمو مست دی، کاشکی دغه نغمې تل همداسې وی، د یاسمین تر خوله هم بی اختیاره ووتل: کاشکی! او بیایی غټې غټې تورې سترګې چې څو شیبې وړاندې له خوښیو ځلیدې، د راتلونکی له خیاله په اوښکو ډکې شوی، ظهیر چی د خپلې ګرانی میرمن په سترګو کی اوښکې ولیدې بې اختیاره شو ویې ویل: یاسمین، یاسمین، ته ولې ژاړې؟ یاسمین خپلې لمدې سترګې ورواړولې ویې ویل: نه نه ژاړم د هغی په اوښکو غمجنې سترګې له موسکا سره نورې هم ښکلې شوې.

ظهیر: نه، ولې نه! ته دا دی ژاړې، یاسمین تاته څه په خیال کی درو ګرځیدل.

یاسمین: کومه خاصه خبره نه ده، ماته حلیمه رایاده شوه، د بی چاره یو کال لا د واده نه ؤ رتلی چې میره یې له دنیا نه سترګې پټې کړې.

ظهیر وویل: زه له داسې مرګه ډیر ویریږم، بیچاره په بستره کی په یوه او بل لټ اوښت او ساه یې ورکړه، د یوه مجاهد مرګ څومره ښه مرګ دی، بیچاره دی تربې محروم شو، د ده خو پکې قصور نه ؤ، له ورو کوالی نه ډول

دول ناروغیو ځیلي ؤ له مرګه څو ورځې وړاندې يې زه پوښتنې ته ورغلی وم د بیچاره ډیر حالت خراب ؤ، هغه زه ورته کښینولم او لاس مې يې په لاس کې ونیو راته ويې ویل:

ته ډیر بختور يې متې دې د اوسپنې په څیر کلکې دي، ته به په آس سپور د جګړې په میدان د دښمن د تورو او غشو په میړانه مقابله کوې خو زه دا دې دلته لټ په لټ اوږم، په دنیا کې زما مرګ او ژوند یو شی دي، ما په وړوکتوب کې د جهاد خوبونه لیدل، خو اوس مې چې ځوانی راغله له بسترې نه جګیدل او پلې ګرځیدل راته ممکن نه دي.

کله چې هغه دا خبرې کولې په سترګو کې يې اوښکې وې، ما هغه ته ډیره تسلی ورکړه خو هغه د ماشومانو په څیر ژړل، هغه جهاد ته د تللو ارمان ګورته ورسره یووړ، خو د هغه په سینه کې د یوه مجاهد زړه ؤ، له مرګه نه ویریده، خو داسې مرګ يې نه خوښیده.

ظهیر خبرې پای ته ورسولې او بیا دواړو په چوپتیا یو بل ته کتل، د سهار علامې رابرې شوې، او مؤذن د دنیا خلك د غفلت له خوبه بیدارول او په لمانځه کې يې د شریکیدو لپاره د خدای(ج) حکم ورته اوراوه، دوی دواړو هم د دې حکم د پر ځای کولو تیاری نیوه چې چا دروازه ور وټکوله، ظهیر دروازه بیرته کړه نو ويې لیدل چې سعید زغره اغوستې او په مغ کې يې پراس سپور ؤ، سعید له آس نه پلی شو او ظهیر ورووړاندې شو دواړه غاړه غړې شول سعید او ظهیر دواړه د وړوکتوب ملګری وو، د دواړو ملګری د سکه ورونو نه هم خوږه او پا که وه، دواړو په یوه ځای زده کړې کړې وې په یوه ځای يې د جګړې او سپارلی هنر زده کړی ؤ او په ډیرو میدانونو کې يې یو د بل تر څنګ د خپلو متو زور او د تورو جوهر ښودلی ؤ.

ظهیر له سعید نه د ناڅاپی راتګ پوښتنه وکړه.

سعید: زه د قیروان والي تا ته را استولی یم.

ظهیر: خیرت خو دی.

سعید: نه! په افریقا کې ډیر په توندی بغاوت خپریږي.

رومیان جاهل بربریان راپاروی او زموږ په مقابل کې يې درولی دي د دې

اړو دوړ د چوپ کولو لپاره تازه دمه پوځونو ته ضرورت دی، والی د خلافت دربار ته فریادونه کوی او مرسته یی غوښتی ده خو هلته زموږ غږ څوك نه اوری، نصرانیان زموږ له کمزوریو نه ګټه اوچتوی که هلته حالاتِ راقابو نکړای شو نو پراخه خاوره به مو تل له لاسه ووزی، والی ستا لپاره لیك راکړ او را استولی ئی یم.

ظهیر لیك پرانست ویی لوست، د لیك مضمون داسی ؤ:

سعید به تاته د افریقی وضعه بیان کړی، د یوه مسلمان په حیث ستا فرض دی چی هر څومره سپاهیان تیارولی شی زر تر زره یی تیار کړه او را روان شه، ما یو لیك د خلافت دربار ته هم استولی دی، خو په اوسنیو حالاتو کی چی عرب په خپلمنځی جګړو اخته دي زه له هغوی نه د څه مرستی تمه نه لرم، ته لږ هڅه وکړه.

ظهیر یو نوکر راوغوښت د سعید اس یی وروسپاره او سعید یی کورته یوی کوټی ته ورسره بوت، د هغه له سترګونه دواده د شپی خمار لری شوی ؤ، بلې کوټې ته ولاړ ویې لیدل چې یاسمین د پروردګار په دربار کې په سجده پرته وه په زړه کې یې د خوښۍ څپې را اوچتې شوې بیرته سعید ته راغی او ورته ویی ویل:

سعیده! ما واده وکړ.

سعید: مبارك دې شه کله؟

ظهیر: پرون.

سعید په خندا شو ویې ویل: مبارك دی شه، او بیا یی ناڅاپه خندا په شونډو وچه شوه او په اندیښنه بدله شوه، د خپل پخوانی دوست په سترګو کې یی سترګې ښخې کړې او په کتو کې یې دا پوښتنې ځلیدې چې د واده خوښیو خو به د جهاد له جذبې نه محروم کړی نه وی، او د ظهیر سترګو د هغه د پوښتنی ځواب په «نه!» ورکاوه.

سعید پوښتنه وکړه: تا د لیك په باب څه سوچ وکړ؟

ظهیر په موسکا لاس د سعید په مټ ورکیښود او ویی ویل:

په دی کار کی د سوچ څه خبره ده څه چی ځو!

څه یو ساده لفظ ؤ خو د دی ساده لفظ په ویلو چی سعید له ظهیر نه

څومره خوښ شو د هغه اټکل ګران دی، بی اختیاره خپل دوست ته ور تر غاړی شو، ظهیر نور څه ونه ویل، سعید یی ورسره ملګری کړ او جومات ته ولاړل.

د سهار له لمانځه نه وروسته ظهیر د خبرو لپاره اوچت شو یوه مجاهد ته د خپلو خبرو د اغیزناك کیدو لپاره ښکلو الفاظو او اوږدو تاویلونو او تعبیرونو ته اړه نه شته، د هغه سیده ساده مګر له خلوصه ډك الفاظ د خلکو په زړونو کښیناستل ظهیر ویل:

مسلمانانو! موږ په ځانځانی او خپلمنځی جګړې له سیالی وغورځوی له هر څه به پاتې شو، اوس داسې مهال راغلی چې د روم پاچاهی چی څو ځلی زموږ تر قدمونو لاندی شوی بیایی زموږ د مقابلی جرئت کړی دی، هغوی دیر موك او اجنادین ماتی هیری کړی دی. راځی هغوی ته یو ځل بیا ووایو چی مسلمان د اسلام د عظمت د ساتنی لپاره اوس هم خپلی وینی هومره ارزانه ګڼی لکه پخوایی چی بللی، هغوی ډول ډول دسیسی کړی او د افریقا په خلکو یی د ژوند ساحه تنګه کړی ده. ذوی ګومان کوی چی موږ خپلمنځی جګړو کمزوری کړی یوخو زه وایم چی په دی دنیا کی تر څو یو مسلمان ژوندی دی هغوی باید له موږ نه وویرېږی.

مسلمانانو! راځی یو ځل بیا هغوی ته ووایو چی زموږ په سینو کی هماغه غورځنګ دی، زموږ په متو کی هماغه ځواك دی او زموږ توری همغسی جوهرداری دی چی د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه په وخت کی وی.

د ظهیر له خبرو وروسته دوه سوه پنځوس تنه ځوانانو له هغه سره د ملګرتوب تیاری وښود.

*****

(٤)

یاسمین د خپلو ټولو هیلو او آرزوګانو مرکز د جګړی ډګر ته روان لیده، د زړه براس د سترګو له لاری د اوښکو په بڼه د څڅیدو هڅه کوله، خو د یاسمین ښځینه غرور د خپل میړه په مخ کی د بی زړه توب مظاهره نه شوای زغملی، اوښکی یی په سترګو کی ډب شوی.

ظهير د خپلې ميرمنې په لوري وکتل، هغه د غم او خفګان د انځور په څير ولاړه وه، زړه يې سپارښت وکړ چې يوه شيبه نور تم شه، څو خبرې وکړه، خو د همدې زړه بله هيله دا وه چې له يوه بل آزموينښت نه ځان ساته.
ظهير وويل: ښه ياسمين د خدای(ج) پامان! دايې وويل او اوږده اوږده ګامونه يې واخيستل د دروازې په لوري ولاړ بيا يې څه په زړه کې وروګرځيدل ودريد، يو داسې خيال چې تر اوسه پورې يې ماغزو ته نژدې نه ؤ پرېښې د بريښنا غوندې ګرندې د ده په دماغ او زړه خپور شو، د زړه لطيفې برخې په کمزورې غږ وويل چې ښايي دا وروستې ديدن وي، خو د يوې شيبې نه وروسته دې خيال د يوې هنګامې ښه غوره کړه، ظهير مخ راواړاوه ياسمين ته يې وکتل هغه وروړاندې شوه، ظهير سترګې پټې کړې او غېږ يې خلاصه کړه او ياسمين په ژړا په غېږ کې ورپريوته.

ظهير: ياسمين!

ياسمين: زما آغا!

هغه اوښکې چې ياسمين غوښتل پټې او تم وساتي ناڅاپه وبهيدې د دواړو زړونه درزيدل، خو د زړونو دا درزا اوس ډيره کراره وه او ورو ورو نوره هم کراريده، کاينات د هماغې خوږې نغمې نه ډك وو، خو سر او تال يې نن ډير زور ؤ، د مجاهد د آزموينښت مهال ؤ د مينې او ذمه وارې د احساساتو سيالي او مقابله وه، د ظهير په مخکې ياسمين وه د حسن او ځوانې مجسمه، د رنګ او وږمو غونچه او بيايې ناڅاپه لاسونه سست شول او يو ګام شاته شو.

ظهير: ياسمين دا زما فرض دی.

ياسمين ځواب ورکړ: زما آغا دا ماته معلومه ده.

ظهير: زما تر راتګ پورې به حنيفه ستا خيال ساتي ته خوبه ويريږې نه!

ياسمين: نه ته ډاډه اوسه.

ظهير: ياسمين ماته په موسکا وګوره! زړوري ښځې په داسې وخت کې اوښکې نه تويوي، ته د يوه مجاهد ښځه يې.

د ميړه د امر په تعميل د ياسمين په شونډو موسکا وځغليده خو د دې موسکا سره يې په سترګو کې د اوښکو دوه غټ څاڅکي هم وځليدل.

بیایی زر اوښکې پاکې کړې ویې ویل: زما آغا ما وبخښه! کاشکې ما هم د یوی عربی مور په غیږ کې سترګې غړولې وای، له دې خبرونه وروسته یې په ډیر درد سترګی پټې کړې او غیږ یې یو ځل بیا ظهیر ته خلاصه کړه، خو چې سترګې یې وغړولې ویې لیدل چې ګران میړه یې تللی دی.

*****

(۵)

یاسمین د یوی ایرانی مور په غیږ کی پالل شوی وه، ځکه خو یی په وجود کی د لطیفو احساساتو زور تر عربی ښځو زیات ؤ، د ظهیر له رخصتیدو وروسته یی د ناکراری اتکل نه کیده نړۍ یی تر نظره بدله ښکاریده، حنیفی د دی پخوانی خدمتګاری یی د زړه د خوښی هره ممکنه هڅه وکړه، څو میاشتی وروسته یاسمین دا احساس کړه چی په بدن کی یی یو نوی وجود پالل کیږی، په دی موده کی یی د میړه څو لیکونه هم راغلل.

حنیفی ظهیر ته په لیك کی ولیکل چی په کوز کی یی یو نوی میلمه را روان دی، کله چی بیرته راستون شی نو په کور کی به خوښی او سرور درته په انتظار وی، خو یاسمین ډیره خفه ده، که رخصت اخستلای شی د څو ورځو له پاره کورته راشه هغی ته ډاډ ورکړه بیرته به ستون شی.

اته میاشتی وروسته ظهیر کورته ولیکل چی د دوو میاشتو لپاره کورته درځم، د دی لیك نه وروسته پر یاسمین د انتظار شیبی تر پخوا هم سختی شوی، پر دی د ورځی آرام او د شپی خوب حرام شو او رنځوره شوه، د ظهیر له انتظار سره د وړوکی میلمه انتظار هم اوږد شو بالاخره د یوه انتظار موده ختمه شوه او د ظهیر د کور چوپتیا د یوه ماشوم د ژړا او غاړو غړونو-شورماشور ماته کړه، دغه ماشوم عذرا وه.

د عذرا له زیږیدو وروسته چی کله یاسمین په هوش راغله او سترګی یی وغړولی ږومبنی پوښتنه یی همدا وه «هغه نه دی راغلی.»

حنیفی تسلی ورکړه ورته ویی ویل: هغه به اوس راشی.

یاسمین: ډیر ځند یی وکړ. خدای(ج) خبر دی څه وخت به راشی.

*****

(٦)

د عذرا د زیږیدو دری هفتی پوره شوی، د یاسمین صحت ورځ په ورځ خرابیدو، هغی به د شپی په خوب کی زیاتره ظهیر چیغی وهلی، کله کله به په خوب کی جگه شوه او روانه به شوه چی له دیوال سره به ټکر شوه بیرته به وغورځیده.

حنیفی به هر وخت داد ورکاوه، هغی له تش دادنه پرته نور څه ورسره کولی شول.

یوه ورځ ماسپښین مهال یاسمین په خپله بستره غځیدلی وه، حنیفه نژدی په یوه کرسی ناسته وه او له عذرا سره یی مینه کوله چی دروازه وټکیده.

یاسمین ډیر په کمزوری غږ وویل: څوك دروازه ټکوی.

حنیفی عذرا د یاسمین سره څملوله او دروازی ته ورغله چی وازه یی کړه سعید مخامخ ولاړ ؤ.

حنیفی په خفگان او اندیښنه وویل: ظهیر چیرته دی! هغه را نه غی؟

د یاسمین کوټه که څه هم د بهر دروازی نه ډیره لری وه، خو د حنیفی خبری د یاسمین غوږو ته رسیدلی وی، د سعید د نامه په اوریدو یی نژدی زړه چاودیدلی ؤ او په یوه شیبه کی زرگونه خیالونه په ذهن کی وروگرځیدل، هغی په خپل درزیدونکی زړه لاس ونیول او له بستری نه جگه شوه، په لړزیدلیو گامونو له کوټی نه راووته او د حنیفی نه دوه دری گامه شاته ودریده، حنیفه په دروازه کی ولاړه وه او تر اوسه یی سعید ته کتل ځکه د یاسمین له راتگه خبره نه شوه او سعید چی په دروازه کی بهر ولاړ ؤ یاسمین یی نه لیده.

حنیفی خپله پوښتنه تکرار کړه: ظهیر ولی را نه غی؟

خو سعید چوپ ؤ، بیایی سر اوچت کړ حنیفی ته یی وکتل څه یی ویل غوښتل خو ژبه یی په واك کی نه وه، په غټو غټو ښکلیو سترگو کی یی اوښکی وځلیدی او په ښکلی مخ یی د غیر معمولی غم او ویر کرښې جوړې شوې.

حنیفی بیا وویل: سعیده وایه!

سعید: هغه شهید شو. زه افسوس کوم چی ژوندی راغلم او بیا یی له سترگو اوښکې راوخوټیدې.

سعید لا خپله خبره نه وه پوره کړی چی حنیفی شاته یوه کریږه واوریده او په څمکه د څه شی د غورځیدو غږ یی واورید. حنیفه وارخطا شوه شاته یی وکتل، سعید هم حیران شو انګړ ته ورننوت یاسمین پر مخی پرته وه.

سعید زر راپورته کړه، د ننه یی کوټی ته یوړه او په بستره یی څملوله، د هغی د په هوش راوستلو هڅه یی وکړه، کله چی مایوس شو د طبیب راوستلو لپاره یی بهر ته منډه واخستله لږ ځنډ وروسته چی بیرته راستون شو په انګړ کی یی ډیری ښځی ولیدی چی راټولی دی، چا طبیب ته وویل: نور ستا ضرورت نشته، هغه ولاړه!

مابښام نژدی ؤ چی د ښار قاضی د یاسمین جنازه وکړه د ظهیر د شهادت خبر هم مشهور شو، هغه ته هم د مغفرت دعا ګانی وشوی، له دی نه وروسته د ظهیر او یاسمین د کم عمره یادګار د عمر اوږدیدو دعا وشوه.

*****

(۷)

سعید په همدی ورځ عذرا یوی دایی ته وسپارله او حنیفی ته یی وویل چی که ته د ظهیر په کور کی اوسیږی نو زه به د کور خرڅ درکوم، او که زما کورته ځی هم زه به دی خدمت کوم.

خو حنیفی وویل: زه حلب ته خپل کورته ځم، هلته زما یو ورور اوسیږی. که می هلته زړه ونه لګید بیا به له تاسره ولاړه شم.

سعید د حنیفی د سفر بندو بست وکړ او پنځه سوه دیناره یی ورکړل رخصت یی کړه دوه کاله وروسته سعید عذرا خپل کورته راوستله او پخپله یی پالنه پیل کړه، او کله چی دی د باغیانو پر خلاف فارس ته د نوی سفر لپاره تلو نو عذرا یی صابری ته وسپارله.

# وړوکتوب

د کلی د خرما په باغونو کی یوه ویاله تیره شوی وه، د کلی خلکو ځارویو ته د اوبو ورکولو لپاره د دی ویالی په یوه څنډه کی یو ډنډ جوړ کړی ؤ چی د ویالی له اوبو نه به تل ډك ؤ، د دغه ډنډ په شاوخوا د خرما گڼو ونو یوه زړه وړونکی منظره جوړه کړی وه، د کلی هلکان به زیاتره د دغه ډنډ غاړی ته راتلل او لوبی به یی کولی.

یوه ورځ عبدالله، نعیم او عذرا د کلی له نورو هلکانو سره د لته لوبی کولی. عبدالله له خپلو همځولو هلکانو سره په ډنډ کی لمبل، نعیم او عذرا به لوی هلکان په لامبو لیدل او ورته خوښ وو، نعیم په هیڅ خبره کی ځان تر خپل ورور کم نه گاڼه، هغه تر اوسه پوری لامبونه وه زده کړی، خو چی عبدالله یی په لامبو وهلو ولید بی تابه شو عذرا ته یی وکتل ویی ویل: عذرا راځه موږ هم ولامبو!

عذرا ځواب ورکړ: مورجانه خفه کیږی.

نعیم: له عبدالله نه ولی نه خفه کیږی چی له موږ نه به خفه کیږی.

عذرا: هغه لوی دی لامبو یی زده ده، ځکه مورجانه نه تری خفه کیږی.

نعیم: موږ به ژورو اوبو ته نه ورځو، راځه!

عذرا سر وخوځاوه ویی ویل: او هو!.

نعیم: ته ویریږی؟

عذرا: نه، ولی؟

نعیم: نو بیا راځه!

څرنگه چی نعیم په هیڅ خبره کی ځان تر عبدالله کم نه باله بلکی له هغه

نه یی د وړاندی توب هڅه کوله همدغسی عذرا ځان تر نعیم کم نه ګاڼه او د نعیم په وړاندی یی په خپله کمزوری او ناتوانی اعتراف نه کاوه، نعیم لاس ور اوږد کړ او عذرا یی لاسه ونیوه او په اوبو ور ګډ شول، په ځنډه کی اوبه ډیری ژوری نه وی، خو دوی ورو ورو ژورو اوبو ته ورننوځی کیدل.

عبدالله او نور هلکان د ډنډ په بله غاړه په یوه نسکوره شوی خرما ختل او په اوبو کی یی ټوپونه وهل، د عبدالله هغه وخت دوی ته پام شو چی اوبه یی تر غاړو پوری رسیدلی وی او دواړو یو د بل لاس نیولی ؤ. عبدالله وویریده او چیغی یی پیل کړی خو د ده د غږ له اوریدو نه وړاندی نعیم او عذرا په ژورو اوبو کی لاس او پښی وهل، عبدالله په بیړه په لامبو د هغوی په لور ورغی، د ده له ورتګ نه وړاندی د نعیم پښی ځمکی ته ورسیدلی خو عذرا لا غوټی خوړلی. عبدالله چی له نعیم نه ډاډه ؤ د عذرا په لوری ورغی.

هغی لا لاس او پښی وهل، چی عبدالله ورننوځی شو د هغه تر مټ یی لاسونه راتاو کړل او ځان یی پری ونښلاوه.

عبدالله د دی له بوج سره یو ځای د لامبو توان نه درلود، عذرا کلکه ور پوری نښتی وه او د ده لاس پوره نشو خوځیدلی، دواړه دوه دری ځلی په اوبو کی غوټه او ډوب شول او بیا راووتل په دی ځنډ کی نعیم ځندی ته رسیدلی ؤ، له نورو هلکانو سره یو ځای یی چیغی پیل کړی یو شپون د اوښانو د اوبولو لپاره ډنډ خواته راروان ؤ او چی د هلکانو چیغی یی واوریدی ورمنډه یی کړه او چی د ډنډ له ځنډې یې عبدالله او عذرا ولیدل له جامو سره یې ځان اوبو ته ورغورځاوه، په دې ځنډ کې عذرا بې هوښه شوه او د عبدالله مټ یی پریښود او هغه په یوه لاس عذرا د سر تر ویښتانو ونیوله او په بل لاس یې لامبو وهله، شپون په بیړه عذرا له اوبو نه پورته کړه، عبدالله چې د عذرا له بوج نه بیغمه شو ورو ورو یې د ځنډې په لوری په لامبو ځان ورساوه، شپانه عذرا له اوبو نه راوایستله او په بیړه یی د صابری د کور په لور یووړه، عبدالله چی له ډنډ نه راووت نعیم یی جامی وروړی، عبدالله جامی واغوستی او په غوسه یی نعیم ته وکتل، هغه له پخوانه وارخطا ؤ چی وروړ یی په غوسه ورته وکتل په سلګو شو، عبدالله

نعیم په ژړا ډیر لږ لیدلی ؤ، اوس یې اوښکې د زړه د نرمولو لپاره کافی وې ورته ویې ویل: ته ډیر بې عقل یې څه کورته! نعیم په سلګو وویل: مورمې وهې زه نه ځم.

هغه تسلي ورکړه ورته ویې ویل: نه دې وهی ځه!

د عبدالله د تسلی الفاظ یې چې واوریدل د نعیم اوښکې ودریدې او په وروو پسې کورته روان شو.

شپانه چې عذرا د صابرې کره ورسوله د صابرې پریشانی او وارخطایی ډیره زیاته وه، د ګاونډیو کورونو څو نورې ښځې هم ورټولې شوې وې، د ډیرې هڅې نه وروسته یې عذرا په هوښ راوستله، صابرې بیا شپانه ته وکتل ویې ویل:

دا به د نعیم شرارت وی. زه له عذرا سره د ده په بهر وتلو تل ویریدم. ورمه ورځ یې د یوه هلك سر مات کړی ؤ، ښه ده چې نن کورته راشی زه به ورسره ګورم.

شپانه ورته وویل: په دې کې د نعیم څه قصور نشته، هغه بیچاره د ډنډ په غاړه ولاړ ؤ چیغې او فریادونه یې وهل، ما د ده غږ واورید او په منډه ورغلم، هلته ستا مشر زوی عذرا تر ویښتانو نیولی وه او دی غوټې خوړلې.

صابرې په حیرانی وویل: عبدالله! هغه خو داسې شوخ نه دی.

شپانه وویل: ما چې نن د هغه دا حرکت ولید حیران شوم، که زه په موقع نه وای وررسیدلی نو ده به دا معصومه ډوبه کړی وه، په دې کې عبدالله کورته ورورسید، نعیم ورپسې سرځوړند روان ؤ. کله چې عبدالله له صابرې سره مخامخ شو نعیم یې غلی تر شا ولاړ ؤ.

صابرې په غوسه وویل: عبدالله لرې شه زما له سترګو ځان پناه کړه، ما ګومان کاوه چې ته خو هوښیار یې، خو ته نن له نعیم نه هم څلورګامه وړاندې شوې.

عذرا دې د ډوبولو لپاره درسره بیولې وه؟

عبدالله چې په تولو لاره د نعیم د ژغورلو سوچونه کړی وو له دې نوی حالت سره په مخ کیدو حیران شو، هغه وپوهیده چې د ده د ورور قصور د ده پر سر ورتپل شوی دی. هغه شاته وکتل د وړوکي ورور په سترګو کې دا

هیله وه چی ومی ژغوره!
عبدالله د هغه د ژغورنی لپاره همدا لاره ولیده چی گناه په خپله غاړه واخلی. دا سوچ یی وکړ او چوپ پاتی شو، او د مور منت او ترټل یی په چوپه خوله زغمل.

*****

(۲)

د شپی مهال د عذرا له زکام سره تبه هم شوه، صابره یی سرته ناسته وه نعیم هم ډیر غمجن هلته ناست ؤ. عبدالله د ننه ورغی او چوپ د صابری تر شاه ودرید، صابره له هغه نه ناخبره وه او د عذرا سر یی چاپی کاوه. نعیم د لاس په اشاره عبدالله ته ویل چی له هغه ځایه ولاړشی، هغه ته یی خپل سوك وربښود چی ولاړ شه که نه خیر دی نشته، عبدالله د هغه د اشاروپروا ونه کړه او په انکار یی سروخوځاوه.

صابری چی نعیم په اشاره ولید عبدالله ته یی وکتل، عبدالله د مور د غضبناکو کتونه وویریده.

بیایی وویل: اوس عذرا څنګه ده؟

صاپره له پخوا نه له غوسی نه ډکه وه، نور یی زغم نه درلود ویی ویل ته ودریږه اوس یی دربښیم! او بیا راپاڅیده عبدالله یی تر غوږ ونیو بهر ته یی بوت، د انګړ په یوه څواکی طبیله وه، صابری عبدالله دروازی ته بوت ورته ویی ویل: د عذرا د لیدو لپاره ځکه راغلی چی هغه تر اوسه ولی مړه شوی نه ده!

ته به شپه همدلته تیروی، عبدالله ته له دی حکم اورولو نه وروسته صابره بیرته راغله د عذرا سرته کښیناسته، کله چی نعیم په دوه‌ی کښیناست له لومړی ګولۍ سره یی وروور ور په یاد شو او مړی یی په سترګی کی کلکه ونښته، هغه په ویره ویره له مور نه وپوښتل:

مورجانی وروور می چیرته دی؟

صابره: هغه به نن شپه په طبیله کی تیروی.

نعیم: مور جانی زه به دودی وروړم بیا به راشم.

صابره: نه! که هغه ته ورغلی نو د ځان خیر دی غواړه.

نعیم څو ځلی مړی اوچته کړه خو خولی ته به یی یووړه بیرته به یی پریښوده.

صابری پوښتنه وکړه: ولی یی نه خوری!

نعیم زر ځواب ورکړ: خورم یی موری او بیا یی یوه مړی په خوله کړه صابره د ماسخوتن د لمانځه لپاره اوچته شوه او چی کله بیرته راستنه شوه نعیم یی هماغسی ناست ولید ورته ویی ویل:

نعیمه! تا نن ډیر ځنډ وکړ تر اوسه دی ډوډی نه ده خوړلی.

نعیم ځواب ورکړ: ومی خوړه موری!

صابری لوښی چی هماغسی له خوړو ډك وو پورته کړل او په بله کوټه کی یی کیښودل او نعیم ته یی وویل چی ولاړ شه ویده شه، نعیم ولاړ په خپله بستره وغځیده، کله چی صابره په لمانځه ودریده نو دی غلی جګ شو او خپ خپ بلی کوټی ته ولاړ هغه خواړه یی واخستل او طویلی ته ولاړ، عبدالله په اوخور ناست ؤ او د یوه آس پر مخ یی لاس واهه. د سپوږمی رڼا د وره له لاری د عبدالله پر مخ لویدلی وه. نعیم یی خواړه په مخ کی کیښودل او ویی ویل: مورجانه په لمانځه ولاړه ده زر زر یی وخوره.

عبدالله نعیم ته وکتل او په موسکا یی وویل: یو یی سه زه یی نه خورم.

نعیم : ولی ! له مانه خفه یی؟ او په سترګو کی یی اوښکی ډنډ شوی.

عبدالله: نه نعیمه! دا د مور حکم دی ته ورځه!

نعیم: زه نه ځم زه هم همدلته پاتی کیږم.

عبدالله: ورځه نعیمه! مور به دی ووهی.

نعیم: نه، زه نه ځم او بیا له عبدالله سره غاړه غړی شو.

د نعیم په اصرار عبدالله چوپ شو.

هلته صابری لمونځ خلاص کړ، د مورتوب مینی یی صبر او زغم پای ته ورساوه. له ځانه سره یی وویل: اوه! زه څومره ظالمه یم! او بیا د طویلی په لوری ولاړه. نعیم چی مور ولیده چی ورغله نو د غلی کیدو پر ځای یی ورمنډه کړه او په پښو کی یی ولویده چیغی یی کړی:

موری! د وروړمی څه ګناه نشته، عذرا ما ژوړو اوبو ته بیولی وه، ورور جان خو می ژغورله.

صابره لږ څند پریشانه ولاړه وه بیا یی وویل: زما هم همدا گومان ؤ عبدالله دلته راشه.

عبدالله جگ شو ورغی، صابری له مینی نه په تندی ښکل کړ او سریی په سینه پوری جوخت کړ.

عبدالله وویل: موری! نعیم معاف کره.

صابری نعیم ته وکتل ویی ویل:

زویه تا ولی په خپله غلطی اعتراف ونه کړ؟

نعیم: ماته څه معلومه وه چی ته به عبدالله ته سزا ورکوی.

صابره: ښه ته دا ډوډی راوړه.

نعیم ډوډی راپورته کره او دری واړه د کور کوټی ته ننوتل.

عذرا ویده وه، هغوی دری واړو یوه هم تر اوسه هیڅ نه وو خوړلی او دری واړه په د سترخوان کښیناستل او ډوډی یی وخوړه.

*****

(۳)

د دی ماشومانو روزنه او پالنه د صابر ی د ژوند تر ټولو په زړه پوری برخه وه، د هغی یوازیتوب سره سره چی د صابری د خاوند د شهادت نه وروسته دی احساساوه اوس د دی ماشومانو په وجه د دوی کور ډیر له رنگینو او شورماشورنه ډک ؤ.

د شپی مهال به چی دې کله د ماسخوتن لمونځ وکړ نو عبدالله، عذرا او نعیم به نژدی ورته کښیناستل او د کیسی اورولو غوښتنه به یی تری کوله. صابری به د کفر او اسلام تر منځ د لومړنیو جنگونو کیسی ورته اورولی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ژوند حالات به یی ورته بیانول.

د دی هلکانو د غفلت زمانه تیره شوی وه. د صابری د روزنی په وجه په دوی کی د سپاهی توب د ژوندانه اغیزی ورځ په ورځ زیاتیدی عبدالله چی څومره د نعیم او عذرا نه په عمر کی لوی ؤ هومره له دواړونه سنجیده او دروند ؤ، هغه د عمر په ۱۳ کلنی قرآنکریم او څو لومړنی دینی کتابونه ولوستل، نعیم له یوه پلوه په عمر کشر ؤ او له بله پلوه یی له لوبو سره مینه زیاته وه څکه خو په زده کړو کی تر عبدالله وروسته ؤ، د هغه شوخی او

PROPERTY OF ACKU 8625

چالاکی په ټول کلي کی مشهوره وه، په هر ډول لوبه ونه ختلای شوای او په هر ډول سرکش او ګرندی آس سپریدای شوای. په شاتوري آس څو ځله د سپریدو په وخت کی لویدلی ؤ خو ده به دا هرڅه په خندا زغمل او په خپل هوډکی به نور هم پوخ شو، په غشی ویشتلو کی هم هغه په ټول کلي کی دومره مهارت درلود چی تر ده مشران هلکان ورته مات وو.

یوه ورځ عبدالله د خپلی مور په مخکی خپل سبق تیراوه، او نعیم لینده او غشی په لاس کی د کوټی په بام ولاړ ؤ یوه او بله خوایی کتل. صابری ورغږ کړ: نعیمه! دلته راشه. نن دی سبق نه دی یاد کړی.

نعیم: درحم موری!

صابری بیرته عبدالله ته پام واړاوه، په دی کی یو ټپوس راغی نعیم ډیر زر غشی په لینده کی کیښود او نښه یی پری ونیوه. ټپوس غشی وخوړاو ملاقونه یی خوړل د صابری په مخکی راولوید، هغه وویریده پورته یی وکتل، نعیم لینده په لاس کی نیولی وه او په شونډو یی فاتحانه موسکا غوړیدلی وه.

صابری خپله موسکا غلی کړه ویی ویل: ته ډیر ناپوه یی.

نعیم: نن می وروړجان راته وویل چی ته په الوتو کی مرغه نشی ویشتلی.

صابره: ښه ته ډیر زړوړ یی، اوس راشه سبق دی راته تیر کړه.

په څوارلس کلنی کی عبدالله د دینی علومو او جنګی فنونو د زده کړی لپاره د بصری یوه ښوونځی ته رخصت شو، د عذرا د دنیا نیمی خوښی او د مور د مینی نه ډك زړه یوه ټوټه یی له ځانه سره یووړه، د عذرا له نعیم او عبدالله سره بی کچه مینه وه، خو پر دی پوهیدل ګران وو چی په دوی دواړو کی د دی زیاته مینه له کوم یوه سره وه، سترګی یی د کوم په لوری ډیری اوښتی وی، او د کوم یوه غږ یی په غوږونو کی د یوی نغمی په څیر آزانګی کولی.

ظاهراً عذرا هم د دی خبری پریکړه نه شوای کولی، نعیم او عبدالله د یوه بدن دوه نومونه وو. له نعیم پرته د عبدالله او له عبدالله پرته د نعیم تصور دی ته محال ؤ، دی په خپل زړه کی د دوی دواړه پر تله کول هم کله نه وو

ازمویلی، د دوی دوارو په موجودیت کی دی ته د دی سوچ ضرورت هم نه ؤ. کله به چی له دوی دوارو نه یو په خندا شو، دا به یی په خنداور شریکه شوه، او چی کله به یی کوم یو دروند او سنجیده ولید دا به هم ورسره همغسی شوه.

بصری ته د عبدالله د تلو نه وروسته دی ته پر داسی خبرو د سوچ موکه برابره شوه، دا پوهیده چی څه موده وروسته به نعیم هم هلته روانیږی. خو دی ته له نعیم نه لری کیدل د عبدالله تر جدایی ډیر گران او له زغم نه وتلی وو، د عبدالله په عمر کی لوی والی او د هغه متانت او دروندوالی د دی په زړه کی هغه ته د درناوی او عظمت احساس راژوندی کړ، دی له هغه سره د مینی نه زیات احترام درلود دی به د نعیم په څیر ورور جان ورته ویل او له ځانه به یی لوړ او اوچت باله په مخامخ کیدو کی به یی یو ډول احترام او متانت مراعات کاوه، د نعیم عظمت هم د دی په زړه کی ؤ، خو له هغه سره یی نږدی د زړه خواله او ساعت تیری د دی سبب شوی چی تر منځ ئی تکلفات لری شی. د دی په نظر عبدالله د لمر په څیر ؤ چی له بنکلا سره سره څوک پورته ورته کتلی نه شی او د نږدی ورتلو له خیال سره سره تری ویریږی، خو د نعیم د خولی هره خبره دی ته د خپل زړه خبره ښکاریده.

د عبدالله له تلو سره جوخت د نعیم په عادتونو کی ژور بدلون راغی ښایی د دی لپاره به وو چی صابره د عبدالله جدایی ډیره احساس نه کړی او یا دی هم په بصره کی درس ویلو ته بیتابه ؤ، نعیم د وړوکتوب شوخی پریښوده او په سبقونو یی زور واچاوه، یوه ورځ یی له صابری نه وپوښتل: موري! ما بصري ته کله لیږې.

مور ځواب ورکړ: زویه ته تر څو لومړنی زده کړی پای ته ونه رسوی زه دې بصری ته نشم استولی، که دی واستوم نو بیا به خلك وایی د عبدالله ورور ناپوه دی. پر آس د سپریدو او د غشی ویشتلو نه پرته په هیڅ نه پوهیږی.

د مور الفاظ د نعیم په حساس زړه د نښتر په څیر ښخ شول اوښکی یی راتم کړی ویی ویل: موری! ماته به څوك د ناپوه ویلو جرئت ونه کړی، زه به تول کتابونه په همدی کال پای ته رسوم.

صابری په مینه د نعیم پر سر لاس کښېښود وېې ویل: زویه ستا لپاره هیڅ کار سخت نه دی، خو مصیبت دا دی چې ته څه نه کوې.
نعیم: خامخا به یې کوم، موری نور به ته زما څه شکایت وانه وری.

*****

(٤)

د روژې په رخصتی کې عبدالله کورته راغی، هغه پوځي جامې اغوستې وې، د کلي هلکانو چې دی په دې جامو کې ولید ورته حیران شول، نعیم چې هغه ولید له خوښی نه په جامو کې نه ځاییده، عذرا به هغه ته له لرې لرې کتل او ترې شرمیدله، صابری به یې په وار وار تندی ښکل کړ، نعیم له عبدالله نه د مدرسی په باب ډیری پوښتنې کولې، عبدالله ورته وویل چې هلته د لیك لوست نه علاوه زیات وخت د جنگی فنونو او مهارتونو په زده کولو لگیږی، نیزه بازی، توره وهل او غشی ویشتل ورښودل کیږی. د غشی ویشتلو چې نعیم واوریدل زړه یې له خوښیو باغ باغ شو.
نعیم بیا په جوش ورور ته وویل: وروړ جانه! ما هم درسره بوځه.
عبدالله: ته تر اوسه ډیر ووکی یې، هلته ټول هلکان تر تا لوی دی، ته تر یوی مودی پوری باید صبر وکړی.
نعیم له لږ چوپتیا وروسته بیا وپوښتل: وروړ جانه! ته به په مدرسه کې په ټولو هلکانو باندی زورور وې!
عبدالله ځواب ورکړ: نه! د بصری یو هلك زما سیال دی، د هغه نوم محمد بن قاسم دی، هغه په نیزه بازی او توره وهلو کې د مدرسی له ټولو هلکانو نه غوره دی، په توره وهلو کې زه او هغه دواړه برابر یو، زه کله کله ستا یادونه ورته کوم، هغه چې ستا خبری اوری ډیر خاندی.
نعیم: خاندی! هغه په غوسه تندی تریو کړ، زه به هلته ورشم ورو به ښیم چې زه داسی نه یم چې خلك راباندی وخاندی.
عبدالله چې نعیم په غوسه ولید ورتر غاړی وت، او د هغه د خوشحاله کولو هڅه یې وکړه.
د شپې عبدالله جامې بدلی کړی او ویده شو، نعیم له هغه سره نژدی پروت ؤ او تر ډیره وخته یې چرتونه وهل، کله چې خوب ورغئ نو خوب یې

ولید چی د بصری له هلکانو سره په غشی ویشتلو او توری وهلو بوخت دی.

سهار له تولو نه وړاندی ویښ شو د عبدالله پوځی دریشی یی واغوسته او عذرا یی راویښه کړه:

عذرا وګوره زه په دی دریشی کی څنګه ښکارم.

عذرا جګه شوه کښیناسته نعیم ته یی سر تر پښو وکتل ویی موسکل او ویی ویل: ته په دی جامو کی ډیر ښکلی ښکاری.

نعیم: عذرا زه به هم هلته ولاړ شم او همدا دریشی به اغوندم او راځم به.

د عذرا ښه غمجنه شوه ویی ویل: ته هلته کله ځی؟

نعیم: عذرا! زه به له مورجانی نه ډیر زر اجازه واخلم.

# ښوونځی

د ۲۵ - ۷۵ هـ پوری اسلامی تاریخ له ځینو داسی خونړیو پیښو ډک دی چی په تیرو پیړیو کی ډیرې اوښکې پری تویې شوې او یاد به یې په راتلونکی کې هم د اوښکو اوسلګیو نه پرته تازه نه شی، هغه تورې چې د خدای(ج) په نامه اوچتې شوې وې د خدای(ج) د نوم اخستونکو د ورمیږونو پری کولو لپاره چلیدی، دغه خطر ورځ په ورځ زیاتیده چی هغه مسلمانان چی په خو کلونو کی د بریښنا په څیر د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورسیدل بیرته په همغه توندی د عربو ټاپو وزمی ته را محدود نه شی، په هغه وخت کی بصره او کوفه د ډول ډول دسیسو مرکز ؤ، مسلمانانو خپل لومړنی روایات پریښی وو او د جهاد له جذبی یی مخه اړولی وه، دوی ته د خپلو ذاتی ګټو او خپلو روا او ناروا آرزوګانو پرته نور هیڅ معتبرنه وو، مسلمانانو ته په یوه مرکز د راټولیدو لپاره یوه اوسپنیز لاس ته ضرورت ؤ.

د عربو په بیابان کی یوه اورغورځوونکی غره‌خو له خلاصه کړه او د دی اورغورځوونکی غره هیبتناکو لمبوته د عربو او عجمو د بغاوتونو سکروټې هیڅ شوې او ټول یی تر خپلو سکروټو لاندې چوپ کړل، دغه اورغورځوونکی غر حجاج بن یوسف ؤ.

هغه بی اندازه سخت سری، بی رحمه او ظالم ؤ، خو تقدیر د مسلمانانو د خپلمنځی اختلافونو دله منځه وړلو او د مسلمانانو د لښکرو د آسونو مخه ختیځ او لویدیځ لورته اړولو کار له ده نه واخست.

حجاج بن یوسف د مسلمانانو دوست هم ؤ او بد ترین دښمن هم، دوست ځکه چې امن یې ټینګ کړ او د اسلامی لښکر د پرمختګ لپاره یې درې

لوریو ته لاری پرانستلی.

یوه لاره هغه وه چی د مسلمانانو لښکر یی تر فرغانی او کاشغره ورساوه، دوهمه هغه وه چی د مسلمانانو د بخت آسونه یی تر مراکش او فرانسی پوری ورسول.

دریمه لاره هغه وه چی محمد بن قاسم یی تر سند پوری ورساوه.

بدترین دښمن ځکه چی د هغه خونړی توره چی د دښمن او اشرارو لپاره له تیکی راوتلی وه، ډیر ځله له خپلو حدودو واوښته د بی گناهانو ورمیږونو ته ورسیده ، که د حجاج بن یوسف په لمنه د مظلومانو د وینو داغونه نه وای نو هغه به د تاریخ د ډیرو سترو او عظیمو شخصیتونو څخه یو ؤ هغه یوې داسی برېوکۍ ته ورته ؤ چی د اسلام د غلیمانو د ازغیو سره یی د اسلام د بڼ ډیر ښکلی گلونه هم ورسره یوورل.

د ده د دوران یوه برخه ډیره دردناکه او بله برخه یی ډیره په زړه پوری ده، حجاج د هغه توپان په څیر ؤ چی له څپو سره یې ځنې میوه لرونکی ونې هم له بیخه ووزی، خو په غیر کې غلې وریځ یې په زرگونو تږي او جل وهلی فصلونه او کښتونه اوبوی.

په ۷۵ هـ کال د عربو خپلمنځی جگړی پای ته ورسیدی، مسلمانانو بیا په یوه لاس کی قرآن او په بل کی توره واخستله اواوچت شول، په هغه مهال د حجاج بن یوسف له نامه سره د زید بن عامر د نامه ونډوری هم وی، زید بن عامر (۸۰) کلن ؤ، په ځوانی کی دی د هغه لښکرو سره ملگری ؤ چی د ایران د کسری او روم د قیصر تختونه یی تر پښو لاندی شول، کله چی د زړبودی کمزوری ده ته د توری اوچتولو ځواب ورکړ نو د ایران په یوه ولایت کی یی د قضا منصب قبول کړ، کله چی په عربو کی بغاوتونه اوچت شول ابن عامر کوفی ته ولاړ او په تبلیغ ئی د هغه ځای د وضعی رغولو هڅه وکړه خو د ده غږ د بیابان چیغه شوه چی بی ځوابه پاتی شی.

ابن عامر چی د کوفی د خلکو بی حسی ولیده نو بصری ته ولاړ خو د هغه ځای وضعي هم له کوفی سره چندان توپیر نه درلود ، غافلو او شریرو افرادو ده ته هیڅ پام ونه کړ، له ځوانانو او بوډاگانو نه مایوس ابن عامر خپل امیدونه په ماشومانو پوری وتړل، او خپل ټول توان او پام یی د دوی

زده کړې او روزنې ته واړاوه، د ښار نه بهر يې د يوې مدرسې تاداو کښيښود، کله چې په بصره کې امن شو نو د هغه ښار مخورو د ابن عامر سره د مرستې ژمنه وکړه، په مدرسه کې به د دينې کتابونو په زده کړو برسيره د جنګي فنونو او مهارتونو ښودنه هم کېده، حجاج بن يوسف د دې بې ريا خدمت نه ډير اغيز من شو او د مدرسې ټول لګښتونه يې په ذمه واخستل، زده کوونکو ته يې داس د سپرلۍ د مهارتونو او نورو جنګي کمالاتو د زده کړې په خاطر ډير غوره آسونه او وسلې تهيه کړې، په مدرسه کې يې د آسونو د ساتلو لپاره يوه شانداره طبيله جوړه کړه.

شاګردان به هر ماښام په يوه پراخ ميدان راټوليدل په عملي ډول به پوځي تعليم ورکول کېده، د ښار خلك به هم هر ماښام دې ميدان تهٔ راټوليدل توره وهل، نيزه بازي او د اس د سپارلۍ نوي نوي لوبې به يې ليدلې.

سعيد چې کله د دې مدرسې شهرت واوريد صابرې ته يې ليك واستاوه او مشوره يې ورکړه چې عبدالله دې مدرسې ته راواستوه.

عبدالله په مدرسه کې د ورځې دوه چنده او د شپې څلور چنده پر مختګ کاوه، هغه که په سبقونو کې خپلو ټولو همځولو ته يو مثال ؤ په پوځي تربيه کې هم ډير ممتاز او وتلی هلك ؤ.

عبدالله لا په دې مدرسه کې دوه کلونه نه وو پوره کړي چې د بصرې زاړه واړه يې په نامه او شهرت خبر شول، ابن عامر هم د خپل زلمي شاګرد د پوځي مهارتونو او ذکاوتونو نه ناخبره نه ؤ.

* * * * *

(۲)

يوه ورځ ماسپښين مهال يو تنکي هلك په اس سپور ښار ته داخل شو د هلك په يوه لاس کې نيزه او په بل کې يې د اس قيضه وه، په ملاتې توره زنګيدله، په غاړه کې يې د غشو توبره او په شا يې لينده وه، د هغه توره د ده له عمر، قد او قوارې نه ډيره لويه وه، کم عمره سپور په آس نيغ سپور ؤ او چې هر چا به وليد ورته ويه يې کتل موسکې به شو او ويه يې خندل.

د ده همزولي هلکان ترې راچاپير شول او دا د تورې او نيزې اچول يې د ده يوه لويه بلله لږ څند وروسته د ده په شاوخوا يوه لويه ګڼه ګونه جوړه

شوه، هلکانو ده ته د وړاندی تلو او یا په شا راګرځیدو لاره بنده کړه، یوه هلك ده ته اشاره وکړه او چیغی یی کړی: سارایی «کوچی»! ټولو نورو هلکانو هم ورسره بدرګه کړه او چیغی یی کړی کوچی، سارایی! یوه بل هلك یوه لوټه اوچته کړه او د هغه په لور یی وروغورځوله، بیا ټولو هلکانو د هغه په تقلید د لوټو ورغورځول پیل کړل،

یوه سرګمبه چی د نورو مشر معلومیده ور وړاندی شو او له هغه نه یی د نیزی اخستلو هڅه وکړه خو هلك نیزه کلکه نیولی وه،او د اس قیضه یی راکش کړه او پونده یی ورکړه، آس په دوو پښو ودرید او ټول هلکان له مخی نه یوه او بله خوا شول، هلك د دی دلی په مشر پسی آس ورو‌ځغلاوه هغه وارخطا شو او وتښتید، سپاره ورو ورو په هغه پسی اس وروزغلاوه. نور هلکان له شانه ورپسی ورځغستل، څو په عمر پخو خلکو هم دا ننداره په مینه مینه لیدله او له ماشومانو سره په دله کی ورشامل شول.

د تښتیدونکی هلك پښه له ډبری سره ونښته او ولوید، په اس سپور هم د اس جلب راکش کړ، شاته ورپسی دله هم ودریدله، له دلی نه یو د پوخ عمر خاوند مالك بن یوسف وروړاندی شو د هغه قد وړوکی او مزبوتی متی یی وی، پر سر یی یوه لویه پګړی او د مخی غاښونه یی داسی راوتلی وو چی د خندا ګومان به پری کیدو، وروړاندی شو له سپاره هلك نه یی پوښتنه وکړه:

ته څوك یی؟

کم عمره هلك ځواب ورکړ: مجاهد.

مالك: ډیر ښه نوم دی دی ته ډیر غیرتی یی.

سپور: زما نوم نعیم دی.

مالك: ته چیرته ځی؟

نعیم: د ابن عامر ښوونځی ته، هلته زما ورور لوست وایی،

مالك: هغوی به اوس د لوبو په میدان کی وی راځه زه هم هلته ځم.

نعیم له مالك سره ملګری شو، څو هلکان تر لږ لاری ورسره ملګری وو بیا تری راوګرځیدل او څنی نور په نعیم پسی روان وو.

نعیم له خپل لارښوونکی نه وپوښتل: په میدان کی د غشی ویشتلو لوبه

هم کیږي؟
مالك. هو ته غشي ویشتلای شي؟
نعیم: هو زه په هوا کي الوتونکي مارغه ویشتلی شم.
مالك شاته نعیم ته راوکتل، د نعیم سترګی له خوښی ځلیدلی په میدان کی خلك ځو ځایه ډله ډله راتول وو او د توري چلولو، نیزه وهلو او غشي ویشتلو لوبی یی لیدلی مالك چي ورورسید نعیم ته یی وویل:ستا ورور به همدلته وي، ته د لوبو تر پایه هغه نشی لیدای سمدستی دا لوبی وګوره.
نعیم وویل: زه د غشیو ویشتلو لوبه ګورم.
مالك دی د غشی ویشتونکو لوري ته وروست او دواړه د ننداړچیانو په کتار کی ودریدل.
په میدان کی یوي خواته د لرګی یوه تخته ولاړه وه چی په منځ کی یی یو تور نښان ؤ، هلکان په وار وار راتلل او نښه یی ویشتله، نعیم تر ډیره پوري سیل کاوه او هغوی یی لیدل، زیاتره غشي په تخته ونښتل خو په تور نښان یوازي د یوه تنکی ځوان غشی ولګیدل.
نعیم له مالك نه وپوښتل: هغه ځوك دی نښه یی ډیره پخه ده.
مالك ځواب ورکړ: هغه د حجاج بن یوسف وراره محمد بن قاسم دی.
محمد بن قاسم!!
هو ته هغه پیژني؟
هوکی، هغه زما د ورور ملګری دی، وروړجان می د هغه د ښی ډیری غوري کولی، مګر دا نښه خو ډیره ګرانه نه ده.
څه ګرانه ده، دا خو ښایي زه هم وویشتلای شم، ته خو دی یو ځل لینده راکړه، د حجاج وراره به فکر کوي چی په دنیا کی نور غشی ویشتونکی نه دی پاتی.
دا یی وویل او بیا یی له نعیم نه لینده واخستله یو غشی یی هم ورکړ مالك ور وړاندي شو، لینده یی سمه کړه، خلکو چی ورته وکتل وبی خندل. مالك په خپلو ریږدیدونکو لاسونو لینده کش کړه او غشی یی پریښود، چی د هدف د تختی پر ځای لږ وړاندي په ځمکی ولګید او ښخ شو.
ننداړچیانو په زوره زوره وخندل، مالك شرمنده بیرته شاته شو او لینده

یې نعیم ته ورکړه، محمد بن قاسم په موسکا ورغی له ځمکې نه یې غشی را اوچت کړ وراندې ورغی مالك ته یې ونیو او ورې ویل: یو ځل بیا کوشش وکړه.

د مالك په تندي خولي راغلې، په وارخطایی یې له محمد بن قاسم نه غشی واخست نعیم ته یې ونیو، د مالك له دې کار سره د خلکو پام نعیم ته ورواوښت، او یو له بل سره یې پسپسکی پیل کړې نعیم ته یې کتل، محمد بن قاسم همداسې موسکی وروړاندې شو نعیم ته یې وویل: ته دې هم خپل شوق پوره کړه، خلکو په زوره زوره وخندل.

نعیم د هغه طنز او د خلکو خندا ونه زغملې شوه، زر یې نیزه په ځمکه ښخه کړه غشی یې په لینده کې کیښود او خوشې یې کړ، غشی د تختې د تور نښان په منځ کې ونښت، یوه شیبه په ګڼه ګوڼه چوپتیا خوره شوه او بیا یو شور ګډ شو، نعیم بل غشی راواخست او په لینده کې یې کیښود، خلکو خپل ځایونه پریښودل او په هغه ورټول شول، د هغه بل غشی هم د نښې په منځ ونښت له څلورو خواونه د آفرین آفرین چیغې پورته شوې، نعیم خلکو ته وکتل او ورې لیدل چې ټول په سترګو سترګو کې د عقیدت ګلونه پرې شیندي، محمد بن قاسم موسکی وروړاندې شو د نعیم لاس یې په لاس کې ونیو ورې پوښتل: نوم دې څه دی!

: ماته نعیم وایې.

: نعیم، نعیم بن...

: نعیم بن عبدالرحمن!

: ته د عبدالله ورور یې؟

: هوکې!

: دلته څه وخت راغلی؟

: همدا اوس.

: له عبدالله سره دې نه دی لیدلی؟

: تر اوسه نه.

: ستا ورور به د نیزې وهلو او یا توري وهلو تمرین کوي ته توره چلولی شې؟

ما په کلي کې د توري چلول زده کول.

ستا غښتلي ويشتل مې چې وليدل دا مې احساس کړه چې په توره وهلو کې به هم مهارت ولرې، نن به له يوه هلك سره مقابله کوې، د مقابلې د نوم په اوريدلو د نعيم په رګونو کې وينه توده شوه پوښتنه يې وکړه: څومره لوی دی؟

له تانه ډير لوی نه دی، که له چالاکی نه کار واخلې له هغه نه د لوبې ګټل تاته ګران نه دي.

هو ستا توره لږ درنه ده، زغره دې هم نويه ده، زه به يې اوس انتظام درته وکړم ته دې له آس نه کوزشه.

محمد بن قاسم يوه تن ته د ده د زغرې، تورې او خول د راوړلو امر وکړ.

*****

(۳)

لږ څند وروسته نعيم يوه نوی زغره اغوستی او يوه سپکه توره يې په لاس کې وه د ننداريانو په ليکه کې ولاړ ؤ او د ابن عامر د شاګردانو د توري وهلو تمرين ته يې کتل، د ده پر سر يوناني خول ؤ چې مخ يې تر ژامو پورې پټ ؤ، څکه خوله هغو کسانو نه پرته چې ورسره راغلی وو چاته دا معلومه نه وه چې دی يو پردی دی او نوی راغلی،

ابن عامر له ننداريانو نه لرې ځانګړی ولاړ ؤ او خپلو شاګردانو ته يې لارښوونه کوله، د يوه هلك مقابلې ته څو تنه نور په وار وار راووتل خو تول مات شول، ده هر نوی حريف په يوه نه يوه چل لاندی کاوه، او ماتې ته يې مجبوروول، بالاخره ابن عامر محمد بن قاسم ته وکتل او ورته ويې ويل: محمده! ته چمتو نه يې؟

محمد بن قاسم وروړاندی شو غلی يې ابن عامر ته څه وويل، ابن عامر په موسکا نعيم ته ورغی او د هغه په اوږه يې په مينه لاس کيښود ويې ويل: ته د عبدالله ورور يې؟

:هوکې!

:له دې هلك سره مقابله کوې؟

: زه ډير په توره وهلو بلد نه يم، او بيا دا هلك له مانه لوی هم دی.

: هیڅ پروا نلري.

: مګر زما ورور چیرته دی؟

: هغه هم همدلته دی، تا به له هغه سره مخ کړم یو ځل له دې هلك سره مقابله وکړه.

نعیم په نه زړه میدان ته راووت، ننداره‌چیان چې تر اوسه پورې چوپ ولاړ وو یو له بل سره یې خبرې پیل کړې.

د دوی توري یو له بله وجنګیدلې، او د هغوی چکاچك ورو ورو زیات شو، د نعیم سیال تر څه وخته نعیم وروکې باله او یوازې د ده د ګوزار دفاع یې کوله، خو ناڅاپه نعیم یو قدم مخکې شو او پر هغه یې داسې ګوزار وکړ چې ورته چمتو نه ؤ، د نعیم توره د هغه له توري نه وښوئیده او په خول یې ولګیده:

ننداره‌چیانو د آفرین چیغې پورته کړې، د نعیم د سیال لپاره دا ګوزار له توقع نه لوړ ؤ، هغه په غوسه شو او په غوسه کې یې څو مزبوت ګوزارونه پر نعیم وکړل، نعیم شاته څو ګامه واخستل. د څو ګامه شاته کیدونه وروسته د نعیم پښه ونښته او ستوني ستغ ولوید، د هغه سیال په فاتحانه انداز په دې انتظار ودرید چې نعیم راپاڅ شي خو نعیم په غوسه شو او د توري وهلو د اصولو پر خلاف یې په ډیرې توندۍ پر مقابل هلك وارونه کول، کله چې هغه نعیم په دې حالت کې ولید نو په پوره زور یې توره وڅرخوله او په نعیم یې وار وکړ، هغه یې په توره مخه نیول غوښتل خو توره یې له لاسه لرې ولوید، نعیم پریشانه یوې او بلې خواته وکتل ابن عامر او محمد بن قاسم په موسکا ورورانده شول ابن عامر یو لاس د خپل شاګرد او بل د نعیم په اوږه کښیښود او نعیم ته یې وویل: راځه اوس دې له ورور سره ووینه.

نعیم: سهې ده، هغه چیرته دی؟

ابن عامر د بل هلك له سرنه خول لرې کړ او ویې ویل: دلته ګوره! نعیم وویل ورورجانه، ورورجانه! او بیا عبدالله ته ورترغاړې وت، عبدالله چې محمد بن قاسم د پریشانۍ په حالت کې ولید ورورانده شو د نعیم له سره یې خول لرې کړ او ویې ویل: عبدالله دا نعیم دی، کاشکې دا زما ورور وای.

* * * * *

(٤)

د صابري د زړه توتو د ابن عامر غونډې استاد تر سیوري لاندې ډېره غیر معمولي جسمي، ذهني او معنوي ترقي کوله، په ښوونځي کې د عبدالله نوم د ټولو نه وړاندې راتلو، خو په لوبو کې د نعیم نوم ترهر چا وړاندې ؤ، محمد بن قاسم به کله کله د سپالیو میدان ته راتلو او نعیم به په ځینو برخو کې د هغه پر برتري اعتراف کاوه.

محمد بن قاسم په توره وهلو کې په نعیم باندې ؤ، په نیزه وهلو کې دواړه برابر وو، په غشي ویشتلو کې نعیم برلاسی ؤ. محمد بن قاسم له وړوکتوبه ځان د داسې خصلتونو اهل ثابت کړی ؤ چې ابن عامر به ویل دی د کوم لوی کار لپاره پیدا شوی دی.

له عبدالله او نعیم سره د محمد بن قاسم د دوستۍ ریښې مزبوتې شوې ظاهراً د محمد بن قاسم په نظر دواړه یو شان وو، خو عبدالله پخپله دا احساسوله چې نعیم هغه ته ډیر ورنژدې دی، د نعیم په ښوونځي کې د شاملیدو اتمه میاشت وه چې محمد بن قاسم تری فارغ شو او په پوځ کې شامل شو.

د محمد بن قاسم له فارغیدو وروسته د نعیم یو بل کمال هم راښکاره شو، په هفته کې به یوه ورځ د مدرسې شاګردانو په یوه موضوع بحث او مناظره کوله، موضوع به ابن عامر پخپله ټاکله، نعیم هم د خپل ورور په تقلید په مناظره کې برخه واخستله، خو په لومړي ځل هغه څو ګوډې ماتې جملې وویلې او له شرمه یې غلې منبر پریښود، نورو هلکانو ملنډې پرې وهلې ابن عامر تسلي ورکړه، خو هغه ټوله ورځ خفه ؤ، د شپې هم په یوه او بل لټ اوښت سهار وختی له بسترې نه جګ شو او بهر ووت، تر ماسپښین پورې د یوې خرما ونې لاندې ناست ؤ او خپله وینایي تکراروله، راتلونکې هفته یې بیا په مناظره کې برخه واخستله او د یوې احساساتي وینا په ترځ کې یې حاضرین ټول په حیرت کې ډوب کړل، له دې وروسته د ده بې زړه توب لرې شو، او په هره مناظره کې یې په ښه جرئت برخه اخستله، په زیاترو داسې مناظرو کې عبدالله او نعیم دواړو برخه اخستله،

یوه به د موضوع په تایید خبری وکړی او بل به یی پر خلاف کولی ، د ښار خلکو چی د دوی د جنګی فنونو جوهر لیده او مینه یی ورسره درلوده اوس یی د دوی د ویناګانو له اوریدو سره هم مینه درلوده. ابن عامر د نعیم په رګونو کی د تودی وینی او حربی فنونو پر کمالاتو سربیره دا هم ولیدل چی نوموړی اوږدی ویناند او خطیب دی، نوموړی د ده د دی استعداد د ښی روزنی لپاره ډیره هڅه وکړه، نعیم په څو ویناؤ کې نه یوازې د مدرسې د غوره خطیب بلکې په بصره کې دمنلی خطیب په حیث ځان وښود.

د ابن عامر ښاګردان ورځ په ورځ زیاتیدل، د ده د لوړو ارادو په مخ کی د ده ناروغی او بوډاتوب یو دیوال ؤ، هغه د بصری له والی نه وغوښتل چی د مدرسې لپاره یی یوه تجربه کار استاد ته ضرورت دی، د بصری والی د دی کار لپاره د سعید نه موزون څوك ونه لیدل. سعید هغه مهال د قبرص والی ؤ. حجاج د خلافت له درباره هیله وکړه چی سعید ته امر وکړی چی بصری ته ځان ورسوی.

نعیم او عبدالله پوهیدل چی یو نوی استاد را روان دی، خو دوی پر دی نه وو خبر چی دا د دوی خپل ماما دی. سعید د قبرص د یوی نوی مسلمانی شوی کورنی له یوی پیغلی سره واده کړی ؤ. هغه لومړی له خپلی کډې سره صابرې ته ورغی او څو شپې یې چې تیرې کړې بیا بصرې ته راغی، چی کله ښوونځی ته راغی په ټول توان یی په کار پیل وکړ، او چی کله پر دی پوه شو چی د ښوونځی ډیر غوره زده کوونکی د ده خپل خوریونه دی نو ډیر خوښ شو.

څو میاشتی وروسته عبدالله د خپل ټولګی له یو شمیر نورو زده کوونکو سره فارغ شو. کله چی د دوی د رخصتی ورځ شوه ابن عامر د معمول په خیر د دوی د خدای پامانی په ویاړ غونډه جوړه کړه، د بصری والی په دی غونډه کی شریك شو، په فارغو شاګردانو د خلافت د دربار له خوا لمونځ او وسلی وویشلی شوی.

ابن عامر په الوداعی خطبه کی دوی ته په خطاب کی وویل:

ځوانانو! نور د حوادثو په دنیا کی ستاسو د ګام ایښودلو مهال رارسیدلی دی، زما امید دی چی ستاسو هر یو به دا ثابته کړی چی زما زیار

بې ځایه نه ؤ، ماته اوس د هغو ټولو خبرو د تکرار ضرورت نشته چې څو ځلې مې پخوا درته تکرار کړې دي، یوازې خپلې څو خبرې بیا تکراروم ځوانانو! ژوند یو پر له پسې جهاد دی او د یوه مسلمان د ژوند بختور کار دا دی چې د خپل مولا او پروردګار د خوښې او رضا لپاره سربښندنې ته تیار شي، تر څو ستاسو زړونه د جهاد د سپیځلې جذبې نه ډک وي نو دنیا او آخرت دواړه به درته روښانه ښکاري. تاسو به په دنیا کې سرلوړي او برلاسي وي، او په آخرت کې به هم تاسو ته د جنت دروازې خلاصې وي.

په یاد ولرئ ، که له دې جذبې نه تاسو محروم شوئ، نو په دنیا کې به هیڅ د آرام او سکون ځای ونه ګورئ او آخرت به هم درته تر نظره تیاره شي، کمزوري به تاسو داسې رابنګیل کړي چې لاس او پښې به نشي خوځولی، د کفر هغه قوتونه چې مجاهدینو ته د ذرونه هم وروکي او بې ارځښته وي تاسو ته به د لویو لویو کمرونو په څیر ښکاري.

د دنیا چالاک او شیطاني ځواکونه به تاسو مغلوب کړي او تاسو به مریونه کړي، د ظلم تر پنجو لاندې به راشي او تاسو به له هغې نه د خلاصون لاره نه لرئ. تاسو به هغه مهال هم ځانونه مسلمانان بولئ خو تاسو به له اسلام نه ډیر لرې یاست.

په یاد ولرئ، په صداقت باندې له ایمان راوړلو سره که ستاسو په زړونو کې په صداقت د قربانۍ جذبه راوینه نه شي نو وپوهیږئ چې ستاسو ایمان کمزوری دی، د ایمان د قوت لپاره د اور او وینو له سمندر نه تیریدل ضروري دي.

کله چې تاسو ته مرګ تر ژوند غوره شو نو وپوهیږئ چې ژوندي یاست. او کله چې د مرګ ویره ستاسو د شهادت په مینه غالبه شي نو ستاسو حالت به د هغه مړي په شان وي چې په قبر کې د ساه ایستلو لپاره لاس او پښې وهي.

ابن عامر په یوه لاس قرآن پورته کړ ویې ویل:

دا امانت د قدوس خدای(ج) لخوا د مدینې سردار ته رارسول شویدی او هغه صلی الله علیه وسلم په دنیا کې د خپلې ذمه واری له پوره کولو نه وروسته دا امانت موږ ته پریښی، حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم

په خپل مبارك ژوند كى دا ثابته كړى چى موږ د دى امانت ساتنه د متو د زور او د توري د دم نه پرته نشو كولى، كوم پيغام چى تاسو ته رسيدلى دى تاسو يى د نړى گوټ گوټ ته ورسوى.

ابن عامر خپلې خبرې پاى ته ورسولې او كښيناست او بيا حجاج بن يوسف د جهاد مسئله په ډيره فصيحه او خوږه ژبه بيان كړه، بيايى له جيبه يو ليك راويوست او ويى ويل:

دا ليك د مروې د والى لخوا را استول شويدى، هغه د جيحون «آمو» له سيند نه د تيريدو او پر تركستان د حملى اراده لرى، ده نوى پوځ غوښتى دى، زه سمدستى په څو ورځو كې له بصرې نه دوه زره تنه وراستوم، ستاسو په منځ كى څوك شته چى له دى پوځ سره تگ ته تيار وى؟

تولو شاگردانو لاسونه اوچت كړل.

حجاج وويل: زه ستاسو د جهاد د جذبى قدر كوم، خو زه اوس يوازى فارغ شوى زده كوونكى رابلم، زه د دى پوځ مشرى د دى مدرسى يوه تنكى ځوان شاگرد ته سپارم، ما د عبدالله بن عبدالرحمن په باب ډير څه اوريدلى دى، ځكه خو زه دغه خدمت ده ته سپارم، ستاسو څخه چې څوك د دې زلمى ملگرتيا كوى په شلو ورځو كې له كورونو نه بيرته بصرې ته ځانونه راورسوى.

# ایثـــار

د صابری عادت ؤ چی د سهار له لمانځه وروسته به یی عذرا په مخ کی کښینوله او قرآن شریف به یی ورزده کاوه، د عذرا دغو خوږوالی به کله د دوی د گاوندیانو ښځی هم د دوی انگړ ته ورکشولی، له هغې وروسته به صابری د کلی څو نورو نجونو ته هم دینی زده کړی ورښودلی، عذرا به د کور کار کاوه او چی وزگاره به شوه بیا به یی د غشو ویشتلو تمرین کاوه، یوه ورځ چی د معمول په خیر له لمر ختلو نه وړاندی عذرا د قرآن کریم له تلاوت وروسته د صابری له مخی نه جگیدله هغی یی لاس ونیو او له ځان سره یی کښینوله تر لږه ځنده یی له مینی نه په ډك نظر ورته وکتل او بیا یی وویل: عذرا که ته نه وای زما ورځې به ډیرې سختې تیریدې که ته زما لور وای هم ما به له تاسره تر دې زیاته مینه نه درلودای.

عذرا ورته وویل : مورې که ته نه وای نو زه ...!

عذرا له دی نه وړاندی څه ونه ویلای شوای، په سترگو کی یی اوښکی راغلی.

صابرې نور څه ویل غوښتل چې بهر دروازه خلاصه شوه او عبدالله آس تر جلب نیولی ورننوت، صابره جگه شوه څو گامه وروړاندې شوه، عبدالله سلام پرې واچاوه، مور او زوی یو د بل په مخ کی ودریدل، د زوی له څیرې نه د مور نظر ډیر لرې ولاړ، له نن نه شل کاله د مخه د عبدالله پلار په همدې بڼه او دریشی کی کورته راتلو.

عبدالله: مورې!

صابرې: څه دی زویه!

ته له پخوانه زیاته کمزوری ښکاری.

نه زویه نن زه باید کمزوری ښکاره نشم.... راوړه زه دی آس وترم بیا به راشم، صابری دا وویل او د آس جلب یی ونیو او په مینه یی د اس په غاړه لاس راتیر کړ.

عبدالله وویل: نه موری دا چیری کیدای شی، او بیا یی د مور له لاسه د اس د جلب اخستلو هڅه وکړه.

صابری وویل: زویه ستا د پلار اس به ماتاړه.

خو زه تاته زحمت درکول گناه بولم.

زویه ضد مه کوه پری می ږده.

عبدالله د مور د لهجی تر اغیزی لاندی راغی او آس یی پریښود صابری د اس جلب ونیواو د طبیلی په لوری دوه دری گامه ولاړه چی عذرا ورغله او د آس جلب یی ونیو ویی ویل: موري پریږده زه یی ترم.

صابرې په موسکا او مینه عذرا ته وکتل، له څه سوچ وروسته يې د آس جلب عذرا ته پریښود.

عبدالله د رخصت شل ورځی په کور تیري کړې، د کور په حالاتو کې هغه یو ژور بدلون احساس کړ، عذرا به چی پخوا هم له ده سره په احترام مخ کیدله اوس ډیره تری شرمیدله، د عبدالله د رخصتی وروستی ورځ هم راغله، نازولي زوی ته د مور لخوا سوغات د هغه د بابا یوه ښکلی توره وه.

کله چی عبدالله په اس سپور شو عذرا په خپلو گوتو جوړ کړی یو دسمال صابری ته ورکړ او عبدالله ته یی اشاره وکړه، صابره د دې د اشارې په مطلب وپوهیده او دسمال یی عبدالله ته ورکړ، عبدالله دسمال خلاص کړ په سرو وریښمو یی په منځ کی د خدای(ج) د کلام دا الفاظ لیکلی وو:

«قاتلو هم حتی لا تکون فتنة – له هغوی سره تر هغو جنگیږی تر څو فتنه ختمه شی»

عبدالله دسمال په جیب کی کیښښود عذراته یی وکتل، بیا یی له هغه نه سترگی لری کړی مورته یی وکتل او اجازه یی واخیستله.

صابری د مورتوب نرم او نازک احساسات راقابو کړل ویی ویل: زویه نور

تاته زما د نصیحت ضرورت نشته، دا هیخ مه هیروه چې ته د چا زوی یې، ستا د پلرونو او نیکونو وینې هیڅکله هم له شانه دی څخیدلی، ته به د دوی آبرو ساتې.

*****

(۲)

جهاد ته د عبدالله د روانیدو یو کال پوره شوی ؤ، صابری ته یی په څو لیکونو کی دا څرګنده کړی وه چی زوی یی د دی د هیلی سره سم میړنی دی او نوم یی ډیر وتلی دی، د سعید د لیکونو او بصری ته د تلونکو او ورغلینو خلکو له خولی د نعیم په باب هم د ښه شهرت او نامه غږ راتلو نعیم په یوه لیک کی دا احوال ورکړ چی هغه په دې نژدې ورځو کې مدرسه پای ته رسوی او کورته در روان دی.

یوه ورځ صابره د کوم ګاونډی کره تللې وه، عذرا غشی او لینده واخستله او په انګړ کی یی په مختلفو شیانو نښه نیوله، یو کارغه راغی او د دوی د کور دانګړ په خرما کی کښیناست عذرا غشی په ګرت کی کښیښود او په کارغه یی نښه ونیوله، کارغه خطا شو او والوت، هغه لا په الوت کی ؤ چی له بله پلوه غشی راغی پری ولګید او زخمی کارغه په انګړ کی راولوید، عذرا حیرانه شوه ورځګه شوه د کارغه له بدن نه یی غشی وکیښ یوه او بله خوا یی وکتل، ناڅاپه یی یو خیال په زړه کی وروګرځید او زړه یی له خوښیو نه په ټوپونو شو. وړاندی ورغله او د درشل نه بهر یی وکتل، بهر نعیم په اس سپور موسکی ولاړ ؤ، د عذرا په مخ کې د حیا او خوښی سرخی وځلیده، وروړاندی شوه دروازه یی خلاصه کړه، او بیا یوی خواته ودریده، نعیم له آس نه پلی شو او کورته ننووت.

نعیم له بصری نه تر کوره په زړه کی د ډیر څه ویلو او اوریدلو له تصمیم سره راغلی ؤ خو د ډیرې هڅی ... وروسته یې یوازې دا تر خوله ووتل: عذرا ښه یې؟ او بیا چوپ شو.

عذرا د خوب پر ځای یوه شیبه ده ته وکتل او بیایی سترګې ښکته واچولې.

نعیم بیا جرئت وکړ: عذرا ښه یې؟

: ښه یم.
:مورجانه چیرته ده؟
:د کومې ناروغې پوښتنې ته تللې ده.
بیا دواړه لږ څند چوپ ودریدل، بیا نعیم وویل:
عذرا ته ما هره ورځ یادولې.
عذرا پورته ورته وکتل خو په پوځې دریشۍ کې یې د حسن او دبدبې نه ډکه مجسمه په مړو سترګو ونه کتلی شوای.
عذرا ته له مانه خفه یې؟
په ځواب کې دې څه ویل غوښتل خو د نعیم با وقاره جلال یې خوله چوپه کړه، بیا یې وویل:
آس دې راکړه زه یې په طبیله کې وتړم، غوښتل یې د خبرو موضوع بدله کړي.
نعیم وویل: نه عذرا ستا لاسونه د داسې کارونو لپاره نه دي او بیا یې پخپله د اس جلب ونیو او د طبیلې په لوري یې روان کړ.
نعیم درې میاشتې په کور پاتې شو، د جهاد لپاره یې د بصرې د حاکم د حکم انتظار کاوه، په کور کې د تمې پرخلاف ډیر خوښ نه ؤ، د ځوانې په پیل کې د ده او عذرا تر منځ د حیا یو اوچت دیوال دریدلی ؤ، د وړوکتوب هغه ورځې چې ده به عذرا تر لاس نیولې د کلي په باغونو کې راګرځوله اوس ورته د یوه خوب په څیر معلومیدې، د عذرا هم همدغه حالت ؤ، نعیم د دې د وړوکتوب ملګرې اوس ورته ډیر بدل معلومیده، د هغه په چلند کې تکلف د لږ کیدو پر ځای ډیریدو، نعیم خپل جسم او اروا په زندان کې ګڼله او په زړه یې یو بوج احساساوه. عذرا د ده د زړه په تارونو کې د مینې خوږه نغمه رابیداره کړې وه، هغه غوښتل چې د دغې بهارایې جورې په مخکې خپل زړه تش کړي، خو حیا اجازه ورنه کړه خو بیا هم دواړو د یو بل د زړه درزا احساسوله.
د نعیم د کورته راتګ نه څلور میاشتې وروسته عبدالله په رخصت راغې او د صابرې د کور شور او زوږ دوه چنده شو، د شپې ډوډۍ له خوړلو وروسته نعیم او عبدالله مورته نژدې ناست وو، عبدالله خپلې جنګې

کارنامی او کیسی کولی او د ترکستان حالات یی بیانول، عذرا لږ لری دیوال ته تکیه کړې وه او د عبدالله خبری یی اوریدی، د خبرو په پای کی عبدالله وویل: زه له بصری نه راغلم.

صابری تری وپوښتل: له ماما سره دی ولیدل؟

: هو کی ورسره ومی لیدل تاته یی سلام وایه او یو لیک یی هم راکړی دی.

: څه وړ لیک دی؟

عبدالله له جیبه یو لیک راویوست ویی ویل:

تاسویی ولولی.

ته یی راته ولوله زویه!

عبدالله وشرمیده ویی ویل: مورجانی دا د تا لپاره دی، صابری لیک نعیم ته ورکړ ویی ویل: ښه ده زویه ته یی ولوله.

نعیم لیک واخست عذرا ته یی وکتل، هغی شمه وروړه او له نعیم سره نژدی ودریدله، په لیک یې چې سترګې ولګیدې د نعیم په زړه د کاڼي ګوزار وشو، غوښتل یی لیک مور ولولی خو په ژبه یی مهر ولګید.

په ټول لیک یی زر زر نظر راوګرځاوه، د لیک مفهوم نعیم ته د نه ګناه له سزا نه ډیر هیبتناک ؤ، د خپل راتلونکی په باب یی د تقدیر یو نه بدلیدونکی پریکړه ولوسته تر لږ ځنډه یی حواسو کار پریښود، یو له زغم نه وتلی بوج په ځمکه میخ کړی ؤ، خو بیایی د مجاهد فطری همت په کار واچاوه او په ډیر زیار یی په شونډو موسکا وغوړیده ویی ویل:

ماماجان د ورور د واده په باب څه لیکلی دی ته یی ولوله، دایی وویل او لیک یی بیرته مورته ورکړ، صابری د شمې په رڼا کی لیک ته وکتل او په لوستلو یی پیل وکړ:

زما ګرانی خورې! د عذرا د راتلونکی په باب ما تر اوسه څه پریکړه ونشوای کولی، ماته عبدالله او نعیم یو برابر ډی په دوی دواړو کی هغه ټول صفتونه شته چی د عذرا غوندې شریف نسبه نجلی د راتلونکی ضمانت وکړی، د عمر په لحاظ عبدالله د دی زیات حقدار دی هغه دوه میاشتی په رخصتی راغلی، ته کومه مناسبه ورځ وټاکه او ماته ځواب راکړه، زه به د

دوو ورځو لپاره درشم.

ته له مانه زیاته د هلکانو په طبیعت پوهه یی، دا خیال ګوره چی د عذرا د راتلونکی سوال دی. والسلام «سعید»

*****

(۳)

د نعیم د خوبونو تعبیر د ده د هیلی پر خلاف وخوت، تر اوسه د ده همدا ګومان ؤ چی دی د عذرا او عذرا د ده ده، خو د ماما له لیك نه یی یو تریخ حقیقت روښانه شو.

عذرا.... د ده معصومه عذرا اوس د ده وریتداره کیدونکی وه، ده ته دنیا او ټول کاینات بدل بدل ښکاره کیدل، په زړه کی به یی یوه څړیکه راپورته شوه، خو څومره چی کیدای شوه ده له صبر او زغم نه کار واخیست او هیڅچا ته یی د خپل زړه د راز غوټه خلاصه نه کړه، د عذرا حالت هم له ده نه توپیر نه درلود.

عبدالله او صابری له دوی دواړونه د پریشانی سبب وپوښت خو نعیم د خپل ورور احترام کاوه، او عذرا د صابری ، عبدالله اوسعید په خاطر مجبوره وه، ځکه دواړو څه ونه ویلای شوای او د زړه سکروټی یی په زړه کې بلې پاتې شوې.

څومره چی د عبدالله د خوښی ورځی رانژدی کیدی د نعیم او عذرا نری تیاره کیدله، د نعیم له آرامی سره نا آشنا طبیعت ته کور د یوه کپس په څیر ښکاریده، هر ماښام به په اس سپور شو او د چکر لپاره به دیر لری ووت او تر نیمو شپو پوری به په صحرا کی ګرځیده.

د عبدالله واده ته یوه هفته پاتی وه، نعیم یوه شپه پر آس چکر ته وتلی ؤ، په زړه پوری ورمه چلیده پر آسمان ستوری ځلیدل، د سپوږمی په زړه وړونکی رڼا کی د صحرا د ریګونو وړی وړی څپی ځلیدلی، په کلی کی د عبدالله د خوښی او واده په خاطر د کلی ځونو دایری وهلی او سندری یی ویلی، نعیم د اس جلب نیولی ؤ او تر څه ځنډه یی سندری اوریدی، هغه ته له ځانه پرته ټول کاینات په خوښیو کی ډوب ښکاریدل، له اس نه پلی شو او په یخ ریګ کښیناست، د ستورو او سپوږمی ننداری او د کلی زړه

وړونکو د خرما باغونو د ده د معصومې دنیا د ورك شوي سکون په خاطر غمجن کړ او په زړه کې یې وویل:

زما نه پرته د کایناتو هره ذره خوښه ده، زما ساړه اسویلې د دې وسعتونو په وړاندې هیڅ نه دي. د ماما، مور، ورور خوښې، سبایي د عذرا خوښې هم ما خفه کوي! زه ډیر خود غرضه یم.

مګر زه خو خود غرضه هم نه یم، ما خو د خپل ورور لپاره خپلې خوښې قربان کړې، خو دا هم دروغ دي... زما په زړه کې د خپل ورور لپاره دا ایثار هم نشته، چې د هغه په خوښۍ کې شریك شم او خپل غم هیر کړم، زما شپه ورځ بهر اوسیدل، ساړه ساړه اسویلي کښل او له چا سره خبرې نه کول په هغه ته څه ور ښکاري. زه به بیا داسې ونه کړم هغه به هیڅکله هم زما څیره غمجنه ونه ګوري.... مګر دا خو زما د وس خبره نه ده، زه د خپل زړه پر غوښتنو قابو کیداي شم، خو پر احساساتو نه، غوره دا ده چې څو ورځې له کلي نه بهر ته ولاړ شم، هو زه باید خامخا ولاړشم، اوس ولې ولاړ نه شم؟ مګر نه داسې نه، سهار به له مور نه اجازه واخلم او ولاړ به شم.

دې ارادې نعیم تر ډیره حده تسلي کړ.

سبا سهار له لمانځه نه وروسته نعیم له مورنه بصرې ته د څو ورځو لپاره رخصت وغوښت، صابره د ده پر دې غوښتنه حیرانه شوه ویې ویل: زویه! ستا د ورور واده دي، ته هلته د څه لپاره ځې؟

موري! زه به دواده نه یوه ورځ مخکې بیرته راشم.

نه زویه! تر واده پورې ته باید په کور کې وې.

موري ماته اجازه راکړه.

صابرې لږ په غوسه ورته وویل: نعیمه! ماګومان کاوه چې ته په ریښتیا د یوه مجاهد زوي یې، خو زما دا ګومان غلط و، تاته د خپل ورور په خوښۍ کې ګډون ښه نه ښکاري، نعیمه! ته له عبدالله سره کینه کوې...؟

نعیم: کینه! موري دا ته څه وایې؟ زه به له ورور سره ولې کینه کوم، زه خو غواړم چې د خپل ژوند ټول راحتونه هغه ته ورکړم.

: زویه! خداي(ج) دې وکړي چې زما ګومان غلط وي، خو بیا له څه سببه ستا چوپتیا، چتې په دښتو او بیابانونو ګرځیدل د څه شي ښکارندوي دي؟

موری زه بخښنه غواړم.
صابره ورورانډې شوه زوی یې په غیږ کې ونیو او په تندي یې ښکل کړ.
: زویه د مجاهدینو سیني پراخې وي.

ماښام مهال نعیم د چکر لپاره بهر ونه ووت، د شپې له ډوډۍ وروسته په بستره وغځېد او تر ډېره یې چورتونه وهل، د هغه په زړه کې اندېښنه پیدا شوه چې زما د چلن په وجه چې زما له مور سره څه بدګوماني پیدا شوې ده د عبدالله په زړه کې به هم راپیدا شوې وي، دې تصور له ده سره د کوره د وتلو اراده پخه کړه.

نیمه شپه هغه له بسترې نه اوچت شو، جامې یې بدلې کړې، بیا طبیلې ته ولاړ په آس یې زین کېښود، تر جلب یې ونیو او بهرته یې د وتلو تکل وکړ چې څه په خیال کې وروګرځېدل، آس یې هلته پرېښود او په انګړ کې د عذرا د کټ څنګ ته ودرېد.

عذرا هم د نعیم په څېر د شپې په وېښه عادت شوی وه، هغه په بستره پرته وه او د نعیم ټول حرکات یې څارل، کله چې نعیم دې ته نژدې ورغی د دې د زړه درزا زیاته شوه، دې داسې وښودله چې ویده ده، او خپلې سترګې یې پټې کړې، نعیم تر څنډه ولاړ ؤ، د سپوږمۍ رڼا د عذرا په مخ لوېدلې وه او داسې ښکارېده چې د آسمان سپوږمۍ د ځمکې د سپوږمۍ سیل کوي، د نعیم سترګې د عذرا په ښه داسې جذب شوې چې تر څه څنډه هغه له شاو خوا ته ناخبره ؤ. بیا یې یوه اوږده ساه واخسته او په دردناکه لهجه یې وویل: خدای(ج) دې تاسوته واده مبارک کړي.

د نعیم د دې خبرې په اورېدو په عذرا لړزه راغله. هغې ته داسې ښکاره شوه لکه چا چې په یوه کنده کې غورځولې وي او خاورې وربانډې اړوي ، ساه یې بنده شوه، غوښتل یې چیغه وکړي، خو یوه نه لیدونکي لاس یې خوله په زور پرې پټه کړه، غوښتل یې ورجګه شي او د نعیم په پښو کې سر کېږدي او ورته ووایي چې زما ګناه څه ده؟ ده داسې ولې وویل؟ خو درزېدونکي زړه یې هماغسې پاتې شو او درزایې په سینه کې خپ کړه، هغې د سترګو غړولو او نعیم ته ورکتلو جرئت هم ونه کړ.

نعیم د آس لپاره بېرته طبیلې ته ولاړ عذرا له بسترې نه جګه شوه او د

انګړ نه بهر ووته او د دیوال شاته ودریده، نعیم بهر ووت عذرا ور وړاندی شوه او د نعیم په مخ کی ودریده:

نعیمه ته چیرته ځی؟

: عذرا... ته ویښه یی؟

زه ویده شوی کله یم... ګوره نعیمه!

هغی له دی نه وړاندي څه ونه ویلای شوای ، او بیا وروړاندی شوه د نعیم له لاسه یی د اس جلب واخست.

نعیم: عذرا! زما د راګرځولو هڅه مه کوه ما پریږده چی ولاړ شم.

چیرته به ځی نعیمه! له دیری مو٠٠، پس یی په نامه غږ پری وکړ.

عذرا زه خو شپی بصری ته ځم.

مګر دا مهال ولي ځی؟

عذرا ته له مانه پوښتی چی دا مهال ولی ځم، تاته څرګنده نه ده؟

عذرا ته معلومه وه، د هغی زړه درزیده ، شونډی یی رپیدی د نعیم د آس جلب یی پریښود او اوښلنی سترګی یی په دواړو لاسو پټی کړی.

نعیم وویل: عذرا ته به خبره نه یی چی زما په زړه کی د دی اوښکو څومره قیمت دی، خو زما دلته اوسیدل مناسب نه دی زه چی خفه وم تا به هم غمجنه کړم، په بصره کی چی څو ورځی پاتی شم زما طبیعت به راښبال شی، زه به ستا د واده نه یوه دوی ورځی وړاندی د رارسیدو هڅه وکړم.

عذرا! زه په دی ډیر خوښ یم او ته هم باید خوښه وی چی ستا راتلونکی خاوند له مانه د غوره صفتونو خاوند دی، کاشکی تاته معلومه وای چی زما له ورور سره څومره مینه ده؟

عذرا دغه اوښکی دی هغه ته وروته ښیی!

عذرا وپوښتل: ته ربښتیا روان یی؟

نعیم: زه نه غواړم چی هره ورځ می د زغم آزموینښت وی، عذرا ماته داسی مه ګوره ورځه!

عذرا هم بی له دی چی نور څه ووایی بیرته ستنه شوه، څو ګامه چی ولاړه نعیم ته یی مخ وروااړاوه هغه تر اوسه یوه پښه په رکاب کی ایښی وه او دیته یی کتل، عذرا مخ واړاوه او ګړندی ولاړه په خپله بستره پرمخی

پریوته او په سلګو شوه.

نعیم پر آس پښه واړوله لاپې څو ګامه نه وو اخستي چي چا له شانه منډه ورواخستله د اس جلب یې ونیو نعیم حیران ودرید د هغه په مخکي عبدالله ولاړ ؤ.

نعیم په حیراني وویل: ورورہ!

عبدالله په سهمجن غږ ورته وویل: راکوز شه.

نعیم: ورورہ زه له کلي څخه ځم!

ماته معلومه ده راکوز شه.

نعیم له آس نه پلی شو، عبدالله په یوه لاس د اس جلب او په بل نعیم تر مټ نیولی ؤ او بیرته راوګرځید چي د کور انګړ ته راورسیدل ویې ویل: آس په طبیله کي وتړه، نعیم څه ویل غوښتل، خو عبدالله په حاکمانه انداز دریدلی ؤ هغه څه ونه ویلی شو او د حکم له منلو پرته یې بله لاره ونه لیده، هغه آس په طبیله کي وتاړه بیرته راغی او ورور ته نژدي ودرید.

عذرا په بستره پرته وه او دا ټوله ننداره یې لیدله.

عبدالله بیا نعیم تر مټ ونیو او د کور په یوه کوټه ورننوتل.

عذرا لړزیدله او له خپل ځای نه اوچته شوه، غلي غلي ورغله د همغي کوټي کړکي ته ورنژدي شوه چي دواړه ورونه ورننوتل.

عبدالله وویل: شمع بله کړه.

نعیم شمع بله کړه، په کوټه کي د وړیو یو لوی توکر غوړیدلی ؤ، عبدالله په هغه کیناست او نعیم ته یې هم د کیناستلو اشاره وکړه.

ورورہ ته ماته څه ویل غواړي!

هیڅ نه ته کښینه!

زه چیرته روان وم.

زه تا له تګ نه نه راګرځوم، کینه! له تاسره مي یو ضروري کار دی.

نعیم پریشانه کیناست، عبدالله نعیم ته وکتل او په موسکا یې ورته وویل: نعیمه ته بصرې ته ځې؟

نعیم ځواب ورکړ: ورورہ دا راته معلومه نه وه چي ته جاسوسي هم کوې!

: زه بخښنه غواړم نعیمه! زه ستا نه د عذرا جاسوسي کوم.

: ورور جانه! د عذرا په باب دومره زر نظر مه ورکوه.

عبدالله په خوب کې نعیم ته وکتل، نعیم له شرمه سربنکته واچاوه عبدالله لاس ور اوږد کړ او د هغه سر يې راپورته کړ ويې ويل: نعیمه زه ستا او عذرا په باب هیڅکله غلط نظر نشم ورکولی، ته بصری ته ولاړ شه او دا لیك ماماته ورکړه: بیایی د نعیم په لاس کې يو ليك ورکیښود.

: ورور جانه تا څه لیکلي؟

: پخپله يې ولوله ما ستا لپاره يوه سزا ټاکلې ده

نعیم لیك ولوست:

ګران ماما السلام علیکم!

څرنګه چې ستا په خیر ماته هم د عذرا راتلونکې ډیره ارځښت لري، ځکه خو تر ځانه زه نعیم د دې راتلونکې امانت دار بنه ګنم ، زه به ډير څه نه‌لیکم، ته پخپله بنه پوهیږې چې دا لیك ما ولی ولیکه، هیله ده چې ته به زما خبرې ته پام وکړې، زه غواړم چې زما د رخصتۍ پوره کیدو نه وړاندې د نعیم او عذرا واده وشي، مناسبه نیټه ته پخپله وټاکه، ستا عبدالله.

د لیك له پای ته رسیدو سره د نعیم په سترګو کې اوښکې راغلې، ويې ويل وروره زه دا لیك نه وړم، د عذرا واده به له تاسره کیږي وروره ما وبخښه.

عبدالله وویل: ستاګومان دی چې زه به د خپلې خوښې لپاره د خپل کشرې ورور د ژوند ټولې خوشالی قربان کړم؟

نعیم: ته مانور مه شرمنده کوه.

عبدالله: زه له تاسره څه مراعات نه کوم نعیمه! له تانه زیات د عذرا د خوښیو غم راسره دی، ماته ستاسو جوړه پخوا هم ډيره بنه ښکاریده، کوم څه چې تا زما په خاطر کول زه يې د عذرا لپاره کوم، ورځه! اوس سهار کیدونکی دی، تر سبا پورې بیرته راوګرځه. بنایی ماما هم له تاسره يو ځای راشي، ورځه!

: وروره! دا ته څه وایی زه نه ځم!

: نعیمه! نور ضد مه کوه، د عذرا د خوښی ذمه واری د دواړو په غاړه ده.

: وروره !....

عبدالله لږ په غوسه اوجدي لهجه وویل: ورځه ! او بیا یی هغه تر مټ ونیو او له کوټی نه بهر ته راووتل،

عذرا چی دوی بهرته د راوتلو په حال کی ولیدل بیرته خپلی بستری ته راغله او پری وغځیدله، عبدالله چی نعیم دوه زړی ولید ورغی او د نعیم آس یی له طبیلی نه راویوست دواړه وروڼه له کوره ووتل، لږ ځنډ وروسته عذرا د آس د پښو ترپهار واورید.

عبدالله بیرته راستون شو او د پروردګار په دربار کی د شکرانی د ادا لپاره ودرید.

سهار وختي چی صابری د نعیم کټ خالي ولید طبیلی خواته ولاړه چی د هغه آس یی هم ونه لید پریشانه ودریده. عبدالله پري وپوهیده ورته ویې ویل:

موږجانې! نعیم لتوې؟

:هوکې هوکې! هغه چیرته دی؟

: هغه د څه ضروری کار لپاره بهر ته تللی دی، او بیا یی له لږ څه سوچ وروسته وویل: مورجانی د نعیم واده به کله کیږی؟

: «زویه!» ستا چی وشو له خیره بیا به د ده نوبت وی.

:موري! زه غواړم چی د ده واده له مانه مخکی وشی.

: زویه زه پوهیږم چی ته له نعیم سره ډیره مینه لری زه غافله نه یم، د ده لپاره یو مناسب ځای ګورم خدای(ج) دی وکړی چی عذرا غوندی نجلی ورته وګورم.

:موري! نعیم او عذرا له ورکتوبه سره ملګری وو.

: هو زویه !

: مورجانې زه غواړم چی دوی تل سره ملګری شی.

: ستا مطلب دا دی چی .....!

: هو، زه غواړم چی د عذرا واده له نعیم سره وشی.

صابره حیرانه شوه عبدالله ته یی وکتل او له مینی نه یی دواړه لاسونه د هغه پر سر کیښودل.

# دوهمه لاره

نعیم چی بصری ته ورسید له خپل یوه همصنفی طلحه سره مخامخ شو، له هغه نه یی واوریدل چی د جمعی له لمانځه وروسته به د ښار په جامع جومات کی د ابن عامر په مشری لویه غونډه جوړیږی، مسلمانان پر سند د حملی کولو په تکل دی، او د پوځ مشری محمد بن قاسم ته سپارل شوی، حجاج بن یوسف جهاد ته د خلکو د تشویقولو ذمه واري ابن عامر ته سپارلی او پخپله کوفی ته تللی چی خلك پوځ ته راوبولی، د بصری په خلکو کي د ابن عامر د وینا نه د ښو اغیزو امیدواری ده، خو ښارته د ابن صادق په نامه یو تش په نامه فقیر راغلی او د هغه د شرخوښوونکی ډلګی خلك پټ پټ د سند پر خلاف د جهاد د اعلان مخالفت کوی.

په بصری کی د دی اندیښنه ده چی که دغه خلك په غونډه کی برخه واخلی کوم خطرناك حالت رامنځ ته نه شی.

نعیم له طلحه سره په خبرو خبرو کي د ده تر کوره ورسید، آسونه یی هلته پریښودل او دواړه پلی جومات خواته روان شول، په جومات کی په هغه ورځ تر معمول زیات ګڼه ګوڼه وه.

له لمانځه نه وروسته ابن عامر په منبر وخوت، لایی څه ویلی نه وو چی له بهر نه نژدی دوه زره تنه په شور او زوږ پر جومات ورننوتل د دوی په مخ کی یو د مضبوطو متو لوی سړی ؤ چی توره چپنه یی اغوستی وه. پر سریی سپینه پګړی وه او په غاړه کی یی د قیمتی غمیو امیل زنګیده، طلحه هغه ته اشاره وکړه ویی ویل: وګوره هغه ابن صادق دی، زه ویریږم چی په غونډه کی به څه هنګامه جوړه کړی، ابن صادق له نعیم نه څو ګزه وراندی

کیناست، د ده له کیناستلو سره سم راغلی دله تولنه په یوه او بل ځای کی د خلکو په منځ کی کیناستل.

ابن عامر په چوپتیا د دی خلکو د کیناستلو انتظار وکړ او بیایی خپله وینا پیل کړه:

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د فدایانو غیورو زامنو! نړی له تیرو اتیا ، نوی کالو راهیسې زموږ د پلرونو او نیکونو، غیرت، شجاعت، دبدبه، صبر او زغم آزمویلی دی، په دې موده کې موږ د دنیا د لویو لویو ځواکونو سره دغرې وهلې دې، لوی لوی ظالم پاچاهان مو رانسکور کړل، زموږ د بخت داستانونه له هغه وخته پیل شول چی د کفر او ستم ځواکونو د رسالت د شمعې پتنګانو د وژلو په نیت د مدینی په لور مخه وکړه او هغه ۳۱۳ تنه سربښندویان د اسلام ونې خړوبولوته د خپلو پاکو وینو نذرانې ته چمتو شول او د کفارو غشو، تورو او نیزو ته یی خپلې سینې سپر کړې، د دې ستر بری نه وروسته موږ د توحید بیرغ اوچت کړ او د کفر په تعقیب پسی ووتو، د نړی ګوټ ګوټ ته خواره شوو، خو تر اوسه د دی پراخې نړی ډیر داسی ګوټونه پاتې دي چی د پروردګار وروستی پیغام نه دی ور رسیدلی، دا زموږ فریضه ده چی د خپل مولا پیغام د دنیا هر ګوټ ته ورسوو، او کوم قانون چی زموږ پیغمبر راوړی دی هغه د نړی پر انسانانو عملی کړو، ځکه چی همدغه قانون دی چی د دنیا د زورور او کمزوری انسان تر منځ مساوات او برابری راوستلی شی او هر مظلوم او بی کسه خپل تر پښو لاندی شوی حقوق بیرته تر لاسه کولی شی.

تاریخ ګواه دی چی تر اوسه پوری کوم ځواکونه د دغه ستر او نړیوال قانون پر خلاف دریدلی دی رانسکور شوی او ځپل شوی دی، مسلمانانو! زه حیران یم چی د سند راجه د مسلمانانو د غیرت آزموینی جرئت ولی کړی دی؟ هغه دا څنګه سوچ کړی چی مسلمانان په خپلو کی سره په جګړو او مخالفتونو دومره مشغول او کمزوری شوی دی چی د خپلو لونو او خویندو توهین او سپکاوی به په چوپتیا وزغمی.

غازیانو! دا ستاسو د غیرت د آزمویلو وخت دی، زما مطلب دا نه دی چی تاسو په زړه کې د بدل او کسات جذبه ویښه کړی او را اوچت شی، موږ

د سند راجه بخبنلی شو، خو موږ د اسلامی عدالت او مساوات علمبرداران د هندوستان پر مظلومو قومونو د هغه د ظالمانه واکمنی زغم نه لرو، راجه دا هر څو تنه مسلمانان بندیان کړل موږ ته یی په سند کی داوسپنیز زندان نه د لکونو انسانانو د را ایستلو بلنه راکړه.

غازیانو! جګ شی او د بری او فتحې نغاړې وغږوی د هندوستان تر وروروستی ګوټ پوری ورسیږی.

د ابن عامر خبری لا پای ته نه وی رسیدلی چی ابن صادق له ځایه جګ شو او په لوړ غږیی وویل:

مسلمانانو ! زه ابن عامر خپل مشر بولم، زما د ده په خلوص هم هیڅ شك نشته، خو زه په دی خبره افسوس کوم چی داسی نیك خویه انسان هم د حجاج بن یوسف غوندی هوس پال سړی د لاس آله شو او ستاسو په وړاندی د نړی د امن بربادولو خطرناك تصمیمونه نیسی.

د حجاج بن یوسف د پخوانیو ظلمونو په وجه د بصری زیاتره خلك د هغه پر خلاف وو، هغوی له ډیری مودی راهیسی د یوه داسی سړی په لټه کی وو چی د حجاج پر خلاف برالا څه وویلای شی، دوی ټولو په حیرانی سره ابن صادق ته وکتل.

ابن عامر څه ویل غوښتل خو د ابن صادق په لوړ غږ کی د هغه کمزوری غږ ورك شو.

خلکو! دغو فتحوته حکومت تاسو د هیوادونو لاندی کولو او غنیمتونو د هوس لپاره چمتو کوی، خو لږ په سړه سینه سوچ وکړی چی د دی هیوادونو نیولو او غنیمتونو هوسونو څومره ګران بیه ځوانی خاوری کړی؟ څومره بچیان یتیمان او څومره میندی کونډی شوی؟ ما په خپلو سترګو د ترکستان په دښتو کی ستاسی د ځوانو زامنو او ورونو په سلګونو بی کفنه مړی لیدلی دی، ما زخمیان په کریږو او لټ په لټ اوښتلو لیدلی دی، د دی عبرتناکو ننداړو له لیدو وروسته زه په دی ویلو مجبور شوم چی د حجاج بن یوسف د نامه او شهرت لپاره باید د مسلمانانو وینی داسی بی دریغه او ارزانه تویی نه شی.

مسلمانانو! زه د جهاد مخالفت نه کوم، خو دا ویل ضروری بولم چی په

پیل کی جهاد ځکه ضرور ؤ چی موږ کمزوری وو او کفارو غوښتل چی موږ ورك کړی، اوس موږ ځواکمن یو، موږ ته د کوم غلیم نه څه خطر نشته، اوس موږ باید داسی تدبیر ولرو چی نړی د امن زانګو شی.

مسلمانانو! کوم جنګونه چی د حجاج بن یوسف د فتحو د هوس پوره کولو په خاطر کیږی جهاد ته هیڅ ورته نه دی.

ابن عامر چې خلك د ابن صادق د خبرو تر اغیزې لاندې ولیدل چیغې یې کړی:

مسلمانانو! زه نه وم خبر چې په موږ کې تر اوسه پورې داسې فتنه پاروونکی خلك شته چی ... !»

ابن صادق د ابن عامر خبره پوره کولو ته پرینښوده او په لوړ غږ یې وویل:

خلکو! زه په دې خبره کولو شرمیږم چې د ابن عامر غوندې عزتمن سړی هم د حجاج بن یوسف په جاسوسانو کې شامل دی.

د ابن صادق یوه ملګری په زوره چیغه کړه: د حجاج بن یوسف جاسوسان بهرته وباسی.

د ابن صادق دا حربه کامیابه شوه، ځینو خلکو د حجاج جاسوس ، د حجاج جاسوس ناری پیل کړی او پر ابن عامر یې له سپکاوی ډکې چیغې کولی، د ابن عامر د یوه شاګرد حوصله تمامه شوه او یو سړی یې په څپیړه وواهه، پر دې هنګامه جوړه شوه او په جوماث کې خلك له یو بل سره لاس او ګریوان شول.

محمد بن قاسم دیر د اندیښنی په حال کی ؤ، د هغه لاس په وار وار د توری موټی ته ورنژدې کیدو خو د استاد په لشاره به یې بیرته لرې کړ، په دې حساسه موقع کې نعیم د خلکو په ګڼه ګوڼه کې لارو کړه او منبر ته پورته شو په خپل خوږه غږ یې د قرآن کریم په تلاوت پیل وکړ، د قرآن کریم الفاظو د خلکو په زړونو جادو وکړ او یو د بل د چوپ کولو هڅه یی وکړه، ابن صادق چې غوښتل دغه غونډه ګډه وډه کړی یو ځل بیا یی د ګډوډی هڅه وکړه، خو د قرآن د الفاظو په وجه چی په خلکو کومه چوپتیا خوره وه دا جرئت یې ونه کړ او له ویری چوپ شو، نعیم چی خلك چوپ

ولیدل په خبرو یې پیل وکړ: د بصرې بدمرغه خلکو! د خدای(ج) له قهره ووېرېږئ او سوچ وکړئ چې چېرته ولاړ یاست او څه کوئ ! افسوس، د کومو جوماتونو د جوړولو لپاره چې ستاسو پلرونو او نیکونو خپلې وینې او هډونه قربانول نن تاسو پکې له فتنو جوړولو نه مخ نه اړوئ، د نعیم دې خبرو په جومات کې چوپتیا خوره کړه، هغه په خپله غمجنه لهجه وویل:

دا هغه ځای دی چې ستاسو پلرونه او نیکونه به د خدای (ج) له وېرې پکې لړزېدل، دوی به چې دلته راننوتل د دنیا له ټولو نعمتونو او راحتونو نه به یې خیال شلېدلی ؤ. زه حیران یم چې نن ستاسو په ذهن کې دومره لوی بدلون څه وړ راغی، زما گومان نه کېده چې ستاسو ایمان به دومره کمزوری وي، تاسو د خدایؓ او رسولؐ په مینه د ځان قربانوونکو غازیانو اولادونه یاست، ستاسو په زړه کې د دې خبرې احساس چې یوه ورځ به له خپلو پلرونو سره مخامخ کېږئ تاسو دې ته نه پرېږدي چې داسې ذلیل حرکت وکړئ، زه پوهېږم چې تاسو ته د دې جرئت ورکوونکی کوم بل څوک دی.

ابن صادق چگ شو، خلکو هغه ته مخ وراړاوه او ورکتل یې، هغه د وخت نزاکت حس کړ د خلکو په زړونو کې یې د نعیم د خبرو د بې اغېزې کولو هڅه وکړه او چیغې یې کړې:

خلکو! دا هم د حجاج جاسوس دی دی هم بهرته وباسئ هغه نور هم څه ویل غوښتل خو له غوسې نه د نعیم رېږدېدونکې غږ اوچت شو:

زه به د حجاج جاسوس یم! خو د اسلام غدار نه یم، د بصرې بدمرغو خلکو! تاسو د دې سړي له خولې واورېدل چې موږ هغه وخت جهاد ته ضرورت درلود چې موږ کمزوري وو، خو ستاسو وینې په جوش رانغلې، په تاسو کې یوه هم دا سوچ ونه کړ چې د لومړي پېړۍ هر مسلمان د نن ورځې له مسلمانانو نه په صبر، ځواك او توکل کې زیات ؤ، هغوی څوك وو او څه یې وکړل؟ تاسوته دا معلومه نه ده چې له هغوی سره څه څه وو! له هغوی سره د صدیق اکبر خلوص، د عمر فاروق جلال د عثمان غني غنا، د علي مرتضی زړورتیا او د ځمکې او آسمان د مالك د محبوب صلی الله علیه وسلم دعاگانې لرلې.

ستاسو په یاد دی چې کله د مسلمانانو ۳۱۳ تنه د کفارو مقابلې ته ورووتل د الله محبوب رسول صلی الله علیه وسلم وفرمایل نن ټول اسلام د ټول کفر مقابلې ته ور روان دی، خو نن یو ذلیل انسان ستاسو په مخ درته وایی چې هغوی «نعوذبالله» له موږ نه کمزوري وو، د نعیم خبرو په خلکو ډیر تاثیر وکړ، چا د الله اکبر ناره اوچته کړه، او نورو ورسره بدرګه کړه، ځینو ابن صادق ته مخ وراړاوه او ورته کتل یې ، او پر هغه یې ملامتی ویل پیل کړل ، نعیم خپلو خبروته دوام ورکړ:

دوستانو او مشرانو! د خدای(ج) په لار کې د ځان، مال او ټولو راحتونو پرسربښندونکو غازیانو د هیوادونو لاندی کولو او د غنیمت د هوس تورونه ډیره بې انصافي ده، که دوی د دنیا هوس درلودای بیا به مو د سربښندنې هغه جذبه نه لیدله چې یوه د ګوتو په شمیر ډلګی به د کفارو د بې شمیره پوځ مخې ته سینه سپر ولاړه وه، که دوی د حکومت او واکمنی وږی وای نو فتحه شویو او مغلوبو اولسونو ته به یې برابر او مساوي حقوق نه ورکول، او اوس هم په موږ کې داسې څوك نشته چې جهاد ته د شهادت د مینې پر ځای د غنیمت لپاره ځي، مجاهد د حکومت نه بې پروا دی خو د خدای(ج) په لار کې هر څه ښندونکی ته په دنیا کې سرلوړی اوسیدل عجیبه نه ده، واکمنی د مجاهد د فتحې لازمي نتیجه ده.

مسلمانانو! زموږ ماضي تاریخ که د صدیق اکبر د خلوص له داستانونو نه ډك دی نو د عبدالله بن ابیّ د منافقت له تبصرو نه هم تش نه دی، د حضرت صدیق په لاره تلونکو د ژوند هدف تل د اسلام سرلوړی وه، او د عبدالله بن ابی پیروان د اسلام د برې په مخکې خنډونه جوړوي، خو نتیجه څه راوتلې؟ زه د عبدالله بن ابی د دې میراث خواره نه پوښتم!

د ابن صادق حالت هغه ګیدړې ته ورته ؤ چې له ځلورو خواو نه ښکاریانو راګابو کړې وي، هغه پر دې باوري شو چې د دې جادو ژبې ځوان څو نور الفاظ به ټول خلك د ده پر خلاف راپاروي، هغه یوه او بله خواته وکتل او هرې خواته د خلکو له کرکجن نظر سره مخ شو ، ورو ورو یې ځان شاته ویوست، چا وویل: منافق درومې راویی نیسی! څو ځوانان د ویې نیسی وی نیسی په ویلو پرې ورپریوتل، د هغه ملګرو د ده د ژغورلو هڅه

وکړه خو د ګنې ګوڼې په وجه يې څه ونکړای شول چا هغه ته دیکه ورکړه او چا په څپیړوواهه، محمد بن قاسم ورورانډی شو خلك یې یوې او بلې خواته لرې کړل او ډیر په زحمت یې هغه د خلکو له منګولو وژغوره.

هغه چې ځان د خلکو له منګولو آزاد ولید نو په منډه وتښتید، څو سرشار ځوانان د ده په لیدو په دې تکل شول چې ورپسې ورشي خو محمد بن قاسم هغوی منعه کړل، د ابن صادق د ولې خلك هم یو یو له جومات نه ووتل، خلك بیرته چوپ شول نعیم ته یې پام واړاوه هغه خپلو خبروته دوام ورکړ:

په دې نړۍ چې د بقا لپاره هره ذره د بلې ذرې تکر ته په ځواب ورکولو مجبوره ده، یوه مسلمان ته جهاد یوه ډیره مهمه فریضه ده، له دنیا نه دامن ګهواری جوړولو لپاره لازمه ده چې د کفر اورتون چوپ شي.

د بدر، حنین ، قادسیې، یرموك او اجنادین په ډګرونو کې زموږ د پلرونو د تکبیر شعارونه د کفر په اور کې د لولپه شویو مظلومانو د فریادونو ځواب و او نن ستم ځپلي انسانان د سند په میدانونو کې زموږ د تورو د شرنګار د اوریدو په انتظار دي. مسلمانانو! تاسو د خپل قوم د هغې لور فریاد اوریدلی دی چې د راجه دا هر په زندان کې ده، زه تاسوته د سند د فتحې زیرې درکوم.

غازي د خدای(ج) توره ده، کوم ورمیږ چې د هغې په وړاندې نیغ شي غوڅ به شي، د سند مغرور راجه تاسو ته د خپلو تورو او متو د زور آزمویلو بلنه درکړې ده غازیانو! جګ شئ او دا ثابته کړئ چې تر اوسه پورې مو په رګونو کې د عربي شازلمو وینه نه ده وچه شوې.

یو لوري ته مهربانه خدای(ج) ستاسو د جهاد جذبې او بل پلو نړه ستاسو غیرت آزمویې، آیا تاسو دې آزموینت ته چمتو یاست؟

د کشرې مجاهد غږ ته زړو او ځلمیانو په یوه غږ ځواب ورکړ:

موږ تیار یو ، موږ تیار یو.

نعیم خپل بوډا استاد ته وکتل، د هغه په شونډو موسکا خپره وه او په سترګو کې یې د خوښۍ اوښکې ځلیدې، ابن عامر بیا جګ شو لنډې خبرې یې وکړې بیایې په جهاد کې ګډون کوونکو ته ضروري هدایات ورکړل او

غونډه پای ته ورسیده.

*****

(۲)

د شپې له محمد بن قاسم کره ابن عامر، سعید، نعیم او د ښار څو نور معززین د ورځې په پېښه سره رغیدل، نعیم په دې ورځ نه یوازې د بصرې ځوانان پر ځان ور واړول بلکې د پخو عمرونو خاوندانو یې هم تدبیر او زړورتیا ستایله، ابن عامر خپل ځلمي شاګرد ډیر ښه پیژاند، هغه ته څرګنده وه چې د نعیم په زړه کې له خطرناکو حادثو سره په پراخه تندۍ د مخامخ کیدو اراده او حوصله شته، خو نن چې هغه کوم کمال وښود دا د ده له تموهم لوړ ؤ، د سعید د خوښۍ اندازه نه وه هغه به په وار وار خپل زلمی خوریی ته کتل او هره شیبه به یې له خولې نه د نعیم د اوږده ژوند دعا وتله، له خبرونه ورسته هغه د نعیم د حوصلې اوچتولو په خاطر سند ته د لښکر سره د تلو لپاره لومړی خپل نوم اعلان کړ، ابن عامر هم سره له دې چې په ښوونځی کې ده ته زیات ضرورت ؤ له لښکر سره د تلو اجازه ورکړه، پخپله ابن عامر هم له خپلو شاګرانو محمد بن قاسم او نعیم سره د ملګرې اراده وکړه خو هغه ډیر بوډا او کمزوری ؤ، توره یې نشوای اوچتولی، خو د بصرې خلکو په یوه خوله د ده د دې ارادې مخالفت وکړ او ویې ویل چې په ښوونځی کې هغه د جګړې تر محاذ نه لوی خدمت تر سره کوي.

د بصرې خلکو سعید هم راګرځاوه، خو محمد بن قاسم د خپل حمله کوونکی ګروپ لپاره یوه تجربه کار جنرال ته ضرورت درلود او هغه یې د همدې ګروپ د قومندانۍ لپاره ورسره ملګری کړ.

نعیم هرې شیبې یوه منزل ته نژدې کاوه او له بل نه لرې کیده، هغه به سرخوږند کړ او د مجلس خبرې به یې اوریدې، ابن عامر د خپل عادت سره سم د کفر او اسلام د لومړنیو جګړو پیښې یادولې، چا له بهر نه دروازه وټکوله، د محمد بن قاسم نوکر دروازه خلاصه کړه، یو بوډا عرب چې بانه او وروځې یې هم سپین شوي وو په یوه لاس کې لکڼه او په بل کې یې یوه غوټه وه کوټې ته ورننوت، د هغه پر وجود د زخمونو نښانونو دا ښودله چې یو وخت یې د تورو او نیزو سره لوبې کړې دي، ابن عامر هغه وپیژاند یو

کام وروراندی شو او لاس یی ورکړ بودا په کمزوري غږ وویل: ما په
بنوونځی کی تاسو لتهولی، هلته راته معلومه شوه چی تاسو دلته راغلی
یاست، ابن عامر ورته وویل: ته ډیر په زحمت شوی کښینه!
بودا د هغه ترځنګ کښیناست.
ابن عامر وویل: له ډیری مودی وروسته دی په زیارت مشرف شوم ووایه
څنګه راغلی یی؟
بودا وویل: ماته نن چا د جومات کیسه وکړه، زه هغه ځوان لټوم چی نن
یی د بصرې واړه زاړه د همت ترانې وایی، ماته معلومه شوه چې هغه د
عبدالرحمن زوی دی، د عبدالرحمن پلار زما ډیر خوږ دوست ؤ، که تاسوته
هغه زلمی معلوم وی زما له طرفه دا خو شیان ورته ورکړی.
بودا دا وویل او غوټه یی خلاصه کړه، ورمه ورځ له ترکستان نه خبر
راغلی دی چی عبیده شهید شوی دی.
ابن عامر وپوښتل: کوم عبیده! ستا لمسی؟!
هو همغه، په کور کی یی دا توره او زغره فالتو پاتی وی، اوس زما په
کورنی کی د دی حق ادا کوونکی څوك پاتی نه دی، ځکه خو دا باید کوم
غازی ته نذرانه کړم.
ابن عامر نعیم ته وکتل، هغه یی په مطلب وپوهیده بودا ته نژدی ورغی
او ویی ویل: زه ستا مننه کوم! که زه وکړای شم نو ستا دا سوغات به ښه په
کار واچوم تاسو ماته دعا وکړی.
نژدی نیمه شپه دا مجلس رنګ شو او ټول خپلو خپلو کورونو ته ولاړل،
نعیم له خپل ماما سره روانیده خو محمد بن قاسم پرینښود او همالته پاتی
شو، د هغه په ټینګار سعید نعیم ته اجازه ورکړه چی پاتی شی، دوی دواړه
د سعید د رخصتولو لپاره له کوره بهر راووتل او تر لږ ځایه ورسره ولاړل،
سعید تر اوسه پوری له نعیم سره د کور په باب د څه ویلو فرصت نه ؤ
موندلی، هغه په تګ تګ کی ودرید او پوښتنه یی وکړه:
نعیمه په کور کی خو خیرت دی؟
هو ماما ټول روغ جوړ وو، مورجانی....! نعیم نور هم څه ویل غوښتل،
بیایی د لیك را ایستلو په خیال لاس جیب ته ننه ویست خو له څه سوچ

وروسته یې لاس تش بیرته راویوست.

: هو خور مې څه ویل؟

: هغې تا ته سلام وایه ماما جانه!

نوره شپه نعیم اړخ په اړخ اوښت، سهار ته نژدې یې سترګه ورغله، په خوب یې لیدل چې د بصرې له اروا پالو ښهونو او د محبت پاروونکو نغمونه ډیر لرې د سند په میدانونو کې د جګړې د خطرناکو او لړزونکو ننداړو په منځکې ولاړ دی.

سبا ته نعیم له پوځ سره د یوه سالار په حیث ملګری شو، هغه په هر ګام د هیلو پخوانۍ کلې تر پښو لاندې غوبل کول او د نویو آرزوګانو مانۍ یې درولې او پر مخ روان ؤ، یو وخت له داسې ځای نه تیریدل چې د دوی د کلي د خرما ونې ترې ښکاریدې، د ده په ځوان زړګي کې د پخوانیو یادونو توپان راوالوت، ده هغه دنګې ونې لیدلې چې تر سیوری لاندې یې د ژوند ډیرې خوږې شپې ورځې تیرې شوې وې، د ده د امیدونو او هیلو کلی یوازې دوه میله لرې ؤ، یو ځل یې په زړه کې ورو ګرځیدل چې آس چار ګام کړي او یو ځل کورته ولاړ شي، له مور او ورور سره وګوري او له هغه سارایي حوری سره څو خبرې وکړي او بیا ترې رخصت شي، خو د مجاهد ضمیر د هغه په دې لطیفو احساساتو غلبه ومونده، لیك یې له جیبه راویوست ویې لوست او بیایې بیرته په جیب کې کیښود.

*****

(۳)

په کور کې د عبدالله او نعیم له خبرو اوریدو وروسته د عذرا د خوښې اټکل ګران ؤ، د هغې اروا د خوښیو په اوم آسمان کې نخښیده، توله شپه ویښه وه خو بیا هم سهارته تر پخوا زیاته خوښه او تازه وه، د مایوسۍ په اور کې د سوځیدو نه وروسته د هیلو د ونې بیا رازرغونیدل د قدرت یو ډیر لوی احسان ؤ.

عذرا نن د عبدالله د احسان تر بار لاندې وه، دا پوهیده چې د عبدالله دغه ایثار یوازې د نعیم لپاره نه ؤ، بلکې د دې لپاره هم ؤ د هغه مینه خومره پاکه وه، د هغه زړه ته به خومره صدمه رسیدلې وي؟ کاشکې دا

صدمه نه وای وررسیدلی، کاشکی د دی له نعیم سره دومره مینه نه وای او د عبدالله زړه یې نه وای مات کړی، دعذرا په زړه کې به چې دا خیالونه ورغلل زړه به یې ولوید، خو بیا به یې د زړه په پردو کې د غم دغه وری وری ازانګې د خوښی په نغمو کې غلی او ورکې شوی.

د عذرا ګومان ؤ چې نعیم به تر ماښامه بیرته راستون شی، پر هغې ورځ په انتظار ډیره سخته تیره شوه، ماښام شو خو نعیم راستون نه شو، کله چې د ماښام تیاره د شپې په پردو کې ورکه شوه او د آسمان په توره چپنه د ستورو غمې وځلیدل د عذرا ناکراری زیاته شوه، نیمه شپه تیره شوه نو عذرا د غم د شپې سبا کولو په نیت پریوته او ویده شوه، دوهمه ورځ په ډیره ناکراری پری تیره شوه او راتلونکې شپه تر تیری شپې هم سخته وه.

سهار تیر شو، ماښام راغی خو نعیم راستون نه شو، ماښام مهال عذرا له کوره ووته لږ وړاندې په یوه غونډی وختله او د نعیم د راتلو لارې څارله، د بصری په لار به چې ګردونه اوچت شول د دې په زړه کې به دا تمه پیدا شوه چې نعیم به وی، خو د دې دا تمه به هر ځل بې ځایه وه او دې به په درزیدونکی زړه لاسونه کیښودل، په اوښانو او آسونو ډیر سپاره تیر شول هر سپور دی ته له لرې نعیم ښکاریده خو چې ورنژدې به شو دا به حیرانه او پریشانه پاتې شوه، د ماښام یخه هوا چلیده شپانه بیرته خپلو کورونو ته راستنیدل، د ماښام مرغیو د شپې د راتلو زیری اوروله، عذرا هم بیرته کورته د ستنیدو اراده وکړه چې له شانه یې د چا د پښو ترپهار واورید، شاته یې وکتل عبدالله ؤ چې دې ته نژدې ورغی، عذرا له حیانه سترګې ښکته واچولې عبدالله نژدې ورغی او ویې ویل: عذرا اوس کورته ځه فکر مه کوه هغه به زر راشی، په بصره کې د هغه ډیر لوی لوی خلك دوستان دی چا به په زور ګرځولی وی.

عذرا د څه ویلو پرته په چوپه خوله کورته روانه شوه، سبا ته له بصری نه یو سړی راغی او احوال یې راوړ چې نعیم سند ته روان شو، د دې خبری په اوریدو د صابری، عبدالله او عذرا په زړونو کې بیل بیل خیالونه وروګرځیدل، عبدالله او صابری فکر کاوه چې د ده غرور د عبدالله او صابری احسان نشوای زغملی، د عذرا خیال بیا له دوی نه بیل ؤ د عبدالله

دی الفاظو د هغی په زړه کی ژوری اغیزی وکړی چی هغه په بصره کی له ډیرو لویو کسانو سره پیژنی، دې به په وار وار په زړه کې ویل چې د نعیم زړورتیا او ځوانی به د ډیرو لویو لویو خلکو زړونه تسخیر کړی وی.

هغوی به له ده سره دوستی او اړیکی ټینګول یو ویاړ بولی، په بصره کی به ښایی په سلګونو د لویو کورنیو ښایسته پیغلې پر ده ځانونه قربانوی، آخر په ما کی کومه داسی ښیګڼه ده چی هغه له نورو رشتو نه را ایسار کړی؟ که هغه خامخا جهاد ته تلای نو له ماسره یی له لیدو وروسته ولی دا کار نه کاوه، څو ورځی وراندې چی دی پریشانه او اندیښمن ؤ د اندیښنی سبب به یی زه نه وم ... مګر نه، داسی نشی کیدای، نعیم زما دی... هغه داسی نه دی هغه به ماته هیڅکله دوکه رانه کړی، که یی راکړی هم زه څه د ګیلی حق نه لرم.

*****

(٤)

هغه مهال «دیبل» د سندیو مشهور ښار ؤ، د سند راجه د ښار په حصار دومره داړه ؤ چی بهرته د راوتلو او په دګر د مقابلی پر ځای یی له خپلو بی شمیره پوځونو سره په ښار کی د ننه سنګر ونیو، محمد بن قاسم ښار کلابند کړ او په منجنیق یی د ډبرو باران پری پیل کړ، خو د څو ورځو سختو جګړو وروسته هم مسلمانان پر دی بریالی نه شول چی حصار مات کړی، بالاخره یوه ورځ یوه درنه ډبره د «بُد» په یوه درمسال راوغورځیدله او طلایی ګنبزه یی ټوټی شوه لاندی راپریوته له دی سره د بودا یو پخوانی بوت هم ټوټه ټوټه شو، د دی بوت ماتیدل راجه دا هر ځانته بد شګون وګاڼه او وارخطا شو، د شپی مهال له خپل لښکر سره برهمن آباد ته وتښتید.

د دیبل له فتحی وروسته محمد بن قاسم د نیرون په لور مخه کړه د دغه ښار خلکو له جګړی پرته وسله کیښوده، پر دی پسی د محمد بن قاسم پوځ د بهر وچ او سیوستان مشهوری کلاګانی فتحه کړی.

راجه دا هر چی برهمن آباد ته ورسید د هندوستان څلورو لویو ته یی تولو پاچاهانو او راجه ګانو ته پیغامونه واستول او د مرستی غوښتنه یی وکړه، د ده د دی غوښتنی په بدل کی ده ته نژدی دوه سوه پیلان پنځوس

زره سپور پوځ او یو زیات شمیر پلی پوځ د مرستی لپاره وروروسید راجه داهر د یوه لوی لښکر سره له برهمن آباد نه بهر راووت او د سند د دریاب په غاړه یې په یوه پراخه میدان واړول او د محمد بن قاسم د لښکر په انتظار شو.

محمد بن قاسم د کښتیو پل جوړ کړ او لښکر یې له سند نه پوری وت د ۷۱۲ م د جون په ۱۹ مه محمد بن قاسم د راجه داهر د لښکر نه دوه میله لری د سند د دریاب په غاړه واړول، سباته سهار وختی یوی خواته د سرني او ناقوس او بل لوری ته دالله اکبر ناری اوچتی شوی دواړه لښکر د خپل خپل هیواد د نظم له مخی منظم شول او یو بل ته ور مقابل ته ور وخوځیدل.

محمد بن قاسم خپل پوځ په پنځه پنځه سوه تنو وویشه او د وړاندی تګ امر یې ورکړ، هلته د سند د پوځ په مخکی دوه سوه تنه مست پیلان شنیدل او را روان وو، د مسلمانانو آسونو چې پیلان د لومړی ځل لپاره ولیدل وترهیدل او په شا ولاړل، محمد (رح) بن قاسم چې دا حالت ولید پوځ ته یې د غشو ویشتلو امر وکړ، یو پیل چې د مسلمانانو په صفونو کې لیکي جوړولی او وړاندی را روان ؤ محمد بن قاسم یې مقابلی ته ورمخکی شو، خو آس یې د دی ویروونکی حیوان مخې ته له ورتلو نه انکار وکړ. هغه مجبور شو له آس نه پلی شو او وړاندی پیل ته ورغی د پیل خرتم یې په توره غوڅ کړ، زخمی پیل بیرته په شا وګرځید او خپل پوځ یې تر پښو لاندی کړ تیر شو، نور پیلان د غشو په باران کی وړاندی رانه غلل او چی تیپان شول بیرته یې مخ واړاوه خپل لښکر یې تر پښو لاندی کړ، محمد بن قاسم له دی موقع نه ګټه واخستله خپله د برغل دله یې رامخی ته کړه او نور پوځ ته یې د شا لخوا د دښمن د راګابو کولو قومانده ورکړه ، د مسلمانانو د سرښندونکو دیرغلونو په وړاندی د سند د پوځ پښی ولړزیدی. سعید له څو تنو سرښندویو سره د دښمن د پوځ لیکی ماتی کړی او د لښکر زړه ته ورسید نعیم له خپل زړور مامانه شاته کیدل نه خوښول، هغه هم په نیزه له خپلی مخی پوځ پاك کړ او سعید ته نژدې ور ورسید، راجه داهر له خپلو ځوانو ملکو سره د یوه پیل پر شا په یوه طلایی دولی کی ناست ؤ او

د جګړې د میدان ننداره یې کوله لږ وړاندې څو تنه بامبران «بت پرست ملایان» د یوه بت په مخ کې ناست وو او مذهبي سندرې یې ویلې، سعید وویل دا بت د دوی وروستي تکیه ده ورته مات یې کړئ!

نعیم یو بت پال په سینه په غشي وویشت، هغه لاس په زخم ونیول او لاندې ولوید، بل غشي په بل ولګید او نورو بت پرېښود، شاته وتښتیدل. دا بت ربښتیا هم د دوی وروستي تکیه ثابت شو په ټول پوځ کې هنګامه خپره شوه، سعید سره له دې چې زیات ټپي ؤ خو وړاندې ولاړ هغه د راجه داهر په پیل حمله وکړه، خو د داهر سربښندویان د هغه په شاوخوا راتاو شول، سعید د دوی تر ګلابندۍ لاندې راغی نعیم چې سعید د دښمن تر قبضه لاندې ولید نو د وړې زمرې په څیر یې حمله وکړه د سترګو په رپ کې یې د دښمن ډیر پوځیان یو پر بل وغورځول هغه د سعید په لټون یوه او بل لورته وکتل خو هغه یې ونه لید، ناڅاپه یې د هغه پر تش آس سترګې ولګیدې چې یوه او بله خوا یې منډې وهلې.

نعیم لاندې پرتو مړیو ته وکتل، سعید د دښمن د څو تنو مړیو پر سر پرمخې پروت ؤ، نعیم له آس نه پلی شو د ماما سر یې راپورته کړ غږ یې پرې وکړ: ماما ، ماماجانه! خو هغه سترګې لوڅې نه کړې نعیم انا لله و انا الیه راجعون ځل وویل او بیرته په آس سپور شو، د راجه داهر پیل له ده نه ډیر لرې نه ؤ خو د ګڼو ودو پوځیانو یوه دله یې پرشاوخوا راټول وو.

نعیم یو ځل بیا لینده راواخستله د راجه په لوري یې غشي واورول ، یو غشي د راجه په تټر ولګید، هغه وریږده او سربې د بوی ملکي په غیږ کې ورکیښود ، دراجه د وژلو د خبر په خپریدو سره د سند لښکر د مړیو انبارونه په میدان پرېښودل او وتښتیدل، د ماته خوړلي پوځ یوه برخه برهمن آباد او نوري اروړ ته وتښتیدل.

د دې سترې فتحې نه وروسته مسلمانان د ټپیانو په پټې لګولو او، شهیدانو په ښخولو مشغول شول، د سعید پر تټر له شلو نه زیات ټپونه وو، او کله یې چې په قبر کې کیښود نعیم له جیبه د ورور لیک راویوست او په قبر کې یې ورواچاوه،

محمد بن قاسم حیران شو پوښتنه یې وکړه دا څه شی دی؟

نعیم په غمجنه لهجه وویل: یو لیك.
:څه ډول لیك؟
: ماته عبدالله راکړی ؤ، ما د دی وعده کړی وه چی ماماته به یې رسوم. خو د تقدیر پریکړه دا وه چی زه دا ژمنه پوره نکړای شم، محمد بن قاسم وویل: زه دا لیك لوستلی شم؟
: کومه خاصه خبره پکی نشته.
محمد بن قاسم په لحد ورتیت شو لیك یی راپورته کړ ویی لوست او نعیم ته یی ونیو ویی ویل: دا دی له ځان سره وساته د شهیدانو له نظره د دنیا او آخرت کومه خبره پټه نه وی.
له محمد بن قاسم نه د نعیم هیڅ خبره پټه نه وه، کله یې چې د نعیم لپاره د عبدالله ایثار او د خدای(ج) په لار کی د نعیم دغه قربانی ولیده د ده په زړه کی له دغو دوارو ورونو سره د مینی احساسات نور هم ژور شول.
د شپی مهال له ویده کیدو وړاندې محمد بن قاسم خپلی خیمی ته ورغوښت، د یوی او بلی خوا نه له یو لړ خبرو وروسته یی ورویل: اوس به موږ په څو ورځو کی د برهمن آباد له فتحې وروسته ملتان ته مخه کوو، هلته ښایی موږته د زیاتو پوځونو اړتیا شی، ځکه خو زه غواړم چې ته بیرته بصری ته ستون شې، ته هلته د زیاتو پوځونو راتولو لپاره هڅې وکړه، په لار کې کورته هم یو ځل ستون شه او تسلي ورکړه.
نعیم : د کورنی د تسلي په اړه باید ووایم چی زه له جهاد نه زیات دی مسئلی ته ارځښت نه ورکوم، پاتی شوه د نورو پوځونو خبره نو د نن جګړی ښودله چی د نورو پوځونو ضرورت نشته.
محمد بن قاسم: مگر زما اراده یوازی د سند د فتحه کولو نه ده.
نعیم: مگر د یوه دوست په توګه به دا ستا له ماسره یو بی ضرورته احسان وی.
محمد بن قاسم: څنګه احسان؟
نعیم: ته ما د بصرې په بهانه کورته استوی او دا زه یو احسان بولم.
محمد بن قاسم وویل: که دا احسان زما او یا ستا له ذمه واریو سره ټکر

کوی نو زه هیڅکله هم اجازه نه درکوم، خو اوس تاته دلته هیڅ ضرورت نشته، ځکه چی د برهمن آباد نیول زموږ د چپ لاس لوبه ده. له هغه وروسته به موږ د شاوخوا وړوکی ریاستونه لاندی کوو او بیا به د ملتان په لوری مخه کوو، ته به تر هغه مهاله بیرته راستون شی له تاسره چی لږ او ډیر سپاهیان وی هغه به زموږ ځواك ډیر قوی کړی.

نعیم : سهی ده نو زه باید څه وخت روان شم؟

محمد بن قاسم: خومره چی زر کیدای شی، که ستا زخم د دې وړوی چې سفر وکولای شی نو سبا ته وخوځیږه.

د محمد بن قاسم د دی الفاظو نه وروسته نعیم ظاهراً هلته ناست ؤ خو خیالونو یی د سند له ډاګونو نه ډیر لری بوولی ؤ.

سهار وختی هغه بېرته د بصری په لور روان شو.

*****

(۵)

په سند کې د مسلمانانو د فتحو نه د خبریدو په خاطر له سند نه تر بصری پوری حجاج بن یوسف پراو په پراو په هرو لسو میلو کی یوه پهره درولی وه په دی پهرو کی ډیر ګړندی آسونه تیار وو چی احوال پری واستولی شی.

نعیم چی سهار له سند نه بصری ته روان شو په هره چوکی کی یی آسونه بدلول او د ورځو مزل یی په ساعتونو کی کاوه، د شپی یی په یوه پهره «چوکی» کی شپه شوه، د ستومانی په وجه زر خوب ورغی نیمه شپه د سند له لوری یو بل سپور راغی چی نعیم او د پهری نور سپاهیان یی له خوبه پاڅول، سپور له جامونه مسلمان ښکاریده او چی کله له آس نه پلی شو ویی ویل:

زه بصری ته یو ډیر ضروری خبر رسوم، ماته بل آس تیار کړی، نعیم ته دسند هره پیښه په زړه پوری وه جګ شو د مشال په رڼا کی یی د نوی راغلی څیری ته وکتل، هغه یو غنم رنګی د قوی متو زلمی ؤ.

نعیم : ته د محمد بن قاسم کوم پیغام وړی؟

: هوکی

: څه پيغام دی؟
:ماته د دی اجازه نشته چی چاته يی ووايم.
:ما پيژنی؟
:هو کی ته زموږ د پوځ يو افسر يی، خو وبخښی که څه هم تاته په ويلو کې څه تاوان نشته خو ماته د ستر سالار حکم دا دی چې له حجاج بن يوسف پرته دا پيغام بل چاته ونه وايم.
نعيم : زه ستا د دی ذمه واری د احساس قدر دانی کوم.
په دی څنډ کی بل آس تيار شو او نوی راغلی پری سپور شو د سترګو په رپ کی په تيارو کی ورك شو.
څو ورځی وروسته نعيم په يوه سمسوره او ښکلی دره کی تيريده هغه په لاره کی يو ځل بيا همغه سپور وليد، هغه نعيم په غور وليد وبی پيژاند هغه چی نعيم ته ورنژدی شو آس يی ودراوه او وبی ويل:
ته ډير ګړندی راغلی، زما ګومان ؤ چی ته به ډير وروسته پاتی وی.
نعيم : هو ما په لاره کی زياته دمه نه ده کړی.
ځوان : ته هم بصری ته ځی؟
نعيم ځواب ورکړ: هوا که ته په هغه ورځ لږ نور تم شوی وای دا څو ورځی به مو ګډ مزل کړی وای.
ځوان : زما ګومان ؤ چی ته به په آرامه سفر کوی، اوس زه ستا ملګری يم، راځه .
نعيم : زما په ګومان ته په دی لارو ډير بلد يی.
ځوان : هو زه په دی سيمه کی ډير اوسيدلی يم.
نعيم : نو ته مخکی شه درځما
ځوان آس وراندی کړ او چارګام يی پريښود، نعيم هم په هغه پسی آس پريښود.
لږ څنډ وروسته نعيم وويل موږ بلی پهری ته ولی ونه رسيدو، موږ خو به لاره غلطه کړی نه وی؟
د نعيم ملګری آس ودراوه او پريشانه يی يوه او بله خوا وکتل، بالاخره يی وويل: زما هم همدا شك دی خو ته انديښنه مه کوه موږ چی له دی دری

نه ووزو سمه لاره به پيدا کړو، دايي وويل او بيا يې آس ته پونده ورکړه، له خو ميله نور مزله وروسته ناپيژندلی ځوان بيا آس ودراوه او ويې ويل: لکه چې موږ له سمې لارې نه ډير کاږه راغلي يو، زما په گومان دغه لاره شيراز ته درومي، اوس موږ بايد کيڼ لوري ته وگرځو، خو اسونه ډير ستومانه شوي دي ، دلته که لږ دمه وکړو نو غوره به وي، د سمسوري درې په ښکلو منظرو کې دا اغيزه پر ته وه چې نعيم هم د خپل ملگري د دمې د خبرې په اوريدو آرام ته زړه وشو، دواړه له آسونو نه پلي شول، آسونه ته يې په يوه چينه اوبه ورکړې، په ونو پورې يې وتړل او دواړه په شنو وښو کښيناستل.

ناپيژندوي ځوان خپله غوټه خلاصه کړه او ويې ويل: ته به خامخا وږې شوی يې، ما په تيره پهره کې ډوډۍ وخوړه، دا لږ خواړه لکه چې ستا برخه او نصيب پاتې شول.

د ځوان په شله کې نعيم خو نمرې ډوډۍ او د پنير توټې وخوړې او په چينه يې اوبه وڅښلې غوښتل چې په آس سپور شي خو کمزورې او بې هوښي يې احساس کړه بيرته په وښو کښيناست ويې ويل: زما سر وگرځيد.

ناپيژندوي ځوان ورته وويل: ته ډير ستومانه شوی يې لږ ويده شه.

نعيم : نه ناوخته کيږي، موږ بايد روان شو، نعيم دا وويل او پاڅيد، خو تپريدلی څو گامه يې واخيستل بيا په وښو کښيناست ناپيژندوي ځوان ورته وکتل او يوه هيبتناکه خندايي وکړه، د نعيم په زړه کې ورتيره شوه چې ده په ډوډۍ کې څه نشه يې شي خوړلې دي، بيايې زر احساس کړه چې په يوه لوي مصيبت کې راگير شوی دي، هغه يو ځل بيا جگيدل غوښتل خو لاس او پښو يې ځواب ورکړی ؤ، په دماغ يې درونډ خوب غلبه کوله هغه د نيمې بې خودۍ په حالت کې احساس کړه چې څو تنه يې د لاسونو او پښو په تړلو لگيا دي، غوښتل يې د هغوی له اوسپنيزو پنجو نه خپل لاس او پښې خلاص کړي خو هڅه يې بې گټې وه، هغه نور بې سده ؤ خو دومره پوهيده چې څو تنو په اوږو واخيست او په کوم لوري يې وړو.

سباته چې نعيم په هوښ راغی ځان يې په يوه تياره او وړوکې کوټه کې بندي وليد، هماغه ناپيژندوي ځوان چې دې يې تر دې ځايه راورساوه د ده سرته ولاړ و او موسکل يې، نعيم يوې او بلې خواته له سترگو اړولو وروسته

له هغه نه وپوښتل: زه دی دلته د څه لپاره راوستی یم او زه اوس له چا سره بندی یم ؟

د وخت په راتلو به تاته د تولو پوښتنو ځواب معلوم شی، ناپیژندوی ځوان دا وویل او بهر ته ووځ او د کوټی دروازه ورپسی بنده شوه.

*****

(٦)

د نعیم د بندی توب دری میاشتی تیری شوی، د هغه په زړه راخوړو مایوسیو د بندیخانی هیبتناکی تیاری نوري هم توري کړي، ده ته په دې ماحول کي یوازې دغه یوه تسلي وه چې خدای یی د صبر اوزغم آزموینت اخلی، هر سهار او مابنام به یو سړی راغی ده ته به یی تر یوه وړوکی سوري دوډی او اوبه ورکړی او بیرته به ولاړ، نعیم په وار وار تری وپوښتل چی زه چا بندی کړی یم او د څه لپاره ؟ خو د دی پوښتنو هیڅ ځواب نه ؤ، دری میاشتی وروسته یو سهار نعیم د پروردګار په دربار کی سرپه سجده کیښود او دعایی غوښته چی د زندان دروازه خلاصه شوه او هماغه ځوان له څو نورو کسانو سره ورغلل نعیم ته یی وویل: راځه له موږ سره روان شه.

نعیم : چیرته ؟

هغه ځواب ورکړ:

یو څوك غواری تا ووینی.

نعیم د لوځو تورو په سیوری کی له هغوی سره روان شو، د کلا په یوه ښکلی کوټه کی په یوه ایرانی قالینه د څو ځوانانو په منځ کی یو د پوخ عمر خاوند ناست ؤ نعیم چی هغه ولید وبی پیژاند.

هغه ابن صادق ؤ.

# زندان

د ابن صادق تیر ژوند د ناکامیو یو اوږد داستان ؤ، هغه د بیت المقدس په یوې شتمنې یهودي کورنۍ کې زیږېدلی ؤ، د ښه ذکاوت په وجه یې په شپاړس کلنۍ په عربي، فارسي، یوناني او لاتیني ژبو کې غیر معمولي مهارت حاصل کړ، په اتلس کلنۍ یې له یوې عیسوي پیغلې مریم سره مینه شوه، د هغې د پلار او مور د رضا تر لاسه کولو لپاره یې عیسوي دین ومانه، خو مریم تر یوې مودې د ابن صادق د زړه ساتلو نه وروسته د هغه د کاکا په زوی الیاس مینه شوه او له ابن صادق سره یې کرکه پیدا شوه، ابن صادق له ډېر زیار وروسته د مریمې مور او پلار له ده سره د لور په واده راضي کړل، خو دا له خپل نوي مین سره وتښتېده او دمشق ته ولاړل دواړو واده وکړ، د مریم له مینې او اخلاقو نه الیاس ډېر اغیزمن شو او هغه هم عیسوي مذهب قبول کړ.

الیاس ډېر ښه معمار «ختګر» ؤ د هغه په دمشق کې ښه ګوزاره جوړه شوه، همالته یې کور جوړ کړ او هستوګنه یې غوره کړه ، یو کال وروسته د الیاس په کور کې ماشومه وزیږېده چې زلیخا یې نوم ورباندې کېښود.

ابن صادق له ډېرې پلټنې وروسته دوی ومونډل، دمشق ته ولاړ هلته یې خپله محبوبه او د کاکا زوی ولیدل چې آرام ژوند کوي، په زړه کې یې د کسات اور په لمبو شو، څو ورځې د دمشق په کوڅو کې سرګردانه ګرځېده، بالاخره یې اسلام قبول کړ د خلافت دربار ته ورغی پر مریم یې دعوه وکړه چې له الیاس نه باید جلا او ده ته وسپارل شي، هلته یې دا پریکړه واورېده چې یهودان او عیسویان زموږ په پناه کې دي، مریم په خپله خوښه واده کړې دی ځکه خو پر هغه ظلم نشو کولی او په زور میړه او ښځه نشي جدا

کیدای وروسته بیا دا نصیب ځېلی نه یهودی ؤ، نه عیسوی او نه مسلمان له ځلورو لوریو مایوسی د ده په زړه کی د انتقام اور سوړ نه کړ، د دمشق د کوڅو له گز او پل وروسته کوفی ته ولاړ، حجاج بن یوسف ته ورغی او خپل داستان یی ورته تیر کړ او د مرستی غوښتنه یی وکړه، حجاج په چوپه خوله د ده کیسه واوریده ابن صادق د ده له چوپتیا نه گټه پورته کړه او د ده په صفت او د خلافت پر خلاف یی څو جملی وویلی.

هغه وویل: که زما له زړه نه پوښتې نو زه خو وایم چی د ذاتی استعداد او وړتیا په سبب ته د خلافت د منصب ډیر حقدار یی، لا د هغه خبرې نه وې خلاصې شوې چې حجاج بن یوسف یوه سپاهی ته غږ وکړ او ورته ویی ویل چی دی په ډیکو ډیکو له ښاره وباسی، ابن صادق ته یی وکتل او ورته ویی ویل: ستا سزا وژل دی خو زه ځکه ترې تیر یم چې ته زما کورته د میلمه په نامه راغلی وی.

ابن صادق ماښام له ښار نه ووت او شپه یی د یوه راهب په ځېره کی تیره کړه، سهار ته بیرته بیت المقدس ته د ډیرو خطرناکو ارادو سره روان شو.

ابن صادق په یروشیلیم کی هم ډیر پاتی نه شو، څو کاله یی په زړه کی یوازی د کاکا د زوی او محبوبی څه چی د ټول بشر پر خلاف د انتقام اور په سینه کی ؤ، بالاخره یی د اشرارو یوه خطرناکه ډله له ځان سره ملگری کړه او د یوې بدې دسیسې او سازش لپاره یې په ټول خلافت کې خواره کړل، دی د دی ډلی روحانی پیشوا شو، یوه ورځ یی د خپل کاکا له زوی نه د کسات اخستلو موکه پیدا کړه او د هغه یوازینی لور زلیخا یې ترې وتښتوله، د زلیخا عمر اوس اته کاله ؤ ابن صادق هغه ایران ته بوتله او د خپلی ډلې یوه تن «اسحق» ته یی وسپارله او بیرته په خپلو تخریبی کارونو بوخت شو.

دوی میاشتی وروسته د ده د ډلې پنځو غړو الیاس او مریمه ووژل ، هغه د دغه ظالمانه وژنی وروسته هم صبر نه شو او پاتی ژوندیی د ټولی نړۍ پر خلاف د خطرناکو دسیسو دوام ته اراده وکړه، په اسلامی نړۍ کی یی د قیادت تر لاسه کولو لپاره د حکومت پر خلاف کار پیل کړ، څو بهرنیان او د اسلام دښمنان پری ورټول شول، خو د دوی ستره ستونزه مالی مشکلات

وو، د هغه په ذهن کې یو تدبیر راغی او ډېر ګړندی یې ځان د روم قیصر ته ورساوه.

قیصر که څه هم په ختیځ کې خپل له لاسه وتې قدرت بېرته تر لاسه کول غوښتل خو لا یې د خپلو نیکونو د ماتو او شکستونو یادونه په ذهن کې پاتې وو، هغه له ابن صادق سره د برالا لاس یو کولو جرئت ونه کړ خو د مسلمانانو د دې دښمن مرسته یې ضروري وبلله هغه ابن صادق ته وویل: موږ به تر ممکنه حده ستا مرسته او ملاتړ کوو، خو تر څو مسلمانان سره متحدوي پر هغوی یرغل کول د مصلحت خلاف دي، ته بېرته ستون شه خپل فعالیت ته دوام ورکړه موږ به ستا خدمتونه یاد وساتو.

ابن صادق له هغه ځایه د طلا او نقرې له زیاتو سوغاتونو سره بیرته راستون شو د کوفې او بصرې په منځ کې یې یو پټ ځای خپل مرکز وټاکه او خپلو تخریبي فعالیتونو ته یې دوام ورکړ، د څو کاله سختو هڅو وروسته یې زر تنه ډله جوړه کړه، په دې ډله کې زیات داسې کسان وو چې په طلا او نقره یې خپل ضمیر پلورلی و، هغه به د روم قیصر له خپلو فعالیتونو نه خبر ساته، او د ضرورت وړ مرسته به یې تر لاسه کوله، کله یې چې دا محسوسه کړه چې ډله یې یو څه ځواکمنه شویده او د کوفې او بصرې زیاتره خلك له حجاج بن یوسف نه کرکه کوي نو د خپل رقیب د راپرځولو لپاره چمتو شو، یوه ورځ د ده جاسوسانو خبر ورکړ چې نن حجاج له کوفې نه تللی دی او ابن عامر د پوځ راټولولو لپاره وینا کوي ده ته دا هم څرګنده شوه چې د کوفې زیات خلك په پوځ کې له شاملیدو نه ډډه کوي، ابن صادق له همدې موکې نه ګټه اوچتول غوښتل او د لومړي ځل لپاره له خپل پناه ځای نه راووت او د بصرې خلکو ته یې په عامي غونډې کې د وینا جرئت وکړ، هغه داده ؤ چې د بصرې نا آرام خلك به په خپله جادو یې وینا راوپاروي، خو د ده دا ګومان غلط ثابت شو، نعیم ناڅاپه راپیدا شو او د ده جوړه کړې لوبه یې بیرته ویجاړه کړه.

ابن صادق له بصرې نه لکۍ ګټه کړه او وتښتید، رمله ته ولاړ او د خلیفه له ورور سلیمان سره یې پناه واخستله، د زر تنو هغه بوازې څو تنو د هغه ملګرتیا وکړه.

څرنگه چی حجاج بن یوسف د ولی عهد له منصب نه د سلیمان په لرې کولو کې له خلیفه سره همنظره ؤ ځکه خو سلیمان حجاج بن یوسف او د هغه ملگری خپل ډیر بد دښمنان او د حجاج دښمنان یې خپل دوستان بلل.
حجاج بن یوسف د ابن صادق په فتنو پوه شو په هغه پسې یې څو تنه سپاهیان واستول، کله چی هغه خبر شو چی سلیمان په رمله کی ابن صادق ته پناه ورکړی ده، نو خلیفه ته یې ټول احوال ورکړ، د خلافت له درباره سلیمان ته فرمان جاری شو چی ابن صادق او ملگری یې زنځیر او زولانه حجاج بن یوسف ته واستوی.
سلیمان ابن صادق ته د دوستی لاس ورکړی ؤ او د هغه د ژوند هیله یې درلوده، ابن صادق یې اصفهان لوری ته وتښتاوه، او د خلافت دربار ته یې ولیکل چی ابن صادق وتښتید، څو ورځی په اصفهان کی ابن صادق سرگردانه و چی بیایی شیراز ته مخه کړه له شیراز نه پنځوس میله لری په جنوب ختیځ غرونو کی یوه تشه کلا وه، ابن صادق چی دی کلا ته ورسید آرامه ساه یې واخسته او د خپلو مصیبتونو پړه یې د نعیم پر غاړه ورواچوله هغه ته یې د عبرتناکی سزا خطرناك تصمیم ونیو.

* * * * *

(۲)

نعیم د ابن صادق په مخکی چوپ ولاړ ؤ، سپاهی ناڅاپه هغه تیل واهه او پر مخی ولوید، ویی ویل: احمقه! دا د بصری جومات نه دی، اوس ته زموږ د امیر په دربار کی ولاړ یې، دلته د گستاخانو سرغوڅیږی.
ابن صادق په دی حرکت په غوسه شو ویی ویل: ته ډیر احمق یې، غیرتیان غیرتمنو ته داسی نه وراندی کیږی.
دایی وویل ابن صادق پاڅید نعیم یې تر مټ ونیو او ویی دراوه په ځمکه له لویدو سره د نعیم له پزی نه وینی روانی وی، ابن صادق په خپل رومال د هغه وینی پاکی کړی، هغه ته یې له حقارت نه په ډکه موسکا وکتل ویی ویل: ما اوریدلی دی چی ته د خپل کوربه نوم ډیر په ناکراری پوښتی، افسوس دی تا ډیر انتظار وکړ، زما هم دا آرزو وه چی زر ستا په خدمت کی حاضر شم او ستا زیارت وکړم خو موکه می نه مونده.

نن چې ستا په لیدو څومره خوښ یم دا یوازې زه پرې پوهیږم، زما باور دی چې ته به هم د خپل پخواني دوست په لیدو خوښ شوی وې، ووايه طبعه دې څنګه ده؟ ستا رنګ ډېر ژېړ دی، زما په ګومان به په هغه تنګۍ او وړه پنجره کې ستا مجاهدانه طبیعت ډېر نا آرام او په تنګ شوی ؤ، خو ته ښايي پر دې نه وې خبر چې په دې کلا کې بله لویه کوټه نه شته څکه خو زما سرې مجبور وو چې تا په هماغه کوټه کې وساتي، نن ما د لږ وخت لپاره د دې لپاره راوغوښتي چې د تیارۍ او رڼا د توپیر له حس نه بې برخې نه شې.

مګر ته ماته ولې داسې ګورې لکه کوم پردي ته چې ګورې! تا ونه پیژندم! ستا سره زه په بصره کې معرفي شوی وم، که څه هم زموږ لومړی ملاقات په ډېرو ناوړه حالاتو کې ؤ، خو بیا هم د دواړو اړیکې داسې وې چې یو بل هیرولی نه شو، ماته په ډېره ګرانۍ او مشکل ستا د هغې وینا د ستاېلو موکه په لاس راغلې، او ماته ستا غوندې غیرتي مجاهد د عبدالله بن ابی د میراث خواره په مخکې داسې دریدل ډېر د رحم وړ ښکاري، ووايه له تاسره څه ور سلوك وکړم؟ د ابن صادق هره کلمه ، هره جمله او توری د نشتر او غشي په څیر د نعیم په زړه ښخیدل، هغه شونډې وچیچلې ویې ویل:

ماته د خپل بندي توب پروا نشته، خو په دې خفه یم چې زه ستا غوندې بې زړه او نا مرد سړي بندي یم، اوس چې ستا څه زړه غوړي همغه وکړه، خو دا باید واورې چې زما ژوند او وژل دواړه تاته خطرناك دي، اوس زما په لاس او پښو کې زنځیرونه پراته دي خو زندان مجاهد بې غیرته کولی نشي.

ابن صادق د نعیم د خبرو پروا ونه کړه ویې ویل: ته پر زړورتوب سربیره احمق هم یې، ته نه پوهیږې چې سر دې اوس د یوه ښامار په خوله کې دی، ستا پریښودل او ختې ته تیرول د ده په خوښه پورې تړلي ، زما له زندان نه د خلاصون خیال له ذهن نه لرې کړه، په دې کلا کې دوه سوه تنه سپاهیان توره ایستلي هر وخت ستا د څارنې لپاره چمتو دي دا یې وویل او ابن صادق لاسونه وپړکول او د کلا له مختلفو لوریو څخه زیات شمیر توره کښلي سپاهیان راووتل، نعیم ته دوې هر یو د ابن صادق په څیر بې رحمه

او ظالم ښکاره شول.

نعیم وویل: ته پوهیږې چې زه بې زړه نه یم، له تانه د رحم هیله نه کوم، که ستا مقصد زما وژل وي نو زه چمتو یم، ابن صادق وویل: ته فکر کوې چې د دنیا تر ټولو ستره سزا مرګ دی، خو زه تاته دا ثابتوم چې په دنیا کې ډیرې سزاګانې تر مرګ سختې او بدې دي، زه تاته داسې سزا درکوم چې ته یې له زغم نه عاجز یې، زه ستا ژوند دومره تریخ کولی شم چې هره شیبه له مرګه درته ګرانه او سخته شي، خو زه ستا دښمن نه یم، زه غواړم چې ته ژوندی پاتې شې، زه تاته د یوه داسې ژوندانه لاره درښیم چې ستا د آخرت له تصور نه هم زیات ښکلی او ښایسته وي، ته د جګړو مصیبتونه او ستونزې ځکه زغمې چې د ژوند له رنګینو او خوښیو نه ناخبره یې، ته بې ریا ځکه یې چې د ځان ښودنې له مزو او لذت نه خبر نه یې، دا څو کلن ژوند خدای(ج) تاته د ژوند له خوښیو او نعمتونو نه د ګټې لپاره درکړی دی ته د دې قدر او ارځښت نه پیژنې، ته زړور یې خو ستا زړورتیا تاته له دې پرته څه درکړي چې د داسې هدفونو لپاره خپل ځان قربان کړې چې تاته یې هیڅ ګټه نه رسیږي، ته ګومان کوې چې د خدای (ج) په لار کې سرښندې! خو خدای(ج) ستا قربانۍ ته هیڅ اړ نه دی، ستا له قربانۍ نه یوازې خلیفه او حجاج ته ګټه رسیږي چې په کور ناست دي او د فاتحینو شهرت یې خپریږي، ته خپل ځان غولوې، ستا ځواني او ستا ښه او شکل داسې دی چې باید په خاورو کې ونه لوبیږي، او د دې لپاره نه یې پیدا شوی، ته یو شهزاده ښکارې، تاته د یوه وینې څښو نکې لیوه په شان ژوند نه ښایي، ته باید د یوه شهزاده په څیر ژوند ولرې، ته د یوې ښکلې شهزادګۍ د سترګو تور او د زړه کرار کیدای شې، ته له خپل ژوند نه یو رنګین خوب جوړولی شې، که ته وغواړې نو د هسکې تیتې ځمکې، ډېرینو غونډیو او کمرونو پر سر د ویده کیدو پر ځای ځانته د ګلانو نه ډکه بخملي بستره جوړولی شې، د دنیا ډیر زیات عیش او آرام په دولت اخستل کیدای شي، ته که وغواړې د دنیا لویې خزانې راټولولی شې، د نړۍ تر ټولو ښکلې ځوانې د خپل بستر زینت ګرځولی شې، خو ته تر اوسه نادان یې، تا تر اوسه د چا د زلفو په ورېمو کې ژوند نه دی کړی، ته په خپله ساده‌ګۍ

ځکه خوښ یې چې د دنیا شان او دبدبه دې نه ده لیدلې.
ځوانه! زه ستا لپاره ډېر څه کولی شم، کاشکې ته له ماسره د کار شریك شې، موږ به د بني امیه حکومت ختم کړو او یو نوی نظام به جوړ کړو، زما باور دی چې د خلیفه اوحجاج سرونه به ډېر زر غوېل کړو، ښایې ته به دا ګومان کوې چې زه هماغه ابن صادق یم چې په بصره‌کې راسره مخ شوی وې؟ خو زه دا په یقین درته وایم چې زه دومره حقیر نه یم چې څومره تا په ما ګومان کړی دی، تاته همدومره پوهیدل بس دی چې زما تر شا د روم د قیصر غوندې ځوك ولاړ دی، زه په عرب او عجم کې د یوه زبردست انقلاب راوستلو د فرصت په انتظار یم، له ډېرې مودې راسې ستا په څېر د اور ژبی خطیب په لټه کې وم، تاته د عمل داسې میدان جوړوم چې ته پکې د خپل خدای درکړی کمال جوهر وځلوې، ستا په څېر ځوان د معمولي سپاهی په ځای باید د خلافت دعوه دار وی.

ابن صادق چې نعیم چوپ ولید فکر یې کاوه چې د فریب په دام کې یې راګیر شو، هغه لهجه نوره‌هم نرمه کړه ویې ویل:
که ته له ماسره د وفادارۍ تعهد وکړې زه همدا اوس ستا د زنځیرونو خلاصولو امر کوم، ووایه ستا څه اراده ده، ستا د ژوند تیرولو دوی لارې دی ووایه ته د ژوند له نعمتونو نه سرشار کیدل غواړې که په هماغه تنګه پنجره کې د ژوند پاتې شپې ورځې تیرول خوښوې؟
نعیم غاړه نیغه کړه، د هغه په سترګو کې د غیر معمولي درد علامې وې، په احساساتي لهجه یې ځواب ورکړ: ستا خبرې ماته د یوه تپی سپي له غپیدو نه زیات ارځښت نه لري، ته نه پوهیږې چې زه د هغه چا غلام یم چې د ځمکې له ذرونه د آسمان تر ستوریو پورې د هر څه مالك ؤ خو په خیته یې درې درې ورځې له لوږې نه ډبرې تړلې، ته ماته دمال او دولت تمه راکوې، زه د دنیا ټولې خزانې تر خپلو پښو لاندې خاورو سره یو شی بولم، ته وایې چې ژوند د عیش او راحت نوم دی، خو هغه راحت او لذت چې د تورو په سیورې کې د آزادۍ په فضا کې د ساه اخستونکو په نصیب وی، ستا غوندې ذلیلو انسانانو له تصور نه اوچت دی، ته ما د خدای(ج) له لارې نه اړوې او غواړې چې د خپلو شومو اغراضو لپاره مې استعمال کړې

خو د خلیفه د ذاتی اهدافو لپاره د وینو د لښتیو بهول هم لازم گنی ته چی د کوم قیصر په زور نازیږی، د هغه پلرونو او نیکونو څو ځلې زموږ توري آزمویلي دي، بیشکه اوس زه ستا په قبضه کی یم، خو د بندی توب یا مرگ ویره ما بی حسه او بی ضمیره کولای نشی، ته له مانه د داسی کار تمه مه کوه چی د یوه غازی له شان سره نه لگیږی.

ابن صادق نا امیده شو ویې ویل: ته به په څو ورځو کی داسی کارونو ته چمتو شی چی شیطان به یی په لیدو وشرمیږی.

دایی وویل او خپلو ملگرو ته یی وکتل، یوه تن ته یی غږ وکړ: اسحاقه! د غږ په اوریدو یو د ځواکمنو متهو خاوند راوړاندې شو، دا هماغه ځوان ؤ چی نعیم یی په فریب نیولی ؤ، نعیم ته د لومړی ځل لپاره د هغه نوم معلوم شو.

ابن صادق وویل: اسحاقه د ده ماغزه پر ځای کړه.

د ابن صادق په امر یی نعیم په برنده کی په یوه ستنه وتاړه، هغه وروړاندی شو کمیس یی خیری کړ د هغه سینه او متی یی لوڅی کړی اسحق ته یی اشاره وکړه، اسحق د یوه وینی خوورنکی لیوه په څیر ورغی او پر نعیم یی د متروکو گوزارونه پیل کړل، نعیم اف ونه کړل او د کمر په څیریی په پټه خوله د متروکو گوزارونه زغمل، هغه یوه نجلی ولیده چی له وړاندې یوې کوټې نه راووتله او ورو ورو راغله د ابن صادق په څنگ کی ودریده، په سترگو کې یې ویره او پریشانی له ورایه ښکاریده، هغې بالاخره دغه ظالمانه لوبه ونه زغملای شوه په سترگو کې یې اوښکې ډنډ شوې او په هیله منه لهجه یی ابن صادق ته وویل: کاکا هغه بی سده کیږی.

پریږده! هغه ځان د خدای(ج) توره گنی زه به د ده تیغ پخوم او پریږدم یی.

نجلی بیا په هیله من غږ وویل: کاکا!

ابن صادق په غوسه شو ځواب یی ورکړ: ته چوپه شه زلیخا!

دلته څه کوی درومه!

زلیخا سرښکته واچاوه او بیرته ستنه شوه، هغې دوه ځله مخ راوگرځاوه او نعیم ته یی وکتل، په کتو کې یې خپله بې وسې او مجبوری ښکاره کړه،

او په یوه کوټه ننوته، کله چې نعیم د ډېرو وهلو نه بې سدهٔ شو ورمېږ یې خوږند شو بیرته یې هماغه کوټې ته یوړ او ویې غورځاوه.
نعیم نې څو ځلې همدغسې له کوټې نه راوایست او په متروکو یې وواهه. کله چې په دې سزا څه ونه شول ابن صادق امر وکړ چې څو ورځې یې وږی وساتی، د ډول ډول سزاګانو له امله د نعیم زغم د اټکل نه زیات شو، هغه به د لوږې په حالت کې د شپې د ویده کیدو هڅه کوله، یوه شپه چاډکوټې د دیوال له سورې نه ورته غږ کړ او بیایې منې او انګور ور واچول.
نعیم حیران شو جګ شو له سورې نه یې وکتل، څو ګامه وړاندې یې ځوك ولیدل چې د شپې په تیاره کې ورك شول، نعیم د هغه د جامو او رنګ نه اټکل وکړ چې کومه ښځه وه، خو ده ته د خپل محسن پیژندل محال وو، هغه څو ځلې د متروکو د خوړلو په وخت کې یوه نجلۍ لیدله چې د ده پردې حالت به ناکراره وه، د هغې په معصومه او ښکلې څېره د بې وسې او مظلومیت نخښې د نعیم په زړه نقش وې،خو هغه ځوك ده، په دې ویرونکې ځای کې څه کوی او دلته چا راوستې ده؟ نعیم په دې سوچونو کې یوه منه واخستله او په خوړلو یې پیل وکړ.

*****

(۳)

د نعیم سره د مرستې کوونکې نوم زلیخا ؤ، هغې د خپل عمر ۱٦ کاله د ډیرو ستونزو په منځ کې تیر کړی وو خو بیا هم دا د ښځینه ښکلا یوه غوره نمونه وه، زلیخا له هر انسان نه ډیره زیاته کرکه کوله، هغې له یوې مودې راهیسې له ابن صادق سره د ژوند ترخې شیبې تیرولې ، دې ته هغه د انسانیت د بد ترینو خلکو له ډلې نه یو ښکاریدو، دې ته هر انسان د ابن صادق په څیر فریب کار، چل باز او مکار ښکاریدو، کله چې نعیم دې کلاته لاس او پښې زنځیر راوستل شو نو دې ګومان کاوه چې یوه غرضی انسان بل غرضې انسان بندی کړی، خو کله چې دې نعیم د ابن صادق له ملګرې نه د انکار په حال کې ولید نو یخوانی ګومان یې بدل شو، دې ولیدل چې دغه ځوان د هغې دنیا هستوګن ته دې چې د دې د ژوند ترخې شیبې پکې تیرې شوې، دا د هغه ایمان او ارادې ته حیرانه وه، په پیل کې

یې هغه مظلوم او د رحم وړ باله، خو په څو ورځو کې یې هغه د پالنې اوښانځښې وروباله.

زلیخا د خپل پلار او مور له دردناك انجام نه خبره نه وه خو له دوی سره د یو ځای کیدو او ملاقات له دعا نه مایوسه شوی وه، دی ته اوس دنیا یو یې تعبیره خوب او راتلونکی یوازې یو وهم او خیال ؤ، د ابن صادق د ظلم او ستم پر خلاف د بغاوت توپان د دې په تپئ تپی زړه کې په وار وار له راپورته کیدو نه وروسته اوس نژدې ویده شوی ؤ، دا هغه لامبوزن ته ورته وه چې هدف یې ورك كړی او له ساحل نه لرې د څپو څپیړې پر مخ خوړی او بالاخره له ډوبیدونه بې پرواشی، په کښتۍ کې په پتو سترګو کښیني او د توپانی څپو له بهیر سره ملګری شی هغه ته کله د سترګو غړولو او پاروګانو وهلو خیال ورشی خو بیرته مایوسی خپل رنګ بدل کړی، دغسې منزل ورك كړی او له ساحل نه لرې لامبوزن یوازې له منزل او ساحل نه یوه غږ ته ضرورت لری، چې تقدیر زلیخا ته د دې کار لپاره نعیم تاکلی ؤ، له نعیم سره د زلیخا معمولی مینې بالاخره د دې په زړه کې ویده شوی توپان رابیدار کړ او د ابن صادق له منګولونه د خلاصیدو او له نعیم سره د ژوند د امیدونو هیلې یې په زړه کې په غورځنګ شوی .

زلیخا به هره شپه یو وخت راتله او د خوراك څښاك له یوې اندازې شیانو نه پرته به یې د نعیم په تیاره پنجره کې دامید ډیوه بله پریښوده او بیرته به ستنه شوه.

څلور ورځې وروسته یې نعیم بیا د ابن صادق په مخکې حاضر کړ، ابن صادق چې د هغه په وجود کې کوم بدلون ونه لید حیران شو او ویې ویل: ته ډیر سخت دمه او پیاوړی یې، ښایي ستا د خدای(ج) دا اراده وی چې ته ژوندی پاتی شې، خو ته پخپلو لاسو ځانته مرګ اخلې، زه اوس هم تاته د سوچ موکه درکوم زما باور دی چې ستا د اقبال ستوری ډیر لوړ دی، ته د یو لوی کار لپاره پیداشوی یې، زه ستا همغه مقام ته د رسولو ژمنه کوم چې په ټوله اسلامی نړۍ کې دې څوك سیال نه وی، زه تاته د دوستی لاس دراوږدوم او دا وروستی موقع ده، که دا ځل هم تا زما اخلاص رد کړ نو پښیمانه به شې نعیم وویل: ذلیل سپیه! ته ماته ولې په وار وار زحمت

راکوی؟

ابن صادق: د دې ذلیل سپی داړل به هیڅکله هم ښه نه وی او اوس هغه وخت رارسیدلی دی چی دغه ذلیل سپی ستا د داړلو لپاره خوله وازه کړی.

بی پروا انسانه! لږ سترګی وغړوه وګوره چی دنیا څومره ښکلی ده، وګوره هغه مخامخ د غرونو منظره څومره زړه وړونکی ده، ستا په زړه کی چی د څه شی د لیدو هوس وی نن یی ښه وګوره او په خپل زړه یی تصویر نقش کړه ځکه چی سبا ته به ستا سترګې له لږ ختلو نه وړاندی وکاړل شی، او ستا غوږونه به هم د اوریدو له نعمت نه محروم شی، نن چې څه لیدای شې ویی وینه او چې اوریدل یې غواړې وایې وره . دایې وویل او بیایې خپلو ملګروته اشاره وکړه، هغوی نعیم په ستنې پوری وتاړه.

ښه اوس ووایه له لیدونه د بې برخې کیدو وړاندې داسې څه شی شته چې ته یې لیدل غواړې؟

نعیم چوپ ؤ.

ابن صادق وویل: ته ښه پوهیږی چی زما پریکړه نه ماتیدونکی ده، تاته نن تهوله ورځ دلته د اوسیدو فرصت دی، له دې فرصت نه ګټه واخله چې څه دې مخی ته راغلل ښه یې وګوره، کومې نغمې دې چې په مغ کې وږغیدې په خوند یې واوره، دایې وویل او ابن صادق لاسونه وپړکول، څو تنو رباب او چنګ او نور د ساز او سرود سامانونه راوړل او د ابن صادق په اشاره یوې خواته کښیناستل، ورو ورو د نغمې غږ اوچت شو، بیا وروسته څو ښځې چې دول دول رنګینې جامې یې اغوستې وې له یوه ګوټ نه راووتې او د نعیم په مخکې یې نڅا پیل کړه، نعیم سر ښکته واچاوه او خپلې پښو ته یې کتل، د هغه د خیال مرغه له دې ځایه په سلګونو میله لری یوه وړوکی کلی ته والوت، له دې مجلس نه څو ساعته تیر شول، چې د څو ګرندیو آسونو د پښو ترپهار واوریدل شو د مجلس خلک ټول د هغوی په لور متوجه شول، ابن صادق جګ شو یوی او بلی خواته یې وکتل یو حبشی غلام راغی او ده ته یې وویل چی اسحق راورسید، ابن صادق نعیم ته په خطاب کی وویل: ځوانه! بنایی ته یو دیر په زړه پوری خبر واوری.

لږ ځنډ وروسته اسحق یو پتنوس په لاس کی راغی او ابن صادق ته یی د

احترام مراتب ادا کړل او پتنوس یې چې بو گردی شی په دسمال کی نغښتی یې په منځ کی ایښی وو په مخکی کیښود، ابن صادق له پتنوس نه دسمال لری کړ، نعیم ولیدل چې تر دسمال لاندی د کوم سړی سر ؤ.

ابن صادق وویل: ښایی د دی په لیدلو ته خوښ شی، بیایی حبشی غلام ته اشاره وکړه، هغه پتنوس واخست او نعیم ته نژدې یې په ځمکه کیښود، په پتنوس کې ایښی سر چې نعیم وپیژاند په زړه یې درد راغی، دا د ابن عامر سر ؤ، په مړاوو شونډو یې اوس هم موسکا خپره وه. نعیم خپلې اوښلنې سترگې پټې کړې، زلیخا هم د ابن صادق تر شا ولاړه وه او دغه دردناکه ننداره یې لیدله او د عزم او ارادی د مجسمې په سترگو کې یې چې اوښکې ولیدې دیره زیاته وارخطا او خفه شوه.

ابن صادق له خپل ځایه جگ شو، اسحق یې نژدی وروغوښت او په شاپی وټپاوه ویی ویل: اسحاقه! اوس یوازې یو شرط پاتی دی، زه د محمد بن قاسم سر د دی ځوان له سر سره په یوه ځای ښخول غواړم، که ته په دې کې هم بریالی شوی نو زلیخا به ستا غوندی زړور ځوان سره د شریك ژوند په پریکړه کې هیڅ عذر ونه لری.

دایې وویل او ابن صادق زلیخا ته مخ ورواړاوه د هغې له سترگو اوښکې بهیدلی او د خپلې کوټې په لوری په منډه ولاړه، ابن صادق نعیم ته ورنژدې شو د هغه تر څنگ ودرید او ویی ویل:

زه پوهیږم چې ستا له ابن قاسم سره مینه ده، که ته د ده د سر تر رارسیدو پوری ژوندی پاتی نه شوی نو زه ژمنه کوم چې سر به یې له تاسره ښخوم، دایی وویل او بیایې سپاهیانو ته اشاره وکړه، هغوی نعیم له ستنی نه خلاص کړ بیرته یې خپلې خونې ته ورساوه او هلته یې پریښود.

*****

(٤)

د شپې نعیم تر ډیره وخته په ناکراری په خپله تنگه کوټه کی قدم واهه د هغه وجود تر اوږدی مودی پوری د جسمی او روحی تکلیفونو په سبب لږ بې حسه شوی غوندی ؤ، خو هغه ته له سترگو او غوږونو نه د محرومیدلو تصور کومه معمولی خبره نه وه، هره شیبه یې ناکراری زیاتیدله، کله به یې

غوښتل چې دغه شپه دې د قیامت د شپې په څېر اوږده شي، او کله به یې له خولې نه دا دعا ووته چې خدایه همدا اوس یې سهار کړه چې د انتظار شیبې پای ته ورسیږي، په قدم وهلو ستومانه شو نو پریوت له لږ ځنډ لټ په لټ اوښتو وروسته غازي ویده شو، هغه په خوب کې لیدل چې سهار نژدې دی، هغه یې له کوټې نه را ایستلی او په یوه ونه پورې یې تړلی دی، ابن صادق په لاس کې خنجر ور روان وی، او د هغه سترگې باسي، د هغه په شاوخوا تیاره خپره شي، بیایې په غوږونو کې څه دوا ورځخوي او په غوږونو کې یې شنهار شي او بیا هیڅ نه اوري، دې د لیدو او اوریدو له نعمت نه محروم او د زندان په یوه او بل دیوال لگیږي خو له هغه ځایه د وتلو لاره نشي موندلی، یو ځل بیا سپاهیان راځي او هغه په کش کولو وباسي او چیرته لرې یې یوازې پریږدي ، هغه بیا داسې احساس کړي چې د غوږونو پردې یې بیرته خلاصې شي او د مرغانو نغمې او د شمال غږ اوري، عذرا هغه ته له لرې نعیمه ، نعیمه! چیغې وهي، هغه جگ شي او له کوم لورې چې غږ راځي هماغه لورې ته خوځیږي خو ځو گامه وروسته یې قدمونه لړزیږي او بیرته لویږي، د هغه سترگې ناڅاپه بیرته رڼا شي، او دې گوري چې عذرا یې په مخ کې ولاړه ده، هغه بیا راپورته شي او عذرا، عذرا ناري کړي خو کله چې ورنژدې شي گوري چې د عذرا پر ځای په کوټه کې هغې ته ورته یوه بله د ښکلا او جمال مجسمه ولاړه ده، د دیوال له کړکۍ نه د سپوږمۍ رڼا د هغه پر مخ لویدلې ده، لږ ځنډ یې په غور د هغې له لیدو وروسته وپیژندله چې زلیخا وه، خو هغه تر ځنډه پریشانه ولاړ ؤ او فکر یې کاوه چې خوب ویني، خو ورو ورو یې دغه وهم غلط ثابت شو، څو ځلې یې سترگې ورپولې او پر ځان یې لاس راکش کړ بالاخره وپوهیده چې دا خوب نه بلکې حقیقت دی.

نعیم تری وهوښتل: ته څوک یې؟ آیا دا خوب نه دی؟

زلیخا ځواب ورکړ: نه دا خوب نه دی ته ولې وغورځیدې؟

نعیم: کله؟

: همدا اوس ، زه راغلم تاته مې غږ وکړ، ته وویریدې جگ شوې او بیا بیرته وغورځیدې.

: اف، ما یو خوب لیده، ما داسی احساس کړه چی ړوند شوی یم، عذرا می وریښولی او زه چی هغې ته ورځم له څه شی سره مې پښه ونښتلی او راولویدم، خو ته دلته څه کوی؟

زلیخا وویل: ورو غږېږه که څه هم اوس دوی تول ویده دی خو که بیا هم ستا غږ کوم یو واوری جوړه لوبه به بیرته گډه وده شی، ما پهره دارانو ته خپله تولله گینه ورکړی ده او په ډیر تکلیف می د دی پنجری دروازه پری خلاصه کړی، هغوی موږ ته دوه آسونه له کلا نه بهر درولی او د کلا د دروازې خلاصولو وعده یی کړی ده، راځه زما سره ورو را روان شه.

: دوه اسونه د څه لپاره؟

: زه هم له تاسره ځم.

: له ماسره؟ نعیم په حیرانی وپوښتل!

: هوکی! له تاسره، زما امید دی چی ته به زما ساتنه وکړی، زما د مور او پلار کور په دمشق کی دی، ته به ما هلته ورسوی.

زلیخا وویل: د خبرو وخت نه دی، زه هم ستا په خیر یوه بد نصیبه یم، نعیم له لږ ځند وروسته وویل: سمدستی ستا تگ له ماسره مناسب نه دی. ته داوه اوسه ، زه به په څو ورځو کی تا د دی سړی له لاسه ژغورم.

:نه نه، دخدای په خاطر ما مه مایوسه کوه، زلیخا ژړه غونی شوه او زیاته یی کړه: زه له تاسره ځم، ستا له تللو وروسته که دی پوه شی چی ستا په پریښودلو کی زما لاس دی بی مرگه می نه پرېږدی او که پر دی پوه هم نه شی نو ستا له ویری به دا کلا پرېږدی او کوم بل لوری ته به وتښتی او ما به په یوه داسی کلا کی ایساره کړی چی تاته به یی موندل او رارسیدل له وس وتلی وی، تاته معلومه نه ده چی هغه له اسحق سره زما واده کوی او له هغه سره یی ژمنه کړی چی که د محمد بن قاسم سر راوړی نو ما به هغه ته ورسپاری، د خدای لپاره ما د دی ظالم لیوه نه وژغوره دایی وویل د نعیم لمن یی ونیوله او په سلگو شوه.

نعیم پوښتنه تری وکړه: په آس سپریدلی شی؟

زلیخا خپله کته هوه ویل ویل: زه د دی ظالم سره نژدی پر نیمه نړۍ پر آس راگرځیدلی یم، نور وخت مه تیروه، ما ستا وسله هم له کلاته بهر ته

استولی ده بیره کوه!

نعیم د زلیخا لاس په لاس کی ونیو او د دروازی په لوری وروراندی شو هغه بهر د چا د پښو غږ واورید، ودرید ویی ویل: څوك دی خواته را روان دی،

زلیخا وویل: د دی زندان پهره داران ما بهر ته استولی دی، دا بل څوك دی اوس به څه چل کیږی؟

نعیم د دی په خوله لاس کیښود او دیوال ته یی ډیکه ورکړه او پخپله یې له دروازې نه بهر ته وکتل، د پښو د غږ په رانژدې کیدو یې د زړه درزا هم په زیاتیدو شوه، یو پهره دار له دیوال سره جوخت د زندان تر دروازې پوری ورغی او بیا ځای پر ځای حیران میخ شو، نعیم په یوه توپ د هغه ورمیږ په خپلو مضبوطو لاسو کی راقابو کړ، نعیم هغه ته څو جټکی ورکړی او بی خوده یی وغورځاوه، زلیخا یی تر لاس ونیوله او بهر ته راووتل دروازه یی وتړله.

د کلا په دروازه کی یوه سپاهی چی دوی ولیدل نو دروازه یی خلاصه کړه، بل سپاهی بهر دوه اسونه او د نعیم وسله نیولی ولاړ ؤ، نعیم خپله وسله واخیستله زلیخا یی پر یوه آس سپره کړه او پخپله په بل آس سپور شو، خو څو گامه چی ولاړل ده بیرته اس راوگرځاوه او پهره دار ته چی تر اوسه لا پر خپل ځای ولاړ ؤ راغی تری ویی پوښتل: ته پوره ډاډه یی چی زموږ په تگ به تاسو ته څه تکلیف نه رسیږی؟

پهره دار ځواب ورکړ: تاسو زموږ غم مه کوی، بیایی یوی ونی خواته اشاره وکړه ویی ویل: تر سپیده داغه پوری به موږ هم له دی ځایه په گیلو مترونو لیری وو، د دی لیوه نه ډیر په تنگ راغلی یو، نعیم ولیدل چی په یوه ونه دوه آسونه نور هم تړل شوی دی.

نعیم ته په هغو غونډیو کی لاره معلومه نه وه خو د ستورو په سمت یی د لاری اټکل کاوه او له زلیخا سره یی سفر ته دوام ورکړ، تر بنه ځنده په گنو ونو کی له مزله وروسته پراخ میدان ته ووتل هغه له څو میاشتو وروسته په خلاصه هوا کی له ستورو ډك اسمان لیده، په چوپه چوپتیا کی کله کله د شغالانو آوازونه اوریدل کیدل، د ونو له منځه د سپوږمی زړه وړونکی

ورانګي، يخه او له وړمو ډکه هوا ، او د نن شپې هر څه نعيم ته ډېر ښايسته او په زړه پورې وو، لږ وروسته د سهار ورانګو د شپې توره پرده څيرې کړه، او د رڼا او تيارو په ګډه فضا کې د نعيم په مخ کې يوه لوري ته غرونه او بل لور ته يوه پراخه دښته راښکاره شول هغه زليخا ته وکتل د هغې څيرې دغه منظره نوره هم ښکلې کړې وه، هغه نعيم ته د طبيعت د منظرې يوه برخه ښکاريده، زليخا خپل ملګري ته وکتل له حيانه يې سر ښکته واچاوه، نعيم له دې نه پوښتنه وکړه: د ابن صادق په لاس څه ور پريوته؟

په ځواب کې زليخا سر تر پايه خپل دردناک داستان واوراوه، د خپلې کيسې په دوران کې يې څو ځلې ډير په زوره وژړل، نعيم په وار وار تسلې ورکړه او اوښکې يې پرې پاکې کړې.

کله چې رڼا نوره هم زياته شوه نو آسونه يې ګړندي کړل، نعيم چې وليدل چې زليخا ښه پوره آس زغلولی شي، نو يې آس چار ګام پريښود، نژدې دوه ميله چې ولاړل ناڅاپه يې څه په خيال کې وروګرځيدل او آس يې ودراوه، زليخا هم د ده په تقليد خپل اس ودراوه، نعيم له زليخا نه وپوښتل: ستا باور دی چې اسحق د محمد بن قاسم دوژلو په نيت روان شويدی؟

زليخا ځواب ورکړ: هوا هغه نن مابنام وخوځيده.

: نو هغه به تراوسه ډير لرې نه وي تللی، نعيم دا وويل او د آس چلب يې کيڼ لوري ته راکش کړ او پونده يې کړ ، زليخا هم بيله دې چې څه ووايي آس ورپسې خوشې کړ.

د لمر ختلو نه لږ وړاندې نعيم يوې چوکۍ ته ورسيد، په دې چوکۍ کې د غلچکې حملو د مخنيوي په خاطر ډيرش کسان وو، نعيم چې له آس نه پلې شو يو بوډا پهره دار چيغې کړې نعيم، نعيم! او له نعيم سره غاړه غړې شو، دغه سپاهي د نعيم دوی له کلي نه لږ لرې د يوه بل کلي اوسيدونکی ؤ، هغه د خوښۍ له جوشه د نعيم تندې ښکل کړ او وې ويل: الحمدلله ته خو روغ يې، ته دا دومره موده چيرته وې؟ مور د دنيا په ګوټ ګوټ کې ولټولې، ورور دې هم ستا په لټون پسې سند ته تللی ؤ، ستا دوست محمد

بن قاسم ستا د درك لګولو انعام پنځه زره اشرفی ټاکلی دی، موږ ټول مایوس شوی وو ته چیرته وی؟

نعیم ځواب ورکړ: دې پوښتنو ته د ځواب ورکولو لپاره فرصت په کار دی، اوس زه ډیر بیږنی یم ، تاسو ماته دا ووایی چی نن شپه یا سهار وختی یو د قوی متو خاوند سړی له دې لارې نه تیر شوی دی که نه؟

سپاهی ځواب ورکړ: هو! له لمر ختو نه لږ وړاندی یو سړی په دی لاره تیر شو، ویل یی چی زه د مسلمانانو خلیفه له یوه ځانګړی پیغام سره محمد بن قاسم ته را استولی یم، هغه دلته آس هم بدل کړ،

نعیم پوښتنه وکړه: هغه یو غنم رنګی ځوان ؤ؟

: هو! لکه چی غنم رنګی ؤ، بوډا سپاهی ځواب ورکړ.

نعیم وویل ډیر ښه ستاسو نه یو تن شمال ختیز لورته ولاړ شی، څو میله لری په یوه غونډی د ونو په منځ کی یوه کلا ده له تاسو نه چی هر څوك ځی هلته دی څاروکړی چی د دی کلا اوسیدونکی څو به تللی نه وی؟ زما په ګومان به ستاسو تر ورتګ وړاندی هغوی کلا پریښی او تښتیدلی به وی، څو زه دا معلومول غواړم چی دوی پر کوم لوری تللی دی، دی کارته یو هوښیار سړی په کار دی، یو زلمی راوړاندی شو ویی ویل: زه تیار یم چی ولاړ شم.

نعیم وویل: هو ولاړ شه خو که دوی ستا له ورتګ وړاندی کلا پریښی وه بیرته راستون شه که نه د دوی د تګ لوری معلوم کړه.

ځوان په اس سپور شو او ولاړ.

نعیم له پاتی سپاهیانو نه شل تنه وټاکل هغوی ته یی امر وکړ: تاسو له دی عزتمندی ښځی سره تر بصری پوری ولاړ شی، هلته والی ته زما له خوا ووایی چی دا تر دمشق پوری په عزت او درناوی ورسوی، په لاره کی چی په پهره ټاکلیو سپاهیانو نه څومره له ځان سره ملګری کولای شی ملګری یی کړی، ښایی یو ذلیل دښمن تاسو تعقیب کړی، د بصری والی ته ووایی چی لږ تر لږه سل تنه سپاهیان ورسره واستوی، تاسو هم ډیر پام کوی، که چیرته له دښمن سره مخ شوی ستاسو فرض به دا وی چی تر دی دمخه به ټول ځانونه قربانوی خو د دی ساتنه به مو ذمه واری وی، په لاره کی کوم

تکلیف وروته رسیږي، سپاهیانو چې دا واوریدل پرآسونو یې زینونه کیښودل، نعیم له اس نه پلی شو د حجاج بن یوسف په نامه یې یو لیك ولیکه او د زلیخا د قربانۍ یادونه یې پکې وکړه، بیایې په درښبت تر دمشقه د رسولو خواست وکړ، لیك یې یوه سپاهي ته ورکړ بیا زلیخا ته نژدې ورغی او ودرید، زلیخا تر اوسه سرځوړند پر اس ناسته وه، نعیم تر لږ ځنډه چوپتیا وروسته وویل: ما ستا د ساتنې پوره بندوبست کړی دی، په لاره به تاته هیڅ تکلیف نه وي، زه هم تر بصرې درسره تلم خو مجبوریت راستون کړم.

زلیخا پوښتنه وکړه:

ته چیرته ځې؟

: زه د یوه دوست د ژوند ساتل غواړم.

: په اسحاق پسې ورځې؟

:هوکې! هیله ده زر یې راګیر کړم،

زلیخا خپلې غمجنې سترګې په دسمال پاکې کړې ویې ویل: پلم کوه هغه زرور هم دی او مکار هم.

: ته هیڅ غم مه کوه، ستا ملګری چمتو شول، پر ما هم ناوخته کیږي، ښه د خدای پامان!

نعیم روانیده، زلیخا په اوښلنو سترګو هغه ته وکتل او په غمجنه لهجه یې وویل: زه له تا نه یوه پوښتنه کوم.

: هو وپوښته!

زلیخا د هغې سره سره څه ونه ویلای شول، د هغې په تورو سترګو کې اوښکې ډنډ شوې او پر باړخوګانو یې راوبهیدې.

نعیم بیا وویل: څه دې پوښتل! تا له مانه څه پوښتل!

زه ستا د دې اوښکو قدر پیژنم، خو ته زما په مجبوریتونو نه یې خبره.

زلیخا په ژړه غونې او نیولې ستونې ځواب ورکړ: زه پوهیږم.

:ناوخته کیږي تا له ما څه پوښتل؟

زلیخا وویل: ما له تانه دا پوښتل چې کله ما په بندي خانه کې پر تا غږ وکړ نو تا عذرا عذرا نارې کړې جګ شوې او بیا بیرته ولویدې.

: هو زما په یاد دی. نعیم وویل
: زه پوښتنه کولی شم چې هغه نیک بخته څوک ده؟ زلیخا په شرمیدلی لهجه پوښتنه وکړه.
: ته غلطه شوی ښایی هغه دومره نیک بخته نه وی.
: هغه ژوندی ده؟
:ښایی ژوندی وی.
:خدای دی وکړی چی ژوندي وی، هغه چیرته ده؟
که هغه زما له لاري نه ډیره لری نه وی نو زه غواړم ویی وینم بیا ولاړه شم، آیا زما دا غوښتنه منلی شی؟
: ته رښتیا هلته ورځی؟
: که په تا بده نه لګیږی نو زه به خوښه شم.
: ډیر ښه، دا سپاهیان به تا زموږ تر کوره ورسوی.
زما تر راتګ پوری به ته همالته پاتې وی، که په څه سبب ناوخته نه شم نو امکان لری په لاره کی درسره ملګری شم.
: هغه ستا له مور سره ده، ستاسو واده شوی دی؟
:نه خو د هغې پالنه زموږ په کور کې شوې ده.
دایې وویل او نعیم سپاهیانو ته وکتل او هغوی ته یی امر وکړ چی زلیخا د بصری پر ځای د دوی کورته ورسوی .
نعیم خدای پامان وویل او روانیده چی د زلیخا هیله منو کتو را ایسار کړ، زلیخا خپلی سترګی ښکته واچولی او په ښې لاس یی یو خنجر نعیم ته ور اوږد کړ ویی ویل: ستا له وسلی نه می دغه خنجر د نیک شګون په توګه راسره اخستی دی، ښایی تا ته یی ضرورت شی.
نعیم که تا دا نیک شګون ګڼلی وی زما له خوا ستا شو ته یی د تل لپاره درسره واخله.
زلیخا : شکریه، زه به تل دا له ځان سره وساتم، ښایی کوم وخت می په کار راشي.
نعیم د دی پر دغه خبری سوچ ته پام ونه کړ پر اس سپور شو خو وروسته یې تر ډیره د هغې دغه الفاظ په غوږونو کی کرنګیدل.

*****

(۵)

زليخا يې له دې وروکې قافلې سره واستوله او نعيم پخپله د اسحاق په تعقيب پسې روان شو، په هره پهره کې يې آس بدلاوه او د اسحاق پوښتنه يې کوله، ماسپښين مهال يې يو سپور تر سترګو شو، نعيم خپل اس نور هم ګړندی کړ، وړاندی روان سپاره چې شاته وکتل او نعيم يې وليد نو هغه هم د اس جلب سست پرېښود خو دايي احساس کړه چې د شاته ورپسې اس ډير ګړندی دی نو هغه ته څه په خيال کې ورګرځيدل او اس يې ګرار کړ، نعيم له لرې وپيژاند چې اسحاق دی نو يې خپل خول ښکته کړ او مخ يې پټ کړ، اسحاق چې نعيم نژدې وليد اس يې له لارې چپ کړ او ودريد ، نعيم چې ورورسيد آس يې ودراوه، دواړه سپاره يوه شيبه چوپ وو او يو بل ته يې کتل بالاخره اسحاق وويل:

ته څوک يې او چيرته ځې؟

: همدغه پوښتنه زه له تانه کوم، نعيم وويل:

د نعيم د لهجې له توندي نه اسحاق په اندېښنه کې شو، خو زر يې خپله اندېښنه غلې کړه ويې ويل: تا زما د پوښتنې د ځواب پر ځای سوال وکړ.

نعيم وويل: ما ته په غور وګوره، تاته به د دواړو پوښتنو ځواب شي.

دايې وويل او په يوه لاس يې خول له سره اوچت کړ.

د اسحاق له خولې نه بې اختياره ووتل: ته... نعيم!

: هو زه نعيم يم، نعيم خپل خول بيرته پر سر کيښود.

اسحاق په خپله وارخطايي قابو شو او ناڅاپه يې د آس جلب راوګرځاوه او شاته شو، په دې څنډ کې نعيم هم په يوه لاس د اس جلب او په بل کې نيزه نيولې وه او چمتو شوی ؤ، دواړو د يو بل د عملي انتظار کاوه، ناڅاپه اسحاق نيزه اوچته کړه او آس يې پوندہ کړ د هغه د آس په يوه توپ نعيم د ده تر ګوزار لاندې راغی خو هغه د بريښنا په څير يوې خواته ځان کوږ کړ د اسحاق ګوزار د نعيم په ورانه يو پيکه زخم پرېښود او تير شو، نعيم زر خپل آس راوګرځاوه او په هغه پسې ورغې. په دې څنډ کې اسحاق اس ته وروکې دوره ورکړه او بيا د نعيم په مخ کې ولاړ ؤ، دواړو سپرو يو بل ته

نیزې برابرې کړې او آسونه یې پونده کړل. نعیم بیا هم د اسحاق له ګوزار نه ځان وساته خو دا ځل د ده نیزه د اسحاق له تشونه بوتبه وختله اسحاق یې په خپلو وینو او خاورو کې رېبدلی پرېښود او نعیم بیرته راوګرځېد، په راتلونکې پهره کې یې د ماسپښین لمونځ ادا کړ. آس یې بدل کړ او د یوې شیبې تیرولو نه پرته یې مزل پیل کړ. کله چې نعیم هغې پهرې ته ورسید چې زلیخا یې بصرې استولې وه او دې په اسحاق پسې ولاړ نو ورته ځرګنده شوه چې ابن صادق کلا پرېښې او په کوم لورې وتلی دی. نعیم د هغوی تعقیب بې ګټې وباله ، تر ماښامه لا وخت ؤ ، نعیم یوه سپاهي ته د کاغذ او قلم دراوړو ووېل یو لیك یې د محمد بن قاسم په نامه ولیکه. له سند نه د وتلو او د ابن صادق په لاس د بندې کیدو حالات یې لنډ لنډ ورته ولیکل ، د ابن صادق د دسیسو نه یې ورته ولیکل چې ورسره پام کوې. دوهم لیك یې د حجاج بن یوسف په نامه ولیکه او د ابن صادق د نیولو لپاره یې د زر تر زره اقدام غوښتنه وکړه. نعیم د پهرې خلکو ته دا لیکونه وسپارل او تینګار یې پرې وکړ چې زر تر زره یې ورسوي. بیا په اس سپور شو.

نعیم وېریده چې ابن صادق زلیخا تعقیب نه کړې، په هره پهره کې یې د هغې وروکې قافلې پوښتنه کوله. هغه ته په لاره دا هم معلومه شوه چې له نورو پهرو څخه د سړیو د کمبود په وجه له زلیخا سره تر لسو تنو زیات نور ملګرې نه شول. نعیم د زلیخا د ساتنې په خیال ډیر زر د هغوی له قافلې سره یو ځای کیدل غوښتل او اس یې ډیر ګړندې خوشې کړې ؤ. شپه شوه د خوارلسمې سپوږمې په پوره آب و تاب پر نړې د خپلو زرینو وړانګو جال خپور کړې ؤ. نعیم د غرونو او غونډیو نه ووت او د یوه هوار بیابان نه تیریده، په لاره کې یې ناڅاپه یوه عجیبه ننداره ولیده او وینې یې په رګونو کې و چې شوې په ریګونو کې د څو انسانانو او اسونو مړې پراته وو. په هغوی کې څنې تر اوسه رېږدل. نعیم له آس نه ورښکته شو وېې لیدل په هغوی کې څنې هغه کسان وو چې له زلیخا سره راغلي وو، اوس د ده په خیال کې تر ټولو رومبی زلیخا راغله ووېریده یوه او بله خوا یې وکتل. یوه زخمي ځوان له نعیم نه اوبه وغوښتې، نعیم زر له اس نه پټك راخلاص کړ او هغه ته یې اوبه ورکړې، هغه په خپل درزیدونکې زړه خپل یو لاس

کیسبود غوښتل یې څه ووښتې خو زخمې یوه لوري ته په لاس اشاره وکړه وېې ویل:

افسوس دی چې موږ خپله ذمه واري پوره نکړای شوه، موږ ستا د حکم سره سم د خپلو ځانونو د ساتنې پر ځای د هغې د ساتنې لپاره تر وروستی سلګی پوری وجنګیدو خو هغوی ډیر زيات وو، ته د هغې خبر واخله!

دایې وویل او بیا یې په لاس یوه لوري ته اشاره وکړه، نعیم په بیړه هغه لوري ته ورغې، د څو مړیو په منځ کې یې زلیخا ولیده او زړه یې ولړزید. په غوږونو کی یې کړنګهار شو، هغه مجاهد چې تر اوسه یې ډیری سختې شیبی په پراخه او ورین تندي زغملي وې د دی هیبت ناکې ننداری په لیدو ولړزید.

: زلیخا... زلیخا ته....!

زلیخا لا ژوندی وه ، ویې ویل: ته راغلې.

نعیم ور وراندی شو په یوه لاس یې د هغه سرتکیه کړ او په بل لاس یې اوبه وروڅښلی، د زلیخا په تټر کې یو خنجر ښخ ؤ. نعیم په خپلو لړزیدلو لاسونو د خنجر موټی ونیو او غوښتل یې بهر یې راوباسي. خو زلیخا د لاس په اشاره منعه کړ او ویې ویل: اوس د دی د ویستلو هیڅ ګټه نشته دی خپل کار کړی دی. او زه تر وروستیو شیبو پوري ستا د دې تنبانی نه جدا کیدل نه غواړم.

نعیم حیران شو ویې ویل: زما تنبانه!

: هو ! دا خنجر ستا دی. ظالم تره مې زه ونیولم او له ځانه سره یې بیولم، ما له داسي ژوند نه مرګ غوره وباله، زه ستا منننه کوم چې ستا راکړی خنجر په کار راغې.

: زلیخا، زلیخا، تا ځان په خپله وواهه؟

: ما د هری ورځې روحی مرګ نه یوه ورځ جسمانی مرګ غوره وباله د خدای په خاطر ته له ماته مه خفه کیږه. آخر ما څه کولی شوای.

دا ویجاړ شوی تقدیر خو ما سمولی نه شوای. او دا وروستی مایوسی ما په ژوند نشوای زغملی.

زلیخا نعیم ته په مینه ناک نظر وکتل او ویې ویل: خفه کیږه مه د تقدیر

همدا پریکړه وه، او له تقدیر نه له دی پرته د بل څه تمه زما نه وه، زما تر دی لویه نیکمرغی بله څه کیدای شی چی په وروستی مهال دی زما سرته تکیه کړی، زلیخا دا وویل او د کمزوری او درد له زوره یی سترګې پټې کړې.

نعیم پر دې خیال چی دا نیم ژواندی دیوه ګل شوی نه وی په ناکراری وویل: زلیخا ، زلیخا! بیایې د هغې سر وخوځاوه زلیخا سترګې خلاصې کړې او نعیم ته یې وکتل، خپلی و چی مری ته یی اشاره وکړه اوبه یې وغوښتې، نعیم اوبه پرې وڅښلې تر لږ څنډه دواړه چوپ وو، په دی چوپتیا کی د نعیم د زړه دروازا ګرندی او دزلیخا کراریده، په مړاوو سترګو یی نعیم ته کتل، او ده خپلی ناکراری سترګی د دی په سینه په ښخ شوی خنجر ګنډلی وی، بالاخره زلیخا یوه سلګی وکړه او د نعیم پام یی وروا ړاوه ویی ویل: غوښتل می ستا کور ته ولاړه شم او هغه ووینم، زما دا آرزو پوره نه شوه، ته چی کورته ولاړی زما سلام ورته ووایه، بیا زلیخا چوپه شوه له لږ سوچ وروسته یی بیا وویل: زه اوس په یوه اوږده سفر ځم له تا نه یوه پوښتنه کوم، په هغه دنیا کی چی زه ور روانه یم زما پیژندوی څوک نشته، ښایی پلار او مور می هم ونه پیژنی، ځکه چی زه ډیره وړوکی وم چی دی ظالم تره می راوتښتولم. زه له تانه دا هیله کولی شم چی په هغه دنیا کی له ماسره وګوری او راسره مخ شی؟

آخر هلته خو داسی یو څوک باید وی چی زه یی خپل وبولم.

زه تا خپل ګڼم خو ته له مانه لری هم یی او نژدی هم، د زلیخا دا الفاظ د نعیم زړه ته پریوتل، سترګی یی نمجنی شوی ویی ویل: زلیخا! که ته ماخپل کوی نو د هغی یوه لاره ده.

د زلیخا په پریشانه او مړاوی خیره خوښی وپرکیده، د مایوسی په تیږو تیارو کی مړاوی ګلاب د امید د وړانګو په تصور وغوړید او تازه شو په ناکراری یی وپوښتل :

هغه کومه لاره ده راته ووایه!

: زلیخا! زما د بادار غلامی ومنه، بیا به زما او ستا تر منځ هیڅ فاصله نه وی.

: زه تیاره یم، خو ستا بادار به ما په غلامی قبوله کړی!
:هو! هغه ډیر رحیم ذات دی.
: مګر زه خو د څو شیبو ژوندی یم.
: د دی خبری لپاره د اوږده ژوند ضرورت نشته، زلیخا ووایه!
: څه ووایم! د زلیخا له سترګو اوښکی بهیدلی نعیم د شهادت کلمه وویله او زلیخا یی الفاظ ورسره تکرار کړل، هغی یو ځل بیا اوبه وغوښتی او له څښلو وروسته یی وویل: زه داسی احساسوم چی له زړه نه می یو بوج لری شو.
نعیم وویل: له دی ځایه څو میله لری یوه پهره ده، که ته په آس سپریدای شوای ما به هلته رسولی وی، تر لږ ځنډه ماته اجازه راکړه زه به له هغه ځایه سپاهیان راولم بنایی په شاوخوا لنډو کلیو کی چیرته کوم طبیب وی رابه یی ولی.
نعیم د زلیخا سر په ځمکه کیښود او اوچتیدو خو دی په خپلو کمزورو لاسونو د نعیم لمن ونیوله ، په ژړا یی ورته وویل: د خدای په خاطر چیرته مه ځه. ته چی بیرته راستون شی ما به ژوندی ونه ګوری زه دځنکدن په مهال ستا د لاسو له تکیی نه ځان محروموول نه غواړم.
نعیم د زلیخا دغه درد مندانه غوښتنه رد نکړای شوه، بیرته کیناست، زلیخا سترګی پټی کړی او تر ډیره ځنډه بی حرکته پرته وه، کله کله به یی سترګی وغړولی نعیم ته به یی وکتل، دری برخی شپه تیره شوی وه، د سهار نخښی رابرسیره شوی وی، د زلیخا توان ځواب ورکړی ؤ، تول بدن یی مړ پر شوی ؤ او ساه یی بنده بنده شوه،
نعیم په ناکراری ورته وویل: زلیخا!
زلیخا د وروستی ځل لپاره سترګی وغړولی، او د یوی اوږدی ساه اخستلو نه وروسته د اوږده خوب په غیږ کی ویده شوه. نعیم انا لله و انا الیه راجعون ﷺ وویل سر یی ځوړند شو. له سترګو یی بی اختیاره اوښکی روانی شوی او د زلیخا په مخ ورتویی شوی زلیخا د حال په ژبه وویل: ای سپیڅلی هستی ما ستا د اوښکو قیمت ادا کړی دی.
نعیم جګ شو په اس سپور شو، نژدی پهری ته ورغی څو تنه یی ورسره

راوستل، د شاخوا کلیو څو تنه نور هم راټول شول. نعیم د جنازې لمونځ ادا کړ او د زلیخا او د هغه دملګرو له ښخولو وروسته په آس سپور شو او خپل کلي ته روان شو.

# مساپر (پردی)

نعیم له یوی پراخی دښتی نه تیریده هغه د زلیخا د دردوونکی مرگ او د سفر ستومانیو بی سیکه کړی ؤ او خپل مزل ته یی دوام ورکاوه، په دی ویرانه کی به یی کله کله د شغالانو او لیوانو کریږی اوریدی خو بیرته به چوپتیا واکمنه شوه، لږ څنډ وروسته سپوږمی راوخوت، د تیارو طلسم مات شو او دستور وځلا پیکه شوه د رڼا د وړانگو په زیاتیدو نعیم شاوخوا تر لری لری پوری غونډی او د خرما باغونو ونی لیدلی، هغه خپل منزل ته نږدی شوی ؤ، اوس یی له لری د خپل کلی د شاوخوا غونډی او باغونه هم لیدل، د هغه کلی چی دده درنگینو خوبونو مرکز ؤ او د هری ذری سره یی دده د زړه تړتی وی. د یادونو او خاطرو یادگارونه یی وو.

اوس هغه دومره نژدی شوی ؤ چی په یوه پونده یی آس ور رسولی شوی خو دی له دومره نژدی والی سره سره خپلو خیالونو له دی ځایه ډیر لری د زلیخا وروستی آرام ځای ته رساوه، د زلیخا د غمجن مرگ دردناکه ننداره یی په وار وار سترگوته دریده، د هغی وروستی جملی یی په غوږونو کی کرنگیدلی. ده غوښتل چی دغه دردناکه کیسه د لږ څنډ لپاره هیره کړی خو داسی یی گڼله چی ټول کاینات د مظلومیت ددغه شاهکار د آهونو او سلگو نه ډک دی د کور په باب هم بی شمیره سوداگانو هغه پریشانه کاوه، دی د خپل ژوند د مرکزیت په لوری روان ؤ خو په زړه کی یی د یوه ځوان ولوله او شوق نه ؤ. هغه په خپل تیر ژوند کی داسی بی سیکه پراس نه ؤ سپور شوی، بی شماره خیالونو هجوم پری راوړی ؤ، ناڅاپه یی د کلی له خوا څه غږونه واوریدل، څك شو د اوریدلو هڅه یی وکړه، د کلی نجونو دایره وهله

او سندری یی ویلی، دا د عربو هغه ساده کلیوالی سازونه چی په ودونو کی به یی ږغاوه، د نعیم د زړه درزا تیزه شوه، غوږنتل یی والوزي او کورته ځان ورسوي، خو تر لږ ځنډ وروسته دده احساسات بیرته ساړه او غلی شول، دی د هغه کور انګړ ته ور نژدی شوی ؤ چی د سندرو غږونه تری راتلل او دا دده خپل کور ؤ. د خلاصی دروازي په مخه کی یی آس ودراوه، خو یو څه په خیال کی ور ورګرځیدل او دوراندی تګ نه یی ودرواه د انګړ په منځ کی مشالونه بل وو او د کلی خلك د ډوډی پر خوړلو مشغول وو، څو ښځی د کور پر بام راټولی وی، عبدالله د میلمنو په خدمت بوخت ؤ، ده په زړه کی د میلمنو د راټولیدو په سبب فکر کاوه، ناڅاپه یی په ذهن کی وروګرځیدل چی تقدیر د عذرا د برخلیك پریکړه کړی ده، او له دی سوچ سره سم ده ته خپل جنت نظیره کور د خپلو هیلو او ارزوګانو هدیره ښکاره شو، له اس نه پلی شو او اس یی د دروازی نه څو ګامه لری په یوه ونه پوری وتاړه او په سیوری کی ودرید. د کلی یو هلك په منډه بهر راووت، نعیم وروراندی شو او د هلك په مخه کی ودرید، پوښتنه ئی وکړه:

دا د څه شی میلمستیا ده؟

هلك وویریده، نعیم ته یی وکتل خو هغه په سیوری کی ولاړ ؤ او مخ یی په خول کی پټ و ویی نه پیژاند، ځواب یی ورکړ : دلته واده دی.

: دچا واده دی؟

: د عبدالله واده دی ته لکه چی مساپر یی، ورځه ته هم ډوډی وخوره، دایی وویل او غوښتل یی چی ولاړ شی، نعیم هغه بیا ترمټه ونیو او ویی دراوه.

هلك پریشانه شو ویی ویل : ما پریږده زه قاضی راولم.

که څه هم نعیم ته خپل زړه ددی پوښتنی ځواب ورکړی ؤ خو دمینی د ناکامی او مایوسی د وروستی ننداری پر لیدو سر بیره یی د امید لمن پرینښودله په ږیږدیدلی آواز یی وپوښتل:

د عبدالله واده له چا سره کیږی؟

هلك ځواب ورکړ: له عذرا سره.

: د عبدالله مور څنګه ده؟ نعیم په خپله وچه مری لاس راکش کړ ویی

ویل.

د عبدالله مور ! د هغی خوله مرگه دری څلور میاشتی تیری شوی، دایی وویل او هلك په منډه ولاړ.

نعیم په ونی تکیه وکړه ودرید، موری موری یی وویل او څو سلگی یی وکړی، له سترگو یی د اوښکو بهیر رامات شو. لږ څنډ وروسته یی هماغه هلك او قاضی ولیدل چی د ننه کور ته ننوتل. په زړه کی یی دوی مختلفی هیلی ور ژوندی شوی، یوه دا وه چی : اوس هم ستا تقدیر ستا په خپل لاس کی دی. که غواړی نو عذرا تانه ډیره لری نه ده، که عبدالله ستا د ژوندی راتگ نه خبر شی نو هغه اوس هم ستا د زړه د ویجاړ کلی د بیرته ودانی لپاره هر ډول قربانی ته چمتو دی، اوس هم وخت دی.

دوهم غږ داسی ؤ : اوس ستا د لورینی او صبر ازموینښت دی. له عذرا سره ستا د ورور مینه هم کمه نه ده، او د تقدیر خوښه هم دا ده چی عبدالله او عذرا سره یو ځای شی. سربښندوی ورور به پرتا قربانی ته چمتو وی. خو دا به ظلم وی که اوس تا له عبدالله نه د قربانی هیله وکړه نو ضمیر به دی تل ناکرار وی. هغه تر سند پوری ستا لټون وکړ او اوس ستا د ژوندی راتلونه مأیوس شو له عذرا سره واده کوی. ته زړوری، مجاهد یی له صبر نه کار واخله، د عذرا فکر مه کوه،وخت به پخپله ورو ورو ستا له زړه نه د هغی تصویر پاك کړی. آخر په تاکی کومه داسی ښیگڼه ده چی په عبدالله کی نشته.

د ضمیر دوهم غږ نعیم ته تر ډیره حده غوره ښکاره شو، هغه احساس کړه چی له اوږی نه یی یو دروند اوله زغم نه اوچت بوج لری شو. څو شیبی وروسته د نعیم دنیا بدله شوی وه.

*****

(۲)

کوم وخت چی په کور کی دننه د عبدالله او عذرا د نکاح خطبه لوستل کیده نعیم بهر سر په سجده پروت و او دا دعا یی کوله :

ای د کایناتو مالکه ! په دی واده کی برکت واچوه، عبدالله او عذرا ته په ټول عمر کی خوښی ور په برخه کړی. او دواړه یو پربل قربانی ته چمتو

لري. اې رښتيني مالکه ! زما برخه خوښي هم د دوی کړه.
نعيم تر ډېره پورې سرپه سجده پروت ؤ. کله چې راجګ شو ويې ليدل چې له کوره ميلمانه ټول تللي دي. په زړه کې ور وګرځېدل چې ورشه ورورته د واده مبارکي ووايه خو يو بل خيال يې په ذهن کې وروګرځېد، د وراندې تلو جرئت يې تري واخست، سوچ يې وکړ چې بيشکه به مې ورور په ليدو خوښ شي. خو نهايي هغه پښيمانه هم شي او عذرا خو بايد پردې هم ونه پوهيږي چې زه ژوندی يم، هغه صبر او سکون به چې عذرا زما د نه راتګ نه د مايوسي په حال کې موندلي وي زما په راتګ بيرته برباد شي.
که هغې دا ګڼلې چې زه مړيم او واده يې کړی نو بيا به يې ټول ژوند بې خونده شي، کله چې پردې وپوهيږي چې زه ژوندی يم ډېره به پښيمانه شي اوژوند به ورته عذاب شي. ځکه خو غوره دا ده چې زه له دې نه لري واوسم.
او په خپله بدمرغی کې دوی راشريك نه کړم، ضمير دده دا سوچ ورسره ومانه په يوه شيبه کې د غازي خيال په عزم او عزم په يقين بدل شو، نعيم د بيرته راستنيدو نه وړاندې څو ګامه نور هم د خپل کور انګړ ته ورنژدې شو د درشل نه يې د خپلو هيلو هديرې ته د وروستي ځل لپاره وکتل بيرته يې مخ اړاوه چې په انګړ کې يې د چا د پښو غږ پام ورواړاوه. عبدالله او عذرا له يوې کوټې نه راووتل او په انګړ کې ودريدل.
نعيم غوښتل چې ولاړ شي خو ووريږي چې د واده دجامو پرځای په زغره کې وليد او عذرا يې ليده چې په ملا يې توره وړتړې حيران شو او د دروازې په درشل کې ودريد، هغه زر پوه شو چې عبدالله د جهاد په لوري رخصت اخلي، نعيم ډېر حيران شو د هغه له خپل ووړرنه همدا تمه وه، عبدالله چې وسله وتړله،طبيلې ته ولاړ اس يې راوست او بيا له عذرا سره ودريد هغې ته يې په موسکا ووېل :
عذرا ته خوبه خفه شوې نه يې؟
عذرا سروخوځاوه ځواب يې ورکړ : نه زه خو غواړم چې ستا په څير زغره واغوندم او د جګړې ميدان ته ولاړه شم.
عبدالله : عذرا زه پوهيږم چې ته غيرتي يې، خو زه تا نن ټوله ورځ وينم چې په زړه دې لايو بوج دی او ته يې له مانه د پټولو هڅه کوې. خو زه

پوهیږم. نعیم کوم داسې څوک نه دی چې هیر کړای شي. عذرا ! موږ ټول د خدای «ج» لپاره پیدا شوي یو او همغه «ج» ته بیرته ورتلونکي یو، که هغه ژوندی وای خامخا به تر اوسه راغلی وای، دا ګومان مه کوه چې هغه به ماته تر تا لږ ګران ؤ. اوس هم که زما په سربښندنه هغه راګرځیدای شی زه په خوښي دی ته تیار یم. کاشکی ته دا سوچ وکړې چې زه هم ستا په څیر په دې دنیا کې یوازې یم. زما هم په دې دنیا هیڅوک نشته. موږ دواړه که کوشش وکړو یو بل به خوښ وساتلای شو.

عذرا ځواب ورکړ : زه به هڅه وکړم.

عبدالله : زما په باب زیاتی اندیښنی مه کوه، ځکه چې زه هسپانیې ته د کوم خطرناك کار لپاره نه ځم، هغه هیواد نژدې فتحه شویدی، لږی سیمی پاتی دی، په هغو کی هم د مقابلې توان نشته، زه به زر بیرته راشم، او تا به هم له ځانه سره بوځم، زه چې زیات وځنډیږم نو شپږ میاشتی به پاتی شم.

عبدالله خدای پامان وویل او په اس یې پښنه واړوله.

نعیم چې هغه ولید چې بهرته راوزی له دروازی نه څرګامه لرې د یوې خرما په څنګ کی ودرید.

له دروازی نه چې عبدالله راووت یو ځل یې عذرا ته ور وکتل او بیایې اس پونده کړ.

*****

(۳)

د سهار علامې راڅرګندې شوې، عبدالله اس زغلاوه هغه ترشا د یوه بل اس د پښنو غږ واورید. شاته یې وکتل ویې لیدل چې یو بل سپور تر ده ګړندي را روان دی. عبدالله اس ودراوه او د شا راتلونکی سپاره ته یې په څیر ځیر وکتل، د راغلی سپاره مخ په خول کی پټ ؤ، عبدالله د هغه په باب اندیښمن شو او په لاس یې د ودریدو اشاره ورته وکړه. خو هغه د عبدالله د اشاری هیڅ پروا ونه کړه او تری تیر شو، عبدالله نور هم پریشانه شو او پر هغه پسی یې اس ورخوشی کړ، د عبدالله اس تازه دمه ؤ ځکه ئې سپور زر رالاندی کړ، عبدالله چې ور نژدې شو نیزه یې اوچته کړه ویې ویل:

که ته دوست یې نو ودرېږه او که دښمن یې نو مقابلې ته تیار شه، دوهم سپاهي اس ودراوه.

عبدالله ورېل : ما وېختېنه زه غواړم ودې پیژنم ته څوك یې؟

زما یو ورور کټ مټ ستا په شان په اس سپریده او د آس جلب یې هم بلکل ستا په شان نیوه، د هغه قد او ونه هم بلکل ستا په شان وو، ستا نوم څه دی؟

سپور چوپ ؤ.

عبدالله : ته څه ویل نه غواړې ! زه درنه پوښتنه کوم چې نوم دې څه دی؟

... نه یې وایې ... ؟!

سپور بیا هم چوپ ؤ،

زه ستا څیره لیدای شم، ته نه اورې ؟

سپور بیا هم چوپ ؤ،

وېختېنې که ته د کومې صدمې په وجه نشې گرېدای، نو دمخ په لوڅولو خو باید اعتراض و نه لرې ، که ته د کوم هیواد جاسوس یې هم له لیدو پرته به رانه ولاړ نه شې.

عبدالله دا ویل او اس یې هغه ته نور هم ورنږدې کړ او ناڅاپه یې د نیزې په څوکه د هغه له سره خول وغورځاوه، سپاره ته چې بیا عبدالله وکتل تر خوله یې چیغه ووته :

نعیمه ! د نعیم له سترگو اوښکې روانې وې.

دواړه ورونه له اسونو نه پلې شول او یو له بله غاړه غړې شول.

عبدالله هغه په تندې ښکل کړ وې ویل : ته ډیر بې عقل یې، کم بخته دومره خوذ داري او غرور! تا خو به لږ له عقل نه کار اخست او دا سوچ به دې کاوه چې په کور کې به مور راته انتظار کوي، ورور به دې په تبوله نړۍ لټون کوي، او عذرا به هره ورځ د کلي لورې غونډۍ ته خیژي او ستا د راتلو لارې به څارې.

خو تا د هیڅا پروا و نه کړه، خدائ پوهیږي چیرته غلې شوې وې، نعیمه ! دا تا څه وکړل؟

نعیم د څه خوب پرځای د خپل ورور په مخکی چوپ ولاړ ؤ ، د هغه سترګی د زړه د حالت ترجمانی وی، پر عبدالله یې چوپتیا اغیزه وکړه. نعیم یې یو ځل بیا په غیږ کی راتینګ کړ او ویې ویل : ته ولی څه نه وایې ! ته له مانه دومره خفه وی چی چوپه خوله رانه تیر شوی نعیمه ! د خدای لپاره ووایه یو څه ووایه ! ته له کومی خوا راغلی او چیرته ځی؟

زه سندته ولاړم او ته می ولټولی خو هلته می ستا درک ونه کړ ته کور ته ولی راونه رسیدی؟

نعیم یو سوړ اسویلی وکیښ او ویې ویل : وروره خدای ته زما راتګ منظور نه ؤ.

عبدالله : آخر ته چیرته وی ؟

نعیم د هغه په خوب کی خپل داستان ورته واوراوه، خو په هغه کی یې د زلیخا یادونه ونه کړه، او نه یې دا وویل چی تیره شپه د کور د انګړ نه بهر ولاړ ؤ. کله چی نعیم خپل داستان تیر کړ دواړو ورونو تر ډیره چوپ یو بل ته کتل،

عبدالله وویل:

د زندان نه د خلاصیدونه وروسته کورته ولی رانغلی؟

له نعیم سره ددی پوښتنی ځواب نه ؤ.

هغه بیا هم چوپ ؤ.

اوس د کور پرځای چیرته روان یې ؟ عبدالله وپوښتل

وروره زه د ابن صادق د نیولو لپاره بصری ته د سپاهیانو د راوستلو لپاره ځم.

عبدالله وویل : زه درنه یوه پوښتنه کوم، او امید دی چی دروغ به نه وایی

: ووایه ؟

: ته دا ووایه چی له زندان نه د خلاصیدو نه وروسته تا ته چا وویل چی د عذرا واده کیږی؟

نعیم دنه په دود سروخوځاوه،

اوس تاته معلومه شوی ده چی د عذرا واده له ما سره شوی دی؟

نعیم : هو زه یې تاته مبارکي وایم.
: ته له کلي نه راغلې؟ عبدالله بیا وپوښتل.
: هوکې ! نعیم ځواب ورکړ ،
: کورته تللې وې؟
: نه !
:په دې گومان چې ما له تا سره ظلم کړی؟
نعیم وویل : ستا گومان غلط دی، زه ځکه کور ته نه ولاړم چې پرتا او عذرا مې ظلم کول نه غوښتل، ماته معلومه ده چې تا سو زما له کورته راتگه مایوس شوی واست ، او دا مومحسوسوله چې عذرا په دې دنیا یوازې ده او هغه ستا ملگرې ته اړه ده، کورته په تگ مې بیا د تیرو زخمونو را تازه کول نه غوښتل، نه مې غوښتل چې د عذرا ژوند تریخ شي، د تقدیر اشارو څو ځلې ماته دا ښودله چې عذرا زما لپاره نه ده، تقدیر تاسو ددې امانت د ساتنې لپاره ټاکلي یاست، ما د تقدیر پرخلاف جگړه نه غوښته. وروره زه خوښ یم، ډیر خوښ یم، ځکه زه پردې پوهیږم چې ته به عذرا او عذرا به تا خوښ وساتلای شې، او ستا سو دواړو له خوښۍ نه پرته ماته بله ستره خوښي نشته، تاسو به عذرا ته دامه وایې چې زه ژوندی یم، دا مه ورته وایې چې ما له تا سره ولیدل.
: نعیمه ! ته له مانه څه پټول غواړې ! دا داسې کومه‌معمانه ده چې زه پرې ونه پوهیږم، ستا سترگې، ستا څیره او بڼه او ستا لهجه او الفاظ هر څه په ډاگه کوي، ته د یوه درونډ بار لاندې یې، عذرا زما د زړه ساتلو لپاره دا قربانی ورکړې او هغه هم په دې گومان چې ښایي ...!
: چې ښایي زه مړ شوی یم، نعیم وویل
: اف نعیمه ! ما مه خجالت کوه، ماته ډیر زیات ولتولی خو ...؟
نعیم د عبدالله خبر ورغوڅه کړه ویې ویل :
خدای «ج» ته همداسې منظوره وه.
عبدالله وویل : نعیمه ته داسې گومان کوې چې ... او نور یې څه و نه ویلای شو، په سترگو کې یې اوښکې راوختېدې، هغه د خپل وروړ په مخکې د یوه بې گناه مجرم په څیر ولاړ ؤ.

نعیم وویل : ورورہ ته یوی معمولی خبری ته دومره ارځښت ولی ورکوی؟
عبدالله ځواب ورکړ : کاشکی دا یوه معمولی خبره وای، نعیمه ! د مور وصیت ژ چی عذرا یوازی مه پریږده، خو هغی ته هیر کړی نه یی هغه ستا ده، زه ستا او عذرا د خوښی په خاطر په خوښی هغی ته طلاق ورکوم، ستاسو دوارو ویجاړه دنیا چی سمسوره کړم نو هغه داد او سکون به ماته حاصل شی چی یوازی زه پری پوهیږم.
: ورورہ د خدای لپاره داسی مه وایه، که داسی وکړی زموږ دری وارو ژوند به تریخ شی، زه به پخپله ځان ته سپك شم، موږ اوس باید د تقدیر پر پریکړه شکر وباسو،
: خو زما ضمیر به ماته څه وایی؟
: د نعیم پر شونډو یوه داډمنه موسکا وغوړیده ویی ویل : ستا په وداه کی زما رضا شامله وه.
: ستا رضا! څنګه؟
: تیره شپه زه هلته وم.
: څه وخت ؟
: ستا له نکاح نه لږ وړاندی زه دروړسیدم او ټول احوال می معلوم کړ.
: ته کور ته ولی را نغلی؟
نعیم چوپ شو.
: ددی لپاره چی تا د خپل خود غرضه ورور مخ لیدل نه غوښتل؟
: نه والله داسی نه ده، بلکی ما د خپل بی غرضه ورور په مخکی د خپل مطلب ښکارول بی همتی بلله، ستا راښودلی یو سبق زما په زره نقش دی.
: زما سبق،
: هو ! ماته دا سبق تا راښودلی چی هغه مینه چی د ایثار له جذبی نه تشه وی د مینی بللو مستحقه نه ده
: زه حیران یم چی ستا په زره کی دا دومره لوی انقلاب ولی راغی، رښتیا ووایه ستا په زره کی خوبه د عذرا ځای د بل چا تصور نه وی نیولی؟ که څه هم له ما سره داسی شك نشته خو عذرا په پیل کی موږ ته داسی اندیښنی یادولی.

زما باور دی چی د جهاد جذبې ته د سند په لوری ورسره والوزولی، خو بیا هم کله کله داسی گومان کیده چی ته ځان هسی له واده نه لری کوی، که کورته ستادنه راتگ سبب دا وی هم تا بنه کار نه دی کری.

نعیم چوپ ؤ، هغه نه پوهیده چی څه ځواب ورکری، دده په سترگو کی هغه پیښنه راگرځیده چی عذرا یی اوبو ته ورکوزه کری وه، او عبدالله دده په خاطر د یوی نه کری گناه بوج په خپله غاړه واخست او دی یی له سزا نه خلاص کړ، ده هم د یوه نه کری جرم په اعتراف ورور ته داد ورکولی شوای.

د نعیم پر چوپتیا د عبدالله شک نور هم زیات شو، هغه د نعیم مټ ونیو او ویی ویل : ووایه نعیمه !

نعیم تکان وخوړ عبدالله ته یی وکتل ویی موسکل او ویی ویل :

هوا ورورء، ما په خپل زړه کی یوه بل چاته ځای ورکړی.

عبدالله دادمنه ساه واخستله ویی ویل : ماته ووایه له هغی سره دی واده کری دی که نه ؟

: نه !

: په دی معامله کی څه ستونزه په مخکی ده؟

: نه !

:واده به کله کوی؟

: په نژدی وخت کی، د ابن صادق له نیولو نه وروسته

: بنه زه نور څه نه پوبنتم، که زما اندلس ته د تلو بیړه نه وای نو ستا واده به می لیده او بیا به تلم، تر بیرته راتلو پوری په دی تمه یم چی د ابن صادق له نیولو نه وزگار شي او کورته راشي.

نعیم : انشا الله!

دواړه وروڼه یو له بل سره غاړه غړی شول، او بیا په اسونو سپاره شول، نعیم ظاهراً د عبدالله تسلی وکړه، خو زړه یی درزیده هغه د عبدالله له زیاتو سوالونو نه په ویره کی ؤ، هغه په تلوار له ورورنه د اندلس د حالاتو په اړه پوبنتنی کولی، کوم دوه میله وړاندی د دواړو ورونو لاری سره جلا کیدلی، کله چی څلور لاری ته ورسیدل نعیم د خدای پامانی لپاره خپل ورور ته لاس ورواندي کړ.

عبدالله د هغه لاس په لاس کی ونیو او ویی پوښتل :
نعیمه ! تا چی ماته څه وویل رښتیا دی او که دی زما په خاطر وویل ،
: ستا پرما باور نشته ؟
: زما پرتا باور دی،
: ښه نو خدای پامان، عبدالله د نعیم لاس پریښود نعیم د یوی شیبی څنډ نه پرته د اس جلب راوگرځاوه او چارگام یی وزغلاوه.
عبدالله په همغه ځای ولاړ ؤ او تر هغه یی ورپسی کتل چی نعیم نه ؤ پناه شوی او د هغه خبری یی تولی په غوږونو کی راغبرگیدی، کله چی هغه له نظره پناه شو نو لاس یی په دعا پورته کړل ویی ویل :
ای د جزا او سزا مالکه ! که تاته دا منظوره وه چی عذرا زما د ژوند ملگری شی، نو ستا له تقدیر نه می گیله نشته، ای باداره ! څه چی نعیم وویل هغه رښتیا کړه، که د هغه خبری رښتیا نه وی ته یی رښتیا کړی، هغه ته داسی څوك ور په برخه کړه چی عذرا یی هیره شی، ای رحیم پرودگاره! د هغه د زړه ویجاړه دنیا یو ځل بیا آباده کړی، که زما کومه نیکی ستا د رحمت حقداره وی ته د هغی په بدل کی د نعیم دنیا او آخرت سمسور کړه.
بصری ته د نعیم له رسیدونه وړاندی د ابن صادق د نیولو هڅی کیدی خو د هغه هیڅ نښه او درك نه ؤ، نعیم د بصری له والی سره وکتل خپل سرگذشت یی ورته تیر کړ، او بیرته یی سند ته د تلو اراده ښکاره کړه.
د بصری والی د نعیم په ژوندی راتښتیدو ډیره خوښی وښودله ویی ویل چی د سند د فتحی لپاره یوازی محمد بن قاسم بس دی هغه د یوه توپان په څیر د ملکانو او پاچاهانو لوی لښکر تر پښو لاندی کوی او د سند په لر او بر کی د اسلام د فتحی بیرغ رپوی. اوس د ترکستان د پراخه هیواد د نیولو لپاره سپاهیانو او سرتیروته ضرورت دی، قتیبه پر بخارا حمله کړی وه، خو هیڅ بری یی نه دی په برخه شوی، له کوفی او بصری نه نور پوځ هلته ور روان دی، ورمه ورځ له دی ځایه پنځه سوه تنه پوځیان هلته روان شوی دی که ته هڅه وکړی په لاره کی یی راگیر کولای شی.
په دی کی شك نشته چی په سند کی محمد بن قاسم ستا نژدی ملگری

دی، خو قتیبه بن مسلم غوندی جنرال هم د میړنیو په قدر پوهیږی،، هغه به ستا دیر قدر وکړی زه به هغه ته ستا په لاس یو لیك هم واستوم.

نعیم په بی پروایی ځواب ورکړ : زه جهاد ته ددی لپاره نه ځم چی څوك می قدر وکړی، زما هدف د خدای حکم پرځای کول دی، زه به هسدا نن له دی ځایه وخوځیږم ، تاسو ابن صادق ته پام کوئ د هغه وجود په دی دنیا دیر خطرناك دی.

والی : ماته معلوم دی، زه به د هغه د وژلو لپاره ممکن اقدام وکړم، د خلافت له درباره یی د نیولو فرمان راغلی دی، خو تر اوسه یی درك نه معلومیږی، تاسو هم له هغه نه هوښیار اوسی، کیدای شی هغه ترکستان ته تښتیدلی وی، نعیم له بصری نه رخصت شو، هغه په ژوند کی له عجیبو پیښو سره مخ شو خو د غازی د اس ګرندی والی همغسی ؤ او د هغه د شهادت مینه هم همغسی وه.

# فاتح

پر سند د محمد بن قاسم له حملی نه لږ موده وړاندی قتیبه بن مسلم باهلی د آموله دریا به پوری وت او د ترکستان په ځینو برخو یی حمله وکړه، خو د یو څو سیمو له نیولو وروسته یی د پوځی ضروریاتو د کمبود او د یخنی له زوره بیرته پریښودل او مروی ته راوګرځید. د تودوخی د موسم له راتلو سره سم بیا له خپل لږ پوځ سره تر آمو پوری وت او په ترکستان یی یرغل ور وړ، یو څو سیمی ئی ونیوی.

قتیبه بن مسلم هر کال دا کار تکراراوه، دوبی به واوښت څه سیمی به یی ونیوی، خو د ژمی په راتلو سره به یی بیرته فتحه کړی سیمی پریښودی، په ۸۷ هـ لمریز کال یی د ترکستان په مشهور ښار «بیکند» حمله وکړه، د ترکستان زیات اوسیدونکی ددی ښار د دفاع لپاره راټول شول، قتیبه د پوځ او وسلو د کمبود سره سره په داډ د ښار کلابندی ته دوام ورکړ، دوی میاشتی وروسته د ښار د اوسیدونکو حوصلی ماتی شوی او وسلی یی کیښودی.

د بیکند له سوبی وروسته قتیبه د ترکستان د فتحی لپاره سم لاس په کار شو، په ۸۸ هـ کی یی د سغد له ستر لښکر سره یوه خونړی جګړه وشوه، په دی جګړه کی قتیبه څو نور ښارونه ونیول او د بخارا تر دیوالونو پوری ورسید، د یخنی په موسم کی دده بی نظمه پوځ کلابندی ته دوام ورنکړای شو، او ناکام بیرته راستون شو خو همت یی ونه بایله څو میاشتی وروسته یی بیا بخارا کلابنده کړه، ددی کلابندی په وخت کی نعیم د بصری له پنځه سوه تنه نورو سپرو سره د قتیبه له پوځونو سره یو ځای شو او په څو ورځو کی د زړور او نري لیدلی جنرال بی تکلفه دوست شو.

د بخارا د کلابندۍ په وخت کې قتیبه له سختو ستونزو سره مخ شو، له تولونه لوی مشکل دا ؤ چې له مرکز سره یې فاصله ډیره زیاته وه، د ضرورت په وخت کې د پوځونو او وسلو په وخت رارسیدل گران وو، د بخارا د پاچا په ملاتړ ترکان او سغدیان هم تول راتول شوي وو، مسلمانانو د ښار پر برجونو د منجنیق په واسطه ډبرې اورولې، او وروستي حملې ته تیارو وو چې له شانه پرې د ترکانو لوی اوسنبال لښکر حمله وکړه، مسلمانانو د ښار کلابندي پرېښوده او د شا لښکر ته یې پام واوښت، لا یې پښه نه وه ټکیه شوې چې د ښار دننه پوځ هم بهر راووت او په حمله یې لاس پورې کړ، مسلمانان د دواړو پوځونو ترمنځ شول، له یوه پلوه بهرني یرغل کوونکي د دوی پرسرونو ودرید او له بلې لورې د ښار پوځ غشي پرې اورول، د مسلمانانو پوځ وارخطا او گډوډ شو، کله چې یې ښځې وښوېیدې نو د عربو ښځو دوی تیښتې ته پرېنښودل، دوی ته یې غیرت ور وست او بیایې له سره مقابله پیل کړه، خو د دوی شمیر په اوروکي د مالگې هومره ؤ، ترکان له دواړو لوریو د لښکر تر زړه پورې راورسیدل او نژدې ؤ چې حرم ته ورسیږي، خو عربي سرتیرونن هم د خپلو پلرونو او نیکونو تاریخ را ژوندی کاوه، د دوی لویدل او ولاړیدل د قادسیې او یرموك د ننداروياد تازه کاوه، پر دې توپان د برې موندلو لپاره د قتیبه په ذهن کې یوه خبره راغله چې د لښکر یوه برخه له میدان نه ووزي او له بل لوري ښار ته ننوزي، خو په لاره کې یوه ژوره ویاله وه، چې د ښار دېوالونو ته یې د خندق کار ورکاوه، قتیبه لا په همدې سوچ کې ؤ چې نعیم ور نژدې شو او همدغه مشوره یې ورکړه.

قتیبه ووېل : زه هم په همدې سوچ کې یم، خو څوك به دې قربانۍ ته چمتو شي؟

نعیم ځواب ورکړ : زه ځم، ما ته یو څو تنه سپاهیان راکړه!

قتیبه لاس اوچت کړ ویې ویل : کوم سرتیري له دې ځوان سره سرښندنې ته چمتو دي؟

ددې خبرې په اوریدو سره وقیع او حریم دوو تمیمي سردارانو لاسونه اوچت کړل، له دوی سره اته سوه تنه سرښندویان چمتو شول، نعیم له دې

سرښندویانو سره د غلیم په پوځ کی لاره وایستله او پرمخ ووتل له میدان نه بهر یی یو اوږد چکر وواهه او د ښار شمال لویدیځ لوری ته ورسیدل، د هغه دوارو خواوو ته تمیمی سرداران وو، د ښار د برجونو نه وړاندی د دوی په مخ کی خندق ته ورته ویاله وه، نعیم او ده ملگری لږ شیبه ودریدل او بیایی الله اکبر وویل : او په اوبو ورگډ شو، د ښار د دیوال دننه یوه ډیره لویه ونه وه چی ښاخونه یی له دیوال را اوښتی او تر ویالی پوری راښکته شوی وو، نعیم چی بلی غاړی ته ورسید ددی ونی په ښا خونو یی کمند ور واچاوه په ښاخ ور وخوت او د دیوال سر ته ورسید.

له هغه ځایه یی د پری زینی وغورځولی، وقیع او حریم هم داسی وکړل او په دی ډول د ویالی له بلی غاړی نه په وار وار مجاهدین راپوری وتل او په کمند راختل په زینو دننه ښکته کیدل، سل تنه به اوښتی وو چی نعیم ناڅاپه له اتکل نه لری په ښار کی د پنځو سوو تنو په شاوخوا کی یوه ډله ولیده چی په گزمه گرځیدل. نعیم پنځوس تنه همالته پریښودل او پنځوس تنه نور یی له ځانه سره ملگری کړل او د ښار یوه پراخه بازار ته ورسید د هغو پوځیانو مقابلی ته ودریدل. او هغوی یی یو ساعت ایسار وساتل، په دی موده کی د مسلمانانو زیات سپاهیان له دیوال نه اوښتی وو او ترکی پوځیانو ته له وسلی ایښودلو پرته بله لاره نه وه، نعیم خپلو څو تنو سپاهیانو ته د ښار د ټولو دروازو د نیولو حکم وکړ، او پر هر ځای یی داسلام بیرغ ورپاوه، پخپله له نورو سپاهیانو سره د ښار د یوی دروازی په لوری ورغی، هلته یی څو پهره داران ووژل، او د خندق پل یی پورته کړ.

ترکی پوځونه پر ښار د مسلمانانو له قبضی نه خبر نه وو او د فتحی په امید یی سرونه په تلی کی نیولی وو جنگیدل، نعیم مجاهدینو ته امر وکړ چی په برجونو وخیژی او پرترکانو غشی واوروی، د ښار له خوا پرترکانو د غشو باران هغوی وار خطا کړل، او چی شاته یی وکتل پر ښار د اسلام بیرغ رپیده او برجونه د مسلمانو پوځیانو په واک کی و.

هلته چی قتیبه دا ننداره ولیده د سختی حملی حکم یی وکړ، د ترکانو اوس حالت داسی ؤ لکه څه شیبه وړاندی چی د مسلمانانو وو، د ماتی خوړلو نه وروسته دوی د ښار د مضبوطو دیوالونو او برجونو په پناه امیدوار

وو خو اوس هلته هم دوی ته د مرګ ویروونکی منظر د دوی تر سترګو کیده، په مخکی یی د مسلمانانو تیری توری وی، او په شاتښتیدونکو ته د مسلمانانو له هغو غشو ویره وه چی تر سینو بوټ ختل، دوی د ځان ژغورلو په تمه ښی او کیڼ لور ته وتښتیدل.

په سلګونو تنه یی د وارخطایی په سبب په ویاله کی ولویدل، ددی مصیبت له ختمولو وروسته مسلمانانو د شا له لوری راغلی پوځ ته پام واړاوه، هغوی پخوا پر ښار د مسلمانانو قبضه ولیده او همت یی بایللی ؤ، د مسلمانانو د حملی تاب یی رانه وړ او په تیښته ولاړل، ځنو یی وسلی کیښودی او سلامی شول.

قتیبه بن مسلم چی میدان تش ولید ورانډی ولاړ، د ښار دروازی ته ورسید او د پروردګار په دربار کی یی سر په سجده کیښود، نعیم پر خندق د پله ایښودلو امر وکړ، او د وقیع او حریم سره د خپل زړور سالار هر کلی ته ورمخی ته شو، قتیبه له ډیری خوښی نه له دری واړو غازیانو سره غیږ په غیږ شو.

د ټپیانو د پټی تړلو او د شهیدانو له جنازی او ښخولو وروسته یی د غنیمت په راټولولولاس پوری کړ، د هغی پنځمه برخه یی بیت المال ته راواستوله او نوره یی په پوځ وویشله، د بخارا له فتحی سره د قتیبه بن مسلم له نامه سره د نعیم نوم هم ډیر مشهور شو.

د هغه د زړه پخوانی زخم ورو ورو په رغیدو شو، او دده ستر وارادو لطیفو احساساتو ته ماته ورکړه، په دی حالاتو کی ده ته د توری شرنګهار د لطیف جنس له نغمی نه ډیر په زړه پوری ؤ، او د وړور او عذرا د خوښی تصور یی د خپلو خوښیو نه زیات خوښ شو، دده دعاګانی زیاتره د هغوی لپاره وی.

کله به چی د سوچ لپاره او ډیر فرصت په لاس ورغی نو سوچ به یی کاوه چی: وړور به می عذرا ته ویلی وی چی زه ژوندی یم ښایی هغوی به اوس زما په باب خبری کوی، عذرا به ښایی پردی هم باور کړی وی چی زه رښتیا پریل چامین شوی یم. هغه به په زړه کی ماته بدرد وایی، اوس یی ښایی زه هیر کړی یم، هو زه هیر ښه یم.

او بیا به ددی خیالونو پای د اخلاصه په دکو دعا گانو ؤ.

دری کاله تیر شول، د قتیبه پوځونو د فتحی او بری بیرغونه رپول، او د ترکستان په څلورو خواو کی تیت شوی وو، نعیم غیر معمولی شهرت گټلی ؤ. قتیبه د خلافت دربار ته یو لیك واستاوه او پکی وبی لیکل چی : زه تر ډیرو فتحو پردی ځوان ډیر نازیږم.

*****

(۲)

په ۹۱ هـ کی د ترکستان په ډیرو برخو کی د بغاوت اور بل شو، دغه اور ابن صادق بل کړ او له لری یی ننداره کوله، ابن صادق د نعیم له خلاصیدو وروسته د ځان په فکر کی شو کلا یی پریښوده وتښتید په لاره کی بد نصیبه وریره په مخه ورغله خو هغی د کاکا په زندان کی تر ژوند نه مرگ غوره وباله.

ابن صادق اوس د ځان په ویره کی شو، له ځپلو پیروانو سره یی ترکستان ته مخه کړه، هلته چی ورسید څپله تیت پرك ډله یی منظمه کړه او د څه قوت موندلو وروسته یی د ترکستان ماته خوړلی شهزادگان د مسلمانانو پرخلاف راپارول او ددوی د تنظیم کولو له لاری یی د پریکنده جگړی لپاره وهڅول.

د ترکستان یو بانفوذه سړی نزاق نومیده، ابن صادق له هغه سره ولیدل او ځپل نظر یی ورته څرگند کړ، نزاق پخوا هم د بغاوت کولو هڅه کوله، هغه ته د ابن صادق غوندی مشاور ضرورت ؤ، دواړه په فطرت کی یو ډول وو، له نزاق سره د ترکستان د پاچاهی مینه وه، او ابن صادق نه یوازی په ترکستان بلکی په ټوله نړۍ ځپل شهرت غوښت.

نزاق وعده ورسره وکړه چی که دی بریالی شو نو ابن صادق به ځپل صدر اعظم ټاکی او ابن صادق هغه ته ډیره ټمه ورکوله، د ترکستان اوسیدونکی د قتیبه له نامه نه لړزیدل او د بغاوت له نوم اخستلو نه په ویره کی وو، خو د ابن صادق غوری او نرمی خبری بی اغیزی نه وی، هغه به چی هر ځای تلو دا به یی ویل ستاسو هیواد ستاسو لپاره دی، پردیو ته پردی هیواد د قبضی هیڅ حق نه شته، یو هوښیار دپردیو واکمنی هیڅ نشی زغملی، د ابن

صادق او نزاق په هغو د ترکستان زیات شهزادگان او سرداران د آمود دریاب په غاړه په یوه زره کلا کی راټول شول، په دی غونډه کی نزاق اوږدی خبری وکړی او بیا یو اوږد بحث وشو، په دی بحث کی څو تنو بوډا سردارانو د مسلمانانو دسوله ایز حکومت پرخلاف د بغاوت مخالفت وکړ، ابن صادق د حالاتو باریکی درك کړه او د نزاق په غوږ کی یی څه وویل نزاق له خپل ځایه اوچت شو او ویی ویل :

زما د وطن عزیزانو ! زه په تأسف باید ووایم چی په تاسو کی د پلرونو وینه پاتی نه ده، اوس زموږ یو عزتمن میلمه چی له تاسو سره یوازی پردی خواخوږی لری چی غلامان پاست تاسو ته څه ویل غواړی، نزاق دا وویل او کیناست، ابن صادق جگ شو او خبری یی وکړی، په دی خبرو کی لومړی هغه چی د مسلمانانو پرخلاف خومره نفرت او کرکه ښکاروولی شوای ښکاره یی کړه، بیایی وویل چی حاکم قوم د محکوم قوم د غفلت په خوب ویده کولو لپاره په پیل کی نرمی کوی، خو چی کله محکوم اولس د آرام ژوند عادی شی او د زړور توب له جوهر نه خلاص شی بیا حاکم قوم هم خپل چلند بدلوی، ابن صادق چی ترکی سرداران اغیز من ولیدل په جوش راغی ویی ویل : د مسلمانانو د اوسنی نرمۍ وضعې نه دا مطلب مه اخلی چې دوی به تل همدغسی وی، په نژدی وخت کی به دوی پرتاسو داسی ظلمونه پیل کړی چی ستاسو په خیال کې به هم نه وی، تاسو به حیران شی چی له نن نه څه موده وړاندی زه هم یو مسلمان وم، خو اوس می چی ولیدل چی دغه خلك د هیوادونو د لاندی کولو او د نورو قومونو د مریی کولو هوس په مخه کړی دی، ما د دوی نه خپله لاره بیله کړه، تاسو هغوی له مانه ښه نه پیژنی، دا خلك دولت غواړی او زر به وگوری چی ستاسو په هیواد کی یوه تنگه هم پری نژدی، یوازی دا نه ، بلکی ستاسو خویندی او ورینداری به د شام او عربو په نورو بازارونو کی پلورل کیږی.

د ابن صادق دی الفاظو اغیزه وکړه او ټولو سرادرانو یو بل ته وکتل.

یو بوډا سردار جگ شو ویی ویل : موږ ته ستا له خبرونه د فساد بوی راځی، په دی کی هیڅ شك نشته چی موږ هم د مسلمانانو غلامی بده منو خو موږ باید د خپل غلیم په باب هم په دروغو خبرو باورونه کړو، دا یو تور

صادق او نزاق په هڅو د ترکستان زيات شهزادګان او سرداران د آمود درياب په غاړه په يوه زړه کلا کې راټول شول، په دې غونډه کې نزاق اوږدې خبرې وکړې او بيا يو اوږد بحث وشو، په دې بحث کې څو تنو بوډا سردارانو د مسلمانانو دسوله اېز حکومت پرخلاف د بغاوت مخالفت وکړ، ابن صادق د حالاتو باريکي درك کړه او د نزاق په غوږ کې يې څه وويل نزاق له خپل ځايه اوچت شو او ويې ويل :

زما د وطن عزيزانو ! زه په تأسف بايد ووايم چې په تاسو کې د پلرونو وينه پاتې نه ده، اوس زموږ يو عزتمن ميلمه چې له تاسو سره يوازې پردې خواخوږي لري چې غلامان ياست تاسو ته څه ويل غواړي، نزاق دا وويل او کيناست، ابن صادق جګ شو او خبرې يې وکړې، په دې خبرو کې لومړې هغه چې د مسلمانانو پرخلاف ځومره نفرت او کرکه ښکارولې شواى ښکاره يې کړه، بيايې وويل چې حاکم قوم د محکوم قوم د غفلت په خوب ويده کولو لپاره په پيل کې نرمي کوي، خو چې کله محکوم اولس د آرام ژوند عادي شي او د زړور توب له جوهر نه خلاص شي بيا حاکم قوم هم خپل چلند بدلوي، ابن صادق چې ترکي سرداران اغيز من وليدل په جوش راغي ويې ويل : د مسلمانانو د اوسني نرمې وضعې نه دا مطلب مه اخلئ چې دوې به تل همدغسې وي، په نژدې وخت کې به دوي پرتاسو داسې ظلمونه پيل کړي چې ستاسو په خيال کې به هم نه وي، تاسو به حيران شي چې له نن نه څه موده وراندې زه هم يو مسلمان وم، خو اوس مې چې وليدل چې دغه خلك د هيوادونو د لاندې کولو او د نورو قومونو د مريي کولو هوس په مخه کړي دي، ما د دوی نه خپله لاره بيله کړه، تاسو هغوی له مانه ښه نه پيژنئ، دا خلك دولت غواړي او زر به وګورئ چې ستاسو په هيواد کې يوه تنګه هم پرې نږدي، يوازې دا نه ، بلکې ستاسو خويندې او ورېنداري به د شام او عربو په نورو بازارونو کې پلورل کيږي.

د ابن صادق دې الفاظو اغيزه وکړه او ټولو سردارانو يو بل ته وکتل.

يو بوډا سردار جګ شو ويې ويل ، موږ ته ستا له خبرونه د فساد بوی راځي، په دې کې هيڅ شك نشته چې موږ هم د مسلمانانو غلامي بده منو خو موږ بايد د خپل غليم په باب هم په دروغو خبرو باورونه کړو، دا يو تور

خیمی په دروازه کې ودرېد او ذواورې او رېدو نندارې ته ځير شو، لږ ځنډ وروسته د ونو له منځه يو سپور راووت قتيبه هغه وپېژاند څوګامه وروړاندې شو ، سپاره چې قتيبه وليد له آس نه پلی شو د آس جلب يې يوه پهره دار ته ورکړ، قتيبه پرې غږ کړ : نعيمه څه خبر دې راوړی دی؟

: نزاق تر يو لك تنو زيات پوځ تيار کړی دی، موږ بايد زر تياری ونيسو، قتيبه او نعيم په خبرو کې خيمی ته ننوتل، نعيم نقشه راپورته کړه قتيبه ته يې ور وښودله ويې ويل : دلته ګوره له بلخ نه نږدی پنځوس ميله لرې شمال ختيځ لوري ته نزاق خپل لښکر راټولوی، ددی ځای جنوب لوری ته درياب دی، او پاتی دری خواو ته يې غرونه او ګڼ ځنګل دی، ذواورو په وجه لاره ډيره سخته ده، خو موږ بايد د تودوخی موسم ته انتظار ونه کړو، د ترکانو حوصلی ورځ په ورځ ځواکمنيږی، هغوی په بی رحمی سره مسلمانان وژنی په سمرقند کې هم د بغاوت خطر دی.

قتيبه وويل : موږ بايد د ايران د پوځونو تر راتګ پوری انتظار وکړو.

د هغوی له رارسيدو سره سم به حمله وکړ و .

قتيبه او نعيم لا خبری کولی چې يو پهره دار ورننوت ويې ويل : يو ترکی سردار له تاسو سره ليدل غواړی .

قتيبه وويل : رايی وله.

سپاهی ووت او لږ ځنډ وروسته له يوه ترکی بوډا سردار سره بيرته راغی، هغه پوستين اغوستی ؤ او پر سريی د سمور خولی وه، په ملاخم شو قتيبه ته يې سلام وکړ او ويې ويل:

ښايی تاسو ما وپېژنی زما نوم نيزك دی.

: زه تا ډير ښه پيژنم کښينه !

نيزك د قتيبه په مخکی کيناست، هغه تری وپوښتل چې د څه لپاره راغلی،

نيزك وويل : زه ددی لپاره راغلی يم چې درته ووايم زموږ په قوم ظلم مه کوی.

قتيبه وويل : ظلم ! ښايی په غوسه وويل ستا له قوم سره به همغه سلوك کيږی چې د باغيانو سره مناسب وی.

هغوی د مسلمانانو د تور سریو او ماشومانو له وژلو نه هم ډډه نه ده کړې.

نیزك په جدیت ځواب ورکړ : مګر دوی باغیان نه دي، بې عقل دي، ددې بغاوت توله پړه ستا د یوه مسلمان ورور پرغاړه ده.

: زموږ په ورور ! څوك دي هغه ؟

نیزك ځواب ورکړ : ابن صادق

نعیم چې تر اوسه پورې د شمعې په رڼا کې نقشه لیدله د ابن صادق د نامه له اوریدو سره څك شو وېې ویل :

ابن صادق ! او نیزك ته یې وکتل.

نیزك : هو ابن صادق!

: هغه څوك دي، قتیبه پوښتنه وکړه.

نیزك ځواب ورکړ : زه له دې پرته د هغه په باب زیات معلومات نه لرم چې هغه دوه کاله وړاندې ترکستان ته راغی او په خپله جادویي ژبه یې په دې موده کې د ترکستان زیات سر مشران ستا سو پرخلاف بغاوت ته چمتو کړي دي.

نعیم نقشه نغښتله وېې ویل : زه د هغه په باب زیات معلومات لرم. ایا هغه نن سبا له نزاق سره دی؟

نیزك : نه هغه قوقند ته نژدې په غرونو کې پوځ را ټولوي او نزاق ته یې استوي، امکان لري هغه له چین نه هم د مرستې ترلاسه کولو هڅه وکړي.

نعیم قتیبه ته مخ واړاوه وېې ویل : زه له ډیرې مودې راهیسې ددې سړي په لټه کې یم، ماته معلومه نه وه چې هغه ماته دومره نژدې دی، ماته اجازه راکړه د هغه زر تر زره نیول ډیر ضروري دي.

قتیبه : خوماته هم باید څرګنده شي چې دا څوك دی؟

: هغه له ابو جهل نه زیات د اسلام دښمن او تر عبدالله بن ابی لوی منافق دی.

هغه تر مار ډیر خطرناك او ترګیدړ ډیر مکار دی، په دې حالاتو کې په ترکستان کې د هغه وجود ډیر خطرناك دی، موږ باید زر تر زره هغه ته پام ور واړوو.

مګر اوس خو د قوقند لاري په واورو پټې دي.

نعیم : هر څه چې وي، تاسو ماته اجازه راکړئ.

په قوقند کې هغه ددې لپاره اوسې چې کوم خطر هلته نه احساسوي، هغه ښایي د یخنۍ موسم هماغلته تیر کړي، په تودوخه کې به کوم بل په امن کې مقام ته ځان رسوي.

: ته کله غواړې ولاړ شې؟

: همدا اوس، نعیم ځواب ورکړ ، زه باید یوه شیبه هم ضایع نه کړم.

: اوس واوره اوریږي سهار ته ولاړ شه، همدا اوس له یوه اوږده سفر نه راستون شوي یې ته باید لږ دمه وکړې.

نعیم : ماته تر هغه وخته آرام ممکن نه دی ترڅو دغه خطرناك سړی ژوندی وي، زه اوس یوه شیبه تیرول هم ګناه ګڼم، تاسو ماته اجازه راکړئ.

دایي وویل او نعیم چګ شو.

: ښه ده نو له ځانه سره دوه سوه تنه سپاهیان بوځه.

نیزك حیران شو ویې ویل : تاسو هغه قوقند ته استوی یوازې له دوه سوه تنه سپاهیانو سره! تاسو د غرنیو قومونو د جګړې سره بلد یاست؟ هغوی په زرور تیا کې د نړۍ له هیڅ قوم نه وروسته نه دي دی باید له ښه مناسب پوځ سره هلته ولاړ شي.

له ابن صادق سره هر وخت پنځه سوه تنه ساتونکي ضرور وي، تر اوسه لا ددې معلومات نه شته چې هغه به څومره پوځ راټول کړی وي.

نعیم وویل : یو بې زړه سالار د خپلو پوځونو په زړه کې جوش او غیرت نشي پیدا کولای، که ددې پوځ سالار ابن صادق وي نو ماته د دومره سپاهیانو بیولو اړتیا نشته.

قتیبه له لږ سوچ نه وروسته هغه ته د درې سوه تنو پوځیانو د بیولو امر وکړ او هغه ته یې د څو هدایاتو ورکولو نه وروسته د روانیدو اجازه ورکړه.

یو ساعت وروسته قتیبه او نیزك له خیمې نه بهر نعیم له خپل وړوکي پوځ سره وړاندې مخامخ په یوه غونډۍ لیدل چې تیریدل.

نیزك قتیبه ته وویل : ډیر زړور او غیرتي هلك دی.

قتیبه ځواب ورکړ : هو هغه د یوه مجاهد زوی دی.

نیزك بیا پوښتنه وکړه : زه له تا نه دا پوښتنه کوم چې تاسو ولې دومره زړورياست؟

: ځکه چې موږ له مرګه نه ويرېږو، مرګ موږ ته د يوه غوره ژوند پيغام دی، د الله لپاره د ژوند هيله او د الله لپاره د مرګ حوصله چې څوك يو ځل ترلاسه کړي د هغه په زړه کې بيا د هيڅ لوی ځواك نه ويره نه وي.

: ستاسو د قوم هر سړی همداسې زړه ور دی ؟

: هو ! هر هغه سړی چې په رښتيا يې په توحيد او رسالت ايمان راوړی وي.

*****

(٤)

ابن صادق د قوقند په يوه ډير خوندي ځای کې پناه اخيستې وه، د يوې درې څلورو خواو ته جګ غرونه درې ته د ديوالونو او برجونو په څير وو، د غرونو آزاد او سرکش خلك په وړوکو وړوکو دلګيو کې په دې دره کې راټوليدل، ابن صادق هغوی په نريو لارو نزاق ته استول، د هغه جاسوسانو د مسلمانانو د حرکت او تګ راتګ احوال ورته راوړ، ابن صادق په دې ډاډه ؤ چې مسلمانان تر يخنی ختيمدو وړاندې يرغل نه کوي، هغه پردې هم ډاډه ؤ چې دې ډير ترې لرې دی او له سازش او دسيسې نه يې دوی نه خبرېږي او که ترې خبر شي هم د يخنی د موسم له تيريدو نه وړاندې دې لورې ته نشي راتلای، که د ژمي له تيريدو وروسته يې دې لورې ته مخه وکړه نو د خدای ځمکه پراخه ده.

يوه ورځ جاسوس خبر راوړ چې نعيم له پوځ سره را روان دی نو هغه ډير وارخطا شو.

بيا لږ راسنبال شو پوښتنه يې وکړه : څومره پوځ ورسره دی؟

جاسوس ځواب ورکړ : يوازې درې سوه تنه .

ټول درې سوه تنه ! يوه تاتاري ځوان په کرس کرس وخندل ويې ويل

ابن صادق وويل : ته ولې خاندې ! دغه درې سوه تنه ماته د ترکستان او چين له ټول پوځ نه ډير خطرناك ښکاري.

تاتاري وويل : ته باور وکړه چې هغوی به تردې ځايه له را رسيدو

وزاندی زموږ تر دبرو لاندی شی.

د نعیم تصور ابن صادق ته تر مرګ زیات سخت ؤ. له هغه سره تر اوه سوه تنو زیات تاتاري پوځیان وو خو بیا یې هم پر هغوی د بری داد نه ؤ. هغه پوهیده چې په خلاص ډګر کې له مسلمانانو سره مقابله ګرانه ده. نو په ټولو غرنیو لارو یې تاتاري پهرې ودرولی او د نعیم د راتګ انتظار یې وکړ.

نعیم د ابن صادق درک ولګاوه او د شمال ختیځ په لور یې مخه کړه. په دې هسکه تیټه لاره اسونه ډیر کرار تلل. په لوړو ځوکو واوري ځلیدې، او لاندې په دره کې ځای ځای ګڼ ځنګلونه وو. خو د واورې د موسم په وجه یې د پانو نښه هم نه وه. نعیم د یوې لوړې غونډۍ ترڅنګ په یوه نرۍ لاره تیریده چې ناڅاپه پرې له پاسه تاتاریانو د ډبرو باران پیل کړ. څو تنه سپاهیان ټپي شول او له اسونو وغورځیدل په پوځ یې هیبت پریوت او ګډوډي پیل شوه. پنځه تنه له اسونو سره ورغړیدل او لاندې په یوه ژوره کنده کې ولویدل. نعیم خپلو ملګرو ته له اسونو نه د پلی کیدو حکم وکړ. پنځوس تنو ته یې امر وکړ چې ټول اسونه له دې غونډۍ نه لرې لرې امن ځای ته ورسوي او همالته انتظار وکړي . پخپله له دوه نیم سوه تنو سره پیاده پر غونډۍ ور پورته شو. له پاسه همغسې د ډبرو باران و. مسلمانانو په خپلو سرونو ډالونه نیولي و او د غونډۍ سرته د ختلو په هڅه کې وو. تر څو کې پورې د نعیم شپیته تنه سپاهیان د ډبرو نښه شوې او غورځیدلي وو. د غونډۍ پرسر نعیم له پاتې سپاهیانو سره په پوره زور حمله وکړه. د مسلمانانو د ارادې او حوصلې په وړ اندې د تاتاریانو پښې وښویدې. هغوی له څلورو خواونه راټول شول ابن صادق یې په منځ کې ؤ او دوی یې حملې ته هڅول. کله چې د نعیم نظر پرې ولګید په جوش راغی او د الله اکبر نارې یې اوچته کړه. په یوه لاس کې یې توره او په بل کې یې نیزه واخستله او پر مخ روان شو. تاتاریان یو پر بل پسې له جګړې نه وتښتیدل. ابن صادق پرځان ودار شو. هغه پاتې پوځ پریښود او یوې خواته وتښتید. د نعیم سترګې په همغه بښخې وې. هغه یې چې په تیښته ولید ورپسې شو. ابن صادق له غونډۍ نه ښکته شو. هغه د ضرورت په وخت کې د ځان

ژغورلو بندوبست د مخه کړی ؤ د غونډی په بیخ کی یو سړی له دوو اسونو سره ولاړ ؤ، ابن صادق په منډه په یوه اس پښه واړوله او اس ته یی پونده ورکړه، د ابن صادق ملګری لا پښه په رکاب کی نه وه ایښی چی نعیم د نیزی ګوزار پری وکړ او لاندی یی راوغورځاوه پخپله د هغه په اس سپور شو او په ابن صادق پسی یی خوشی کړ.

نعیم به پخپله ویل چی ابن صادق د ګیدړی غونډی چالاك او مکار ؤ، هغه د ماتی خوړولو په صورت کی د ځان د ژغورنی پوره پوره بندوبست کړی ؤ ، دنعیم او ابن صادق ترمنځ فاصله ډیره نه وه، خو نعیم ته لږ شیبه وروسته دا معلومه شوه چی د دواړو ترمنځ فاصله ورو ورو زیاتیږی او دده اس د ابن صادق نه ډیر کراردی.

بیا هم نعیم هغه پرینښود او څاره یی.

ابن صادق د غرونو له لمنی نه دری ته ښکته شو په دره کی ځای ځای ګڼی ونی وی، یو ځای د ونو په منځ کی ابن صادق څو تنه سپاهیان درولی وو، هغه چی ور ورسید په منډه یی اشاره ورته وکړه او دوی دونو شاته غلی شول.

نعیم چی کله ورته راورسید یو غشی راغی په مټ یی ولګید خو ده څه پروا ونه کړه او په ابن صادق پسی یی همغسی اس زغلاوه څوګامه وړاندی بل غشی راغی او په پښتی یی ونښت، یو بل غشی د اس په خیټه ولګید او آس تر پخوانه زیات ګړندی شو، نعیم د خپل مټ او پښتی غشی وایستل خو د ابن صادق تعقیب یی پرینښود لږ وړاندی چی نور ولاړل یو بل غشی د نعیم پر ملا ونښت، د هغه پخوا هم ډیره وینه بهیدلی وه، اوس یی ددی دریم غشی نه وروسته مقاومت ځواب ورکړ خو تر څوبی چی حواس پر ځای وو د مجاهد په همت کی بدلون رانه غی او د اس رفتار یی کم نه کړ د ونو لړی پای ته ورسیده او یو پراخ میدان یی مخی ته راغی خو ابن صادق اوس ډیر وړاندی تللی ؤ او په نعیم کمزوری غلبه وکړه، په سترګو یی تیاره راتله، سر یی پری څرخیده او په غوږونو کی یی کرنګهار او شرهار جوړ شو، نور نا توانه شو اس یی ودراوه او تری پلی شو او بیا پرمخی ولوید او بی سده شو، په دی بی سدی کی ډیر ساعتونه پری تیر

شول، او کله چې په هوش راغی نو د چا د سندرې غږ یې تر غوږ شو، د نعیم غوږونه له داسې نرمو غږونو سره له ډېرې مودې وروسته آشنا شول، هغه تر ډېره پورې د نیم بې خودۍ په حالت کې دا نغمې اورېدې.بالاخره یې همت وکړ او سر یې راپورته کړ، هغه ته نژدې څو پسونه څرېدل، نعیم د سندر غاړې لیدل غوښتل خو د کمزورۍ په وجه یې بیا په سترګو تیاره راغله او له مجبورۍ یې سر بیرته په ځمکه کېښود، یو پسه نعیم ته نژدې راغی او خوله یې د نعیم غوږونو ته ورنژدې کړه بوی یې کړ، او په خپله ژبه یې خپل یوه همجنس ته ناره وکړه، دوهم پسه په خپله ژبه دغه پیغام نوروته ورساوه، او نعیم ته ورنژدې شو، په څو شیبو کې د نعیم شاوخواته پسو نه راټول شول او وبغېدل، یوه غرنۍ پېغله چې خنجر یې په لاس کې ؤ وړوکي وړي یې ځغلولو او سندرې یې ویلې وړاندې راتله او چې په یوه ځای یې پسونه راغونډ ولیدل ورنژدې شوه او چې هلته یې نعیم په وینو کې لوند خیشت ولید یوه وړه کریږه یې له خولې ووته نوره هم ورنژدې شوه او بیا نعیم ته په څوقدمۍ کې حیرانه ودریده.

نعیم د نیم بې هوشۍ په حالت کې سر راپورته کړ او ویې لیدل چې د فطرت د ښکلاګو بشپړ انځور یې د غرنۍ پېغلې په بڼه مخې ته ولاړ دی او دې ته ګوري، د هغې له لوړې ونې سره د بدن د اعضا ؤ تناسب ددې معصوم ښایست نور هم څو چنده کاوه.

ددې د پنډۍ او زېړې تو تې نه جوړې ساده جامې له هر څه نه بې نیازه وې، د سمور یوه ټوټه یې په غاړه راپیچلې وه، پر سر یې یوه خولۍ وه، د ټجلی مخ لپ اوږد ؤ، خو دومره اوږد چې یوه ښکلې بڼه پرې له وقاره ډکه ښکاریدو ته ضروري وې، غټې غټې تورې سترګې، نرۍشوندې چې تازګی یې د پسرلي د ګلانو له پاڼونه ډېره زیاته وه، پراخه تندی او مزبوته زنه په ګډه د حسن یو داسې شاهکار ؤ چې رعب یې هم درلود، او دایی ښکارولهٔ چې د ښکلا په اړه د لوېدځ او ختیځ د خیال رنګ او بوی په همدې مجسمه کې راټول شوي دي، نعیم ته هغه په یوه نظر عذرا او په بل زلیخا ښکاره شوه ځوانې ټجلې د نعیم پر بدن د وینو داغونه ولیدل او د لومړي لیدو په وارخطايي راقابو شوه ورووړاندې شوه جرئت یې وکړ ویې ویل: ته ټپي یې؟

نعیم په ترکستان کې د اوسیدو په وخت کې تاتاري ژبه ډېره زده کړې وه هغه د پیغلې د ځواب پرځای د جګیدو هڅه وکړه خو بیایې سرو څرخید، بې سده شو او پریوت.

# نرگس

کله چې نعیم بیا را په خود شو د بهر میدان پرځای د ډبرو په یوه کور کې په یوه کوټه کې پروت ؤ. څو تنه ښځې او نارینه ترې را چار پیرو او هماغه ښکلې نجلۍ چې ښه یې ښه په ذهن کې پاتې وه په یوه لاس کې د شیدو پیاله او په بل یې دده سر راپورته کړی ؤ.
نعیم له لږ څند وروسته په پیاله شونډې کیښودې، څو غوړ په شیدې یې چې وڅښلې د لاس په اشاره یې وپوهول چې بس دی، نجلۍ بیرته په بستره څملاوه او پخپله هم یوې خواته کښیناسته، نعیم د کمزورۍ په وجه کله سترګی غړولی او دی نجلۍ او شاوخوانورو خلکو ته یې کتل او کله به یې پټې کړې. یو زلمی په دروازه کې ولاړ ؤ د هغه په یوه لاس کې لینده او په بل کې نیزه وه.
نجلۍ هغه ته وکتل ویې ویل : رمه دې راوستله ؟
: هو رامې وستله او اوس ځم.
: چیرته ؟
: ښکار ته ځم، ما نن یوځای یوه لیدلی ده، ډیره لویه ده.
دی خو اوس آرام دی؟
: هو لږ په هوښ راغی.
: تایی په تېونو پټی کیښودی؟
: نه ما ستا انتظار کاوه، زه یې دا نه شم ایستلی، نجلۍ دنعیم زغرې ته اشاره وکړه.
ځوان راوړاندی شو نعیم یې را پورته کړ زغره یې ترې لرې کړه کمیس

یی پورته کړ او زخم یی ولید، پټۍ یی پری کیښوده او ویی ویل: ته پرېوزه زخم ډیر خطر ناك دی ، خو په دی ملهم به ډیر ژر روغ شی.

نعیم بی له دی چی څه ووایی پریوت، او ځوان بهر ته ووت، له هغه نه وروسته نور خلك هم یو پر بل پسی بهر ته ووتل.

نعیم اوس سم په هوش راغلی ؤ ، دهغه دا گومان لری شوی ؤ چی مړ شوی دی او اروایی په فردوس جنت کی گرځی، هغه نجلۍ ته وکتل پوښتنه یی تری وکړه : زه چیرته یم؟

: ته اوس زموږ کره یی ، ته بهر بی هوشه پروت وی.مامی وروردرباندی خبر کړ هغه دلته راوړی.

: ته څوك یی؟

: زه رمه پیایم.

: نوم دی څه دی؟

: نرگس.

: نرگس!

: هوکی.

نعیم ته چی ددی په لیدو دوه څیرې نورې سترگو ته دریدې ددې په نامه یی دوه نومونه نور هم ورپه یاد شول، ده په زړه کی عذرا ، زلیخا اونرگس تکرار کړل، او په ژورو سوچونو کې یې سترگې په چت میخ شوی.

ته به وږی شوی یی؟ نجلی دده پام ځان ته وراړولو ویی ویل او بیا جگه شوه له بلی کوټی نه یی څو دانی منی او وچه میوه راوړه نعیم ته یی په مخکی کیښوده. د تکیی لپاره یی یو پوستین شاته ورته کیښود. نعیم څو دانی منی وخوړی له نرگس نه یی پوښتنه وکړه :

هغه زلمی چی اوس راغلی ؤ څوك دی؟

: هغه زما کشر ورور دی .

: نوم یی څه دی؟

نرگس ځواب ورکړ: هومان.

له نرگس نه دڅو نورو پوښتنو نه هغه ته معلومه شوه چی پلار او مور یی مړه شویدی او دکشری ورور سره یی په دی ووړکی کلی کی اوسیږی ، او

هومان ددی شپنو د وروکی کلی مشر دی چی تول هستوگن یی نژدی شپږ سوه تنه دی.

مابنام مهال هومان کورته راغی او ویی ویل چی ښکاریی په لاس ورنغی.

نرگس او هومان دنعیم په خدمت او علاج کی هیڅ تنبلی ونه کړه ، دشپی مهال تر ډیره ناوخته پوری له نعیم سره ناست وو او چی کله نعیم ویده شو نونرگس جگه شوه بلی کوټی ته ولاړه او هومان نعیم ته نژدی د ویښو پر بستره پریوت.

توله شپه نعیم ډیر په زړه پوری خوب لیده، له عبدالله نه د رخصتیدو نه وروسته دا لومړی ځل و چی نعیم د جگړی له میدان نه پرته داسی ښکلی خوب لیده او د هغه خیالونو کوم بل ځای ته ورسره وړی ؤ.

کله به یی لیدل چی مرحومه موریی په زخمونو پټی ږدی، او د عذرا له مینی ډك نظر ده ته د داد پیغام ورکوی، کله به یی لیدل چی د زلیخا نورانی څیره ده د زندان تیاره کوټه رڼا کړی ده.

سهار یی چی سترگی وغړېدلی ویی لیدل چی بیا نرگس پیاله په لاس کی ولاړه ده او هومان دی راویښوی.

د نرگس شاته د کلی یوه بله نجلی هم لاس په نامه ولاړه ده او ده ته گوری.

نرگس هغی ته وویل : کینه زمرد، او هغه چوپه یو څنگ ته کیناستله.

نعیم له یوی هفتی وروسته د گرځیدو راگرځیدو وړ شو. او له دی معصوم او سپیځلی ماحول سره یی مینه پیدا شوه د کلی خلکو د وزو او میږو په ساتنه گوزاره کوله، په شاوخوا کی د ډیرو ښو ورشو گانو په سبب د دوی حالت ډیر ښه و، ځای ځای د انگورو او منو باغونه هم وو، د وزو او میږو له پاللونه پرته ددی خلکو بل شغل د سارایی ځناورو ښکار ؤ، د کلی خلك به په ښکار پسی تر لرې لرې واورینو غرونو پوری تلل او د میږو پوول زیاتره د ځوانو ښځو کار ؤ، دی خلکو د هیواد د سیاسی حالاتو سره هیڅ کار نه درلود، دوی د تاتاریانو له بغاوت او یا ایلیدو سره علاقه نه درلوده، د شپی مهال به د کلی ځوانان او پیغلی یوه ځای ته راټولیدل، سندری به

یی ویلی او اتڼ به یی کاوه، لږ وروسته به ښځی خپلو کورونو ته ستنی شوی خو نارینه به ډله ډله سره کیناستل او تر ناوخته پوری به یی مجلسونه او تکلونه کول، چا به د پخوانیو زمانو د پاچاهانو کیسی کولی، چا به د خپل کوم ښکار په زره پوری پیښه یادوله، او چا به د پیریانو، شیشکو او دیوانو افسانوی داستانونو ته غوږ ایښی ؤ. دغه خلك تر یوه حده وهمی او خرافاتی وو، ځکه یی د پیریانو او دیوانو کیسی ډیری په مینه اوریدی، اوس له څو ورځو راسی د دوی د خبرو موضوع یو شهزاده هم ؤ، چا به یی د قد او ځوانی یادونه کوله او چا به یی د جامو ستاینه کوله، او څوك به دده د تپی کیدلو او دی کلی ته په رارسیدلو حیرانی وری وو، ځینو ویل چی موږ شپنو ته خدائ یو پاچا را استولی دی، او دی به هومان خپل وزیر وټاکی، د کلی خلکو نعیم ته شهزاده لقب ورکړی ؤ.

په کلی دا آوازه هم شوه چی شهزاده به نرگس خپله ملکه وټاکی د کلی نجونو د نرگس په نصیب رشك کاوه، هغه ته به یی د شهزاده د محبوبی په نامه مبارکی ویله او په خبرو خبرو به یی ځو روله، په نرگس به ظاهراً دغه خبری بدی لگیدی خو زره به یی د خپلو سهیلیو په داسی خبرو په درزا شو، په سپین رخسار به یی سرخی په نخاشوه، او ددی غوږونه به د نعیم په ستاینه کی د هری نوی جملی اوریدلو ته ناکراره وو، نعیم له دی خبرونه نا خبره د هومان په کور کی د ژوند ډیری آرامی شپی تیرولی، د کلی نارینه او ښځی هره ورځ ورتلل دی به یی لیدلو او هیرته به تلل، ده به په ورین تندی د خپلو حال پوښتونکو هر کلی کاوه او مننه به یی کوله.

خلکو هغه یو شهزاده باله او د ادب مراعات به یی کاوه له ده نه به لری اوسیدل، او د روغتیا او صحت د معلوملو لپاره به یی له پوښتنو هم دده کوله.

د نعیم ورین تندی او نیك خوی ډیر زر هغوی ورسره بلد کړل، او دی خلکو په درناوی او ادب برسیره له نعیم سره مینه هم کوله.

*****

(۲)

یو ماښام نعیم لمونځ کاوه، نرگس د کلی له څو نورو سهیلیو سره په

دروازه کی ورته ولاړه وه او په حیریی دده د حرکاتو ځارنه کوله.

یوی نجلی په حیرانی وویل : دا څه کوی؟

زمرد په معصومیت ځواب ورکړ : دا شهزاده دی او د شهزادګانو عادتی کار کوی، وګوره په څومره دبدبه جګیږی او ټیټیږی.. نرګس ته هم داسی کوی ؟

نرګس په شونډو ګوته کیښوده ویی ویل : چوپ.

نعیم لمونځ پای ته ورساوه او په دعا یی لاس وغځول، نجونی له دروازی نه لږ لری شوی او خپل مجلس یی کاوه،

زمرد وویل : څه نرګس ! هلته به مور ته انتظار کوی.

: ما مخکی هم درته ویلی چی زه هغه یوازی نشم پریښودلای

: راځه دی هم له ځانه سره بوزو.

: کم بختی ! ما غزه خو به دی نه وی خراب شوی، دی شهزاده دی که د لوبو او ساعت تیری شی ؟ بلی نجلی وویل .

دوی لا خبری کولی چی هومان په اس سپور راورسید هغه له اس نه پلی شو نرګس ور وړاندی شوه د آس جلب یی ونیو، هومان نیغ د نعیم کوټی ته ورننوت،

زمرد وویل : راځه نرګس ! اوس خو به د تا وروو ورسره وی.

بلی نجلی هم وویل : نرګس راځه !

راځه راځه یی ویل او په دیکو نورو نجونو نرګس یوه لوری ته ورسره په مخه کړه.

هومان چی کوټی ته ورننوت نعیم پوښتنه وکړه ویی ویل :

ووایه وروره څه احوال دی راوړی دی؟

هومان ځواب ورکړ : ما هغه ځایونه ولیدل او راغلم ستا د پوځ می هیڅ نخښنه ونه لیده، ابن صادق هم چیرته غلی شوی دی، ما ته د یوه سری له خولی معلومه شوه چی ستاسو پوځیان په نژدی وخت کی پر سمرقند حمله کوی.

هومان او نعیم تر دیر ځنډه خبری سره کولی.

نعیم د ماسخوتن لمونځ ادا کړ او د خوب په اراده وغځید، هومان جګ

شو او بلې کوټې ته تلو چې د کلي د خلکو د سندرو غږ یې واورید.

هومان ووېل : تا زموږ د کلي د خلکو سندرې نه دي اورېدلې؟

: ما دلته د غځېدو په حالت کې څو ځله اورېدلي دي.

: راځه زه دې هلته بوزم، دغه خلك چې تا ووینې زیات به خوشحاله شي، تاته معلومه ده هغوی پر تا د شهزاده گومان کوي.

نعیم موسکی شو ویې ویل : شهزاده ! په موږ کې نه څوك پاچا شته نه شهزاده.

: ته یې له مانه ولې پټوې؟

: ماته په پټولو کې څه گټه ده؟

: نو ته څوك یې ؟

: یو مسلمان.

: بنایي هغه چاته چې تاسو مسلمان وایی، موږبه ورته شهزاده وایو د سندر غاړو غږونه اوچتیدل، هومان په غور اورېدلې هغه بیا ورته ووېل راځه چې ځو، د کلي خلکو څو ځلې له مانه هیله وکړه چې تا ورولم. خو ما ستا د مجبورولو جرئت نه کاوه.

نعیم ووېل : ښه ده راځه چې ځو!

څو تنو سرنۍ او ډول واهه او یوه بوډا تاتاري سندره ویلله نعیم او هومان چې خیمې ته ورننوتل تر لږ ځنډه چوپتیا خوره شوه.

هومان ورته ووېل : تاسو ولې چوپ شوی سندرې وایی!

او بیا سندرې یو ځل بیا پیل شوې.

یوه تن پوستین وغوړاوه او له نعیم نه یې هیله وکړه چې پرې کښیني، نعیم له لږ دوه زړه توبه وروسته پرې کښیناست، د ساز غږوونکو چې نغمه بدله کړه نو نارینه او ځوانی جگ شول او یو د بل لاسونه یې ونیول اتڼ یې پیل کړ. هومان هم ورجگ شو د زمرد لاس یې ونیو او په اتڼ ورگډ شو.

نرگس یوازې ولاړه وه او نعیم ته یې کتل، یو بوډا شپانه جرئت وکړ هغه ته ورنژدې شو ویې ویل : ته هم جگ شه ستا ملگرې ستا انتظار کوي.

نعیم نرگس ته وکتل، نرگس سترگې ښکته واچولې، نعیم چوپه خوله له هغه ځایه جگ شو او له خیمې نه راووت، د هغه له وتلو سره سم یو ځل بیا

په خیمه کې چوپتیا شوه.

هغه زموږ اتڼ نه خوښوي زه به یې خیمې ته ورسوم او بیا به راشم، هومان دا وویل بهرته راووت او په منډه نعیم ته ورغی.

هغه ته یې وویل : ته ډیر وویریدې!

نعیم ورته وویل : اوه ته هم راغلې !

: زه تا کوټې رسوم او بیرته راځم.

: نه ته درځه زه لږ دلته چکر وهم بیا په خپله کور ته ځم.

هومان بیرته ستون شو او نعیم په کلې شاوخوا وګرځید او بیا د خپل هستوګنځي سره نژدې په یوه ډبره کیناست او د ستورو ننداره یې کوله، د هغه په زړه کې ډول ډول خیالونه راوګرځیدل:

زه دلته څه کوم؟ دلته باید ډیر پاتې نه شم، تر یوې هفتې پورې به پراس سپریدلی شم، زر باید روان شم، دا کلي د غازي له دنیا نه ډیر بیل دي خو دغه خلك ډیر ساده ګان دي، دوی باید سمې لارې ته راوستل شي، نعیم لا په همدې سوچونو کې ؤ چې له شانه یې د چا د پښو غږ واورید، شاته یې وکتل نرګس وه چې دده په لوري را روانه وه، هغې سوچ کاوه او ګامونه یې اخستل نعیم ته ورنژدې شوه او په ویریدلې لهجه یې ورته وویل :

ته په دې یخنۍ کې بهر ناست یې.

نعیم د سپوږمۍ په زړه وړونکې رڼا کې هغې ته وکتل، هغه ښکلې هم وه او معصومه هم، نعیم وویل : نرګس تا خپلې ملګرې پریښودلې ولې راغلې؟

: ته راغلې ... ما ویل ... ته به یوازې یې.

نعیم ددې په نیمه ژبه او ژوولیو الفاظو کې زیاتې نغمې اوریدلې.

یوه شیبه چوپ او آرام شو او نرګس ته یې کتل، بیا ناڅاپه جګ شو او چوپه خوله یې اوږده ګامونه واخستل خپلې کوټې ته ولاړ.

دنرګس غږ یې تر ډیره په غوږو کې کرنګیده په بستره وغځید او اړخ په اړخ اوښت.

سهار وختې د نعیم سترګې وغړیدې، جګ شو بیرته ووت په چینه یې اودس وکړ خپلې کوټې ته راغی او لمونځ یې ادا کړ او بیا د چکر لپاره بهر

ته ووت، کله چی بیرته راستون شو ویی لیدل چی دده د لمانځه پرځای هومان ولاړ دی او د رکوع او سجدی تمرین کوی.
نعیم غلی په دروازه کی ودرید او د هغه بی ریا تقلید ته یی خندل، او کله چی هومان کښیناست او بیا یی له لږ شونډو پسولو وروسته د نعیم په تقلید ښی او کیڼ لور ته مخ واړاوه پر نعیم یی سترگی ولگیدی وارخطا غوندی اوچت شو او په خپله وارخطایی یی د قابو کیدو هڅه وکړه ویی ویل:
ما ستا پیښی کولی، د کلی زیاتی ځجونی او هلکان وایی چی انسان په دی کار دیر ښه ښکاری.
زه چی د تاکوتی ته راننوتم نو نرگس می ولیده چی همداسی یی کول ... او ما هم ... !
نعیم ورته وویل : هومانه ! ته په هر څه کی ولی زما د پیښو هڅه کوی؟

ځکه چی ته زموږ نه غوره یی او ستا هره خبره او کړه وړه له موږ نه: غوره دی.
: ښه ده نن د کلی ټول خلك راټول کړه، زه هغوی ته څه وایم.
: هغوی به ستا په خبرو دیر خوښ شی، زه هغوی همدا اوس راټولوم، دایی وویل او هومان له کوټی نه ووت.
له ماسپښین نه وړاندی د کلی ټول خلك په یوه ځای کی راټول شول، نعیم په لومړی ورځ د خدایٔ او رسول ستاینه وکړه، دوی ته یی وویل چی اور، ډبری او ټول کاینات الله پیدا کړی او مخلوق دی. ددی شیانو جوړوونکی هیرول او د هغه د مخلوقاتو عبادت او لمانځنه د عقل خلاف ده، زموږ د قوم حالت هم ستاسو په څیر ؤ، هغوی هم د ډبرو بوتان جوړول او بیا به یی د هغو عبادت کاوه، خو په موږ کی یو د خدای «ج» غوره بنده را پیدا شو هغه موږ ته نوی لاره وښودله، نعیم د رسول الله «ص» د ژوند حالات بیان کړل، دغسی یی څه نوری خبری وکړی او د کلی خلك یی اسلام ته ور وبلل له ټولو نه وړاندی نرگس او هومان کلمه وویله.
په څو ورځو کی په دی کلی کی پوره بدلون راغی، د دوی په زړه وړونکو ورشوگانو کی د نعیم د آذان زړه وړونکی تکبیرونه وکړنگیدل.

او د اتڼ او سرود پرځای پنځه وخته لمنځونه پیل شول.

نعیم اوس روږد رمتږ شوی ؤ، هغه خو ځلی د بیرته ستنیدو اراده وکړه، خو د واوری اوریدو په وجه د غرونو لاری بندی وی او هغه ته له څه وخت نور تم کیدو پرته بله چاره نه وه.

نعیم بیکاره کښیناستل او ورځ تیرول سنه نه گڼل او پری عادی نه ؤ ځکه به کله کله د کلی له خلکو سره ښکار ته تلو.

یوه ورځ نعیم د یږی په ښکار کی ډیر زیات جرئت وکړ، یوی یږی د یوه ښکاری په غشی له زخمی کیدو وروسته پر دوی تونده حمله راوړه او د ټولو ښکاریانو وارخطا شو او ټول د لویو لویو ډبرو شاته غلی شول په یږه یی غشی اورول.

نعیم په ډیر داډه زړه پر خپل ځای ولاړ ؤ، یږی په غوسه پری حمله وکړه، نعیم په کیڼ لاس پر ډال هغه دفعه کړه او په ښی لاس یی نیزه په گیډه ورښخه کړه.

یږه په شا ولویده خو بیا راپورته شوه او پر نعیم یی حمله وکړه، په دی ځنډ کی نعیم توره راکښلی وه یږی توپ کړل خو د نعیم توره یی په ککره ور برابره شوه یږه وغورځیده و رپیدله او مړه شوه، ښکاریان له خپل خپل ځای نه راپورته شول او په حیرانی یی نعیم ته کتل، یوه ښکاری وویل تر اوسه پوری دومره لویه یږه کوم ښکاری نه وه ښکار کړی. که ستا پر ځای زموږ څوك وای نو خیر یی نه ؤ، تا تراوسه پوری څو یږی وژلی دی؟

نعیم توره بیرته په تیکی کی واچوله ویی ویل: دا لومړنۍ ده، هغه په حیرانی وویل: لومړنۍ! ته خو ډیر تجربه کار ښکاری معلومیږی.

دهغه په ځواب کی یوه بوډا ښکاری وویل: د زړه زرورتیا ، دمتو همت او د توری تیره والی ته دتجربی اړه نشته.

*****

(۳)

اوس دکلی خلکو ته په هر دلیل نعیم دانسانیت یوه لوړه نمونه ښکاریدو، اودده هره خبره او کړه وړه یی دتقلید وړ بلل، په دی کلی کی یی دوه دوه نیمی میاشتی تیری شوی، دهغه باور ؤ چی قتیبه به تر پسرلی وړاندی

کومې خواته حرکت ونه کړي، ځکه خويې ظاهراً هلته د اوسيدو لپاره څه خند نه ؤ، خو يوه نوي احساس نعيم تر يوى اندازې اندېښمن کړى ؤ. د نرګس عکس العمل دده په ارام زړه کې هيجان را پورته کاوه، هغه په خپل ګومان د ځوانى د رنګينو خوبونو نه بې پروا شوى ؤ، خو د طبيعت رنګينى او ښکلا دده په زړه کې د ويدو فتنو د راويښولو هڅه کوله، نرګس دخپلې ښې، اخلاقو او عادتونو له مخې دده کلى دنورو خلکو سره ډير توپير درلود، په پيل کې چې دکلى خلک له نعيم سره بلد نه وو نرګس له ده سره ځان بلد کړ، خو کله چې دکلى خلک ورسره بلد شول نو ددى بلدتيا په تکلف بدله شوه، دمينى جوش به دنعيم کوټې ته بوتله، خو د ويرى جوش به له څو شيبو وروسته ترى وايستله، هغه به کوټې ته په دى نيت ورننوته چې تروله ورغ به يې په خپلو بې تابه سترګو ګورى خو چې د نعيم مخې ته به ورغله دا خيال به يې غلط ثابت شو، د خپلو هيلو او آرزوګانو مرکز ته به يې يو ځل وکتل او سترګې به يې ښکته واچولې او د زړه د زاريو ، منتونو او هيلو او زورورو غوښتنو سره سره به يې د بيا سترګو پورته کولو جرئت نه ؤ او چې کله به يې دا جرئت وکړ نو حيا به ددى او نعيم تر منځ يو پوښ شو، په دامى حالاتو کې به يوازې يو څه ددى دزړه کرار شو چې نعيم هم ورته ګورى، خو کله به يې چې نعيم ته وکتل او هغه به يې په ژورو سوچونو کې ډوب ليده چې ښکته ګورى او د پوستين له ويښتانو سره لوبيږى او يا د تنکيو وښو ډنډر ماتوى، نو ددې په زړه کې تازه شوى سکروټې به ايرې ايرې شوې، د بدن په هر رګ کې به يې يخې څړيکې را وګرځيدې، په غوږونو کې به يې د ځوانى د نغمو آزانګې چوپې او خيالونه به يې ګډ وډ شول، په زړه به يې يوله زغم نه دروند بار احساس کړ په ارمانجنو سترګو به يې نعيم ته وکتل او له کوټې به ووتله.

په پيل کې د يوې معصومې نجلۍ مينه د انسان په زړه کې د ارادو توپانونه او دخيالونو هيجان او ولولې را پاروى هلته زيات وهمونه هغه د څه کولو او خوځښت له جرئت نه غورځوى.

نعيم د نرګس دخيالونو ، آرزوګانو او خوبونو د وړوکى دنياګۍ مرکز شو، د هغې حال دخوښيو او سرورونو نه ډک ؤ، خو کله به يې چې د

راتلونکي په باب سوچ کاوه بي شميره وهمونه به ورته رامخي ته شول او په اندېښنو به لاهو شوه.

دا به هغه ته دمخي ته ورتلو پر ځاى خپلو خيالونو دخوښيو دنيا ته ورسره يووړه، او کله به دکومي خيالي ويرې تصور هغه تر ډېره ناکراره کړى وه، دنعيم غوندې ذهين انسان په وړاندې د نرگس د زړه د حالت اټکل گران نه ؤ. هغه دخپل تسخير له ځواك نه ناخبره نه ؤ خو له ځانه سره يې تر اوسه پورې دا پرېکړه نه وه کړې چې پردې فتحه خوښ شي که نه.

يوه شپه دماسختن له لمانځه نه وروسته نعيم هومان وروغوښت او ورته يې ويل چې بيرته ځم، هومان ورته وويل چې زه ستا د خوښي پرخلاف تا نه را گرځوم ، يوازې دا وايم چې د واورينو غرونو لارې لا تراوسه نه دي خلاصې تاسو لږ تر لږه يوه مياشت نور هم پاتې شي، دموسم په بدليدو به ستا سفر آسانه شي.

نعيم ځواب ورکړ: د واورې اوريدو موسم نور تير شوى دى هسې هم د سفر اراده ماته واوريني او سختي لارې او هوارې لارې يو ډول کوي، ماسبا سهار ته د تلو اراده کړې ده.

دومره ژر! سباته دې نه پرېږدم چې ولاړ شي:

: سهې ده سبا به گورو ، نعيم دا وويل او په بستره وغځيد هومان خپلې کوټې ته د تلو په اراده جگ شو ، په لاره کې نرگس ولاړه وه ، هومان يې چې وليد د ونې تنې ته پټه شوه ، هومان چې کله بلې کوټې ته ننوت ، نرگس هم ورپسې ورغله.

هومان ورته وويل: نرگس بهر يخني ده ته چيرته گرځيدې؟

نرگس ځواب ورکړ: چير ته نه ،هسې بهر گرځيدم.

دا کوټه د نعيم له کوټې نه لږ پراخه وه، په غولي يې وچ واښه غوړيدلي وو، د کوټې په يوه کونج کې هومان او په بل کې نرگس پريوته.

هومان: نرگس! نعيم سبا ته دتلو اراده لرې.

نرگس دهومان او نعيم خبرې په خپلو غوږونو اوريدلې وې، خو په دې اړه ددې علاقه دومره وه چې چوپه نه شواى پاتې کيداى.

ويې ويل: نو تا څه ورته وويل؟

: ما ورته وویل چی څه وخت ایسار شی خو ډیر تېنګار نه شم کولای، دکلی خلك به یی په تلو ډیر خفه شی، زه به دوی ته ووایم چی ټول راغونډ شی او هغه له تګ نه ایسار کړی.

هومان له نرګس سره دځو نورو خبرو نه وروسته ویده شو.

نرګس څو ځلی لټ په لټ واوښتله او د ویده کیدوناکامه هڅه یی وکړه ، خو بیا جګه شوه له ځانه سره یی وویل: چی هغه داسی د تلو اراده لری نو ولی راتلو؟

څه په خیـال کی وروګرځیدل او له ځایه جګه شوه ، ورو ورو ولاړه له کوټی ووته ، د نعیم په کوټه را وګرځیده بیا یی ورو دروازه ورخلاصه کړه خو د ننوتلو جرئت یی ونه کړ، دننه شمه بلیده او نعیم پوستین اغوستی ویده ؤ.

دهغه مخ تر زنی پوری لوڅ ؤ، نرګس په زړه کی وویل:

زما شهزاده ته ځی، معلومه نه ده چیرته ؟ ته څه پوهیږی چی تا دلته څه پریښودل او تر ی ځی، او څه له ځانه سره وړی ، ددی غرونو، باغونو او چمنونو ټولی رنګینی در سره وړی او په دی ویرانه کی به خپل یادونه پریږدی.

شهزاده ، زما شهزاده ! نه نه ته زمانه یی، زه ددی لایقه نه یم، په دی سوچونو کی نرګس په سلګو شوه، او بیا کوټی ته ننوته تر لږ ځنډه چوپه ولاړه وه نعیم ته یی کتل.

ناڅاپه نعیم په لټ واوښت، نرګس وویریده، بیرته ووته، چوپه بیرته خپلی کوټی ته ننوته او په بستره وغځیده.

اوف شپه خومره اوږده شوه، هغه څو ځلی جګه شوه کیناستله او دا به یی وویل.

سهار وختی دګیدړی په آذان نعیم راجګ شو او د اوداسه لپاره چینی ته ولاړ نرګس پخوا هلته تللی وه، د نرګس د اټکل پرخلاف د هغی په لیدو حیران نه شو ورته ویی ویل :

نرګس ته نن ډیره وختی راغلی یی ؟

نرګس هره ورځ دونوله شانه غلی غلی نعیم ته کتل، نن دلته له هغه نه د

بې پروايي د شکايت لپاره راغلې وه، خو نعيم چې په دومره بې پروايي ورسره مخ شو د هغې په زړه کې د ولولو اور سوړ شو بيايي هم صبرونه کړای شو په سترګو کې يې اوښکې راغلې ويې ويل :

نن ته روانيږې؟

: هو نرګس ا زه دلته ډير وځنډيدم، تاسو زما په خاطر ډير تکليفونه وګالل، ښايي زه يې منته ونکړای شم خدایځ دې تاسو ته ددې نيکه بدله درکړي.

نعيم دا ويل او په يوه ډېره کښيناست، د چينې په اوبو يې په اوداسه پيل وکړ نرګس نور هم څه ويل غوښتل خو د نعيم چلند يې حوصله ورماته کړه، د زړه توپان يې يو ځل چوپ شو، کله چې د کلي نور خلك دې چينې ته د اوداسه لپاره راغلل نو نرګس ولاړه.

د کلي لويه خيمه چې کله کله به د کلي د خلکو د سندرو او اتڼ ځای ؤ اوس لمانځه ته وقف شوی وه، نعيم له اوداسه وروسته همدغې خيمې ته ننوت، د کلي خلکو ته يې لمونځ ورکړ او له دعا وروسته يې ورته وويل چې زه ځم.

نعيم او هومان دواړه يو ځای له خيمې نه ووتل، او نعيم بيا خپلې کوټې ته ننوت، هومان هم ورسره ننوتلو خو چې شاته يې د کلي خلك وليدل پسته يې ونيوه او بهر ودريد.

يوه بوډا له هغه نه پوښتنه وکړه : ايا دې رښتيا ځې ؟

هومان ځواب ورکړ : هوکې ! افسوس چې هغه نه تم کيږي

: که موږ اصرار وکړو هم نه دريږي؟

بيا هم تاسو ورته ووايي، هغه چې کومه ورځ راغلی ماته داسې ښکاري چې د دنيا پاچاهي زما ده، تاسو زمانه مشران ياست تاسو ورته ووايي ښايي ستاسو خواست ومنی.

نعيم زغره اغوستې او وسله يې تړلې وه بهر راووت.

د کلي خلکو چې وليد په يوه غږ يې شور ماشور جوړ کړ:

موږ تانه پريږدو چې ولاړ شې، موږ دې نه پريږدو.

نعيم خپلو مخلصو کوربنو ته وکتل ويې موسکل او تر لږ ځنډ چوپتيا

وروسته یې لاس اوچت کړ، هغوی ټول یو پر بل پسې چوپ شول.

نعیم دوی ته لنډې خبرې وکړې :

ورونو ! که زه د خپلو ذمه واریو له لامله مجبور نه وای نو ما به څو شپې نورې هم دلته تیرې کړې وای، خو تاسو ته باید معلومه وي چې جهاد داسې فریضه ده چې په هیڅ صورت هم باید له نظره ونه غورځول شي. زه ستاسو له مینې نه د زړه له کومې مننه کوم. هیله کوم چې تاسو ماته په خوښۍ د تلو اجازه راکړئ.

نعیم لا خبرې نه وې خلاصې کړې چې یوه وړوکي هلك چیغې کړې: موږ تا نه پرېږدو چې ولاړ شې، نعیم ور وړاندې شو کشرۍ هلك یې اوچت کړ او هغه یې په غیږ کې ونیو ویې ویل : ماته به ستاسو نیکي تل په یا دوي، ددې کلي خیالونه به مې تل خوښ ساتي، زه چې کله دې کلي ته راغلم نو یو پردی وم، اوس څو هفتې وروسته چې ترې ځم نو داسې احساسوم چې له خپلو ګرانو ورونو نه جدا کیږم. که د خدای «ج» خوښه وه زه به یو ځل بیا دې کلي ته راشم.

له دې نه وروسته نعیم د کلي خلکو ته څو نصیحتونه وکړل، او له دعا وروسته یې له هر یوه نه په لاس خدای پاماني واخسته هومان:هم د نورو په څیر د خپلې خوښۍ پرخلاف راضي شوی ؤ.

هغه نعیم ته خپل ښایسته سپین آس راوست او په ډیر خلوص یې هیله ترې وکړه چې دغه سوغات یې ومني.

نعیم د هغه مننه وکړه، هومان او د کلي پنځلس تنو نورو ځوانانو له ده سره جهاد ته د تلو اراده وکړه خودنعیم په دې وعده چې خپل سنګر ته ورسیږي د ضرورت په وخت کې به دوی راوغواړي دوی بیرته داده شول او پاتې شول.

نعیم له رخصتیدو نه وړاندې یوه او بله خوا وکتل خو نرګس یې چیرته تر سترګونه شوه، ده د هغې نه له خدای پاماني پرته تلل نه غوښتل خو اوس د هغې په اړه له چانه پوښتنه هم مناسبه نه وه.

د هومان سره د خدای پاماني په مهال نعیم د ښځو ډلې ته پام شو او سرسري نظر یې پرې واچاوه، نرګس دده د کتو په مطلب وپوهیده او له ډلې

نه لږ لري يوې خواته ودريده، نعيم په آس سپور شو، نرگس ته يې وروستي ځل وکتل، دا لومړي ځل ؤ چې د نرگس سترگې د نعيم د سترگو نه ونه رپيدلې.

هغه د ډبرې د يوه بوټ په څير وه او په ړدو ړدو يې نعيم ته کتل، نعيم د درد له دې زوره خبر ؤ، چې په سترگو کې اوښکې هم و چې کړي، هغه ددې زړه سوځوونکې ننداري تاب نه درلود، زړه يې ډك شو، خو له تگ نه ورته پښيمانه کيدل گران ښکاريدل، نعيم بلې خواته مخ واړاوه هومان او د کلي څو نور خلك له ده سره تر يوه ځايه د تلو ليوال وو، خو ده هغوی ټول ايسار کړل او اس يې پونده کړ.

خلك په لوړو لوړو غونډيو وختل او ده ته تر وروستي ليدو پورې يې ورپسې کتل، خو نرگس په هماغه ځای ولاړه وه او داسې يې گڼله چې پښې يې په ځمکه کې ښخې شويدې او د خوځيدو ځواك نه لري. د هغې څو سهيلياني ور ټولې شوې، زمرد چې ترټولو زياته ورسره بلده او راز داره وه په خفگان يې دې ته کتل ، چې د کلي ښځې يې پرې ورټولې وليدې ويې ويل :

تاسو دلته د څه سيل کوئ، ځئ خپلو خپلو کورونو ته !

ځنې ښځې له هغې ځايه ولاړې، خو يو څو بيا هم پاتې شوې زمرد د نرگس په اوږه لاس کيښود ويې ويل :

نرگس راځه !

نرگس ټکان وخوړ زمرد ته يې وکتل او په چوپه خوله له زمرد سره خيمې ته ننوتله. هغه پوستين چې نعيم به اغوست په هماغه ځای پروت ؤ، نرگس ورتيته شوه پوستين يې اوچت کړ، خپل مخ يې پکې پټ کړ په سترگو کې دريدلې اوښکې يې راوبهيدې، زمرد تر څنډه ورسره ولاړه وه، بالاخره يې د نرگس مټ ونيو ويې ويل :

نرگس ! ته مايوسه شوې يې ؟ ما له هغه نه څو ځلې په وعظ کې اوريدلي دي چې موږ بايد د خدای «ج» له رحمت نه هيڅکله هم مايوسه نه شو، هغه د غوښتونکو هر مراد ترسره کوي جگه شه نرگس چې بهر ته ځو، هغه به خامخا بيا راځي.

نرگس خپلې اوښکې پاکې کړې او له زمرد سره بهر ووته، د کلې په هر شي د غم او وير گردونه خپاره شوي وو.

*****

(٤)

ماسپښين مهال لمر ډير په آب و تاب ځليده، د کلي نه بهر د خرما ؤ په يوه بڼ کې د سيورې لاندې څو تنه راغونډ وو، په دوی کې ځينو خبرې کولې او ځينې ويده وو، ددې خلکو د خبرو موضوع د قتيبه (رح) محمد بن قاسم (رح) او طارق (رح) سوبې وې.

يوه ځوان پوښتنه وکړه: په دې درې واړوکې کوم يو ډير زړور او ميړنی دی؟

يوه تن له لږ سوچ وروسته ځواب ورکړ : محمد بن قاسم (رح) د محمد بن قاسم د نامه په اوريدو يو بل تن چې ويده غونډی ؤ راجگ شو، او د خوب خمار يې مات شو کمبيناست.

: محمد بن قاسم (رح) ؟ ای هغه نو څه زړور دی، د سند دارن راجه گان يې وزغلول نو زړور شو، خلك له هغه نه ځکه ويرېږي چې د حجاج وراره دی، له هغه نه طارق ښه دی، هغه دا وويل او بيرته يې سترگې پټې کړې.

په دې خبره د محمد بن قاسم ستايونکی په غوسه شو ويې ويل : پر اسمان تو کړې لاړې پر خپل مخ رالوېږي.

دريم تن وويل :

نن په اسلامي نړۍ کې محمد بن قاسم ته د درناوی په سترگه گورې څو دانه شو ويلی چې په اسلامي نړۍ کې يې سيال نشته، زما په نظر د طارق (رح) بل سيال نشته،

څلورم وويل: داهم سهی نه ده، قتيبه له هغوی دواړو نه غوره دی.

د طارق ستايونکی وويل : لاحول ولا قوة چيرته طارق(رح) او چيرته قتيبه (رح)!

موږ دا منو چې قتيبه (رح) تر محمد بن قاسم (رح) غوره دی خو له طارق (رح) سره د پرتلې وړ نه دی.

د ابن قاسم ستايونکی بيا په جوش راغی ويې ويل : ستا ذليل خوله

ددی لایقه نه ده چی د محمد بن قاسم (رح) نوم واخلی.
د طارق ستایونکی ځواب ورکړ: ستا ذلیل خوله ددی ور نه ده چی له ماسره خبری وکړی، پردی خبره دوارو توری وکښلی او یو د بل مخی ته ودریدل، لاپی جګړه نه وه پیل چی عبدالله په اس سپور راورسید، عبدالله چی له لری دا ننداره ولیده اس یی پونده کړ او د سترګو په رپ کی د دوی په منځ کی ودرید، د تورو ایستلو سبب یی وپوښت.
یوه تن ورته وویل چی دوی ددی خبری پریکړه کوی چی طارق «رح» ښه دی که محمد بن قاسم(رح)!
عبدالله وویل : ودریږی، او جګړه کوونکو هم دوارو ده ته پام واړاوه.
: تاسو دواړه اشتباه کوی، محمد بن قاسم (رح)او طارق (رح)دتاسو له ستاینی نه بی نیازه دی.
تاسو خوشی یو د بل ځت ولی پری کوی؟ واوری طارق (رح) هیڅکله هم دا ښه نه ګڼی چی څوك دی دی تر محمد بن قاسم (رح) غوره وبولی، او محمد بن قاسم (رح) هم پردی نه خوښیږی چی واوری دی تر طارق ښه دی.
هغه خلك چي د خدایٔ په حکم خپل هر څه قربانی ته وړاندی کوی او د جګړی دګرته ځی د داسی سرسری خبرونه بی پروا دی.، تاسو خپلی توری پر تیکو کی کیږدی او هغوی پر خپل حال پریږدی.
دا یی چی واوریدل ټول خلك چوپ شول، یو پر بل توره ایستونکی هم پښیمانه شول او توری یی بیرته په تیکو کی کیښودی، بیا ټول را پاڅیدل له عبدلله سره یی ستړی مشی وکړل، عبدالله له یوه تن نه د خپل کور پوښتنه وکړه هغه ځواب ورکړ :
ستا کور کی بلکل خیریت دی، پرون می ستا بچی ولید، انشاء الله ستا په خیر شاه زلمی به وی.
عبدالله پوښتنه وکړه : زما زوی ؟
: ته تر اوسه نه یی خبر ؟ ته د خدایٔ په فضل دری څلور میاشتنی کیږی چی د بچی پلار شوی یی، پرون زما میرمن هغه زمونږ کور ته راوستی ؤ، زما زوی تر دیره وخته لوبی ورسره کولی دیر نیك خویه هلك دی.
عبدالله له حیانه سترګی ښکته واچولی، هغوی یی پریښودل او د کور

لاره يي ونيوله، د هغه زوره غوښتل چې په يوه توپ ځان كور ته ورسوي، خو له خلكو نه شرميده او آس يې عادي پرېښود، كله چې په ونو كې له هغوی نه پناه شونو آس يې پوندې كړ.

عبدالله چې كور ته ننوت عذرا د خرما سيوري ته په كټ پرته وه د هغه كېږ لوري ته يو ښكلی ماشوم پروت ؤ او خپله گوته يې رودله، عبدالله بيله دې چې څه ووايي يوه كرسۍ يې راواخسته او عذرا ته نږدې يې كېښودله پرې كېناست، عذرا په يوه شرمناك نظر خپل مېړه ته وكتل او ځگه شوه كېنيناسته، عبدالله موسكی شو عذرا سترگې ښكته واچولې، هلك يې په غيږ كې واخست او پرسر يې لاس راكش كړ، عبدالله ورو لاس ور اوږد كړ د عذرا په لاس يې ور كېښود، بيا يې ماشوم راواخست په تندي يې ښكل كړ او په خپله غيږ كې يې څملاوه په ځير ځير يې ورته وكتل، او كله چې هغه يوه او بل لوری ته لاسونه وغورځول نو عبدالله د خپل خنجر موټی په لاس كې وركړ، ماشوم د خنجر موټی خولې ته يووړ او په رودلو يې پيل وكړ.

عذرا د هغه له لاسه د خنجر موټی واخست ورته يې وويل : ښه ځانځكه دی ورته راوړی ده.

عبدالله موسكی شو ورته يې وويل : د مجاهد د زوی لپاره تر دې ښه نانځكه څه كيدای شي؟

كله يې چې په داسې شيانو د لوبو وخت راورسيد نو انشا الله ته به يې كمزوری لوبغاړی ونه بولې.

: عذرا نوم دی څه پرې ايښی؟

: ته ووايه !

: عذرا ماته خو يو نوم ډېر ښكلی ښكاري!

: ووايه څه ؟

: عبدالله په غمجنه لهجه ووېل : نعيم.

: عذرا چې دا واورېدل خوشحاله شوه ورته يې وويل : زما باور ؤ چې ته به هغه نوم خوښ كړې. ما هم دغه نوم پرې ايښی دی.

*****

(۵)

نعیم چې د نرگس له کلي نه ولاړ نژدې پنځوس میله لرې یې په یوه بل وړوکي کلي کې شپه شوه، دی ددې خلکو له عادتونو او رواجونو سره بلد ؤ ځکه یې د شپې تیرولو د ځای په موندلو کې ډیره سرگردانی ونه گالله، د کلي سردار پرې د اسلامي پوځ د یوه افسر گومان وکړ او ډه ډیر عزت یې وکړ، د ماښام له ډوډۍ خوړلو وروسته هغه د چکر لپاره بهرته ووت، له کلي نه ډیر لرې نه ؤ وتلی چې د پوځي نغارو غږیې واورید، شاته یې وکتل چې د کلي خلك په یوه او بل لوري تښتي، نعیم بیرته راغې له دوی نه یې ددې پریشانی د سبب پوښتنه وکړه.

د کلي خلکو ورته وویل : د نزاق پوځونه پر مسلمانانو د یوې ناکامی حملې نه وروسته فرغانی لوري ته درومي، ماته خبر راغی چې د دوی مخی ته کوم کلي راځي لوټماري پکی کوي زه ویریږم که هغوی په دې لاره راشی موږ به له بربادی سره مخ شو، تاسو دلته کښینی زه به په غونډۍ وخیژم وبه یې ګارم.

نعیم وویل : زه هم درسره ځم.

نعیم او تاتاري سردار په منډه په غونډۍ وختل او څوکې ته یې ورسیدل له هغه ځایه یې دوه نیم میله لرې د تاتاریانو لښکر ولیده چې را روان ؤ. سردار ترڅه ځنډه حیران ودرید، بالاخره یې په خوښی چیغې کړې موږ وژغورل شوو، دی خواته نه راځي هغوی په بله لاره ولاړل لږ مخکی ما گومان کاوه چې ستا راتگ بدشگون دی، خو اوس زما باور دی چې ته یو اسمانی دیوتا یې، دا ستا کرامت دی چې د وږیو لیوانو دغه لښکر زموږ نه مخه واړوله، دایی وویل او د نعیم لاس یې په لاس کی ونیو او دواړه بیرته ښکته کیدل.

سردار د کلي په خلکو زیری وکړ او هغوی ټول ددې خبر د رښتیا معلوملو په خاطر په غونډۍ ور وختل.

د ماښام خړه د شپې په تیاره بدلیده، له کلي نه لرې د فرغانی په لاره د تلونکی پوځ تت غونډی تصویر ترسترگو کیده، خو د اسونو د شنهار او د نغارو غږونه ورو ورو چوپ کیدل، او د کلي خلك په خندا، خوشحالی سندرو

او ګډا بيرته کلي ته ستانه شول.

نعيم ته د ماسخوتن لمانځه نه وروسته سملستي خوب ورغی، په خوب کی غازی يو ځل بيا په ګرندي آس سپور ؤ د دښمن د غشو په باران او د تورو په سيوری کی پرمخ روان ؤ، سهار وختي پاځيد او د لمانځه نه وروسته يی خپل مزل پيل کړ، د څو پړاوه مزله وروسته نعيم د مسلمانانو د لښکر پړاو ولید، دی له مروی نه د اسلام د لښکر په دی ناڅاپی پرمختګ حيران ؤ خو بيايی په خيال کی وروګرځيدل چی د تاتاريانو حملو به دوی دی ناڅاپی پرمختګ ته مجبور کړی وی.

قتيبه بن مسلم باهلی د خپل دغه ګران جنرال ډير تود هرکلي وکړ ، د پوځ نور افسران هم دده په ورتګ زيات خوښ شول.

له نعيم نه يی ډيری پوښتنی وکړی، د دوی ټولو په ځواب کی ده خپل داستان واوراوه، له هغی وروسته نعيم له قتيبه نه څو پوښتنی وکړی په ځواب کی يی واوريدل چی هغه تراق ته ماته ورکړی او په تاتاريانو پسی يی پوځ استولی دی.

د شپی مهال قتيبه له خپلو څو افسرانو سره د حملی، په پلان خبری وکړی، نعيم ورته ووېل چی ابن صادق فرغانه د خپلو دسيسو مرکز کړی، ځکه څو ضرور ده چی هغه تعقيب کړو، سهار وختی د کوچ نغاره ووهل شوه، قتيبه پوځ په دوو برخو وويشه او د پرمختګ لپاره يې دوې بيلې بيلې لارې وټاکلې، د نيمايی پوځ مشری يی په خپله واخستله او نيمايی نوريی چی نعيم هم پکی شامل ؤ خپل ورور ته وسپاره، نعيم چی د لارې له هسکو تيټو سره بلدؤ نو ځکه يی د مخکينی دلې قومانده وروسپارله.

*****

(٦)

نرگس په يوه ډبره ناسته وه او د چينی له اوبو سره يی لوبی کولی هغی وړوکی شګی را اخستی او اوبو ته يی غورځولی او بيا به يی ورو ورو تل ته د ښکته کيدو ننداره کوله، کله به چی يوه شګه د اوبو تل ته ورسيده ‌دی به بله راواخستله او په اوبو کی به يی وغورځوله، کله کله به ددی لوبی نه ستومانه شوه او وړاندی پراخی دښتی ته به يی کتل، چی لری د غرونو په

لمنو کی د گنو ونو تر څنګل پوری غځېدلی وه، د ډبنتی په پای کی د ګنو ونو په جامه پټې شنې غونډۍ وې او غونډیو شاته اوچت اوچت غرونه چې څوکې یې سپینو واورو پوښلې وې، د پسرلی د موسم خوږې ورمې چلېدې، کښېن لوری ته د منو او نورو میوو ونو غوټۍ نیولې وې، نرګس په خپلو خیالونو کې ډوبه وه چې زمرد غلی غلې له شانه راغله او په اوبو کی یې یوه ډېره وروغورځوله د اوبو څاڅکی د نرګس په جامو ولوېدل وویرېده او شاته یې وکتل زمرد په کړس کړس وخندل، خو نرګس چوپه وه.

زمرد هم جدی شوه خندا یې له خولې وتښتېده ور ورانډې شوه له نرګس نه یې وپوښتل:

نن می ډېره زیاته ولټولی، ته دلته څه کوی؟

نرګس په یوه لاس اوبه وشیندلی ځواب یې ورکړ : هیڅ نه کوم.

: ته به تر کومه ځان خوری او مرګ ته به ځان سپاری ! ستا مخ وګوره نیمایی نه دی پاتی شوی، رنګ دی ګوره تك ژیړ دی.

: زمرد ! ما ډېره مه ځوروه ولاړه شه.

: زه توکې نه کوم نرګس ! خدایځ پوهیږی چی زه تا وینم ډېره خفه شم، دایی وویل او بیا یی د نرګس په غاړه کی لاسونه ور واچول، د هغی سریی خپلی سینی ته ور نږدی کړ، نرګس هم د ناروغ ماشوم په څیر ځان مرواچاوه.

زمرد د نرګس په تندی لاس راتیر کړ ویی ویل : کاشکی ما د تا لپاره څه کولی شوای.

د نرګس په سترګو کې اوښکې راغلې او له سوزه په ډکه لهجه یې وویل:

: زما دپاره چی څه ممکن وو وشول، ما د لوړ غره د څوکو زره وروونکی نندارې ولیدلی، خو د لاری ستونزو ته می پام نه شو، زمرد !هغه زما لپاره نه ؤ، زه د هغه لایقه هم نه یم، شکایت او ګیله هم نه تری لرم زما په څیر په زرګونو نجونی به یی د پلونو خاوری په سترګو موښلو ته تږی او ارمانجنی وي، خو هغه دلته د څه لپاره راغی؟ او چی راغی نو بیا ولی ولاړ! زه د هغه په بیلتون ناکراره او پریشانه ولی شوم؟ ما باید هغه ته تول د

زره راز ویلی وای خو د هغه په لیدو به می ژبه ګونګه شوه، زه سره له دي چې پردې پوهیدم چې هغه زموږ له خلکو سره د بر توپیرونه لری د هغه پښتوته مې د ځان غوږځولو هڅه وکړه، زه له دې انجام نه ویریدم، خو کاشکې ویری زه دی ځاه ته له غورځیدو ژغورلی وای.

زمرد ! په ماشومتوب کی ما دا خوب لیده چی له اسمان نه یو شهزاده راکوز شی او زه پری مینه شم او بالاخره هغه زما شی، زما شهزاده راغلی خو د هغه له خپلولو نه ویریدم.

زمرد ! ایا دا هم یو خوب ؤ، ایا دا خوب تعبیر او مانا لری؟

زمرد ! په ما څه وشول، ته به بیا وایی چی ولی بی صبری کوی کاشکی صبر زما په وس کی وای.

: نرګس ! د هر خوب د تعبیر لپاره یو وخت ټاکلی وی، د دیری مایوسی په مهال هم انتظار او امید زموږ ژوندی تکیه ده، خدای ته دعا وکړه، له دغسی سرو اسویلیو ویستلو نه هیڅ نه جوړیږی. اوس جګه شه راځه چی سیل وکړو.

نرګس جګه شوه له زمرد سره روانه شوه، دری لاڅو ګامه نه وو اخستی چی له کیڼ لوری یو سپور اس چار ګام زغلاوه او رابکاره شو. سپور چی دوی ته ورنږدی شو زمرد چیغی کړی : نرګس ! سنا شهزاده راغی.

نرګس ځای پر ځای نیغه ودریده، ددی د زړه د هیواد پاچا په مخکی ولاړ ؤ، په سترګو یی شله راغی، په دماغ کی یی یو ډول بی خودی احساس کړه، د دیری خوښی او یا دیری پریشانی په حالت کی چی کله انسان بی حسه غوندی شی.

نرګس لګه د خوبه په حالت کی دوه دری ګامه پورته کړل، او بیا یی تیندک وخوړ او پرمخی ولویده، نعیم ژر له اس نه ښکته شو، راورانده شو نرګس ته یی تکیه ورکړه او جګه شوه.

بیا یی تری وپوښتل :

: نرګس ! څه درپاندی وشول ؟

: هیڅ نه ! سترګی یی وغوړولی او نعیم ته یی وکتل.

: زما په لیدو ویریدې؟

نرگس د څه ځواب ورکولو نه پرته په ردو ردو نعیم ته کتل.

له دومره نژدې یې د هغه لیدل له تصور نه لرې وو، خو نعیم چې ددې له روغتیا نه ډاډه شو دوه ګامه یوه لورې ته شو او ودرېد، نرګس ځنې ته د لیدلو ګل جدایی ونه زغملای شوه، د وجود په هر رګ او ریښه یې لرزه ګډه شوه، خپل ښکېنه غرور یې تر پښو لاندې کړ ور وراندې شوه او د مجاهد په پښو ورلېته شوه، د نعیم د صبر ځواک په خلاصېدو شو، نرګس یې ترمټ ونیوه او جګه یې کړه زمرد ته یې وکتل وې ویل : دا کورته بوزه، نرګس په وار وار نعیم او زمرد ته وکتل. له سترګو یې اوښکې وبهېدې او مخ یې بل لورې ته واړاوه، بیایي نعیم ته یو ځل مخ ور واړاوه او ورو ورو یې ګامونه د کور په لوري واخستل، نعیم زمرد ته مخ ور واړاوه هغه په خپل ځای ولاړه وه.

بیایي په غمجنه لهجه ورته وویل : زمرد ! ورشه هغې ته تسلي ورکړه:

زمرد ځواب ورکړ: د څه تسلي؟ ته چې راغلې وروستی تکیه یې دې هم ورماته کړه، له دې نه خو دا غوره وه چې هیڅ نه وای راغلی.

: زه د هومان د لیدو لپاره راغلی یم، هغه چېرته دی؟

: هغه ښکار ته تللی دی.

: بیا مې نو کورته تګ بې ګټې دی، هومان ته مې سلام وایه، ورته ووایه چې د مجبورۍ په وجه پاتې نه شوم زموږ لښکر د فرغانې په لوري خوځېدلی.

نعیم دا وویل او په اس سپور شو، خو زمرد ور وراندې شوه د اس جلب یې ونیو وې ویل : ما ګومان کاوه چې تر تا نرم زړی سړی به په دې دنیا بل نه وي، خو زما دا ګومان غلط شو. ته د خاورې نه جوړ نه یې له کوم بل څیز نه جوړ یې، اوس به ددې بدنصیبې ارواهم له بدن سره خدای پاماني کوي.

نعیم یوه لورې ته اشاره وکړه وې ویل : زمرد ! هلته وګوره!

زمرد چې هغه لورې ته وکتل یو پوځ یې ولید چې را روان ؤ.

هغې وویل : لکه چې کوم لښکر راځي!

نعیم وویل : همغه زموږ پوځ دی، ما غوښتل له هومان سره څه خبرې

وکړم له لښکر نه وړاندې راغلم.
زمرد ووېل : ته پاتې شه ښايي هغه نن شپه راوګرځي.
: اوس زما پاتې کېدل امکان نه لري، بيا به راوګرځم.
د نرگس په زړه کې لکه چې زما په باب څه بدګوماني پيدا شوه، ته هغې ته تسلي ورکړه، ماته نه وه معلومه چې هغه د دومره کمزورۍ زړه خاونده ده، داد ورکړه چې زه به خامخا راشم، زه ددې د زړه په حالت پوه يم.
زمرد ځواب ورکړ : تر کومه چې په خبرو پوري اړه لري ما پخوا هم ډېره تسلي ورکړې ، خو اوس ښايي هغه زما پر خبرو باور ونه کړي، کاشکې تا پخپله خوله د تسلي يو لفظ ورته ويلی وای، اوس که ته کومه نښه راکړې نو کېدای شي تسلي ورکړای شم.
نعيم يوه شيبه چورت وواهه او بيا يې له جيبه يو دسمال را وکيښ او هغې ته يې ورکړ ويې ويل : دا دسمال ورکړه.
د کلي خلك چې د پوځ له راتګ نه خبر شول وارخطا شول او په يوه او بله تښتېدل، نعيم اس پونده کړ دوی ته يې ووېل چې د خطر هيڅ خبره نشته، دوی داده شول او پر نعيم راچاپېر شول، نعيم له اس نه پلی شو له هر يوه سره ځانګړې غاړه غړې شو، په دې کې د پوځ د مخې ډلګی راورسيدې، د اسلامي وروروليِ عجيبه رشته وه خلك له نعيم سره يو ځای د اسلامي پوځ هرکلي ته ور ووتل نعيم له لوی سالار سره دوی معرفي کړل. کله چې د پوځ له ارادو نه خبر شول څو تنو جهاد ته د روانېدو تياري وښود، لوی سالار زر تر زړه د تياري حکم ورته وکړ، په دې تولو کې زيات ناکرار د نرگس يو تره برمك ؤ.
هغه که څه هم د خپل ژوندانه پنځوس پسرلي ليدلي وو خو ښه وجود او مزبوتي متې يې درلودې.
ددغو خلکو د تياري لپاره پوځ ته د لږ څه ځنډ حکم وشو.
يو ساعت وروسته شل تنه برابر شوي وو او پوځ ته د خوځېدو امر وشو، د کلي ښځې په يوه نژدې غونډۍ راټولې شوې، نعيم د ضربتي ډلګی په مشرۍ ترټولو د مخه روان ؤ.
نرگس او زمرد له نورو ښځونه جلا لاړې ته لږ نږدې ځانګړې ولاړې وې

او خبری یی سره کولی ، د نرگس په لاس کی د نعیم دسمال ؤ.

زمرد نعیم ته اشاره وکړه ویی ویل :

نرگس ستا شهزاده خو ربنتیا شهزاده وخوت.

نرگس ځواب ورکړ : کاشکی هغه زما شی.

: ستا تر اوسه پوری باور نه دی؟

: باور می راځی هم او نه هم ! کله چی د مایوسی وریځی د امید ډیوه گل کړی بیرته بلول یی ډیر گران شی، که ربنتیا پوښتی ستا په خبرو می پوره پوره یقین نه کیږی.

زمرد ! ربنتیا ووایه له ما سره خو به ټوکی نه کوی؟

: نه ! که دی باور نه کیږي هغه ته غږ وکړم، هغه تر اوسه ډیر لری نه دی تللی،

: نه زمرد ته قسم وکړه.

: ستا په څه ډول قسم باور کیږی ؟

: ته په خپل شهزاده قسم وخوره.

: کوم شهزاده ؟

: هومان !

تاته چا ویلی چی هغه زما شهزاده دی!

: تا .

: کله ؟

: هغه ورځ چی کله دی له ښکارنه تپی راستون شوو او تا ټوله شپه په رڼو سترگو تیره کړه.

: له هغی نه تا څه اټکل وکړ؟

: زمرد ! ته له مانه څه پټولی شی ؟ په ما هم داسی وخت راغلی دی ستا په یاد نه دی چی هغه هم زخمی راغلی ؤ.

: ښه نو که زه د هغه په سر قسم وخورم باور دی کیږی؟

: ښایی باور می شی.

: ښه نو زه د هومان پرسر قسم خورم چی ټوکی نه درسره کوم.

: زمرد ! زمرد ! نرگس هغه په غیږ کی ونیوله او زیاته یی کړه :

: که تا په وار وار تسلی نه وای راکړې بنایی زه مړه شوې وای تا له هغه نه ولې ونه پوښتل چې څه وخت راځي؟

: هغه ډیر زر راګرځي، که زر رانشي نو ...؟

: نو ! نرگس په وارخطایی وویل .

زمرد وشرمیده ویې ویل : نو بیا به زه ستا ورور د هغه د راوستلو لپاره پسې واستوم.

# سفیــــر

شپږ میاشتی تیرې شوې خو نعیم را نه غی ، په دی مو ده کی قتیبه نزاق وواژه او د ترکستان د بغاوت اور یی تر ډیره حده مړ کړی ؤ ، د نزاق نژدی حلیف پاچا جر جان هم ووژل شو ، ددی عملیاتو نه چی فارغ شو قتیبه د سغد نوری سیمی ونیولی او تر سیستان پوری ورسید، دخوارزم پاچا جزیه ومنله او سولی ته یی غاړه کیښوده ، په خوارزم کی هغه ته خبر ورغی چی د سمرقند خلکو خپل تعهدات مات کړی او د بغاوت لپاره تیاری نیسی.

قتیبه د پوځ له خو ډلګیو سره په ګړندی حرکت سمرقند ته ورسید او ښار یی کلابند کړ، دغه ښار د خلکو برجونو او پاخه حصار له لحاظه تر بخارا کم نه ؤ، قتیبه ډیر په واړ کلابندی جاری وساتله دری میاشتی وروسته د سمرقند پاچا د سولی ورانديزوکړ، په ځواب کی قتیبه د سولی شرطونه وړاسترول، پاچا شرطونه ومنل او دښار دروازی یی پرانیستی.

د سمرقند په یوه بتخانه کی ډیر ه بوت ډیر درناوی کیده، دهغه په باب دا مشهوره وه چی څوک لاس وروړی هغه مړ کیږی، قتیبه دغه بتخانی ته ننوت او دالله اکبر په نعره یی دغه بوت په توره ټوټه کړ، د بوت له خیټی نه پنځوس زره مثقاله طلاراووتله ، کله چی د سمرقند خلکو د قتیبه جرئت ولید چی ددوی د سپیڅلی بوت له ماتولو سره روغ رمټ پاتی شو نو زرګونو تنو د توحید کلمه وویله او مسلمانان شول.

قتیبه بن مسلم دځپلو فتحو او شهرت وروستیو څوکو ته رسیدلی ؤ، په

۹۵ هـ کې یې فرغانې ته مخه کړه او زیاتې سیمې یې فتحه کړې، بیایې داسلام بیرغ اوچت کړ او تر کاشغره پورې پرمخ ولاړ، وړاندې د چین د هیواد خاوره وه.

قتیبه د چین په شمال لویدیځ سرحد د برید تیاری ونیو، د چین پاچا چې د قتیبه له ارادو نه خبر شو دسولې لپاره یې ایلچي راواستاوه او دسولې د شرطونو د توافق لپاره یې د مسلمانانو یو سفیر وغوښت، قتیبه د سفارت د ذمه واریو تر سره کولو لپاره هبیره نعیم او پنځه تنه نوروټاکل.

*****

(۲)

دچین پاچا په سفارتخانه کې نعیم ، هبیره او نور ملګری یې په یوه ښایسته غالی ناست وو او یو له بل سره ګړیدل.

هبیره له نعیم نه پوښتنه وکړه : قتیبه ته څه احوال واستوو؟

بیایې زیاته کړه: د چین د پاچا لښکر له موږ نه ډیر زیات دی پام دی وُ په څومره بې پروایی او غرور له موږ سره برخورد کوی، نعیم وویل: دی د ایران له پاچا نه زیات مغرور نه دی ، اونه په ځواك کې هومره دی ، دده راحت طلبه سپاهیان چې زموږ د اسونو د پښو تر پهار واوری تول به وتښتی ، موږ خپل شرطونه وړاندې کړی دی ، دهغو د ځواب تر راتلو پورې به انتظار وکړو، سمدستی قتیبه ته ولیکه چې د چین د فتحې لپاره نورو پوځونو ته ضرورت نشته، که دجګړې ضرورت شو زموږ د ترکستان پوځونه ددې هیواد د فتحی لپاره بس دی،یو درباری کوټې ته ورننوت تیټ شو هبیره او ملګرو ته یې سلام وکړ اوویې ویل: عالم پناه یوځل بیا له تاسو سره ګوری.

هبیره ځواب ورکړ: تاسو خپل پاچا ته ووایی چې موږ خپل شرطونه بدلولی نه شو، که هغه ته زموږ شرطونه د منلو وړ نه وی نو زموږ تر منځ به توره پریکړه کوی.

: عالم پناه د سولې د شرطونو نه پرته څه نوری پوښتنی له تاسو نه کوی، ماته امر شوی دی چې له تاسو نه یو تن دهغه حضورته ورولم.

زموږ پاچا دا احساس کړې ده چې تاسو دمال او زر په مینه لوټماری،

کوی او دومره لږی راوتلی یاست، هغه څه بخششونه تاسو ته درکوی او ددوستانو په خیر مو رخصتوی، هغه ستاسو د هیواد او اولس په باب هم څه معلومات غواړی.

نعیم خپله توره درباری ته ورکړه او ورته ویی ویل: دایوسه ستا دپاچا هری پوښتنی ته به ځواب ووایی.

درباری په حیرانتیا ووېل: ستا توره؟

: هو خپل پاچا ته وایه چی ددی تورې په تیغ زموږ د اولس ټول داستان لیکل شویدی . او دا هم ورته ووایه چی دده ټولې خزانې د غازیانو د اسونو د پښو له گرد سره نه برابروو.

درباری پښیمانه شو ویې ویل : د پاچا مقصد ستاسو خفه کول نه دی هغوی ستاسو په جرئت اعتراف کوی، تاسو یو ځل ورسره وگوری، زما باور دی چی ددې ملاقات نتیجې به ډیرې غوره وی.

هبیره په عربی ژبه نعیم ته ووېل : موږ به پاچا ته یو ځل یو فرصت بیا ورکړو، ته ورشه تبلیغ ورته وکړه.

نعیم ځواب ورکړ : ته له مانه زیات تجربه کار یی.

: زه تا ددې لپاره ور استوم چی ستا ژبه او توره دواړه ډیر تیز دی، ته له مانه اغیز منی خبری کولی شی.

نعیم چی دا واورېدل چگ شو او له درباری سره روان شو، دربارته د ننوتلو نه وړاندی په دروازه کې شاهی نوکر په یوه طلایی پتنوس کی یوه زرینه چپنه نیولی وه خو نعیم د هغی له اغوستلو نه انکار وکړ.

درباری ورته ووېل ستا کمیس ډیر زوړ دی او د پاچا دربار ته دروړمی.

نعیم ځواب ورکړ : ستاسو قیمتی جامی تاسو د پاچاهانو په مخکی سرتیټتی ته مجبوروی، خو ته به ووینی چی زما زړی او شلیدلی جامی به ماته ستاسو د پاچا په مخکی سرتیټولو ته اجازه رانه کړی.

د نعیم پښو او له ځمکې نه جوړ بوټونه په گرده ونو کې پټ وو، یو غلام راتیټ شو غوښتل یې په وزربښمینه ټوټه یې پاك کړی، نعیم هغه له مټ نه ونیو بیرته یې اوچت کړ او بیلة دې چې څه ووایی وړاندې ولاړ، د چین پاچا د ملکې سره په یوه زرین تخت ناست و، د هغه په زیر مخ کې گونځې وی،

ملکه هم که څه هم بوډۍ وه، خو په مناسب بدن کې یې د تیرې مستۍ ځوانۍ د پسرلي نخښې لا پرځای وې، هغه د فرغاني د شاهي کورنۍ څخه وه او د چین د ښځو نه یې د مخ بڼه لږ بیله وه، شهزاده د قیمتي غمیو هار په غاړه کې اچولی ؤ، د پاچا کیڼ لوري ته څو وینځې د شرابو پیالي او صراحي په لاسو کې ولاړې وې، د دوی په منځ کې حسن آرا یوې ایرانۍ ترنورو په څیره کې زیات توپیر درلود د هغې اوږده طلایي ویښتان په اوږو پراته وو، پر سر یې یو شین دسمال ؤ او تور کمیس یې په غاړه کی ؤ چې تر ملا پاس ډیر تنګ او د بدن لوړې ژورې یې پکې برالا ښکاریدې، له تور کمیس سره هغې نیلي پرتوګ اغوستی ؤ، حسن آرا له نورو ټولو ښځو نه لوړه وه.

نعیم د یوه فاتح په څیر دربار ته ننوت پاچا او درباریانو ته یې یو نظر وکتل او السلام علیکم یې وویل. پاچا درباریانو او درباریانو پاچا ته وکتل، نعیم چې د سلام ځواب وانه ورید په ژور نظر یې پاچا ته وکتل، پاچا د غازي د تیز کتلو تاب را نه وړ او سترګې یې ښکته واچولې، ولی عهد «شهزاده» له خپل ځایه اوچت شو نعیم ته یې د ستړي مشۍ لپاره لاس وړ اوږد کړ، نعیم هغه ته لاس ورکړ او بیا د هغه په اشاره په یوه کرسۍ کیناست.

پاچا خپلې ملکې ته وکتل، او په تاتاري ژبه یې وویل : ماته دا خلک ډیر په زړه پورې ښکاري، دوی زموږ د هیواد دفتحې لپاره راغلي دي ته خو یې لږ جامو ته وګوره!

نعیم ځواب ورکړ : د سرتیري د ځواك اندازه د هغه له جامو څخه نه د هغه د توري د تیره والي او د مټو له زور نه معلومیږي، د چین پاچا فکر کاوه چې دی به په تاتاري ژبه نه پوهیږي خو دی ځواب هغه پریشانه کړ، ویې ویل :

ښه ته په تاتاري ژبه پوهیږې، ځوانه ! زه ستا جرئت ستایم، خو که تا د خپل زور دا زمویلو لپاره کوم بل ځوك غوره کړی وای دا به درته غوره وه، تاسو ددې هیواد پاچا د ترکستان د وړوکو وړوکو تش په نامه واکمنو په څیربللی او دا ستاسو اشتباه ده، زما د بریښنا په څیر ګړندي اسونه به

ستاسو مغرور سرونه تر پښو لاندې کړي. تاسو چې څه ترلاسه کړي دي په همغو قناعت وکړئ، داسې نه شي چې تاسو د چين د فتحې په څېر ترکستان هم وبايلئ.

نعيم په احساساتو راغلی جګ شو، خپل ښی لاس يې د توري په موټی ونيو ويې ويل : مغروره پاچا ! دې توري د روم او ايران پاچاهان له خاورو سره برابر کړل، ته به يې د ګرزار تاب رانه وړای شي، ستا اسونه د ايرانيانو له پيلانو نه زيات ځواکمن نه دي.

د نعيم په خبرو په دربار کې چوپتيا خوره شوه، پاچا خپل سرته ورو حرکت ورکړ ، حسن آرا ور وړاندې شوه او د شرابو پياله يې ورکړه او بيرته پر خپل ځای ودريده.

بوې وينځې د حسن آرا په غوږ کې ورو وويل : عالم پناه په غوسه کيږي دغه ځوان له خپل حد نه تيری کوي.

حسن آرا په يوه زړه وړونکې موسکا نعيم ته وکتل او ويې ويل : دی د احمق توب تر حده زړور دي، دی ته معلومه نه ده چې د داسې جرئت قيمت څه دی؟

پاچا خو غوړ په شراب وڅښل او نعيم ته يې وکتل ويې ويل : ځوانه ! زه بيا هم ستا جرئت ستايم، زموږ په دربار کې تر اوسه پورې چا د داسې ويلو جرئت نه دی کړی، دا ګومان ونه کړي چې زه ستا له ګواښونو نه وويريدم، ستا د زړورتيا ازموينت به هم وکړو ، خو اوس ته دا ووايه چې تاسو د نړۍ په سرله ايزو هيوادونو کې بد امنی ولې راولی.

ستاسو سره که د پاچاهۍ څه وی اوس موږ ورته سيمې تر قدمونو لاندې دي، که د مال او شتمنۍ څه لرې موږ به خوښی دی څه دريځنلو ته تيار يو، که ستاسو لمن له طلا او سپينو زرونه دړ دکې کړو هم زموږ په خزانو کې څه کمی نه راځي، وغواړه څه غواړې؟

نعيم ځواب ورکړ :

موږ خپل شرطونه وړاندې کړي دي، تاسو زموږ په باب غلط ګومان کړی دی، موږ په نړۍ کې بد امني نه خوروو خو موږ دا امن نه منو چې يو زورور نور کمزوري په خپله يې وسې قناعت ته مجبور کړي وي.

موږ په ټوله نړۍ کې د امن راوستلو لپاره یو نړیوال قانون نافذ ول غواړو، چې د زور زر لاس پر کمزوري اوچت نه وي چې هلته د پانګوال او مزدور ترمنځ توپیر نه وي، او د پاچا او رعیت ترمنځ یې کوم امتیاز پاتې نه شي.

دغه قانون اسلام دی، موږ د واکمنۍ او شتمنۍ په تمه نه یو، موږ د نړۍ د ظالمو واکمنو نه د مظلومو د حقوقو اخستلو لپاره راوتلي یو، تاته معلومه نه ده چې موږ د نړۍ د ترټولو لوی مملکت پر واکمنۍ برسیره د دنیوي دبدبې او جلال ته بې پروا یو.

نعیم دومره وویل او کښیناست، په دربار یو ځل بیا چوپتیا خوره شوه، حسن آرا خپلې نږدې مینځې ته وویل : زما پردې بنایسته زلمي رحم راځي، داسې معلومیږي چې له ژوند نه په تنګ شویدی، د عالم پناه د لاس معمولی اشاره به دی د تل لپاره له ژوند نه محروم کړي، خو زه په دې حیرانه یم چې عالم پناه نن تر معمول زیات مهربانه دی، وګوره دده انجام به څه وي په دې ځوانۍ کې هسې مرګ ته غیږ ورکول څومره بې عقلي ده؟.

پاچا د نعیم د خبرو په دوران کې یو دوه ځله په ناکراري اړخ بدل کړ، او د څه ځواب پرځای یې خپلو درباریانو ته کتل، او بیا یې ملکې ته وکتل او په چیني ژبه یې څه ورته وویل بیایې نعیم ته مخ واړاوه ویې ویل : موږ به په دې معامله وروسته بیا خبرې کوو، نن زموږ د خوښۍ پرخلاف ډیرې زړه ځوروونکې خبرې وشوې، موږ غواړو چې په دې مجلس کې څه خوږ والی پیدا کړو دایې وویل او بیایې حسن آراته وکتل او په لاس یې اشاره وکړه.

حسن آرا راوړاندې شوه د پاچا او درباریانو په منځ کې ودریده، نعیم ته یې وکتل او موسکۍ شوه بیایې دواړه لاسونه خلاص ونیول او پښې یې په ځمکه ووهلې، له د ې سره سم د پردې له شانه د رباب او طاوس «د سرود آله ده» نغمې اوچتې شوې، حسن آرا ور وړاندې شوه لومړی یې د پاچا په مخکې ګونډه ووهله پاچا لاس ور وړاندې کړ او دې ښکل کړ، بیایې د رباب او طاوس نغمو ته نڅا پیل کړه، حسن آرا پر خپل عقل الوزونکې رقص مجلس بې خوده کړ، دې د خپل فن ټول کمالات وښودل او په خپل بې مثاله حسن او فن یې د ټول دربار سترګې ور اړولې وې، خو نعیم لاندې

خپلو پښو ته کتل او له دې ننداري نه بې پروا ؤ.

حسن آرا له یوې گلدانې نه د گلاب یو گل راوشکاوه، او په یوه نازنینه ادا د نعیم مخې ته ورغله د هغه له پښو سره په زنگنو شوه گلاب یې شونډو ته یوړاو بیایې نعیم ته ونیو، نعیم له هر څه بې پروا ؤ، دې گلاب نور هم هغه ته ورنژدې کړ، باالاخره نعیم گلاب واخست او په پښو کې یې وغورځاوه بیا جگ شو پخپل ځای ودرید.

نڅا گړه هم اوچته شوه وارخطا شوه او یو ځل یې نعیم ته په غوسه وکتل او بیا له هغه ځایه په منډه ولاړه د یوې پردې شاته ورکه شوه، د حسن آرا له تگ وروسته د ساز نغمې هم چوپې شوې او په دربار چوپتیا خپره شوه.

پاچا وویل : ښایي ستا دا نڅا او سرود خوښ نه شول؟

نعیم ځواب ورکړ : زموږ په غوږو یوازې د تورو د شرنگهار نغمې ښې لگیږي.

زموږ تهذیب ښځو ته د رقص اجازه نه ورکوي، اوس د لمانځه وخت دی زه باید ولاړ شم، دایې وویل او نعیم په اوږدو اوږدو گامونو له دربار نه بهرته ووت په دروازه کې حسن آرا ولاړه وه، هغې چې نعیم ولید مخ یې بل لورې ته واړاوه او تندی یې تریوشو، نعیم په بې پروایی ترې تیر شو، حسن آرا یو ځل بیا ځان مات احساس کړ.

بیا یې د نعیم د پام وراړولو په منظور وویل : ته دیر ، حقیر یې له تانه کرکه کوم، خو نعیم شاته هم ور ونه کتل او هغه حیرانه پاتې شوه، کله چې نعیم لرې ولاړ نو دا مایوسه بیرته را وگرځیده، دا ددې په ژوند کې لومړی ځل ؤ چې سر تیټې را روانه وه.

د شپې مهال نعیم د ویده کیدو هڅه کوله خو خوب ورنغی، د هغه ملگرې په درانه خوب ویده وو، په کوټه کې زیاتې شمې بلې وې د ورځې پیښې دده په دماغ کې راگرځیدې او پریشانه کاوه یې د حسن آرا په تصور به یې نرگس ور په یاد شوه، په دې دوارو مخونو کې دیر ورته والی ؤ، توپیر یوازې دا ؤ چې حسن آرا ښایسته وه او دایې احساس کړې هم وه چې ښایسته ده، دا احساس تر دومره خطرناك حده پورې ورسره ؤ چې د خپل حسن نه د پوژه پوره گټې پورته کولو هیلې دا له معصومیت او پاکی نه

محرومه کړې وه، ددې په بڼه کې د سادګۍ او معصومیت پرځای ریا او تصنع زیاته وه، ددې پرخلاف نرګس د حسن، سادګۍ او معصومیت یو بې ساری انځور ؤ. له نرګس نه د وروستی ځل رخصت ننداره یې په وار وار سترګو ته دریده، نعیم ته چې نرګس څه وربښکاره کړې وو هغه یې هیرولی نه شوای. ده ته دا معلومه وه چې د نرګس په معصوم زړه کې یې د بې پایه مینې توپان را الوزولی دی. په تیرو څو میاشتو کې یې څو څوځله نرګس ته د ورتګ وعدې پوره کولو اراده وکړه خو دا ارادې دده د مجاهدانه ولولو لاندې خپ شوې وې،هرې فتحې د یوه نوي پروګرام جذبې زیږولې، او نعیم هر نوي عملیات خپل وروستی مسؤولیت باله او نرګس ته د ورتګ وعده به یې بل فرصت ته ځنډوله، خو ددې بې پروایۍ سبب بوازې دا نه ؤ، دده حالت هغه مسافر ته ورته ؤ چې د یوه اوږده سفر په جریان کې د لارې توله شتمنې ډاکو تری لوټ کړې او لږ-ډیره څه چې تری پاتې دی هغه پخپله وغورځوی او تش لاس روان شی، نعیم ته د زلیخا مرګ او د عذرا نه د تل لپاره بیلتون نه وروسته نور په دنیا کې د آرام او سکون الفاظ بې معنی وو، که څه هم له نرګس سره وروستی ملاقات دغه الفاظ لږ ورته معنی داره کړې وو، خو په دې معنی کې دومره زور والی نه ؤ چې دی پکې غوټه وهلو ته ناکراره شی، ده چې نرګس په کوم رنګ غوښته ورنږدې والی او لرې والی یې ورته یوه خبره وه، خو بیا به هم چې کله ده د نرګس په باب سوچ کاوه دابې په دنیا کې خپله وروستی تکیه بلله، او له دې تکیې نه د تل لپاره بیلتون ورته ویروونکی ښکاریدو.

نعیم په بستره لټ په لټ اوښتو دا خیال یې په ذهن کې ورو ګرځید چې خدای (ج) څهر دی نرګس به په کوم حالت کې وی او دده لاره به څاری، که هغه د زلیخا... ا او یا عذرا ... په څیر ... نه نه خدایږ دې داسې نه کوی.

د نرګس په اره په زرګونو سوچونو او وهمونو اندیښمن کړی ؤ، او بیا یې خپل زړه ته تسلی ورکوله، دا د انسان فطرت دی چې کله له یوه بری وروسته ناکامی پری راشی په ذهن کې د امید ډیوی بلوی، خو انسان چې لومړی په ناکامیو واوری، بیا په څه شی امید نه تړی او که یې پری وتړی هم د ترلاسه کولو لپاره یې داد من نه وی، د داسې چا مثال د هغه

مفلس سړی وی چی په لاره کې ناڅاپه خزانه پیدا کړی خو د شتمنی د خوښی پرځای په دې ویره کی وی چی بیرته یی له لاسه ونه وزی.

نعیم د ویده کیدو په تمه ډیر په یو او بل اړخ واوښت او چی خوب وړنغی جګ شو له کوټی نه ووت او د سپوږمی په زړه وړونکې ننداره بوخت شو.

*****

(۳)

د محل په بل لوری کې حسن آرا د خپلو معبودانو په مخکې د نعیم له چلن نه شکایت کاوه، د دی یوه خدمتګاره «مروارید» دې ته نژدې په قالینه ناسته وه او ورته کتل یی، د حسن آرا په زړه کی تر اوسه د ماتی د بدل اور بلیده.

بیایی سوچ وکړ په زړه کی یی وویل : ایا ده به له مانه ښایسته ښځه لیدلی وی؟ له کرسی نه جګه شوه پر دیوال د لویی هنداری مخې ته ودریده، د خپل تصویر له لیدو وروسته یی په کوټه کې قدم وهل پیل کړل، مروارید ددی ټول کړه وړه په ځیر ځیر لیدل.

بیایی تری وپوښتل: ته نن نه ویده کیږی؟

: تر څو زه هغه په خپلو پښو کی پروت ونه وینم خوب نه راځی دا یی وویل او حسن آرا لې ګرځیدی په کوټه کی راوګرځیده مروارید له ځایه جګه شوه د کوټی په کړکی کې ودریده او لاندی یی باغ ته وکتل. ناڅاپه یی په باغ کی څوک تر سترګو شول، هغی د لاس په اشاره حسن آرا وروبلله او د باغ په لوری یی اشاره وکړه ویی ویل : وګوره ! بالکل ستا په شان څوک په ناکراری په باغ کی قدم وهی. حسن آرا په ځیر ځیر وکتل او کله چی د ونو له سیوری هغه راووت او په مخ یی د سپوږمی رڼا پریوته حسن آرا وپیژاند هغه نعیم و، د حسن آرا په تروشو شونډو خوږه موسکا خپره شوه.

حسن آرا مروارید ته وویل : زه اوس راځم ! او بیا له کوټی نه ووتله، د سترګو په رپ کی باغ ته ورننه د یوی ونې له تنې څخه یې د نعیم سیل کاوه، کله چی نعیم په قدم وهلو هغې ونې ته ورنږدې شو حسن آرا یی ناڅاپه مخې ته راووته.

نعیم هم حیران شو ودرید او په تعجب یی هغی ته کتل.

حسن آرا : ته لکه چی وویریدی ویخښبه !

ته دلته څه کوی؟

: زما طبیعت خراب ؤ.

: ډیر ښه ! نو ستا طبیعت خرابیږی هم ، ما گومان کاوه چی ته زموږ انسانانو نه توپیر لری، زه دی د طبیعت د خرابی سبب پوښتلی شم؟

: زه ضروری نه بولم چی ستا هرې پوښتنې ته ځواب درکړم، او بیا نعیم له هغه ځایه د تلو په تکل شو.

د حسن آرا گومان ؤ چې نعیم د شپې دلته قدم وهی دا ددې د جادو گرو سترگو زور دی خو دا گومان یې غلط شو، دا کرکه وه که مینه خو حسن آرا جرئت وکړ ور وراندی شوه د نعیم لاره یی ونیوه، نعیم په بله خوا وتل غوښتل خو دی د هغه لمن ونیوه، نعیم مخ ور واړاوه ویی ویل : ته څه غواړی ؟ د حسن آرا سره ددی هیڅ ځواب نه ؤ، شوندی یی ریږدیدلی ددی غرور د غازی په پښو کی قربان شوی ؤ، نعیم ددی له ریږدیدونکو لاسونو نه خپله لمن را وایستله او له څه ویلو نه پرته یی گرندی گامونه پورته کړل او خپلی کوټی ته روان شو.

حسن آرا لږ څنډ همالته ودریده، بالاخره یې د پښیمانی خولې پاکی کړی او له غوسې نه په لړزه خپلې کوټې ته ولاړه خپله ځیره یی یو ځل بیا په هنداره کی ولیده، او له غوسې نه یې د شرابو یوه صراحی په هنداره ور وویشتله.

«هغه یو ځنگلی دی زه یی په پښو کی ولی ولویدم ؟»

دایی وویل او یو ځل بیایی په ناکراری په کوټه کی قدم وهل پیل کړل، زه د هغه په پښو ولی وریږیوتم، زه هغه ته ولې ورغلم؟

دایی وویل او بیا یی د ماتې هنداري یوه ټوټه راپورته کړه او مخ یی پکی وکوت او بیا یې له نعیم نه پرته ټولې دنیا ته ښکنځلې وکړې، په بستره پرمخې ورو‌غورځیده او په سلگیو شوه.

له دې پیښې نه یوه میاشت وروسته نعیم کاشغر ته ستون شو او له قتیبه نه یی شپږ میاشتی رخصت واخست او د عربو او ایران له څو تنو مجاهدینو سره روان شو، په دې وړوکی کاروان کې وقیع د نعیم پخوانی دوست هم ؤ،

نعیم له څو پراوونو مزله وروسته له قافلې نه د جدایي اراده وکړه، وقیع ته چې دده د زړه حال معلوم ؤ هغه د قافلې نور خلك پر دې قانع کړل چې نعیم به تر منزله رسوي او بیا به خپلې لارې او سفر ته دوام ورکوي.

*****

(٤)

نرګس په یوه غونډۍ ناسته وه او د لوړو لوړو غرونو په زړه پورې منظروته یې کتل، زمرد له لاندې ولیده او په منډه ور وختله ویې ویل: نرګس نرګس!

نرګس جګه شوه یوه او بله خوایې وکتل او زمرد ته یې غږ وکړ بیرته پر خپل ځای کیناستله.

زمرد چې ورنژدې شوه بیایې وویل: نرګس! نرګس!.

نرګس هغه راغی! ستا شهزاده راغی.

که د هغه غره تولې دبرې او خاورې په سرو زرو بدلې شوې وای هم نرګس به دومره نه وای حیرانه شوی، په خپلو غوږو یې باورنه شو، زمرد بیا تکرار کړل:

ستا شهزاده راغی، ستا شهزاده راغی.

د نرګس څیره له خوښۍ نه وځلیده، خو په درزیدونکی زړه او لړزیدونکی بدن یې قابونه شوه بیرته کښیناستله،

زمرد ور وراندې شوه په دواړو لاسویې ونیوه او جګه یې کړه دی زمرد ته غیږ ورکړه بیایې اوږده اوږده ساه وکښله ویې ویل: زما خوب رښتیا شو.

نرګس! ما یو بل زیری راوړی دی.

: ووایه زمرد! له دی نه لوی اوښه زیری بل شته؟

: نن به ستا واده وی!

: نن ... نه!

: نرګس همدا اوس!

: نرګس زر یو ګام شاته شوه ودریده، د هغې له خوښۍ نه ځلیدونکی مخ بیرته زیړ شو، ویې ویل: زمرد! داسې ټوکې ښې نه دی.

: نه نه، ستا په شهزاده مې قسم چې هغه راغلی، او چې څنګه راغی

ستا پوښتنه یې وکړه، ما تول حال ورته ووایه له هغه سره یو بوډا سړی هم دی، هغه ستا له ورور سره ځانګړې څه خبرې وکړې، او ستا ورور زه په تا پسې راواستولم.

هومان نن ډیر خوښ ؤ، راځه نرګس!

نرګس له زمرد سره له غونډۍ‌نه راکوزه شوه، زمرد ګړندی روانه وه خو د نرګس پښې لړزیدلې او تیندکونه یې خوړل، هغې ووېل: زمرد! لږ ورو‌ځه زه تیزه نشم تلای، د کلې زیات خلك د هومان په کور کې ورتول وو، وقیع د نرګس او نعیم نکاح ولوستله، په زوم او ناوې له څلورو خواو نه ګلونه ور وشیندل شول.

زمرد په یوه ګوښه کې ولاړه وه هومان ته یې کتل، هومان له خوښی نه په جامو کی نه ځاییده، هغه د کوم بوډا تاتاری په غوږ کې څه ووېل او هغه تاتاری بیا د زمرد پلار ته ورغی څو خبرې یې ورسره وکړې، د زمرد پلار سر ورته وخوځاوه او هغه له هومان سره بیا له خیمی نه ووت.

د زمرد پلار ورته ووېل: نن!

: که ستا څه اعتراض نه وی نو هو!

: ډیر ښه زه به له خپلو کور والو سره مشوره وکړم او راځم، دایی ووېل او د زمرد پلار خپل کور ته ستون شو.

د ماښام نه لږ وړاندې دا خلك د زمرد په کور کې راټول وو د هومان او زمرد نکاح هم وقیع وتړله.

کله چې ناوې د هومان کره راوستله شوه او نرګس او زمرد یوازې شوی نو نرګس خپل وړوکی د څرمنې صندوق خلاص کړ ویې ویل:

زمرد! زه ستا په واده تاته یو وړوکی سوغات درکوم، دایی ووېل او له صندوقچې نه یې د نعیم دسمال راویوست زمرد ته یې ونیو زیاته یې کړه: اوس له ماسره تر دې قیمتی سوغات نشته.

زمرد ووېل: که ستا شهزاده نه وای راغلی نو ته به دومره سخی نه وی.

نرګس زمرد په غیږ کې ونیوله: زمرد! زه چې خپله نیکمرغی ګورم ویره راسره پیدا شي چې دا هر څه د یوه خوب په څیر تیر نه شي.

زمرد موسکی شوه ویې ویل: که دا رښتیا یو خوب ؤ نو؟

نرگس ځواب ورکړ : مور به له دومره په زړه پورې خوبه له راویښیدو وروسته ژوندی پاتی کیدل ونه غواړو.

وقیع او د هغه ملگرو شپه هلته تیره کړه او سهار ته یی د لمانځه له ادا کولو وروسته د سفر تیاری وکړ.

نعیم دوی ته د رخصت په وخت کې وویل چې په نژدې وخت کی به دی هم بصری ته درشی.

د هومان د کور هغه کوټه چې څه موده وړاندی دی د یوه مسافر په څیر پکی پروت ؤ اوس ده او نرگس ته وقف وه.

د یو بل ترڅنگ د دوو درزیدونکو زړونو داستان ویلو ته اړه نشته، د نعیم لپاره دغه کلی یو جنت ؤ، په دی چاپیریال کی ده ته د دنیا هر شی دیر ښایسته ښکاریدل، د گلونو وږمې د نسیم څپې، د مرغانوغاړې، بالاخره هر هر څه د مینې او خوښی په نغمو ډک وو.

# نوی دوران

د ولید خلیفه د حکومت په وخت کی د آرام سمندر نه تر کاشغر او سند پوری د مسلمانانو د فتحې جنډې رپیدې، د اسلام د تاریخ دری تنه سالاران د شهرت او نومیالیتوب وروستیو پوړیو ته رسیدلی وو، ختیځ لوری ته محمد بن قاسم (رح) د سند دریاب په څنډه اړولی وود هند د پراخه میدانونو د فتحی تیاری یی نیوه، قتیبه «رح» د کاشغر په لوړو غرونو ولاړ وَ او دخلافت له درباره یی د چین په لوری د پرمختګ د حکم انتظار کاوه، په لویدیځ کی د موسی لښکر د پیرنه له غرونو تیریدو او فرانسی ته دننوتلو هڅه یی کوله، خو په ۹٤ هـ کال د خلیفه ولید وفات او د سلیمان خلافت د اسلامی فتوحاتو نقشه له یوې مخی بدله کړه.

د خلیفه سلیمان په زړه کې له ډیرې مودې د ولید او د هغه د نورو چارواکو پرخلاف د کینې او کسات اور په لمبو ؤ.

هغه چی کله د خلافت په مسند کښیناست سمدستی یی د ولید لوی لښکر مشران بیرته راوغوښتل، سلیمان حجاج بن یوسف ته ډیره بده سزا وټاکله، خو هغه د خپل ژوند د عبرتناکی شیبی له لیدو نه وړاندی مړشو، د حجاج په مرګ د سلیمان زړه یخ نه شو، او د تره غوسه یی په وراره سره کړه، محمد بن قاسم (رح) یی له سند نه راوغوښت او له ډیرو شکنجو وروسته یی شهید کړ.

د موسی د خدمتونو په بدله کی یی د هغه ټوله شتمنی ضبط کړه او د هغه د زلمی زوی سر یی تری غوڅ کړ او ده ته یی په مخکی کښیښود. په دی بی رحمانه لوبه کی ابن صادق د سلیمان ښی لاس ؤ دغه بوډا ګیدړ د حوادثو د توپان په زرګونو څپری وخوری خو حالاتو ته تسلیم نه شو، د

خلیفه ولید وفات ده ته د ژوند یو په زړه پوری زیری ؤ، حجاج پخوا مړ شوی ؤ د هغه نژدی خپلوان او دوستان یی یا بندیان کړل او یا یی ووژل، اوس په دنیا کی هغه له هیڅ ویره نه درلوده هغه د کومی غلی گوښی نه ناڅاپه راپیدا شو او د سلیمان دربار ته ورغی، سلیمان خپل پخوانی دوست وپیژاند او د هغه یی پوره عزت وکړ، ابن صادق په څو ورځو کی د سلیمان د لومړی صف مشاورینو نه حساب شو.

د محمد بن قاسم (رح) په اړه د نورو مشاورینو دا رایه وه چی هغه بی گناه دی او د بی گناه وژل روانه دی، خو ابن صادق داسی مخلص غازیان ځانته خطر گڼل، هغه د محمد بن قاسم (رح) وژل روا بلکی ضروری بلل او ویل یی : د امیر المؤمنین د دښمنانو ژوندی پریښودلو هیڅ حق نشته، دا د حجاج وراره دی.

داسی خلك چی هر وخت مو که په لاس ورشی خطرناك ثابتیدای شی، د محمد بن قاسم د دردوونکی وژنې نه وروسته یې د موسی په زخمی زړه مالگې دوړول پیل کړل، له هغه وروسته سلیمان د قتیبه بن مسلم لپاره د دامونو غوړولو په سوچ کې شو، قتیبه ته په ټوله اسلامی نړۍ کې درناوی کیده، پر عربو او ایرانیانو سربیره د ترکستان نو رو مسلمانانو پر ده ځانونه قربانول، سلیمان ویریده چې که هغه واوښت بیا به یې یو ځواکمن رقیب شی، او په بغاوت کی به هغه ټول خلك ورسره ملگری شی چی ده یی زړونه ګټلی دی.

د دی ستونزی نه د خلاصون لپاره ده ته کوم تدبیر په ذهن کی ورنغی، بالاخره یی له ابن صادق نه مشوره وغوښته هغه ورته وویل : تاسو هغه ته دربار ته د حاضریدو فرمان واستوی، که راغی خو ښه تر ښه او که نه نو بیا به یی په کومه بله لاره راولو.

سلیمان پوښتل : په کومه بله لاره ؟

: جنابه ! دا خبره دی ته خدمتگار ته پریږده، او داده اوسه چی هغه په ترکستان کی وژل کیدای شی.

* * * * *

(۲)

له نرگس سره څو اوني یو ځای تیرول نعیم ته د یوه خواږه خوب په څیر وي، د هغو ښکلو درواو غونډیو هره ننداره او نظاره ده ته د یوه خواږه خوب ننداره ښکاریده، په دې خواږه خوب کی نعیم څه موده ورك شو او کورته یې د ستنیدو اراده وځنډوله، خو دده د زړه دغه کیفیت تر دیره پاتی نه شو یوه ورځ چې له خوبه راویښ شو نرگس ته یې وویل : نرگس ! زه حیران یم چی دلته مې ولې دومره ورځې تیرې کړې، زما په خیال باید اوس له دې خلکونه رخصت واخلو، زموږ کلۍ له دې ځایه په سلګونو میله لرې دی، ته خو به هلته خفه کیږې نه!

: خفه ! کاشکی تاته معلومه وای چې زما په زړه کی ستا د وطن لیدو څومره هیله ده، او زه د هغه سپیڅلې خاورې په سترگو موښلو ته څومره ناکراره یم.

: ښه ده نو بله ورځ به له خیره له دې ځایه روانیږو، نعیم دا وویل او جگ شو د سهار د لمانځه په تیاری بوخت شو، په دې ځنډ کې هومان ورغی ویې ویل : د کلي یو عسکر «برمك» دقتیبه یو پیغام راوړی، نعیم لږ پریشانه شو بهر ته ووت، برمك داس جلب نیولی ؤ ولاړ ؤ، نعیم شکمن شو چی برمك کوم ښه خبر نه دی راوړی، د نعیم د پوښتنې له انتظار پرته برمك وویل : تاسو زما سره تگ ته ځان چمتو کړی.

نعیم پوښتنه وکړه : خیریت خو دی؟

برمك : نه !

: ماته سمرقند ته د حاضریدو حکم ولی شویدی؟

: قتیبه له خپلو ټولو جنرالانو سره مشوره کول غواړی.

: هغه خو په کاشغر کی ؤ.

: نه هغه د ځینو حالاتو له لامله سمرقند ته راغلی.

: څه ډول حالات؟

برمك وویل : د امیر المؤمنین له وفات نه وروسته د هغه پرځای ناست سلیمان د حجاج بن یوسف زیاتره ټاکلی سالاران وژلی دی. د موسی بن نصیر زوی او د سند فاتح محمد بن قاسم (رح) یې هم وژلی دی. زموږ سالار ته هم د خلافت دربار ته د حاضریدو امر شویدی، دی هلته په تگ د

خطر احساس کوی ځکه چی له نوی خلیفه نه د څه نیکی تمه نشته، هغه خپل ټول سرداران راټولوی او مشوره ترې غواړي. په تاپسې بې ځکه زه را استولی یم.

نعیم د برمك د خبرو وروستی جملې ښې وانه وریدی، د محمد بن قاسم (رح) د وژل کیدو د خبرې له اوریدو وروسته ده ته نورې خبرې ډېرې بې ارځښته وی، د هغه سترګې له اوښکو ډکې شوې ویې ویل :

برمکه : تا ډیر بد خبر راوړی دی، ته ودرېږه زه ځان تیاروم.

نعیم بیرته ستون شو په ملانځه ودرید، نرګس چې دده غمجنه څیره ولیده پر زړه یې په زرګونو وهمونو او شکونو یرغل راوړ کله چې نعیم لمونځ خلاص کړ دې جرئت وکړ ترې ویې پوښتل: ته ډیر پریشانه یې هغه څه خبر راوړی ؟

نعیم : نرګس ! موږ همدا اوس سمرقند ته روانیږو ته زر ځان تیار کړه.

د نرګس پر غمجنه څیره د نعیم دې خبرې بیرته د خوښی ورانګی وځلولی د هغې په زړه کې له نعیم سره یوځای د ژوند د ستونزو د مقابلې جرئت ؤ، خو په څه مصیبت کې یې له ځانه د هغه لرې او جدا کښل د مرګ په څیر ورته ګران وو،

هغې ته همدا بس وه چی له نعیم سره یوځای روانه وه خو د چیرته او د څه لپاره له سوالونو نه دا بې پروا وه.

*****

(۳)

د سمرقند د کلا په یوه کوټه کی قتیبه د خپلو سالارانو په منځ کی ناست ؤ خبری یی کولی، د کوټی په دیوالونو ځلورو خواو ته د دنیا د هیوادونو نقشی راځړیدلی وی. قتیبه د چین نقشې ته اشاره وکړه ویې ویل : موږ به دا پراخه هیواد په څو میاشتو کی فتحه کړی ؤ، خو نوی خلیفه زه دیر بد وخت ورغوښتی یم، تاسو پوهیږی چی هلته به له ماسره څه سلوك کوی؟

یوه جنرال ځواب ورکړ : هغه سلوك چی له محمد بن قاسم سره شویدی.
قتیبه په احساساتی آواز وویل : نو ولی ؟ مسلمانان تر اوسه زما خدمتونو

ته ضرورت لري، د چین له فتحې نه وړاندې زه ځان خلیفه ته نه سپارم، قتیبه بیا د نقشې په لیدلو بوخت شو، ناڅاپه نعیم کوټې ته ورننوت، قتیبه ور وړاندې شو سترې مشي یې ورسره وکړل او ورته ویې ویل : افسوس چې بې وخته مې زحمت درکړ، یوازې راغلې که له ...؟

: ما خپله ښځه هم راسره راوستې ده، ما گومان کاوه چې دمشق ته به مې هم د تلو امکان وي.

: دمشق ته ! نه قاصد ښایي غلط پوه کړی یې، دمشق ته یې ته نه زه ورغوښتی یم.

نوی خلیفه ته زما د سر ضرورت دی.

: ځکه خو زه هلته د تگ ضرورت وینم.

قتیبه په مینه د هغه په اوږه لاس ورکېښود ویې ویل :

نعیمه ! ماته ددې لپاره نه یې راغوښتی چې زما پرځای دمشق ته ولاړ شې، ماته ستا ژوند ترځانه ډیر گران دی، بلکې زه د خپل هر یوځي ژوند ترځان غوره بولم، ماته ددې لپاره راغوښتی یې چې په دې معاملو دې سر ښه خلاص وي، زه له تا او له خپلو نورو نړۍ لیدلیو دوستانو نه مشوره غواړم چې باید څه وکړم؟

امیر المؤمنین زما د وینو تږی دی.

نعیم په ډاډ او اطمینان ځواب ورکړ : د وخت د خلیفه له حکم نه سرغړونه یوه مسلمان پوځي ته مناسبه نه ده.

: ته د محمد بن قاسم د انجام له لیدو وروسته هم ماته همدا مشوره راکوې چې دمشق ته ولاړ شم او پخپلو لاسونو خپل سرخلیفه ته وړاندې کړم؟

: زما په گومان به خلیفه له تاسره داسې بد سلوك ونه کړي خو که خبره تر دې پورې رارسیده هم د ترکستان ترټولو ستر جنرال باید دا ثابته کړي چې د امیر په امر منلو کې له چانه وروسته نه دی.

قتیبه وویل : زه له مرگه نه ویریږم، خو زه داسې احساسوم چې اسلامي نړۍ زما خدمتونو ته ضرورت لري د چین له فتحې نه وړاندې زه د مرگ په کومې کې له ځان غورځولو نه ویریږم، زه د یوه بندي مرگ نه د یوه شاه-

زلمی مرگ غوارم.

: د خلافت په دربار کی بنایی ستا په باب څه بدگومان پیدا شوی وی، دیر امکان لری هغه لری شی، تاسو سمدستی همدلته پاتی شی ماته دمشق ته د تلو اجازه راکړی.

قتیبه وویل : آیا دا کیدای شی چی زه د ځان ژغورنی په خاطر خپل کوم دوست خطر ته وغورځوم ! ته ماځه ور سری گنی؟

: نو ته څه کول غواړی؟

: زه همدلته پاتی کیږم که بی له څه سببه امیر المؤمنین له ماسره د محمد بن قاسم په څیر سلوك کوی نو زما توره به ماوساتی.

: دا توره د خلافت له درباره تا ته بخښل شوی ده، د خلیفه پرخلاف یی د استعمال تصور په زړه کې مه راگرځوه، ماته هلته د تلو اجازه راکړه، زما باور دی چې هغوی به زما خبره واوری او زه به دا بد گومانی لری کړم، زما په باب څه اندیښنه مه کوه، په دمشق کی زما پیژندوی دیر لږ دی، هلته زما هیڅ ښمنی نشته زه به د یوه عادی سرتیری په حیث هلته ولاړ شم.

: نعیمه زه د ځان په خاطر چاته په خطر کی د لویدو اجازه نشم ورکولی.

: دا د تا لپاره نه دی، زه داسی احساسوم چی د امیر المؤمنین له دی حرکتونو نه اسلامی تولنی ته د زیان رسیدو احتمال دی، زما ذمه واری ده چی هغه له دی خطر نه خبر کړم، ماته اجازه راکړه.

قتیبه نورو جنرالانو ته وکتل، او د هغوی نه یی رایه وغوښته هبیره وویل : له ټول عمر قربانیو وروسته د عمر په وروستیو شپو ورځو کی باید خپل نومونه د باغیانو په لست کی ونه لیکو، د نعیم د ژبی په اغیزه مونږ ټول خبریو، تاسو هغه ته د مشق ته د تلو اجازه ورکړی.

قتیبه تر لږ ځنده لاس په تندی کیښود او له لږ سوچ وروسته یی وویل : ښه ده نعیمه ! ته ولاړ شه د خلافت په دربار کی زما له لوری عرض وکړه چی زه به د چین له فتحی نه وروسته دربار ته حاضر شم.

: زه له دی ځایه سبا سهار ته روانیږم.

: مګر تا خو وویل چی میرمن دی هم راوستی ته هغه ...؟

: زه هغه له ځانه سره بیایم، نعیم یی خبره وروری کره او ځواب یی ورکړ.

، په دمشق کی چی زه خپله ذمه واری پوره کرم بیا به یی خپل کلی ته بوزم او زه به ستا خدمت ته راشم.

نعیم سبا ته له نرگس او لسو تنو نورو سر تیرو سره یوځای د دمشق په لوری وخوځید، نعیم د ځینو مصلحتونو په وجه برمك هم له ځان سره ملگری کړ.

*****

(٤)

نعیم چی دمشق ته ورسید په یوه سرای کی یی له ملگرو سره د پاتی کیدو بندوبست وکړ او یو کور یی د ځان لپاره په کرایه ونیو، برمك یی له نرگس سره پریښود او پخپله د خلافت دربار ته ولاړ او د حاضریدو اجازه یی وغوښته ، له هغه ځایه د یوی ورځی انتظار حکم ورته وشو، دوهمه ورځ د خلافت دربار ته له تلونه وړاندی نعیم برمك ته وویل :

که په څه سبب زه د خلافت په دربار کی وځنډیدم ته به د کور ساتنه کوی، ترڅو زه نه یم راغلی پر نرگس پام کوه.

هغه نرگس ته هم تسلی ورکړه چی ده په غیاب کی ونه ویریږی، هلته به له ده سره څه خطرناکه معامله نه کیږی.

نرگس په داډ ځواب ورکړ : زه به ستا تر راتگه دا لوړ لوړ محلونه شمیرم.

نعیم لږ ځنډ د خلافت د دربار په دروازه کی انتظار شو، بالاخره د دروازی پهره دار اشاره ورته وکړه او نعیم د خلیفه په مخکی حاضر شو،

نعیم سلام واچاوه او په ادب ودرید، د خلیفه ښی او کیڼ لوری ته څو تنه مخور ناست وو خو نعیم هغوی ته څه پام ونه کړ، د خلیفه سلیمان بن عبدالملك په څیره کی څه داسی هیبت ؤ چی ډیر زړور به هم له هغه سره خبری په جرئت نه شوای کولای.

خلیفه نعیم ته وکتل او ویی پوښتل : ته له ترکستان نه راغلی یی ؟

: هوکی امیر المؤمنینه !

: ته قتیبه را استولی یی؟

: نعيم په دې پوښتنه حيران شو، ويې ويل : امير المؤمنينه زه په خپله خوښه راغلی يم.

: روايه څه وايي ؟

: امير المؤمنينه ! زه ستا په خدمت کې دا عرض کوم چې قتيبه ستاېو وفادار سپاهي دی، تاته لکه چې د هغه په اړه هم لکه د محمد بن قاسم په باب بدګوماني پيدا شوې ده.

سليمان چې دا واوريدل له غوسې نه لړ له کرسۍ نه جګ شو شونډې يې وچيچلې او بيرته کښيناست:

خليفه لهجه بدله کړه ويې ويل:

ته پوهيږې ! زه ستا غونډې ګستاخانو سره څه ور سلوك کوم !

د دربار يو سړی جګ شو ويې ويل : امير المؤمنينه ! دا د محمد بن قاسم پخوانی دوست دی، دده د خلافت د دربار په پرتله له دې لعنتي نسل سره زياته مينه ده.

نعيم مخ ور وګرځاوه او خبرې کوونکی ته يې وکتل او بيا حيران دريان ودريد. هغه ابن صادق ؤ.

هغه په حقارت نعيم ته وکتل، نعيم داسې احساس کړه چې ښامار بيا خوله خلاصه کړې او په مخ کې يې ولاړ دی.

دا ځل ددې ښامار غاښونه ترپخوا زيات تيره ښکاريدل نعيم بيرته سليمان ته وکتل او ويې ويل : ستا د سزا ويره ما د رښتيا ويلو نه نشي اړولی، د محمد بن قاسم غوندې توربالی عربي ميندې په وار وار نه شي زيږولی، هو هغه زما دوست ؤ، خو زما نه زيات ستا دوست ؤ خو تاييې په پيژندلو کې اشتباه کړې وه، تا د حجاج بدل د هغه له ورارہ نه واخست، اوس ته د ابن صادق غوندې ذليلو انسانانو په خوله له قتيبه بن مسلم سره هم همغسې سلوك غواړې، امير المؤمنينه ! ته د مسلمانانو راتلونکی له خطر سره مخ کوې، يوازې د مسلمانانو راتلونکی نه بلکې خپله راتلونکې هم خرابوې، دغه سړی د مسلمانانو پخوانی دښمن دی، له ده نه د ځان ساتلو هڅه وکړه.

: چوپ شه ! خليفه نعيم ته په غوسه وکتل او لاسونه يې وپړکول،

څو تنه توره کښلي سپاهیان ورننوتل.

سلیمان وویل : ځوانه ! زه تر قتیبه زیات د محمد بن قاسم د پخوانیو دوستانو په لټه کې وم، ښه شو چې پخپله راغلې، بیا یې کوتوال ته وویل : دی بوزئ او ښه څارنه یې کوئ.

سپاهیانو د تورو په سیوری کې نعیم بهر ته ویوست، په دروازه کې څو تنه سپاهیان د ده په انتظار وو، دوی چې نعیم ترڅارنې لاندې ونیـد اندیښمن شول نعیم دوی ته وکتل لږ تم شو ویې ویل : تاسو زر بیرته ولاړ شئ، برمك ته ووایئ چې له نرګس سره اوسئ او قتیبه ته زما له لوري ووایئ چې بغاوت ونه کړي.

کوتوال وویل : افسوس چې موږ تاته د زیاتو خبرو اجازه نشو درکولی.

نعیم په موسکا کوتوال ته وکتل ویې ویل :

دیر ښه او بیا وراندې ولاړ.

# ښامار د زمریانو په پنجو کې

سلیمان د خلافت پر تخت ناست ؤ، په څیره کې یې د فکرونو ژوری علامې وی، ابن صادق ته یې وکتل ویې ویل :
تر اوسه له ترکستان نه خبر نه دی راغلی ؟
: امیر المؤمنینه ! فکر مه کوه، انشا الله له ترکستان نه به د لومړی خبر سره د قتیبه سر هم ستا په حضور کې وړاندې شي.
سلیمان په ړیره لاس راتیر کړل ویې ویل : وګوروا
لږ ځنډ وروسته یو پهره دار سلام وکړ بیایی وویل :
له هسپانیې نه یو سالار چې عبدالله نومیږی د ملاقات اجازه غواړی،
خلیفه حکم وکړ : هو هغه راوله،
پهره دار ووت او عبدالله دربار ته ورننوت.
خلیفه خپل ښی لاس وروړاندی کړ او عبدالله هم ورغی له هغه سره له مصافحی وروسته په ادب ودرید.
: ستا نوم عبدالله دی؟
: هو امیرالمؤمنینه !
: ما په هسپانیې کې ستا د شهامت او زړورتیا کیسی اوریدلی دی. ته تجربه کار زلمی ښکاری، د هسپانیې په پوځ کې له کله نه ور شریك یې؟
: امیر المؤمنینه ! زه له طارق «رح» سره د هسپانیې په ساحل پلی شوم او له هغه وخته را په دې خوا هلته یم.
: ښه د طارق په باب ستا څه رایه ده؟
: امیر المومنینه! هغه په ریښتینی معنا یو مجاهد دی.
: او د موسی په باب څه وایې ؟
: امیر المؤمنینه ! یو سپاهی د بل سپاهی په باب بد نظر نشی ورکولی ،

زه شخصاً د موسى د ستاينځو څخه يم او د هغه پرخلاف بده خبره ګناه بولم.

: د ابن قاسم په اړه څه نظر لرې؟

: امير المؤمنينه ! زه د هغه په اړه له دې پرته زيات معلومات نه لرم چې هغه يو زړور سپاهى و.

: سليمان ووېل : ته پوهيږې چې زه له دې خاکو نه خومره کرکه کوم؟

: امير المؤمنينه ! زه ستا احترام کوم، خو زه منافق نه يم. تا زما نظر وغوښت او ما درته واوراوه.

: زه ستا ددې خبرې قدر کوم او څرنګه چې تا زما پرخلاف په کومه دسيسه کې برخه نه ده اخستې زه درباندې اعتماد کوم.

: امير المؤمنين به انشا الله ما ددى اعتماد وړ وګورى.

: ډير ښه، موږ د قسطنطنيى د عملياتو لپاره يوه تجربه کار جنرال ته ضرورت درلود، هلته زموږ پوځونو هيڅ برى نه دى ترلاسه کړى، ته مو د همدى لپاره له هسپانيى نه را وغوښتى، زر تر زره له دې ځايه پنځه زره تنه سر تيرى درسره بوزه او قسطنطنيې ته روان شه.

سليمان يوه نقشه وغوړوله، عبدالله يى ترڅنګ کيناست او بيايى د حملې په اړه يو اوږد بحث ورسره پيل کړ.

يو پهره دار راغى يو ليك يى ده ته ورکړ، سليمان زر ليك خلاص کړ او وبې لوست وبې ويل : قتيبه وژل شويدى او ترڅو ورځو پورى به يې سر دربار ته حاضر کړاى شي.

ابن صادق د خليفه له لاسه ليك واخست وېې ولوست وېې ويل : مبارك دې شه، بيايې زياته کړه:

تا د هغه ځوان په باب څه وړ فکر کړى دى؟

: کوم ځوان ؟

: هماغه چې څو ورځې وړاندې د قتيبه له لورى راغلى ؤ هغه ډير خطرناك سړى دى.

: هو د هغه په باب به هم په نژدې وخت کې فيصله وکړو.

: خليفه بيا عبدالله ته مخ ورواړاوه:

ستا پلاټونه راته بريالي ښکاري ته زر تر زره روان شه،

عبدالله وويل : زه به سهار ته وخوځيږم او بيايي سلام وکړ او بهر ته ووت.

*****

(۲)

عبدالله د خلافت له درباره ډير لرې نه ؤ تللى چې له شانه يې چا په اوږه لاس ورکيښود، عبدالله چې شاته وکتل يو خندني زلمى يې په مخ کې ولاړ ؤ او دى زر ورسره غاړه غړې شو:

يوسفه ! ته دلته څه کوې؟

ته له هسپانيې نه داسې راورک شوې چې بيا دې نخښه هم نه معلوميده.

: زه دلته کوتوال يم، نن مې چې ته وليدې ډير خوښ شوم.

عبدالله ته لومړنى کس يې چې په بيبا کي دې خليفه خفه نشو،

: دا ددې لپاره چې هغه ماته ضرورت درلود، عبدالله په موسکا ځواب ورکړ بيايي زياته کړه : ته هم هلته وې؟

: زه يوې خواته ولاړ وم خو ستا راپام نه شو، ته سهار ته روانيږې؟

: تا به اوريدلي وي!

: نن شپه به له ماسره تيروې.

: زه به له تاسره په پاتي کيدو ډير خوښ شوى واى خو سهار وختى بايد کوچ وکړو څکه خو په قرار گاه کې ښه يم.

: عبدالله راځه لښکر ته دى امر وکړه بيرته به راشو، زه هم درسره ځم، پس له ډيره وخته دى گورم زه درسره خبرى لرم.

: ښه ده نو راځه!

عبدالله او يوسف خبرى کولى او د لښکر قرار گاه ته ورننوتل. عبدالله لښکر ته د خليفه حکم واوراوه، پنځه زره پوځيانو ته يې سهار وختى د تيارۍ حکم وکړ او له يوسف سره بيرته د ښار په لورى راغى.

د شپى له ډوډى وروسته عبدالله او يوسف په خبرو اترو مشغول وو، دوى د قتيبه بن مسلم برياوى يادى کړې او بيايي پردى دردناك پاى خفگان وښود.

عبدالله پوښتنه وکړه : هغه سړی څوك و چې د قتیبه په مرگ یې امیر المؤمنین ته مبارکي وویله؟

یوسف وویل : هغه ټول دمشق ته یوه معما ده، زه تردې زیات د هغه په باب معلومات نه لرم چې نوم یې ابن صادق دی او خلیفه ولیدیې د سر قیمت زر اشرفی ټاکلی و، د خلیفه له وفات نه وروسته له کومې گوښې نه راووت او د سلیمان دربار ته یې ځان ورساوه.

نوی خلیفه ده ډېر احترام وکړ، او اوس خبره تر دې پورې رارسیدلې چې خلیفه له ده پرته د بل چا خبره نه اوري.

عبدالله وویل : ډېره موده وړاندې ما ده په باب څه اوریدلی د خلافت په دربار کې دده ځواك د ټولو مسلمانانو لپاره خطرناك دی، اوسنی حالت خو داسې دی چې په موږ ډېر بد وخت را روان دی.

یوسف وویل : ما تر اوسه پورې دده په څېر سخت زړی او بې رحمه انسان نه دی لیدلی.

د محمد بن قاسم په مرگ هیڅ داسې انسان نه و چې اوښکې یې نه وې پرې تویې شوې، پخپله سلیمان هم له ټول سخت زړتوبه تر څو ورځو پورې له هیچا سره خبرې ونه کړې، خو دا سړی په هغه ورځ ډېر خوښ او تازه و، که زما په وس پوره شي نو په سپیانو به یې ودارم.

دی چې کوم چاته گوته ونیسي امیر المؤمنین یې جلاد ته وسپاري. د قتیبه د وژلو مشوره ده ورکړه او نن دی واوریدل خلیفه ته یې د یوه بندي یادونه کوله.

: هغه څوك دی:

: هغه د قتیبه یو ځوان جنرال دی، کله چې هغه را یاد شي ویښتان می زیږه زیږه شي، ماته د هغه انجام تر محمد بن قاسم زیات خطرناك ښکاري، عبدالله! زه مې غواړي چې دغه دنده پرېږدم او بیرته په پوځ کې شامل شم، ضمیر مې هر وخت ملامتوي، پر محمد بن قاسم د عربو ټولو ویونزو فخر کاوه، خو له هغه سره یې داسې سلوك وکړ چې له بدترین مجرم سره یې هم څوك نه کوي.

کله یې چې هغه د «واسط» بندي خانې ته واستاوه زه یې هم د خارنې

لپاره هلته واستولم. د واسط حاکم صالح له پخوانه د هغه د وينو تږی ؤ، هغه محمد بن قاسم ډېر زيات ځوراوه، څو ورځی وروسته ابن صادق هم هلته ور ورسيد، ده هره ورځ د ابن قاسم د ځورولو او آزار لپاره نوي نوي لارې سنجولې، زما هغه ورځ ته هيرېږي چې محمد بن قاسم له مرګه يوه ورځ وړاندې په جيل کې قدم واهه، ما د اوسپنې د پنجرو له شانه د هغه هر حرکت په ځير ځاره ما چې هغه د متانت او وقار نه ډکه څېره ليده غوښتل مې دننه ورشم لاس او پښې يې ورښکل کړم.

د شپې ماته د سختې څارنې امر وشو، ما د تياره پنجرې په منځ کې شمع بله کړه، د ماسختن د لمانځه نه وروسته هغه ورو ورو قدم واهه، شپه تيره شوې وه دغه ذليل ابن صادق د زندان د روازې ته راغې او چيغې يې کړې پهره دار دروازه خلاصه کړه ابن صادق ماته راغی ويې ويل:

له ابن قاسم سره ګورم.

ما ځواب ورکړ چې د صالح امر دی چې له هيچا سره يې د ملاقات اجازه نشته.

هغه احساساتي شو ويې ويل : ته پوهيږې چې زه څوک يم؟

زه لږ وويريدم، هغه لهجه بدله کړه تسلي يې راکړه چې صالح تا ته هيڅ هم نشي ويلای، ما له مجبوريت نه د محمد بن قاسم کوټې ته اشاره وکړه، ابن صادق وړاندې ورغی د دروازې له پنجرې نه يې هغه ته کتل، محمد بن ...م په خپلو خيالونو کې ورک ؤ، ده ته يې پام نه شو، ابن صادق په سپکه لهجه ورته وويل:

د حجاج نازوليه څنګه يې؟

محمد بن قاسم ټکان وخور ده ته يې وکتل خو څه يې ونه ويل.

: ما پيژنې؟ هغه بيا پوښتنه وکړه.

محمد ځواب ورکړ : زما نه ياديږي ته څوک يې؟

هغه وويل : وګوره زه دې هير شوم، خو ته مې ته يې هير شوې.

محمد بن قاسم ور وړاندې شو د پنجرې اوسپنې يې ونيوې او په غور يې ده ته وکتل بيايي وويل ښايي چيرته مې ليدلی وې خو په ياد مې نه راځې.

ابن صادق په چوپه خوله په خپله امسا هغه وواهه او لارې يې پرې تو

کړی، زه حيران شوم چی د هغه په څېره کې د غوسې نښې راښکاره نه شوې د خپل کميس په لمن يې د مخ لاړې پاکې کړې ويې ويل : بوډا سړيه ! ما ستا په عمر چاته تر اوسه هيڅ تکليف نه دی رسولی، که مې په ناپوهی کې تاته څه زيان رسولی وي نو زه په خوښی تاته د يو ځل بيا د لاړو توکولو اجازه درکوم.

زه رښتيا وايم چې که په دې وخت کې د محمد بن قاسم په مخکې ډېره وای هم اوبه شوی وای، زما زړه غوښتل چې د ابن صادق ږيره وشکوم، خو ښايي دا به د خلافت د دربار درناوی ؤ او که به زما بې زړه توب چې هيڅ مې ونکړای شول، له دې وروسته ابن صادق کنځلې کولې او بيرته ولاړ، نيمه شپه ما د بنديخانی چکر وواهه هغه مې وليد چې په زنګنو ناست ؤ او دعايې کوله، ما صبر ونکړای شو کولپ مې خلاص کړ او کوټې ته ور ننوتم هغه دعا پای ته ورسوله ماته يې وکتل.

ما ورته وويل جګ شه.

هغه حيران شو پوښتنه يې وکړه : ولی ؟

ما وويل : زه په دې ګناه کې ځان نه شريکوم، زه ستا د ژغورلو هڅه کوم.

هغه په ناستی لاس رااوږد کړ زما لاس يې ونيوله ځان سره يې نژدې کينولم او ويې ويل : اول زما پردی باور نه راځي چی امير المؤمنين دې زما د وژلو حکم وکړی ، که بيا داسی وشی هم نو ستا څه خيال دی چی زه به د ځان په خاطر ستا ژوند په خطر کې وغورځوم؟

ما وويل : زما ژوند په خطر کې نه غورځيږی، زه هم ستا سره ځم، زما سره دوه ډير ګړندی اسونه شته، دواړه به ډير زر له دی ځايه ډير لرې ولاړ شو، د کوفې او بصری خلکو ته به پناه وروړو، هغه خلك ستا په خاطر د خپل وروستی څاڅکی وينو تويولو ته تيار دی، د اسلامی نړۍ ټول لوی ښارونه ستا هرکلی ته چمتو دی.

هغه په موسکا ماته وکتل ويې ويل : ستا څه ګومان دی چی د بغاوت اوريل کړم او ننداری ته يې کښينم ؟ نه، دا نشی کيدای، زه دا بی همتی بولم، غيرتيان بايد د غيرت په مرګ مړه شی، زه د خپل ځان د ساتنې په

خاطر د زرګونو تنو مسلمانانو ژوند په خطر کې نشم اچولی، ته دا غواړې چې نړۍ محمد بن قاسم د یوه مجاهد پر ځای یو باغي وبولي.

ما وویل : څو مسلمانان تا غوندې زړورو سپاهیانو ته ضرورت لري.

هغه وویل : مسلمانانو ته زما په څېر د سپاهیانو کمی نشته، پر اسلام د لږ پوهي خاوند هم د ښه سپاهي صفتونه په ځان کې پیدا کولی شي.

زما سره نور الفاظ نه وو جګ شوم ورته ومې ویل : ما ویخښه ته زما له ګومان نه ډیر اوچت وختې، هغه جګ شو زما په لاس کې یې لاس راکړ ويې ویل : د خلافت دربار د مسلمانانو د قوت مرکز دی، له هغه سره د بې وفایي خیال دې هیڅکله په زړه کې مه راګرځوه.

یوسف خبره پای ته ورسوله، عبدالله د هغه اوښلنو سترګو ته وکتل ويې ویل : هغه یو رښتینی مجاهد ؤ.

یوسف وویل : اوس یوه بله خبره زما اروا سولوي، مادرته د مسلم بن قتیبه د یوه جنرال خبره کوله، د هغه څېره تاته ډیره ورته ده، په قد ستا نه لږ جګ دی، زه له هغه سره ډیر بلد شوی یم، او که خدایږ مه کړه له هغه سره هم دا معامله وشوه زه به د بغاوت علم پورته کوم، د هغه ګناه یوازې دا ده چې د محمد بن قاسم او قتیبه صفتونه یې کول، ابن صادق هره ورځ زندان ته ورځي او هغه آزاروي، زه دا احساسوم چې هغه د ابن صادق په خبرو زیات ځوریږي.

هغه له مانه څو ځلې وپوښتل چې کله به یې خوشې کړي، زه ویریږم چې دابن صادق د شله ګي په وجه هغه د خوشې کیدو پرځای قتل نه کړای شي.

د محمد بن قاسم څو تنه نور دوستان هم بندیان دي خو له ده سره ډیر شرمناک سلوك کیږي، د هغه تاتاري نسبه میرمن هم ورسره راغلې ده او هغه له کوم خپلوان سره په ښار کې چیرته اوسیږي، څو ورځې وړاندې یې ماته د خپلې میرمن پته راکړه د هغې نوم لکه چې نرګس دی زما د ترور کور ته نژدې په یوه کور کې اوسیږي.

زما خاله زیاته ورسره بلده شوې ده، هغه تړوله ورځ سره یو ځای وي او ما مجبوروي چې په څه لاره یې د خاوند د ژغورلو او خوشې کیدو لپاره لاس په کار شم.

عبدالله په ژورو سوچونو کې ډوب ؤ د یوسف خبرې یې اوریدې د هغه په زړه کې ډول ډول اندیښنې پیدا کیدې بیایې له یوسف نه پوښتل : د هغې ځیره ماته ورته ده؟

: هو، خو په قد ستانه لوړ دی.

: د هغه نوم خو نعیم نه دی؟ عبدالله په غمجنې لهجې وپوښتل؟

: هو نعیم دی، ته یې پیژنې؟

: هغه زما کشرې ورور دی.

: اوف ماته معلومه نه وه،

عبدالله له یوې شیبې چوپتیا وروسته وویل : که د هغه نوم نعیم وی او تندی یې زما له تندی نه لږ پراخ او پزه یې زما له پزې لږ نرۍ وی سترګې یې زما له سترګو غټې او شونډې یې نرۍ او ښکلې او په قد له مانه لوړ وی، بدن یې زما له بدن نه لږ نرۍ وی نو سوګند کوم چې هغه زما له وروړ پرته بل نعیم نه دی.

هغه څومره موده بندی دی؟

: د هغه د بندی کیدو دوه میاشتې په پوره کیدو دی.

عبدالله ! اوس یې باید د خلاصولو په څه تدبیر سوچ وکړو.

: ته ځان له خطر ته غورځولو پرته د هغه د خوشې کیدو لپاره هیڅ نشې کولی.

: عبدالله ! د قرطبې د کلابندې په وخت کې دې په یاد دي چې زه تپې تپې وم تا خپل ځان په خطر کې وغورځاوه او د غشو په باران کې دې زه د مړیو له منځه اوچت کړم او روغ دې وایستم؟

عبدالله : هغه زما فرض او ذمه واري وه پرتا احسان نه ؤ

: زه هم اوس دا خپله ذمه واري بولم په تا احسان نه کوم.

عبدالله تر ډیره د یوسف په سترګو خپلې سترګې وګنډلې او چوپ ؤ هغه څه ویل غوښتل چې د یوسف حبشي غلام «زیاد» راغی او خبري ورکړ چې ابن صادق په دروازه کې ولاړ دی له تا سره د لیدو هیله لري.

د یوسف رنګ تک سپین واوښت، هغه په ویره عبدالله ته وویل : ته بلې کوټې ته ولاړ شه، هغه شکمن نه شي.

عبدالله زر بلې کوټې ته ولاړ، یوسف د هغه له تلو وروسته آرامه ساه وکښله او زیاد ته یې وویل : ورشه راېې وله.

زیاد ووت او لږ ځنډ وروسته ابن صادق راغی هغه د څه رسمي جملو له ویلو پرته چې راغی ویې ویل :

ته به زما په لیدو حیران شوی یې؟

د یوسف په شونډو یوه معنی داره موسکا وغوړېده ویې ویل :

دا ځای څه ده چې تا هر ځای ګورم حیرانیږم، راځه کښېنه !

ابن صادق وویل : منتها بیایې دکوټې په ګلورو خواو نظر راوګرځاوه د بلې کوټې وره ته یې په ځیر ځیر کتل ویې ویل : زه ډېر مصروف وم، هغه ستا دوست چیرته دی؟

یوسف په اندیښنه وپوښتل : کوم دوست؟

: ته ښه پوهیږې چې زه دې د کوم دوست پوښتنه کوم.

: ما ستا په ځیر غیب علم دعوه نه ده کړې.

: زما مطلب دا دی چې د نعیم ورور عبدالله چیرته دی؟

: ته یې څه ور پیژنې چې هغه د نعیم ورور دی؟

: د نعیم په باب څوکاله کیږي چې معلومات راټولوم، ته پوهیږې چې زما له هغه سره څومره علاقه ده؟

یوسف په ترخه لهجه وویل : زه په دې پوه یم، خو زه دا پوښتم چې ستا له عبدالله سره څه کار دی؟

ابن صادق ځواب ورکړ : تا ته به دا هم معلومه شي خو لومړی دا ووایه چې هغه چیرته دی؟

: ماته څه معلوم دي، دا خو ضروري نه ده چې ستا له چا سره علاقه وي زه دې هم د هغه جاسوسي وکړم.

ابن صادق وویل : کله چې هغه له دربار راووت ته ورسره وې کله چې د لښکر قرار ګاه ته ورسید ته هلته هم ورسره وې، او کله چې هغه بیرته ښار ته راستون شو، ته بیا هم له هغه سره ملګری وې، زما ګومان ؤ چې اوس به هم هغه له تا سره وي .

: هغه دلته دوړی وخوړه او ولاړ.

: څه وخت؟

: لږ دمخه!

: چيرته ولاړ؟

: غالباً به د لښکر قرارگاه ته تللی وي.

: داسې هم کيدای شي چې د زندان په لوری تللي وي او يا د خپل ورور کوندې ته د تسلي لپاره ورغلی وي.

: د ورور کونډه! ستا مطلب دا دی چې ...!

ابن صادق په خپله ږيره لاس راتير کړ او ځواب يې ورکړ:

زما مطلب دا دی چې تر سبا پورې به هغه کونده شي.

زه تاته د امير المؤمنين ددی فرمان اورولو لپاره راغلی يم چې د محمد بن قاسم د ټولو دوستانو کلکه څارنه به کوی.

سبا ته به د هغوی په باب د محکمی حکم اورول کيږي، او زه له خپل لوری ستا په خدمت کې عرض کول غواړم چې که د خپل سرخير غواړې نو له عبدالله سره په گډه د نعيم د خلاصون سوچونه پريږده.

يوسف په غوسه ووېل.

: ته په کوم دليل وايې چې زه داسې څه سوچ کوم؟

ابن صادق ځواب ورکړ : زما پوره يقين نه دی خو د عبدالله دوستی بنايي تا په دې مجبور کړي. تا په بنديخانه کی څومره سپاهيان گومارلی؟

يوسف ځواب ورکړ : څلويښت تنه او زه هم هسدا اوس ورځم.

: که کيدای شي نو يو څو نور سپاهيان هم راوله، ځکه چې هغه په وروستيو شيبو کې هم د تيښتې هڅه کوی.

: ته دومره ولې ويريږې؟ هغه يو عام سړی دی، په بنديخانه که پنځه زره تنه يرغل راوړی هم هغه به خلاص نکړای شي.

: زما فطرت ما د راتلونکو خطرونو نه خبروي، ښه زه ځم، څو نور سپاهيان به هم دروليږم، ته هغوی هم د نعيم پر کوټه په پهره ودروه.

يوسف په تسلي ورته ووېل : ته داده اوسه نورو پهره دارانو ته اړتيا نشته زه پخپله گزمه کوم، ته ولی دومره انديښمن يې؟

ابن صادق ځواب ورکړ : تاته ښايي معلومه نه وي ، د هغه خوشې کيدل

زما د مرگ په معنی دی، تر څو د هغه په ورمیږد جلاد توره راکوزه نه شي زه به آرام نشم.

ابن صادق خپله خبره پای ته ورسوله چې د شا کوټې دروازه ناڅاپي خلاصه شوه عبدالله راووت او ویې ویل : دا هم کیدای شي چې د نعیم له مرگه وراندې ته په قبر کې ویده شې.

ابن صادق تکان وخوړ شاته یې وکتل، غوښتل یې له هغه ځایه وتښتي خو یوسف ورورانده‌ی شو په مخه کې یې ودرید او خنجر یې ورښکاره کړ ویې ویل:

اوس ته نشې تلای.

ابن صادق وویل : ته پوهیږې زه څوك یم؟

: موږ دې ډیر ښه پیژنو، اوس به ته په دې پوهیږې چې موږ څوك یو ؟ دا یې وویل او بیا یوسف لاسونه وپړکول، د هغه غلام زیاد په منډه کوټې ته ورننوت هغه د څیرې او وجود له مخې د یوه تور دیو په څیر ؤ، خیټه یې دومره لویه وه چې د تگ په وخت کې به پورته پورته غورځیده پزه یې ډیره لویه او پلنه وه، لاندینی شونډه یې دومره پنډه وه چې تر وریو پورې یې غاښونه ښکاریدل.

د هغه سترگې ورې خو ځلیدونکې وې، زیاد ابن صادق ته وکتل او دخپل بادار د حکم په انتظار ودرید.

یوسف ورته وویل یوه رسۍ راوړه، زیاد گړندی بهر ته ووت او د رسۍ نه علاوه یې یو لرگی هم راوړ.

یوسف وویل زیاده ! دې په دې رسۍ په ستنه پورې وتړه، زیاد له پخوا نه په زیاته ویروونکې بڼه ابن صادق ته ور وراندې شو هغه یې له متو ونیو، ابن صادق څه مزاحمت وکړ خو د خپل ځواکمن حریف په پنجو کې بې وسه شو، زیاد دومره وخندلو چې بیهوښی ته نژدې شو، بیایې په پوره داډ دده لاسونه او پښې وتړل په یوه ستنه پورې یې کلك وتاړه.

عبدالله له خپل جیبه دسمال راواخست او د هغه خوله یې کلکه پرې وتړله.

یوسف عبدالله ته وکتل او ترې ویې پوښتل : اوس موږ باید څه وکړو؟

عبدالله ځواب ورکړ : ما په هر څه سوچ کړی دی ته تیار شه او له ما سره روان شه، تاته هغه کور معلوم دی چې د نعیم ښځه پکې اوسی؟

: هو ! هغه دلته نژدې دی.

: ډیره ښه ده یوسفه ته د یوه اوږده سفر لپاره ځان تیار کړه.

یوسف د جامو په بدلولو مشغول شو، او عبدالله له جیبه قلم او کاغذ راوکښل او زر زر یې یو لیك ولیکه او په جیب کې یې واچاوه.

: دا لیك دی د چا لپاره ولیکه؟

: دا خبره ددې ذلیل په مخ کې کول مصلحت نه ده.

چې بهر ته ووتو درته وبه یې وایم.

ته دې غلام ته ووایه چې زه څه ورته وایم همغسې وکړي.

دی به نن سهار زه له ځانه سره بیایم.

یوسف ابن صادق ته اشاره وکړه ویې ویل : دی به څنګه کیږي؟

عبدالله ځواب ورکړ : ته ددې فکر مه کوه، زیاد ته ووایه چې زما تر راستنیدو پورې یې وساتي، او ستا په کوز کې د لرګیو کوم لوی صندوق شته چې دی خطرناك موږك ته د کپس کار ورکړي؟

یوسف د عبدالله په مطلب پوه شو ویې خندل او ویې ویل : هوکې یو لوی صندق په بله کوټه کې شته چې ده ته به د یوه لوی کپس کار ورکړي، زه یې تاته درښیم او بیا یوسف عبدالله بلې کوټې ته ورسره بوتلو هلته یې د لرګی صندوق ته اشاره وکړه–

ویې ویل : زما په ګومان به دی دا ضرورت پوره کړي.

: هو ډیر ښه دی، دا زر راته تش کړه، یوسف یې سرپوښ لرې کړ صندق یې پر بل مخ واړاوه او ټول شیان یې په ځمکه تړی وغورځول، عبدالله د صندوق په سرپوښ کې د چاقو په واسطه دوه درې سورې وکړل او ویې ویل : بس نور سم شو، زیاد ته ووایه چې دا راواخلي او همغسې کوټې ته یې راوړي.

یوسف زیاد ته حکم وکړ او هغه صندق بلې کوټې ته یو وړ.

عبدالله وویل : اوس ته زیاد ته ووایه چې د دې پوره څارنه وکړي، ګڼې یې د ځان خلاصولو هڅه کوله نو مرۍ یې دې ورځپه کړي.

يوسف زياد ته وکتل وې ويل : زياده ! پوهيږې چې څه بايد وکړې؟
هغه په اثبات سر وخوځاوه.
: دده حکم بلکل زما حکم وګڼه.
زياد بيا هم هغسې سر وخوځاوه.
عبدالله وويل : راځه چې نور ناوخته کيږي.
يوسف او عبدالله له کوټې نه د وتلو په حال کې وو چې يوسف ته څه ور په ياد شو ودريد او وې ويل :
ښايي زه له ده سره بيا ونه وينم زه ورته يو څه وايم.
عبدالله وويل : اوس د داسې خبرو وخت نه دی.
يوسف : کومه اوږده خبره نه ده ته لږ ودريږه!
يوسف دا وويل ابن صادق ته يې مخ ور واړاوه وې ويل :
زه ستا قرض دار يم ، اوس غواړم ستا لږ پور ادا کړم.
وګوره تا د محمد بن قاسم مخ ته لاړې ورتوکړې وې؟ ځکه خو زه ستا پرمخ تو کوم. دايې وويل او بيا يې د ابن صادق مخ ته ور تو کړل.
تا د هغه لاس په لکنه وواهه ! ځکه خو دا در واخله يوسف ابن صادق په قمچينه وواهه.
بيا يې ورته وويل : ستا په ياد دی تا نعيم هم په مخ په څپيړه وواهه، دا د هغه په ځواب کې درواخله او ورسره سم يې هغه پر مخ په زوره په څپيړه وواهه. تا د نعيم د سروېښتان وشکول يوسف د هغه ږيره ونيوه او په زوره زوره يې جټکې ورکړې.
عبدالله بيرته راغی هغه يې تر مټ ونيو او په زوره يې ورسره کش کړ وې ويل : يوسفه ! ماشوم له ځانه مه جوړوه.
يوسف : ښه ده نور بل وخت، زياده ! دده ښه ځارنه کوه.
زياد بيا هغسې سر وخوځاوه او يوسف له عبدالله سره يوځای بهر ووت.

* * * * *

(۳)

په لاره کې يوسف پوښتنه وکړه : تا څه تدبير نيولی دی؟
عبدالله وويل : واوره ! ته ما د نعيم د ښځې په کور کې پريږده پنډې

خانې ته ولاړ شه، نعیم له هغه ځایه راوباسه خپل کور ته یې راوله، له بندیخانې څخه یې ویستل ډیر ګران نه دي؟

: نه هیڅ ستونزه نشته.

: ښه ده تا وویل چې له ماسره دوه ګرنډي اسونه دي، زما اس په پوځي طویله کې دی، ته د یوه بل اس بندوبست نشې کولی.

: زه خو لس اسونه هم برابرولی شم خو د نعیم په کور کې هم درې غوره اسونه تیار ولاړ دي.

: ښه ده ته نعیم راوباسه کور ته یې راوله، په دې څنډ کې به زه د نعیم له ښځې سره د ښار د لویدیځې دروازې نه بهر ستا انتظار کوم، تاسو دواړه له کوره سپاره هلته ځانونه را ورسوئ.

عبدالله خپل لیکلی لیک راوایست او یوسف ته یې ورکړ ویې ویل:

ته به له دې ځایه نیغ قیروان ته ځې، د هغه ځای د پوځ سالار زما دوست دی هغه د نعیم تولګیوال هم ؤ، هغه به هسپانیې ته ستاد استولو بندوبست کوي، هسپانیې ته چې ورسیدې د طلیطلې د پوځ امیر ابو- عبدالله ته به دا لیک ورکړې.

هغه به دې په پوځ کې شامل کړي، هغه زما ډیر نژدې او مخلص دوست دی، ستا به پوره پوره ساتنه کوي، هغه ته ددې ویلو ضرورت نشته چې نعیم زما ورور دی، ما لیکلی چې دا دواړه زما دوستان دي، نور څوك مو له خپل حاله مه خبروئ.

زه چې له قسطنطنیې نه راستون شم د امیر المؤمنین د بدګومانۍ د رفعه کولو هڅه به وکړم.

یوسف لیک په جیب کې کیښود او د یوه ښکلي کور دروازې ته ودرید ویې ویل : د نعیم میرمن دلته اوسي.

عبدالله وویل : ښه ده ته ورځه او خپل کار په هوښیارۍ وکړه.

: ډیر ښه د خدای پامان.

: د خدای پامان!

د یوسف د څوګامه تلونه وروسته عبدالله د کور دروازه وټکوله، برمك له ننه نه دروازه خلاصه کړه، او پر عبدالله یې د نعیم ګومان وکړ له خوښۍ نه

يې په تاتاري ژبه وويل :

ته راغلی ! ته راغلی! نرگس، نرگس لوري نعيم راغی.

عبدالله څه موده په ترکستان کې تيره کړې وه ځکه خو لږ او ډير په تاتاري ژبه پوهيده، د برمك په مطلب وپوهيده ويې ويل .زه د هغه ورور يم.

په دې څنډ کې نرگس په منډه راغله ويې ويل : څوك راغی؟

برمك ځواب ورکړ : دا د نعيم ورور دی.

د نرگس راپورته شوی زړه ولويد او ترخوله يې ووتل : ما گومان کاوه چې هغه ... او نور يې هيڅ ونه ويلای شول.

عبدالله کوږ ته ورننوت دروازه يې بيرته پورې کړه ويې ويل:

خورې ما د نعيم پيغام راوړی دی.

: د هغه پيغام ؟! د هغه له ليدو نه وروسته راغلی يې ؟ هغه څنگه دی، ووايه څنگه ؤ؟ او د نرگس په سترگو کې اوښکې دنډې شوې.

: ته له ما سره سمدستي تلو ته تياره شه.

: چيرته !

: له نعيم سره د ليدو لپاره

: هغه چيرته دی؟

: هغه به له ښاره بهر له تاسره وگوري.

نرگس په شك من نظر عبدالله ته وکتل ويې ويل : ته خو په هسپانيه کې وې.

عبدالله وويل : زه له هماغه ځايه راغلم او نن خبر شوم چې هغه په بنديخانه کې پروت دی، ما د هغه له زندان نه د راخوشې کولو بندوبست کړی دی ته بيره کوه.

برمك وويل : ځی کوټی ته دلته تياره ده.

برمك، عبدالله او نرگس يوی روښانه کوټې ته ولاړل، نرگس د شمې په رڼا کې عبدالله ته په ځير وکتل او له نعيم سره يې د هغه غير معمولي ورته والي چې وليد تر ډيره حده داډه شوه.

بيا يې له عبدالله نه پوښتنه وکړه : موږ به پلی ځو؟

: نه په اسونو ا عبدالله ورېل او بيا يې برمك ته مخ واړاوه وې پوښتل : اسونه چيرته دي؟

هغه ځواب ورکړ : په مخامخ طبيله کې.

عبدالله : راځه چې دواړه اسونه زين کړو.

عبدالله او برمك طبيلې ته ولاړل او اسونه يې زين کړل.

نرګس هم تياره شوه او ورغله، عبدالله هغه په يوه اس سپره کړه، او په پاتې دوو اسونو دې او برمك سپاره شول.

د ښار په دروازه کې پهره دارانو ودرول ، عبدالله ورته وويل چې دوی سهار د قسطنطنيې له پوځ سره روانيږي.

اوس قرارګاه ته ځو او د ثبوت لپاره يې د خليفه فرمان وروښود، پهره دارانو په ادب سلام وکړ او دروازه يې خلاصه کړه، له دروازې نه چې ووتل لږ وړاندې له اسونو پلې شول او د ونو په سيورې کې د نعيم او يوسف د راتلو په انتظار شول.

نرګس په وار وار په ناکرارۍ پوښتل: دوی به کله راځي؟

او عبدالله هر ځل په مهربانه لهجه ځواب ورکاوه : بس اوس به راورسيږي.

دوی لږ انتظار وکړ چې د دروازې له لورې يې د اسونو د پښو غږ واورېد. عبدالله وويل : هغوی راورسيدل، د سپرو په رارسيدو عبدالله او نرګس له ونو نه راووتل او په سرك ودرېدل. نعيم چې ورلنډ شو له اس نه پلې شو او له خپل ورور سره غاړه غړې شو.

عبدالله وويل : نور ځنډ مه کوی، سهار په راختو دی،

له قيروان نه پرته بل ځای دمه مه کوی، برمك به له ماسره ولاړ شي.

نعيم په اس سپور شو، هغه لاس عبدالله ته ور اوږد کړ عبدالله يې لاس ونيو ښکل يې کړ او په سترګويې و رتير کړ، د نعيم په سترګو کې اوښکې راغلې.

بيا يې په غمجنه لهجه پوښتنه وکړه : وروره عذرا څنګه ده ؟

: هغه ښه ده او که د خدای خوښه وه په هسپانيه کې به سره وګورو، بيا يې له يوسف سره خدای پاماني وکړه او نرګس ته ور نژدې شو لاس يې

اوچت کړ، نرګس يې په مطلب پوه شوه سر يې ښکته کړ او ده يې پر سر لاس راتیر کړ.

نرګس ووېل : : وررور جانه ! عذرا ته زما سلام وایه.

عبدالله ووېل : ښه ده خدای مو مل شه.

درې واړو په ځواب کې ووېل : خدای مو مل شه او د اسونو واګی یې پرېښودی، عبدالله او برمك تر لږ ځنډه همالته ولاړ وو او چې نعیم او ملګری یې د شپې په تیارو کې ورك شول نو دوی په خپلو اسونو سپاره شول او د لښکر د قرار ګاه په لوری روان شول.

پهره دارانو عبدالله وپیژاند سلام یې پرې واچاوه د برمك اس يې يوه سپاهي ته وسپاره او هغه ته يې د اوښ بندوبست و کړ او بیرته د ښار په لور ستون شو.

* * * * *

(٤)

زياد له خپل مالك نه د ابن صادق د پوره پوره څارنې حکم اوريدلی ؤ.

د هغه يې دومره خيال ساتلی ؤ چې له سترګو نه يې يوه شیبه نه غورځاوه کله به چې خوب پرې غالب شونو جګ به شو او د هماغه ستنې نه به يې چاپير قدم واهه چې ابن صادق پرې تړلی ؤ.

زياد له دې بوازيتوب نه په تنګ شو بالاخره خه په خيال کې وروګرځيدل ابن صادق ته ورنژدې شو او هغه يې په ځیر ځیر ولید، په شونډو يې ناڅاپه يوه ويروونکی موسکا وغوړیده، د ابن صادق تر زنی لاندی یی لاس ونيو او دهغه یی ځان ته پام ور واړاوه. بیا یی لاړی ورتو کړی، بیا یی په ډیر زور څو متروکی ووهه، ورپسی يې پر مخ څو زوروری څپیړی ووکړی، تر دې چې د څو شيبو لپاره هغه بې هوښه شو.

کله چې بيرته را په خود شو نو زياد بې ړيره ونيوه او کش يې کړه او چې ابن صادق بې وسه شو ورمیږی ښکته واچاوه. زياد هم پرېښود او تر څو شيبو پورې د هغه په شاوخوا راوګرځید، ابن صادق چې را په هوښ شو او سترګې يې وغړولې ابن زياد بيا هماغه کړه وړه ورسره تکرار کړل، څو ځلی يې چې دا لوبه تکرار کړه داېې احساس کړه چې د متركو له لامله د هغه

سيك ختلى دى، بيا به يى له قدم وهلو وروسته يو ځل هغه تر ږيره ونيو او جټکى به يى ورکولى، کله کله به هغه ستومانه شو او ددمې جوړولو لپاه به کښيناست، او له لږ ځنډ وروسته به يى بيرته لوبه له سره تکرار کړه.

کله چې د سهار اذانونه وشول زياد له دروازى نه بهر ته وکتل عبدالله او برمك يى وليدل چې راغلل، هغه د وروستى ځل لپاره خپله لوبه تکراروله خو لايى د ږيرى ښنډلو عادت نه ؤ پوره کړى چې عبدالله او برمك وروررسيدل.

عبدالله وويل : احمقه دا ته څه کوى ؟ زر يى په صندوق کى واچوه، زياد زر حکم عملى کړ او نيم ژواندى ښا مار يى په صندوق کې ورکيښود.

د لمر ختو سره سم عبدالله د خپل پوځ سره د قسطنطنيى په لورى روانيده، د اکمالاتو د سامانونو د اوښانو له جملى نه په يوه اوښ يو صندوق ايښى ؤ، د هغه اوښ مهار د زياد د سپرلى د اوښ له لکى سره تړلى و، په لښکر کې له زياد، عبدالله او برمك پرته نور څوك نه پوهيدل چې په دى صندوق کى څه شى دى.

د عبدالله په حکم برمك هم په اس سپور د همدې اوښ تر څنګ روان ؤ.

*****

(۵)

نعيم له نرګس او يوسف سره قيروان ته ورسيد ، له هغه ځايه د يوه اوږده سفر نه وروسته قرطبې ته ورسيدل، له قرطبې نه طليطلې ته وخوځيدل، هلته چې ورسيدل نرګس يې په يوه سراى کې پريښوده، او له يوسف سره يوځاى د پوځ د امير ابو عبيده خدمت ته حاضر شول او د عبدالله ليك يى هغه ته وسپاره.

ابو عبيده ليك پرانست ويى لوست، يوسف او نعيم ته يى له سر تر پښو وکتل او ويى ويل : تاسو د عبدالله دوستان ياست؟ سر له نن نه ما هم د ځان دوست وبولى، ايا عبدالله بيرته نه راځى؟

نعيم ځواب ورکړ : امير المؤمنين هغه د قسطنطنيى د عملياتو لپاره واستاوه.

دلته هغه ته له قسطنطنيى نه زيات ضرورت ؤ، د طارق او موسى د :

ځای دکولو لپاره هیڅوك نشته، زه کمزوری شوی یم او د فرض ترسره کولو نه پوره نشم وتلی، تاسو پوهیږی چې دغه هیواد له شام او عربونه ډیر بدل دی، دلته د غرنیو خلکو د جګړې ډول هم له موږ نه بدل دی، پخوا له دی چې تاسو ته کوم مهم مسوولیت وسپارل شي دلته به د معمولي پوځي په څیر اوږده موده تجربه ترلاسه کوی، پاتې شوه ستاسو د ساتنې او امنیت خبره، نو د هغې په اړه زه ډاډه یم، که امیر المؤمنین تر دی ځایه ستاسو لټون کاوه بیا به مو یوه امن ځای ته واستوم خو دا زما اصول دی چې د چا له استعداد او صلاحیت معلومولو نه پرته زه چاته څه ذمه واری او مسؤ لیت نه سپارم.

نعیم د لښکر سالار ته وکتل او په موسکا یې ووېل : تاسو ډاډه اوسی زه د لښکر د وروستی سپاهی په څیر هم هماغه لذت او خوښی احساسوم چې د محمد بن قاسم او مسلم بن قتیبه د بنې لاس ډلګی د قوماندی په وخت کې مې احساسوله.

: ستا مطلب دی چې ته ...!

ابو عبیده خپله خبره نه وه پوره کړې چې یوسف ووېل :

دی د محمد بن قاسم او قتیبه د مشهورو سالارانو څخه یو دی.

: وبخښې معلومه نه وه چې زه له ځانه د ډیر تجربه کار او لایق سپاهی په مخکې ولاړ یم.

دا یې ووېل او یو ځل بیا یې نعیم ته لاس ورکړ.

: زه اوس وپوهیدم چې ته د امیر المؤمنین ترغوسی لاندې ولې یې؟ دلته تاته هیڅ خطر نشته خو له نن نه وروسته به د احتیاط لپاره ستا نوم زبیر او د ملګری دی عبدالعزیز وی ، ستا سره نور هم څوك شته؟

نعیم ووېل : هو ! زما میرمن هم راسره شته، ما هغه په کاروانسرای کې پریښې او دلته راغلم.

: زه اوس سمدستي د هغې لپاره څه بندوبست کوم !.

ابو عبیده نوکر ته غږ وکړ راویې غوښت او ورته ویې ویل : په ښار کې یو ښه کور وګوره.

له څلورو میاشتو وروسته نعیم زغره اغوستي د نرګس په مخکې ولاړ ؤ

او هغې ته یې ویل:
په کومه شپه چې زما د ورور عبدالله او عذرا واده ؤ په همغه شپه هغه جهاد ته روان ؤ، ما په خپلو سترګو لیدل چې د عذرا په څیره کې د غم او اندیښنې هیڅ نښه نه وه.
نرګس د موسکۍ کیدو هڅه وکړه ویې ویل : زه ستا په مطلب پوهیږم، تا خو ځلې ویلي چې تاتاري ښځې له عربي میرمنونه کمزوري دي، خو زه به ستا دا ګومان غلط ثابت کړم.
نعیم وویل : د پرتګال په عملیاتو کې امکان لري زموږ شپږ میاشتې تیرې شي، زه هڅه کوم چې په دې موده کې دې یو ځل احوال واخلم راشم ودې ګورم، خو که زه رانه غلم ته ونه ویریږې، نن به ابو عبیده یوه نوکره تاته را واستوي.
: زه تاته ... ! نرګس څه ویل خو سترګې یې ښکته واچولې لږ چوپه شوه بیایې زیاته کړه:
یو نوی خبر اوروُل غواړم.
نعیم یې زنه په مینه پورته کړه ورته ویې ویل : واوروه!
: کله چې ته بیرته راشې...!
: هو هو ووایه !
: ته نه پوهیږې ؟ نرګس د نعیم لاس ونیو او زوز یې ورکړ.
: زه پوهیږم، ستا مطلب دادی چې زه ډیر زر د یوه وړوکي هلك پلار کیدونکی یم.
نرګس دده په ځواب کې خپل سر د هغه په سینه ورکیښود.
: نرګس د هغه نوم درته ووایم ؟ د هغه نوم به عبدالله وي زما د ورور نوم.
: او که نجلۍ وه نو !
: نه هغه به هلك وي، ما ته د غشو په باران او د تورو په سیورې کې لویدونکې زوی په کار دی، زه به هغه ته توره چلول، غشي ویشتل او د اس سپرلي ور زده کوم.
زه به د خپلو پلرونو او نیکونو د تورو د ځلا د خوندې ساتلو لپاره د هغه

په متو کې ځواك او په زړه کې جرئت پیدا کوم.

* * * * *

(٦)

له خپل وفات نه لږ وخت وړاندې ولید د قسطنطنیې د فتحې لپاره د جنګې بیړیو یوه دسته لیږلې وه.

او یو پوځ یې کمکې اسیا ته استولی و، خو په دې حملې کې مسلمانانو سخت تاوان لیدلی ؤ، د قسطنطنیې د مزبوط برج او حصار د ماتولو نه وړاندې د مسلمانانو غذایې او پوځې ذخیرې خلاصې شوې بل مصیبت پرې دا نازل شو چې د یخنې له موسم سره سم طاعون پکې ګډ شو او په زرګونو تنه مسلمانان مړه شول.

په دې مصیبتونو کې اسلامې لښکر د یو کال کلابندې نه وروسته بیرته ناکام راستون شو.

د محمد بن قاسم رح او قتیبه بن مسلم باهلی د دردناکو مرګونو نه وروسته په سند او ترکستان کې د اسلامی پوځونو د فتوحاتو څپه ودریده. سلیمان ددې بدنامې داغ د مینځلو لپاره د قسطنطنیې د نیولو هیله درلوده، دده دا ګومان ؤ چې که قسطنطنیه ونیسی نو پر خلیفه ولید به برلاسی وبلل شی، خو له بده مرغه ده ددې کار لپاره داسې څوك غوره کړې وو چې له پوځې ژوند سره یې هیڅ سرو کار نه درلود، کله چې د هغوی د لښکرو مشر پرله پسې له ناکامیو سره مخ شو نو هغه د اندلس والی ته د یوه تجربه کار جنرال دور استولو امر وکړ، لکه چې یادونه یې وشوه عبدالله د هغه امر د عملې کولو لپاره حاضر شو او له دمشق نه د پنځه زره سپرتیرو سره روان شو.

سلیمان هم دمشق پرېښود او رمله یې دار الخلافه وټاکله ترڅو له هغه ځایه پر قسطنطنیې د حمله کوونکې پوځ څارنه وکړای شی، هغه پخپله هم څو ځلې د یرغل کوونکی پوځ لارښوونه کوله خو هیڅ بری یې ونه ګاټه. عبدالله د سلیمان له زیاتو پلانونو سره اختلاف درلود هغه غوښتل چې د ترکستان او سند مشهور جنرالان چې د محمد بن قاسم او قتیبه بن مسلم سره د ملګرې په تور عزل شوې وو بیرته پوځ ته شامل شی، خو خلیفه د

هغوی پرځای خپل نا اهل دوستان وټاکل.

په عوامو کی د سلیمان پرخلاف د حقارت جذبه راپورته کیدله، هغه پخپله هم په خپله کمزوری پوهیده، د خدای ج په لار کی د مال او سربندونکو سرتیرو یوازی د خلیفه د خوښی لپاره خپلی وینی بهول نه خوښول ځکه خو د فتحو هغه لومړنی سلسله یو څه سسته شوه، د ابن صادق د ناڅاپی ورکیدو په وجه خلیفه اندیښمن شو، هغه ته د دروغو تسلی ورکوونکی او له مصیبتونونه بی پروا کونکی څوك نه و، دمحمد بن قاسم غوندی بی گناهانو قتل د هغه په ضمیر د ملامتی بوج اچولی ؤ، هغه د ابن صادق د موندلو هر ممکن کوشش وکړ جاسوسان یی وزغلول، انعامونه یی وټاکل خو د هغه یی هیڅ درك معلوم نکړای شو.

# جزا او سزا

عبدالله ته معلومه وه چی خلیفه به د ابن صادق د موندلو لپاره هر ممکن زیار باسی، او د هغه ژوندی ساتل خطرناك دی، خو هغه د داسی ذلیل انسان په وینو د لاسونو رنګول د یوه میړنی انسان له شان سره ښه نه بلل.
کله چی د قسطنطنیی په مزله قونیی ته ورسیدل نو ددغه ښار د حاکم نه یی د خپل قیمتی سامان د ساتنی لپاره یوه کوټه وغوښته، هغه عبدالله ته یو پخوانی او زوړ کور ورکړ، عبدالله بیا ابن صادق د همدغه کور په یوه سمڅه کی بندی کړ، برمك او زیاد یی د هغه د ساتنی لپاره وګومارل او په خپله یی له پوځ سره د قسطنطنیی لاره ونیوه.
زیاد ته خپل ژوند تر پخوا زیات په زړه پوری ؤ. پخوا دی یوازی یو غلام ؤ خو اوس د یوه تن د مرګ او ژوند اختیار هم ورسره ؤ، ده به چی کله وغوښتل له ابن صادق سره به یی ساعت تیراوه، داسی یی ګڼله چی ابن صادق د ده یوه ناڅکه ده. له دی ناڅکی سره دی په لوبونه مړیده، هغه ده په بی مزی ژوند کی لومړنی او وروستنی خوښی وه، دده له هغه نه کرکه وه که یی ورسره مینه وه، خو هره ورځ به یی پرمخ په څپیړو واهه، څو۔ راوه به یی، پرمخ به یی ورتو کړل، ږیره به یی پری وخنډله، برمك به چی حاضر ؤ هغه ته یی ددی اجازه نه ورکوله، خو کله به چی هغه د ډوډی او څه نور ضروری کار لپاره بهر بازار ته ولاړ زیاد به بیا خپل زړه خوشحاله کاوه.
د عبدالله د امر سره سم یی ابن صادق ته ښه ډوډی ورکوله، هغه دا حکم هم کړی ؤ چی ابن صادق آزاروی مه، خو زیاد دغه حکم منل ډیر ضروری نه

بلل، که څه هم زیاد په عربي ژبه لږ پوهیده، خوله ابن صادق سره به په خپله مورنی ژبه گړیده، ابن صادق په پیل کی له ستونزو سره مخ ؤ خو په څو میاشتو کی ورو ورو د زیاد په خبرو پوهیده.

یوه ورځ برمك له بازار نه د څه شیانو راوړو لپاره ولاړ، زیاد له کړکی نه بهر ته کتل چی خپل یو هم نسله تورپوستی یی په خره سپور له ښاره د بهر ته وتلو په حال کی ولید.

د دیوته ورته لوی حبشی له بوج نه د خره ملاکږه شوی وه، خر لږ ولاړ او بیا ځملاست، حبشی په متروکو وواهه او خر له مجبوری بیا پاڅید او حبشی هم پری سپور شو، خو لږ ولاړ او بیا ځملاست حبشی بیا په متروکو وواهه، زیاد ناڅاپه په کړس کړس وخندل او له بلی کوټی نه یی متروکه راوړه، لاندی سمځی ته ښکته شو، د ابن صادق کوټه یې خلاصه کړه او دننه ورغی.

ابن صادق چی زیاد ولید په طبیعی ډول د متروکو هرکلی او د ډیری خنډلو ته چمتو شو، خو زیاد د معمول پرخلاف لږ ځنډ چوپ ولاړ ؤ بالاخره تیټ شو دواړه لاس یی په ځمکه کیښودل او د یوه څلور بول په څیر دوه دری گزه ولاړ او بیایی ابن صادق ته وویل راشه!

ابن صادق د هغه په مطلب ونه پوهیده، نن د کومی نوی لوبی پیل هغه وارخطا کړ، هغه دومره و ویریده چې په تندی یې خولې راغلې.

زیاد بیا وویل : راشه په ما سپور شه،

ابن صادق دومره پوهیده چې په پټو سترگو دده هره روا او نا روا غوښتنه باید ومنی او په همدې کې یې خیر دی، او که سرغړونه کوی نو دده ته به یې د سزا زغمل له زغم نه وتلی وی.

ځکه په منډه ورغی د زیاد په شاسپور شو، زیاد د سمځې په کوټه کې دوه دری چکره راوهل ، او ابن صادق یی کوز کړ، هغه د زیاد د خوشحالوړ لپاره په چاپلوسی ورته وویل :

ته ډیر مضبوط یی.

خو زیاد د هغه خبرو ته چندان پاملرنه ونه کړه جگ شو په لاس یې هغه په ملا خم کړ ورته ویې ویل:

اوس زما وار دی.

ابن صادق پوهیده چې ددغه درانه دیو تر وزن لاندې به یې ملا ماته شي، خو له مجبوري ئې ځان تقدیر ته وسپاره.

زیاد خپله متروکه په لاس کې واخستله او د ابن صادق په شا سپور شو، د هغه ملا دده تر بوج لاندې کړه شوه، هغه ته له دومره وزن سره تګ ممکن نه ؤ، په تکلیف یې دوه درې ګامه واخستل او بیا ولوید.

زیاد د متروکو ګوزارونه پرې پیل کړل، تر دې چې ابن صادق بې سده شو.

زیاد هغه راپورته کړ، او دیوال ته یې تکیه او کښیناوه، او پخپله په منډه بهر ته ووت، لږ ځنډ وروسته یې په یوه پتنوس کې لږ انګور او څو دانې منې راوړې بیا راغی.

ابن صادق چې راپه سد شو سترګې یې وغړولې، زیاد یې په خوله کې د انګورو څو دانې ور کېښودې، بیایې په خپل خنجر یوه منه ټوټې کړه، نیمایې یې ابن صادق ته په خوله ورکړه، کله چې ابن صادق خپله برخه وخوړه زیاد یوه بله منه هم ټوټه کړه او نیمه یې بیا ورکړه.

ابن صادق ته معلومه وه چې زیاد کله کله له ضرورت نه زیات مهربانه وي، ځکه یې د دوهمې منې له خوړلو وروسته درېمه پخپله راپورته کړه، زیاد خپل خنجر په پتنوس کې ایښی ؤ. ابن صادق بې پروایي وښوده او خنجر یې را اوچت کړ منه یې پرې سپینه کړه زیاد د هغه هر حرکت ته په ځیر ځیر کتل، ابن صادق خنجر بیرته همالته پرېښود او ویې ویل: ددې پوستکی بدن ته تاوان رسوي.

: هو! زیاد هم دده په تقلید بله منه راواخستله پوست یې ترې لرې کړ.

د زیاد لاس معمولي زخمي شو، هغه په لاس خوله کېښوده او ویې زېښه، ابن صادق ورته وویل: راوړه زه یې درته سپینه کړم، زیاد سروخوځاوه خپله منه او خنجر یې دواړه هغه ته ورکړل.

ابن صادق منه پوست کړه او بیا یې ورکړه ورته ویې ویل: نورې خورې؟

زیاد د هو په دود سروخوځاوه او ابن صادق بله منه اوچته کړه په سپینولو یې پیل وکړ، د ابن صادق په لاس کې خنجر ؤ او زړه یې درزیده، غوښتل

بې چې بو ځل خپل قسمت وازمویی خو هغه ویریده چې زیاد به یې له حملې نه وړاندې راقابو کړی، هغه څه سوچ وکړ او بیا یی ناڅاپه دروازی ته وکتل او ویی ویل : څوك را روان دی، زیاد هم شاته وکتل، ابن صادق په یوه گوزار خنجر د هغه په سینه تر موتی پوری ښخ کړ، او بیا زر څو گامه شاته ولاړ زیاد له غوسی نه وریږدیده جگ شو دواړه لاسونه یی د ابن صادق د مری خفه کولو لپاره وغځول، ابن صادق دده په نسبت زیات چالاك ؤ زر یی منډه واخستله او د بندی خانی بل کونج ته یی ځان ورساوه، زیاد چې ورنژدې شو هغه بل کونج ته ترې وتښتیده، زیاد غوښتل را ایساریی کړی خو هغه یی راقابو نکړای شو.

د زیاد گامونه ورو ورو سستیدل، دزخم وینی دده د جامو له لمدولونه وروسته په ځمکه څڅیدی، د هغه توان ځواب ورکړی ؤ، د واړه لاس یی په سینه ونیول او په ځمکه کیناست، او بیا ورو پر ځمکه پریوت، ابن صادق په یوه کونج کی ولاړ و او لړزیده، چی کله هغه ډاډه شو چی زیاد مړ شوی او یا بی خوده شوی دی، نو ور وړاندی شو له جیبه یی کیلی راواخستله دروازه یی خلاصه او بهر ته ووت.

برمك لا له بازاره نه ؤ راغلی، ابن صادق چی ځان خلاص کړ څو گامه یی منډه واخسته، خو چی لږ وړاندی ولاړ دایی احساس کړه چی ده ته په ښار کې کوم خطر نشته، ډاډه شو او عادی روان شو، د ښار له خلکو نه یی د بهر حال معلومولو وروسته «رمله» ته د تلو ارداه وکړه چې خلیفه ته خپل داستان واوروی.

د ابن صادق د خلاصیدونه څو ورځی وروسته دا خبرونه خپاره شول چی خلیفه عبدالله د پوځ له مشری نه لری کړی دی او هغه لاس او پښی زولنی رمله ته ورخوځول شویدی، د ابن صادق په باب دا مشهوره شوه چی په اندلس کی لوی مفتی تاکل شوی دی او همغه لوری ته روان دی.

*****

(۲)

په ۹۹ هـ کال خلیفه سلیمان پوځ ورسره واخست او پخپله یی په قسطنطنیه حمله وکړه، خو لایې د فتحې ارمان نه ؤ پوره شوی چې له دنیا

نه يې سترګې پټې کړې.

له هغه نه وروسته د خلافت په مسند عمر بن عبدالعزيز (رح) کښيناست، عمر بن عبدالعزيز (رح) د اميه کورنی له ټولو خليفه ګانو نه په عادت او چلن کې زيات توپير درلود، د هغه د خلافت دوره د امويانو د خلافت د دوران يو روښانه باب ؤ، د نوی خليفه لومړنی کار د مظلومانو فرياد ته رسيدل ؤ، ستر ستر مجاهدين چې د سليمان بن عبدالملك په امر بنديان شوی وو او په بنديخانو کې پراته وو زر تر زره ټول آزاد کړای شول، ظالم حاکمان يې ټول لرې کړل او د هغوی پرځای يې عادل او د زړه سوی خاوندان واستول، عبداله چې تر دی وخته درمله په بنديخانه کې پروت ؤ آزاد او بغداد ته يې وروغوښت، عبدالله د خلافت دربار ته حاضر شو او د خپل خلاصون شکريه يې ادا کړه.

امير المؤمنين وپوښتل : ته چيرته ځې ؟

: امير المؤمنينه ! دير ځنډ شو چې له کوره راوتلی يم اوس زه کور ته ځم.

: ما ستا په هکله يو فرمان ورکړی دی.

: امير المؤمنينه زه به په خوښی ستا د فرمان تعميل کوم.

: ثانی عمر (رح) يو کاغذ عبدالله ته ورکړ ورته ويی ويل : ماته د خراسان والی تاکلی يی، تر يوی مياشتی پوری کورته ولاړ شه او بيا راشه ځان خراسان ته ورسوه.

عبدالله سلام وکړ خو ګامه ولاړ، خو بيا ودريذ امير المؤمنين ته يې وکتل.

: امير المومنين ورته وويل : ته نور څه وايې ؟

: امير المؤمنينه زه مې د خپل ورور په هکله يو عرض کوم.

د دمشق له بنديخانی نه يې د ويستلو پلان ما جوړ کړی ؤ، هغه بې ګناه ؤ، د هغه ګناه دا وه چې د محمد بن قاسم او قتيبه بن مسلم ښې لاس ؤ، او هغه د خلافت دربار ته ددی لپاره حاضر شو چې د قتيبه له قتل نه خليفه منعه کړی.

ثانی عمر وپوښتل : ته د نعيم بن عبدالرحمن خبره کوی؟

: هو امير المؤمنينه ، هغه زما کشر ورور دی.

: هغه اوس چېرته دی؟
: په هسپانیه کې دی، ما هغه ابو عبیده ته لیږلی ؤ، خو زه ویریږم څکه خلیفه پخوا ابن صادق هلته د لوی مفتی په توګه استولی او هغه د نعیم دوینو تږی دی.
امیر المؤمنین وویل : د ابن صادق په باب زه همدا اوس د اندلس والی ته فرمان استوم چې زنځیر او زولنې یې دمشق ته راواستوی او زه ستا د وړور خیال هم ساتم.
: امیر المؤمنینه ! له هغه سره یې یو ملګری هم دی، او هغه هم ستا د مهربانی د نظر حقدار دی.
امیر المؤمنین کاغذ واخیست او د اندلس د والی په نامه یې لیك ولیکه او یوه سپاهی ته یې ورکړ ویې ویل:
اوس ته خوښ یې ؟ ما ستا وړور د جنوبی پرتګال والی وټاکه او د هغه دوست ته می په پوځ کی د یو مناسب منصب سپارښت کړی دی، او د ابن صادق په باب می هم لیکلی دی.
عبدالله په ادب سلام وکړ او رخصت شو.

* * * * *

(۳)

د اندلس والی په قرطبه کی اوسیده، هغه چې په جنوبی پرتګال کی د یوه نوی جنرال «زبیر» د فتحو احوال واوریده ډیر خوشحاله شو، ابو عبیده ته یې لیك واستاوه او د زبیر د لیدو او ملاقات هیله یې وکړه، نعیم قرطبی ته ورغی او د اندلس د والی په خدمت کی حاضر شو، د اندلس والی په ډیره مینه د هغه هرکلی وکړ، او په خپل نږدی څنګ کې یې کښیناوه.
د اندلس والی وویل : زه ستا په لیدو ډیر خوښ شوم، ابو عبیده په خپل لیک کې ستا ډیره ستاینه کړی ده، خو ورځې کیږي چې زه خبر شوی یم غرنیو خلکو بغاوت کړی دی، زه تا د هغوی د ځپلو لپاره ور استوم، ته به تر سبا پوری تیار شی؟
: که بغاوت وی نو باید همدا نن ولاړ شم، او د بغاوت د اور خپریدو ته باید موقع ورنکړو.

: ډير ښه زه اوس د پوځ امير د مشورې لپاره را غواړم.

نعيم او د اندلس والي خبرې کولې چې يو سپاهي دننه ورغی او ويې ويل : لوی مفتي له تاسو سره ليدل غواړي!

والي وويل : ورته ووايه چې تشريف راوړي.

هغه بيا نعيم ته وويل : تا ښايي له هغه سره نه وي ليدلي د هغه له راتگ نه يوه هفته نه ده تيره شوې د امير المؤمنين له ځانگړو دوستانو نه ښکاري او زه په دې افسوس کوم چې هغه ددې منصب لپاره وړ سړی نه دی.

: د هغه نوم څه دی؟

والي ځواب ورکړ : ابن صادق.

نعيم تکان وخوړ ويې ويل : ابن صادق!

: ته هغه پيژنې !

: په دې کې ابن صادق دننه ورغی او د هغه په ليدو د نعيم په خيال کې وروگرځيدل چې يو نوی مصيبت يې پر سردريدلی.

ابن صادق چې خپل پخوانی حريف وليد حيران ودريد.

والي ابن صادق ته مخ واړاوه ويې ويل : دی زموږ د پوځ ډير زړور قوماندان دی نوم يې «زبير» دی.

ابن صادق وويل : ښه ! او بيايې لاس نعيم ته وروغځاوه خو نعيم هغه ته لاس ورنکړ.

ابن صادق وويل : تا لکه چې ونه پيژندم زه ستا پخواني دوست يم.

نعيم ابن صادق ته توجه ونه کړه والي ته يې وويل : ماته اجازه راکړه .

والي وويل : ته ودريږه زه د پوځ د سالار په نامه يو ليك درکړم، ستا چې څومره پوځ په کار وي درسره به يې زه!.

بيا يې ابن صادق ته وويل : ته هم کښينه !

ابن صادق د والي ترڅنگ کښيناست او دفرمان له ليکلو وروسته يې غوښتل نعيم ته يې وسپاري

ابن صادق وويل : زه يې ليدای شم؟

والي وويل : په خوښۍ او بيا يې ليك هغه ته ورکړ.

ابن صادق لیك واخست ویې لوست او بیایې بیرته والي ته ورکړ ویې ویل !: نور ددې سړي د خدمت ضرورت نشته، تاسو دده پرځای بل څوك واستوئ.
والي حیران شو ویې پوښتل : تا دده په باب څه شك واخست دی خو زموږ د پوځ ډیر غوره سالار دی.
: مګر دا تاته معلومه نه ده چې دی د امیر المؤمنین ډیر بد دښمن دی او دده نوم زبیر نه نعیم دی او د دمشق له بندیخانې نه راتښتیدلی او دلته راغلی دی،
والي اندیښمن شو ویې ویل : آیا دا رښتیا ده؟
نعیم چوپ ؤ.
ابن صادق وویل : تاسو زر تر زره دی ونیسئ او همدا نن یې زما پریکړې ته عدالت ته حاضر کړئ.
: زه یې له کوم ثبوت نه پرته یو سالار نشم نیولی، تاسو له یو بل سره په لومړي ځل لیدو داسې چلن وکړ چې ستاسو ترمنځ د کوم پخواني جنجال غمازي کوي، او که په دې صورت کې دی مجرم هم وي زه به یې دعوه تاته وراندې نه کړم.
: تاته باید معلومه وي چې د هسپانیې د لوی مفتي سره خبرې کوې!
: او تاته هم باید معلومه وي چې دلته زه د هسپانیې والي یم.
: سهي ! خو دا تاته معلومه نه ده چې زه د هسپانیې د لوی مفتي نه پرته هم نور ډیر څه یم!
نعیم وویل : دی نه پوهیږي زه ورته وایم، ته د امیر المؤمنین دوست، د قتیبه (رح) بن مسلم، محمد بن قاسم(رح) او ابن عامر (رح) قاتل یې، په ترکستان کې بغاوت ستا د مهربانیو په نتیجه کې ؤ، او ته هغه بې رحمه انسان یې چې د خپل ورور او وریرې په وژلو دې هم صرفه ونه کړه، خو اوس ته یوازې زما مجرم یې، دایې وویل او نعیم د بریښنا په څیر توره وکښله او د هغه څوکه یې د ابن صادق په سینه ور کیښوده ویې ویل : ما ته ډیر ولټولې، خو ومې نه موندلې نن تقدیر پخپله دلته راورسولې، ته د امیر المومنین دوست یې هغه به ستا ددې انجام نه ضرور خفه شي، خو د

اسلام راتلونکی ماته د خلیفه له خوښی نه مهمه ده، دایی وویل او نعیم توره اوچته کړه، ابن صادق د ولی په خیر په ریږدیدو شو، مرگ یی چی پر سر ولید سترگی یی پټی کړی، نعیم یی چی دا حالت ولید توره بی بیرته تیتمه کړه ویی ویل : په دی توره می د سند او ترکستان د مغرورو شهزادگانو ورمیږونه الوزولی دی، زه یی اوس ستا په څیرد ذلیلو او بی زړو انسانانو په وینو نه رنگوم، نعیم توره بیرته په تیکی ننه ویسته او په کوټه کی د څه شیبی لپاره چوپتیا خپره شوه.

د یوه پوځی افسر راتلو سکوت مات کړ، هغه له راننوتلو سره د هسپانیی والی ته یو لیك ورکړ، والی لیك پرانیست او دوه دری ځلی یی سترگی خلاصی کړی ویی لوست او بیایی نعیم ته وکتل ویی ویل :

که ستا نوم زبیر نه نعیم وی نو ستا په باب هم په دی لیك کی څه ارشاد شته، دایی وویل او لیك یی نعیم ته ورکړ، نعیم د لیك په لوستلو پیل وکړ:

دا لیك خلیفه عمر بن عبدالعزیز را استولی ؤ.

د هسپانیی والی لاسونه وپړقول او خو تنه سپاهیان دربار ته ورننوتل، هغه ابن صادق ته اشاره وکړه ویی ویل : دی ونیسی.

د ابن صادق په خیال کی نه ورتیریدل چی د بخت ستوری به یی له ځلیدو سره داسی سمدستی بیرته په تورو وریځو کی پټ شی.

یوه لورته نعیم جنوبی پرتگال ته د والی په حیث روان ؤ او بل لوری ته ابن صادق لاس او پښی زولنی خو سپاهیانو د دمشق په لوری وخوځاوه.

څو ورځی وروسته نعیم دا خبر واورید چی ابن صادق دمشق ته د لاری په اوږدو کی چیرته زهر خوړلی او ځان یی وژلی دی.

نعیم عبدالله ته لیك واستاوه او د کور احوال یی تری وغوښت، د هغه د لیك ځواب تر ډیره وخته رانه غی.

نعیم په ډیر انتظار ستړی شو، او د دری میاشتو لپاره په رخصت بصری ته روان شو، څرنگه چی نرگس هم ورسره وه، ځکه یی په سفر کی ځنډ راغی، کله چی کورته ورسید ورته معلومه شوه چی عبدالله د خراسان په لوری تللی دی، او عذرا یی هم ورسره بیولی ده . نعیم خراسان ته د تلو اراده وکړه خو د هسپانیی په شمال کی د اسلام د لښکرو پرمختگ له امله هغه خپله اراده پریښوده او راوگرځید.

هغه ما سره

# وروستۍ ذمه واري

ورځې په میاشتو او میاشتې په کلونو بدلیدې او تیریدې د نعیم په جنوبي پرتګال کې د والي په توګه اتلس کلونه تیر شول، د هغه ځوانی په بوډا توب بدله شوې وه، د نرګس عمر هم تر څلویښتو کلونو اوښتی ؤ، خو د هغې د ښکلي مخ په ښکلا کې ډیر بدلون نه ؤ راغلی.

عبدالله د نعیم مشر زوی د عمر په پنځلسم کال په پوځ کې شامل شوی ؤ، په درې کلونو کې هغه دومره پرمختګ کړی ؤ چې نعیم او نرګس پر خپل ځوان زوی ویاړ کاوه. دوهم زوی یې حسین تر مشر زوي نه اته کاله کشر ؤ، یوه ورځ حسین په کور کې د لرګي په یوه تخته د غشي ویشتلو تمرین کاوه، نرګس او نعیم په برنډه کې ولاړ وو او د خپل ځيګر د. توټې ننداره یې کوله، د حسین څو غشي په نخښه ونه لګیدل. نعیم په موسکا ور وړاندې شو او د حسین تر شا ودرید حسین غشي په لینده کې کنښېنود پلار ته یې وکتل او په تخته یې نخښه ونیوله،

: زویه ستا لاس لړزیږي او غاړه هم لږ لکه نیسي!

: پلاره ته چې زما په عمر وې نو لاس دې نه لړزیدل؟

: زویه زه چې ستا په عمر وم نو الوتونکي مرغان مې راغورځول، او کله چې ستانه څلور کاله په عمر لوی وم د بصرې په هلکانو کې ترټولو ښه غشي ویشتونکی وم.

: پلار جانه ! ته نخښه ووله چې ویې ګورم!

: نعیم له هغه نه لینده او غشي واخستل او د تختې په منځ کې یې

نخښنه وويشتله.

بيايي هغه ته د غشي ويشتل وروښودل، نرگس هم دوی ته نژدی ولاړه وه.

ناڅاپه يوه ځوان اس د کور په درشل ودراوه نوکر دروازه بيرته کړه سپاره اس نوکر ته پريښود او په منډه کورته ننوت.

نعيم چيغی کړی «عبدالله »؟ او بيا يې هغه په غيږ کی ټينگ کړ، نرگس په خپلو کتو کی په زرگونو دعاگانی ورته کولی او ور وړاندی شوه: زويه راغلی !

الحمد لله چی په خير راغلی !

نعيم وپوښتل : زويه څه خبر دی راوړی؟

عبدالله سر ځوړند کړ ويې ويل : پلار جانه !

کوم ښه خبر می نه دی راوړی.

د فرانسی په جگړه کی موږ سخت تاوان وگاله او په ماته بيرته راستانه شوو، موږ د سرحدی سيمو له نيولو نه وروسته د نور پرمختگ تياری کاوه چی د فرانسی له يو لك لښکر سره مخ شوو، زموږ لښکر تر اتلس زره تنو زيات نه ؤ زموږ سالار عقبه له قرطبی نه مرسته وغوښته خو له هغه ځايه خبر راغی چی په مراکش کی بغاوت شوی دی ځکه خو فرانسی خواته زيات پوځونه نشو استولی، موږ له مجبوری نه د فرانسی د پاچا سره په جگړه کيوتو او زموږ د پوځ تر نيمايی زيات سپاهيان شهيدان شول.

نعيم پوښتنه وکړه : عقبه اوس چيرته دی؟

: هغه قرطبی ته رسيدلی دی او په نژدی وختو کی د مراکش په لوری خوځيږی، د بغاوت د اور لمبی له مراکش نه تر تونس پوری غځيدلی دی، بربريانو ټول مسلمان حاکمان وژلی دی، معلومه شوی ده چی په دی بغاوت کی د روميانو لاس دی.

نعيم وويل : عقبه يو زړور سپاهی دی خو لايق سالار نه دی، ما د هسپانيی والی ته وويل چی ما درسره ونيسه خو خبره يی ونه منله ،

: ښه پلار جانه ماته اجازه راکړه.

نرگس وويل : اجازه ! ته چيرته ځی ؟

: مور جانی ! زه یوازې ستا او د پلار جان لیدو ته راغلی وم، زه له پوځ سره مراکش ته روانیږم.

نعیم ووېل : ښه ده خدایږ دې په خپل امان کې وساته.

: ښه موری خدای پامان ! دایې ووېل او عبدالله حسین په غیږ کې ونیو، او هغه چې څومره په بیړه راغلی ؤ همغسې په منډه بیرته ولاړ.

*****

(۲)

د بربریانو په بغاوت کې په زرگونو تنه مړه شول. هغوی د مسلمانو حاکمانو له وژلو نه وروسته د خپلواکۍ اعلان وکړ.

عقبه د مراکش په ځنډو پلی شو، او په ۱۲۳ هـ کې له شام نه څه لښکر له هغه سره مرستې ته ور ورسید.

په مراکش کې یوه درنه جګړه ونښته، د نیم بربنډو بربریانو لښکر له څلورو خواوو د سیلاب په شان راښکاره شو، د هسپانیې او شام لښکرو یې په میړانه مقابله وکړه، خو د حریف د بې شمیره پوځ په وړاندې یې هیڅ ونکړای شول، عقبه په دې جګړه کې شهید شو او په مسلمانانو کې گډوډي راغله، بربریانو هغوی یویو رانیولو او وژل یې.

د نعیم زوی عبدالله د دښمن لیکې وځیرلې او ډیر وړاندې تیر شو هغه زخمی شو له اس نه د لویدو په حال کې ؤ چې یوه عربي جنرال یې تر ملا لاس ورتاو کړ او په خپل اس یې ورسره واخست د جګړې له ډگر نه لرې یې یوه خوندي ځای ته ورساوه، د هسپانیې او شام د لښکرو نژدې له څلورو برخو نه درې شهیدان شوي وو، نور پاتې په یوه لوري کې راټول شول، بربریانو چې دوی د شاتگ په حالت کې ولیدل ترڅومیلو یې په شاپسې ورغلل، ماته خوړلي پوځ الجزایر ته ورسید او آرام شو.

د هسپانیې والي ته چې ددې ماتې خبر ورغی د هسپانیې له ټولو ولایتونو نه یې د نوي لښکر راټولولو هڅه وکړه، او ددغه نوي لښکر د مشرتابه لپاره یې نعیم وټاکه، نعیم ته د خپل زوی د لیك په واسطه د هغه د ټپي کیدو او د یوه عربي جنرال لخوا د ژغورنې احوال ورغلی ؤ، په ۱۲۵ هـ کال کې چې بربریانو په شمالي افریقا کې د ظلم بازار تود کړی ؤ ناڅاپه

نعيم له لس زره تنو سره د مراکش پر ساحل پلی شو.

بربريان د هغه له راتگ نه نا خبره وو، هغوی ته يې يو پر بل پسې ماتې ورکولې او د ختيځ په لور پرمخ روان ؤ.

هلته له الجزاير نه ماته خوړلي پوځ بيرته پرمختگ پيل کړ، او بربريان يې دواړو لوريو ته وځپل، په يوه مياشت کې د مراکش د بغاوت اور سوړ شوی ؤ، خو د افريقا په شمال ختيځ کې لا ځای ځای دغه فتنه پاتې وه، بهرنيان او بربريان تونس ته تول شول او هغه هيواد يې د خپلو عملياتو مرکز وټاکه، نعيم د مراکش د نظم او اداري سنبالول پيل کړل، ځکه يې پرمختگ ونکړای شو، هغه د پوځ وتلې جنرالان خپلې خيمې ته ورتول کړل او يوه احساساتي وينا يې وکړه وې ويل : پر تونس د حملې لپاره يو سربښندوی سالار ته اړتيا ده په تاسو کې څوك دی چې دا ذمه واري واخلي؟

نعيم خپله خبره پوره نکړه چې درې جنرالان ودريدل، يو په هغوی کې دده پخوانی دوست يوسف ؤ، دوهم دده ځوان زوی عبدالله، د دريم ځوان بنه عبدالله ته ورته وه خو نعيم هغه نه پيژاند.

نعيم ترې وپوښتل : نوم دې څه دی؟

ځوان ځواب ورکړ : زما نوم نعيم دی.

: نعيم بن ... !

: ځوان ځواب ورکړ : نعيم بن عبدالله !

: نعيم وپوښتل : عبدالله بن عبدالرحمن !

: هوکې !

: نعيم ور وړاندې شو هغه يې په غيږ کې ونيو او ورته وې ويل : ته ما پيژنې؟

: هوکې ته زموږ سالار يې !

: زه له دې پرته نور هم ستا څه کيږم ! نعيم ځوان ته په مينه وکتل وې ويل :

زه ستا تره يم ، عبدالله دا ستا ورور دی.

: پلار جانه ! همده د مراکش په جگړه کې زما ژوند وژغوره.

نعيم پوښتنه وکړه : ورور جان مې څنگه دی؟

: د هغه د شهادت نه دوه کاله تیر شول، هغه یوه بهرنی دواړه.

: د نعیم په زړه ګوزار وشو، لږ څند چوپ ؤ ، بیا یې لاسونه اوچت کړل د هغه د بخښنې دعایې وکړه او ویې پوښتل : ستا مور!

:هغه ښه ده!

: ستا ورونه څو دي؟

: یو ورور او یوه کشری خور مې ده!

نعیم نور منصبداران رخصت کړل، د هغوی له تګ نه وروسته یې خپله توره خلاصه کړه او د نعیم بن عبدالله په ملایې ور وتړله ویې ویل : ته ددې امانت حقدار یې، او ته دلته پاتې شه ، زه پخپله تونس ته ځم.

: کاکا جانه ته ما ولې نه استوی؟

: زویه ! ته ځوان یې، دنیا تاته اړتیا لری له نن نه وروسته ته ددی پوځونو مشر یې ، عبدالله دا ستا مشر ورور دی، دده امر به د زړه له کومې منې.

نعیم بن عبدالله وویل : کاکا جانه زه تاته څه ویل غواړم.

: ووایه بچیه !

: ته کور ته نه ځې ؟

: زویه د تونس له عملیاتو وروسته به خامخا ځم!

: کاکا جانه ! ته خامخا ولاړ شه، مور جانې ته ډیر یادولی ، زما کشر ورور او خور هم تا ډیر یادوی.

: هغوی ته معلومه ده چې زه ژوندی یم!

: د مور جانې باور ؤ چې ته ژوندی یې هغوی په ما تاکید کړی ؤ چې د مراکش له عملیاتو نه وروسته هسپانیې ته ورشم او ستا لټون وکړم او درته ووایم چې ته له کاکا ناوی سره کورته ستون شه.

: زه به ډیر زر هلته ځان ورسوم، عبدالله ته زر اندلس ته ولاړ شه، مور دې راوله او کور ته یې ورسوه، زه به د تونس له عملیاتو نه وروسته راشم ، زه به د اندلس والی ته لیک درکړم هغه به تاته بیړی چمتو کړی.

*****

(۳)

په تونس کې د باغیانو په لټون نعیم دا تکل پرخلاف له زیاتو ستونزو سره مخ شو، بریریان به یو ځای مات شول او په بل ځای کې به یې لوټماري پیل کړه. نعیم څو میاشتې له پرله پسې څخو وروسته په تونس کې د بغاوت په اور وژلو بریالي شو، له تونس نه باغي ډلې په شا شوې او په ختیځ لوري کې خورې شوې. نعیم د باغیانو د مخلو تکل کړی ؤ او پرمخ ولاړ، د تونس او قیروان ترمنځ باغیانو له دوی سره څو ځلې جګړې وکړې. خو بالاخره به مات شول، قیروان ته نژدې په وروستۍ جګړه کې نعیم سخت ټپي شو، دی یې په بې سدې کې قیروان ته راوړ، او د هغه ځای حاکم له ځان سره وساته، د هغه د علاج لپاره یې تجربه کار ډاکتر راووست نعیم ډیر وروسته را په سد شو، خو د ډیرې وینې د بهیدو په وجه دومره کمزوری شوی ؤ چې په ورځ کې به څو ځله بې هوشه کیدو، تر یوې هفتې پورې نعیم د مرګ او ژوند سره په کشمکش کې پر بستره غځیدلی ؤ، د قیروان حاکم چې دده دغه حالت ولید له فسطاط نه یې یو مشهور ډاکتر ورغوښت، طبیب چې د نعیم زخم ولید تسلي یې ورکړه، خو دایې هم وویل چې تر ډیره وخته باید استراحت وکړي.

درې هفتې وروسته د نعیم حالت لږ غوره شو، او هغه کورته د تللو اراده وکړه، خو طبیب وویل، زخم تر اوسه پورې نه دی روغ شوی،په سفر کې یې د بیرته شلیدو امکان دی ځکه خو لږ تر لږه یوه میاشت نور هم خامخا ته باید علاج ته دوام ورکړې زه ویریږم چې دا د زهرجنې وسلې زخم نه وي، او کیدای شي د وینې د خرابۍ په وجه یو ځل بیا خراب شي.

نعیم یوه اونۍ نور هم صبر وکړ، خو کورته یې د تګ لپاره هره ورځ نا کراري زیاتیده، هغه ټوله شپه په بستره اړخ په اړخ اوښت، زړه یې غوښتل چې یو ځل والوزي او هغه جنت نظیر وطن ته ځان ورسوي.

د هغه باور ؤ چې نرګس به اوس رسیدلې وي، او له عذرا سره به د ریګونو په غونډۍ ولاړه زما د ورتګ انتظار کوي.

شل ورځې نورې هم تیرې شوې خو دده زخم یو ځل بیا زولن شو، سپکه تبه یې هم ورسره پیدا شوه، طبیب ورته وویل چې دا ټول د زهر جنې وسلې د زخم اثر دی، زهریې رګونو او ریښوته، رسیدلی دی، ځکه خو باید تر

ډېره وخته دلته پاتې شی او علاج جاری وساتی، یو ځل نیمه شپه نعیم په خپله بستره پروت ؤ سوچ یی کاوه چی عذرا به په څه حالت کی وګوری! وخت به د هغې په معصومه څیره څه رنګه کرښې راکاږلې وی، دده د غمجنې څېرې په لیدو به د هغې په څیره څه اغیزه وکړی؟ کله به یې چې تپې کیدو ته پام شو په زړه کې به وروګرځیدل چې لکه چې تقدیر ته یې اوس هم کور تګ منظور نه دی، هغه پخوا هم څو ځله زخمی شوی ؤ، خو د هغو ټپونو کیفیت څه بل ور ؤ، هغه په زړه کې وویل : بنایی ددې ټپ نه د مرګ غیږې ته ولاړ شم، خو زه باید نرګس او عذرا ته ډیر څه ووایم. خپلو زامنو او وریرونو ته باید نصیحتونه وکړم، زه له مرګه نه ویریږم له مرګ سره تل لوبیدلی یم، خو دلته د مرګ په انتظار پریوتل ماته مناسب نه دی، ماته عذرا د کور ته ورتلو پیغام راکړی، هغه عذرا چی د هغې د معمولی خوښی په خاطر مې کله پر ژوند لوبې راته اسانې بللې، او له هغې پرته به د نرګس د زړه څه حالت وی!

زه باید خامخا ولاړ شم، ما هیڅوك نشی را ایسارولی، نعیم دا وویل او له بستری نه جګ شو، د مجاهد اراده پر بدنی کمزوری غالبه شوه، او دی د یوې بې ساری جذبې سره راپورته شو او په کوټه کی یی قدم واهه،

هغه دا هیره کړه چی ټپی دی او بدن یی د یوه اوږده سفر لپاره روغ نه دی، اوس دده په ذهن کی یوازی نرګس، عذرا ، د عبدالله وړوکی زامن او د کلی بنکلی د خرما باغونه راګرځیدل.

زه به خامخا ځم ! دا دده وروستی پریکړه وه، په کوټه کی یی قدم واهه ناڅاپه ودرید، د کوربه نوکر ته یی غږ وکړ، نوکر په منډه ورغی کوټی ته ورننوت او چی نعیم یی پر بستری د غځیدو پرځای په قدم وهلو ولید هك پك شو، هغه وویل : طبیب ویل چی ته باید د ګرځیدو راګرځیدونه ډډه وکړی.

: ورشه زما اس تیار کړه.

: ته چیرته ځې ؟

: ته اس تیار کړه.

: مګر اوس ؟

: نعیم په غوسه وویل : همدا اوس !

: دشپې مهال به ته چیرته ځې؟

: تاته چې وایم هغه وکړه ! بیځایه پوښتنو ته له ما سره وخت نشته!

نوکرو ویرید له کوټې نه ووت.

نعیم بیا په بستره وغځید او په خیالونو کې ورك شو.

لږ ځنډ وروسته نوکر بیرته راغی وې ویل : آس تیار شو خو !! . . .

نعیم یې خبره ورغوڅه کړه ځواب یې ورکړ : ته چې څه وایې زه پرې پوهیږم، زما یو ضروري کار دی، خپل مالك ته ووایه د اجازې په خاطر مې د تاویښول لازم ونه بلل.

* * * * *

(٤)

له سهار نه دمخه نعیم له قیروان نه نژدې دوه میله وړاندې تللی ؤ، په دې اوږده سفر کې دا احتیاط ده ضرور کاوه چې اس یې ګړندی ونه زغلاوه، او له لږ لږ مزله وروسته به یې استراحت کاوه.

فسطاط ته چې ورسید دوې ورځې یې استراحت وکړ، د هغه ځای والي پر نعیم ټینګار وکړ چې له ده سره پاتې شي، خو چې نعیم په هیڅ صورت هم دې ته حاضر نه شو نو د لارې ټولو پهره دارانو ته یې د هغه د ورتګ خبر ورکړ او هغه ته یې د هر ډول آسانتیاوو برابرولو فرمان صادر کړ، نعیم چې څومره خپل هدف ته نژدې کیده د خپل زخم درغیدو احساس یې کاوه، له څو ورځو مزله وروسته یو ماښام هغه له یوې دښتې نه تیریده، د دوی کلي یوازې څو میله لرې ؤ.

له هر ګام سره یې نوې هیلې او امیدونه راویښیدل، د هغه زړه د خوښۍ په سمندر کې غوټې وهلې، ناڅاپه یې د لویدیځ پر افق ګردونه ولیدل، په یوه ساعت کې دغه ګردونه هر لورې ته خپاره شول، او فضا تیاره شوه نعیم د شګلنې دښتې له توپانونو نه ښه خبر ؤ، هغه د توپان له مصیبت نه وړاندې ځان کورته رسول غوښتل اس یې ګړندی کړ او چې کله یې د شمال لوري څپه پر مخ ولګیده نو آس یې چار ګام پریښود، د اس د زغلولو له امله د نعیم د تېتر زخم بیا وشلید او وینې ترې وبهیدې، هغه په دې حالت

کې نژدې دوه میله فاصله نوره هم ووهله تر دې چې توپان راګیر کړ، له څلورو خواو سوځنده شګې را الوتې ، اس چې نور دورانده تلو توان نه درلود ودرید، نعیم له مجبورۍ نه له اس نه پلی شو او د شمال مخالف سمت ته یې مخ واړاوه ودرید، اس د خپل څاوند په څیر سر ځوړند کړ او ودرید، نعیم د سوځنده ریګونو نه د ځان ژغورنې په خاطر نقاب پر مخ راکش کړ، ازغی لرونکی بوټی به شمال راوړل او د نعیم پر بدن به له لګیدونه وروسته د شمال له توندۍ څپې سره الوتل، د ده په بدن کې ډیر ازغي ننوتل، نعیم په یوه لاس د اس جلب نیولی ؤ او پر بل به یې په خپل ځان او لمنه نښتي ازغي لرې کول، د اس جلب یې لږ سست نیولی و او کله چې یو ازغي لرونکی بوټی په ډیر زور د اس پر ګیډه ولګیده اس وترهیده او یو توپ یې وواهه، د نعیم له لاسه جلب ووت او اس لرې ولاړ ، یو بل بوټی د اس پر غوږونو ولګید او ازغي یې د اس په غوږونو ننوتل، اس له دې سره نور هم وترهید او په منډو شو په یوه لورې وتښتید، نعیم تر ډیره په همدې ځای ولاړ ؤ د زخم وینو یې ورو ورو ګریوان ورلوند کړ او بدنی ځواک یې شیبه پر شیبه کمزوری کیده له مجبورۍ نه هغه په ریګونو کښیناست، کله کله به په دې ریګونو کې د ښخیدو له ویرې جګ شو جامې به یې وڅنډلې او بیا به بیرته کښیناست. لږ ځنډ وروسته د شپې تیارې د توپان تیارې نورې هم زیاتې کړې، د شپې د لومړۍ برخې له تیریدو نه وروسته د شمال زور کم شو، ورو ورو هوا صافه او اسمان ښکاره، او ځلیدونکي ستوري وځلیدل.

نعیم له خپل کلي نه اته میله لرې ؤ، د هغه اس له لاسه وتلی ؤ، په پښو کې یې د تګ توان نه ؤ، د هغه په ذهن کې وروګرځیدل چې که تر سهار ورانده د ریګو نو له دې سمندر نه تیر نه شي نو سبا ته به د ورځې په لمر کې په دې ریګونو کې لټ په لټ اورې ساه به ورکړي.

هغه د ستورو نه دسمت اندازه ولګوله او پلی روان شو، له یو میل لارې وهلو وروسته یې بدن ځواب ورکړ، نا امیده شو او په ریګونو کښیناست، منزل ته دومره نژدې همت بایلل د مجاهد د ارادې او عزم سره اړخ نه لګاوه، هغه یو ځل بیا جګ شو، او د منزل په لورې یې ګامونه اوچت کړل.

په ریګونو کې یې تر ښنګرو پورې پښې ننوتلې، هغه په تلو تلو کې درې ځلې ولوېد، خو بیا به په همدغه اراده پورته شو او ګامونه به یې واخستل، د تندې له زوره یې مرې وچه شوې وه، او له کمزورۍ نه یې پر سترګو تیاره راتله، سر یې وربانده ګرځېده، کلی لا څلور میله لرې ؤ، هغه ته معلومه وه چې د کلي په لورې بهیدلې ویاله دې ځای ته نژدې ده، هغه په ریږدیدلو ګامونو یو میل لاره نوره هم ووهله چې یوه وړوکې ویاله ښکاره شوه.

دویالې او به د توپان د ګردونو او دوړوله لامله خړې شوې وې، او پرمخ یې د وښو او بوټو خځلې او پاڼې بهیدلې، نعیم پر همدې اوبو خوله ورکیښوده او تر مړښته یې وڅښلې، تر لږ ځنډه د ویالې پر غاړه پرېوت په زړه کې یې لږ سیك را پیدا شو او جګ شو بیا روان شو، له ویالې نه پورې ووت، د کلي د خرما باغونه یې ولیدل، د نعیم له بدن نه د ستومانۍ او کمزورۍ احساس لرې شو او له هر ګام سره ګړندی کیده، خو شیبې وروسته د ریګونو د هغه غونډۍ تر څنګ تیریده چې ده او عذرا په ماشومتوب کې لوبې پکې کولې، او د ریګونو وړوکې وړوکې کوروڼه به یې جوړول، له هغه نه وروسته دې د خرما د ونګو ونو په منځ کې د خپل کور په لورې وراندې ولاړ، چې کورته یې ورسید له دروازې سره لږ ځنډ ودرید، زړه یې په سینه کې درزیده، بالاخره یې جرئت وکړ دروازه یې ووټکوله، د کور خلکو یو بل سره وپښ کړل، یوه ځوانه نجلۍ راغله دروازه یې خلاصه کړه، نعیم ځوانې نجلۍ ته په حیرانۍ کتل، د هغې خیره کټ مټ د عذرا په شان وه. نجلۍ چې هغه ولید بې له دې چې څه ووایي چوپه بیرته ستنه شوه. لږ ځنډ وروسته دده زوی عبدالله او نرګس د نعیم هر کلي ته راووتل، عذرا په عبدالله او نرګس پسې شرمیدلې ورو ورو راتله.

نعیم د سپوږمۍ په رڼا کې ولیدل چې که څه هم د کایناتو د حسن د ملکې ځوانۍ د زمانې له څرخونو سره تللې وه خو تر اوسه یې په مړاوې څیره د غیر معمولي رعب او وقار نخښې پاتې وې.

نعیم په دردوونکې لهجه وویل : خورې!

د عذرا په سترګو کې اوښکې ډنډ شوې وې ویل : وروره !

نرګس وروړاندې شوه په ځیر ځیر یې هغه ته وکتل او د نعیم په کمیس

یې د وینو خاپونه ولیدل ویې ویل : ته ټپي یې؟

عذرا په ویریدلی بڼه وپوښتل : ټپي؟

هغه بدنی ځواك چې نعیم یې تر دی ځایه رارسولی ؤ ناڅاپه ځواب ورکړ، هغه وویل : عبدالله زویه ماته تکیه راکړه!

عبدالله هغه ته تکیه ورکړه او دننه یې بوتلو.

سهار مهال نعیم په بستره غځیدلی ؤ، نرگس، عذرا عبدالله د نعیم زوی، حسین، د عذرا کشر زوی خالد او د عذرا لور آمنه د هغه په شاوخوا را تاوشوی وو، نعیم سترگی و غړولی پر ټولو یې نظر واچاوه او په اشاره یې خالد او آمنه وروغوښتل او ترغځنگ یې کښینول.

: زویه ستا نوم څه دی؟

: خالد کاکاجانه!

: او ستا ؟ نعیم نجلی ته وکتل ویې پوښتل.

: هغې ځواب ورکړ : آمنه !

د خالد عمر د اوولس کالو په شاوخوا کې معلومیده او آمنه د بڼی او قد نه د څوارلس پنځلسو کلونو په عمر وه،

نعیم خالد ته وکتل او ویې ویل : زویه ماته قرآن واوروه!

خالد په خپل خواږه آواز د یاسین سورة تلاوت پیل کړ.

دوهمه ورځ شلیدلی زخم نور هم هغه ته تکلیف ورکړ، او د نعیم سخته تبه شوه، د سینی له زخم نه یې وینه جاری وه، د وینی د کمی په وجه به بی خودی پری راغله، تر یوی اونی پورې یې همدغه حالت ؤ، عبدالله له بصری نه یو طبیب راووست، هغه یې پر زخمونو پټی وتړلی او بیرته ولاړ، خو هغه ته یې هیڅ گټه ونه کړه، یوه ورځ نعیم له خالد نه پوښتنه وکړه : بچیه ! ته تر اوسه پوری جهاد ته نه یې تللی؟

هغه ځواب ورکړ : کاکا جانه زه رخصتی راغلی وم او چی بیرته ، روانیدم ....!

: ته چې تلې نو ولې راستون شوې؟

: کاکا جانه ! تا په دې حالت پریږدم او ....!

: زویه : د جهاد په خاطر به سړی له خپلو ټولو گرانو شیانو نه لری

والي قبلوي، ته زما فکر مه کوه خپل فرض ترسره کړه، تاته دې مور دا درس نه دی دربنودلی چې جهاد د یوه مسلمان تر ټولو ستره دنده ده؟

: کاکا جانه مور جانه له وړوکتوبه همدغه درس راکوی، زه یوازی څو ورځی ستا د خدمت په خاطر ایسار شوی یم، زه ویریدم چې که تا په دې حالت کې یوازې پریږدم نو خفه به شې.

: زما خوښی په هغه څه کې ده چې زما پروردگار پرې خوښیږی، ورشه عبدالله راوغواړه!

خالد له بلې کوټې نه عبدالله راووست.

نعیم تری وپوښتل : زویه ستا رخصت تر اوسه نه دی پوره شوی؟

: پلار جانه ! زما رخصت پنځه ورځی کیږی چې پوره شوی دی.

: نو ته ولې نه یې تللی بچیه !

: پلار جانه زه ستا د امر په انتظار وم.

نعیم وویل : د خدای ج او د خدایؐ د رسولؐ د حکم نه وروسته تا ته د بل چا د امر او حکم ضرورت نشته، زویه ورځه !

: پلار جانه ستا طبیعت څنګه دی؟

: زه ښه یم زویه ! نعیم د خپلې خیرې د تازه ښودلو هڅه وکړه، زیاته یې کړه : ولاړ شه.

: پلار جانه موږ تیار یو.

*****

(۵)

خالد او عبدالله پراسونو زینونه ایښودل، د دواړو میندی نژدی ورته ولاړې وې، نعیم د خپل زوی او وراره د رخصتولو لپاره د خپلی کوټی د دروازی خلاصی پریښودلو حکم وکړ، هغه په بستره پروت ؤ او بهر یی انګړ ته کتل.

آمنی لومړی د ورور خالد او بیا په شرمیدلی بڼه د عبدالله تر ملا توری وروتړلی، نعیم جګ شو له کوټی نه یی د وتلو هڅه وکړه، خو د دری څلور ګامه اخستلو نه یی سرورباندی وڅرخید او وغورځید، عبدالله او خالد د هغه د راپورته کولو لپاره منډه وروواخسته خو د دوی نه وړاندی نعیم بیا

راپورته شو.

او ويې ويل : زه ښه يم اوبه راکړئ!

آمنې د اوبو پياله راوړه ورېې کړه، نعيم اوبه وڅښلې انګړ ته راغی ودرېد ويې ويل : بچيانو زه غواړم ستاسو د اسونو زغلولو ننداره وکړم. تاسو په بېړه سپاره شی، خالد او عبدالله سپاره شول او د کور له انګړ نه ووتل، نعيم هم ورو ورو ورپسې ورووت.

نرګس ووېل : ته آرام وکړه، له بستری نه جګېدل درته ښه نه دی.

نعيم هغې ته تسلی ورکړه ويې ويل : نرګس زه ښه يم غم مه کوه، د خرما له بڼ نه چې ورتل خالد او عبدالله خدای پامانی واخسته او اسونه يې چار ګام پرېښودل، نعيم د دوی د ننداري لپاره د ريګونو په غونډۍ وخوت، نرګس او عذرا هغه منعه کړ خو نعيم يې پروا ونه کړه، څکه خو دوی هم له نعيم سره په غونډۍ وختلی، ترڅو چې د کم عمره غازيانو وروستی نښی ښکاريدی نعيم همالته دريدلی ؤ او کله چې هغوی له سترګو پناه شول نعيم په ځمکه کيناست او بيا يې سر په سجده ولګاوه.

کله چې د نعيم سجده اوږده شوه نو عذرا ووېرېده نژدی ورغله، او په وېريدلی غږيې ووېل : ورووره ! خو چې نعيم ددی پر غږ سر راپورته نه کړ نو نرګس ووېرېده او نعيم يې تر مټ ونيو ويې ښو راوه، نعيم بيا هم حرکت ونه کړ، هغې بې اخياره دده سرپه زنګون کيښود او چيغې يې کړی:

زما باداره ! زما باداره!

عذرا يې نبض وکوت آمنې ته يې ووېل : لوری دی بيهوښه دی زر کوه اوبه راوړه.

آمنه په منډه ولاړه او لږ څند وروسته يې له کوره د اوبو ډکه پياله راوړه. عذرا د نعيم په مخ اوبه وشيندلی، نعيم را په خود کې شو سترګې يې وغړولی او په اوبو يې خوله کيښوده.

عذرا ووېل : حسين بچيه ولاړ شه له کلی نه څو تنه راوله.

نعيم ووېل : نه نه ! ودرېږه زه تلای شم.

نعيم غوښتل جګ شی، خو چې هڅه يې وکړه نشو جګيدلی، لاس يې په سينه ونيو او بيرته په ځمکه وغځيد، نرګس خپلې اوښکې پاکې کړې او

چیغې یې کړې:

زما آغا زما مالکه !

نعیم د نرگس له څیرې نه سترگې پورته کړې عذرا آمنې او حسین ته یې وکتل، د هغوی ټولو په سترگو کې اوښکې ځلیدې، هغه په کمزوری آواز وویل : حسین بچیه ! ستا په سترگو کې چې اوښکې وینم ډیر خفه کیږم، د غازیانو زامن په دې ځمکه اوښکې نه وینی تویوی؟ نرگس ته هم صبر کوه، عذرا ماته دعا کوه د ژوند بیړۍ د مرگ د توپان په څپو کې ټالونه خوړل، نعیم د شهادت کلمې له ویلو وروسته شونډې خوځولې او څه یې ویل او بیا یې د تل لپاره سترگې پټې شوې.

پای

والسلام د کب ٦ مه چارشنبه ۱۳۷۷ هـ لمریز

د شپې اته بجې

د «سهار دفتر» کابلی قصه خوانی

PROPERTY OF ACKU
8625

## کتب منتشر شدهٔ مرکز نشراتی میوند، سبا کتابخانه

- شرح قدوری، مشتمل بر فقه عبادات، فقه معاملات و احوال شخصی
- رحیق المختوم (سیرة النبی ﷺ)
- فقه آسان (جلد اول و دوم)
- آسانه فقه (اول جلد او دوهم جلد)
- تاریخ نبوت و انبیاء
- احکام فقهی برای زن مسلمان
- وروستی مورچل
- افغانستان در مسیر تاریخ (جلد اول و دوم)
- تاریخ افغانستان (سه جلدی، تألیف مرحوم کهزاد و...)
- تاج التواریخ
- اردو و سیاست «در سه دههء اخیر افغانستان»
- کرباس پوشهای برهنه پا
- افغانستان گذرگاه کشور کشایان
- شب های کابل
- ظهور مشروطیت و قربانیان استبداد در افغانستان
- داؤدخان د کی جی بی په لومو کی
- داؤد خان در چنگال کی جی بی
- حیات و اوقات سلطان محمود غزنوی
- جغرافیای تاریخی افغانستان (تألیف مرحوم غبار)
- نگاهی به عهد سلطنت امانی
- تحلیل واقعات سیاسی افغانستان (۱۹۱۹-۱۹۹۶)
- افغانستان در قرن نزده
- بالاحصار کابل و پیش آمدهای تاریخی
- جغرافیای تاریخی افغانستان (تألیف مرحوم حبیبی)
- افغانستان چا وران کر
- پادشاهان متأخر افغانستان
- تاریخ روابط سیاسی افغانستان «از زمان امیر عبدالرحمن خان تا استقلال»
- افغانستان از امیر کبیر تا رهبر کبیر
- بحران ونجات

حق چاپ برای ناشر محفوظ است

سبا کتابخانه

دهکی نعلبندی، بازار قصه خوانی، پشاور
تیلفون: ۲۵۶۵۵۲۰ و ۴۳۸۶۱